تجہیز و تکفین کا طریقہ

# د کَفَن دَفَن طریقہ

پښتو ترجمہ:
مجلِس تراجِم
(دعوتِ اسلامی)

پیشکش: مجلس المدینۃ العلمیۃ (دعوتِ اسلامی)

# د کـفَن دَفَـن طریقـه

پیش کش:

مجلس تجهیز و تکفین

او

مجلس اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ (دعوتِ اسلامی)

ناشر

مَکْتَبَۃُ الْمَدِینه باب الـمدینه کراچي

www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# د کـفَن دَفَـن طريقـه

## ”تجهيز و تكفين كورس اوكړئ“ د ۲۰ حُروفو په نِسبت د دې كتاب د لوستلو ۲۰ نِيّتونه

**فرمانِ مُصطَفٰى** صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: ”بنه نِيَّت بنده جَنَّت ته داخلوي.“
(اَلجَامِعُ الصَّغِير للسيوطی ص ۵۵۷ حديث ۹۳۲۶)

**دوه مَدَني ګلونه:** (۱) د بنه نِيَّت نه بغير د يو عَمَلِ خير ثواب هُم نه حاصليږي.
() څومره چه بنه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات كيږي.

﴿۱﴾ هر ځل به د حَمْد او ﴿۲﴾ صلوٰة ﴿۳﴾ تَعوُّذ او ﴿۴﴾ تَسمِيه [يعني بِسمِ الله شريف] نه شروع كووم (په دې صفحه باندې پاس وركړو شوو دوو عربي عباراتو لوستلو سره به په څلورو واړو نيّتونو عمل اوشي) ﴿۵﴾ د رضائے اِلٰهي جَلَّ جَلَالُهٗ د پاره به دا كتاب د اوّل نه تر آخره پورې لوَلَم ﴿۶﴾ چه څومره كيدے شوه دا به په اوداسه كښې او ﴿۷﴾ مخ په قبله لوَلَم ﴿۸﴾ د قُرآني آياتو او ﴿۹﴾ احاديثِ مُباركه ديدار به كووم ﴿۱۰﴾ كوم كوم ځائے چه به د ”الله جَلَّ جَلَالُهٗ“ پاك نوم راځي هلته به [تعالٰى، جَلَّ جَلَالُهٗ يا] عَزَّوَجَلَّ او ﴿۱۱﴾ كوم كوم ځائے چه د ”حضور صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم“ مبارك نوم راځي هلته به صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وايم ﴿۱۲﴾ كه په

کومه مسئله پوهه نه شوم نو د هغے د پاره به په دې آيتِ کريمه فَسْـَٔلُوْۤا اَهْلَ الذِّكْرِ اِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۴۳﴾ (پ ١٤ النحل: ٤٣) مَفهُوم ترجمۂ كَنْزُالْاِيمان: نو اے خلقو عِلم والؤ نه تپوس اوکړئ که تاسو عِلم نه لرئ.“ باندې د عمل کولو په نِيَّت عُلَماؤ ته رُجوع کووم ﴿۱۳﴾ (په خپله ذاتي نُسخه به) د ”ياد داشت“ والا صفحه باندې ضروري نکات ليکم ﴿۱٤﴾ (په خپله ذاتي نُسخه به) د ضرورت مطابق خاص خاص مقاماتو کښې ننبې لکووم ﴿۱٥﴾ نورو ته به د دې کتاب د لوستلو ترغيب ورکووم ﴿۱٦﴾ په دې حديثِ پاك تَهَادَوْا تَحَابُّوْا يعني يو بل ته تحفه ورکوئ په خپل مينځ کښې به مو محبَّت زياتيږي (موطا امام مالك ج٢ ص٤٠٧ رقم ١٧٣١) باندې د عمل کولو په نيّت به (يو يا د خپل وس مطابق زيات) دا کتابونه اخلم او نورو ته به ئې په تُحفه کښې ورکووم ﴿۱۷﴾ چا له چه کتاب ورکووم نو څومره چه کيدے شوه هغه له به هدف [يعني نيتِه] هم ورکووم چه تاسو دا کتاب په دومره ورځو کښې (مَثَلًا په ورځو کښې) دننه دننه مکمّل اولولئ ﴿۱۸﴾ د دې کتاب د لوستلو ثواب به ټول اُمَّت ته بخښم. ﴿۱۹﴾ هر کال به دا کتاب پوره لوَلم ﴿۲۰﴾ که په کتاب وغيره کښې مې څه غلطي اومونډله نو چاپ کوونکو ته به په ليکلي صورت کښې خبر ورکووم (چاپ کوونکو او ليکونکي وغيره ته د کتابونو غلطياني صرف په خُله وئيل خاص فائِده مند نه وي)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# اَلْمَدِينَةُ الْعِلمِية

از: شيخِ طريقت، اميرِ اَهلِسُنَّت، بانئ دعوتِ اِسلامي حضرت علّامه مولانا ابو بِلال محمد اِلياس عطّار قادري رَضَوِي ضِيائي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلٰى اِحْسَانِهٖ وَبِفَضْلِ رَسُوْلِهٖ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

د عاشِقانِ رسُول مَدَني تحريك "دعوتِ اسلامي" د نيکئ د دعوت، د اِحيائے سُنَّت او د عِلمِ شريعت د اشاعت په توله دُنيا کښې د عام کولو عزمِ مُصَمَّم [يعني پخه اِراده] لري، د دې تمامو اُمورو په اَحسن طريقه سره د پوره کولو د پاره کښې شمير مجالس جوړ کړے شوي دي چه په هغے کښې يو مجلس "اَلْمَدِينَةُ الْعِلمِية" هُم دے، چه هغه د دعوتِ اسلامي په عُلَماء او مُفتيانِ کرام كَثَّرَهُمُ اللّٰهُ تعالى باندې مُشتمِل دے، دے [مجلس] د خالص علمي، تحقِيقي او اشاعتي کار ذِمّه واري په سر اخستي ده. د دې دا لاندې شپږ شُعبے دي:

﴿۱﴾ شُعبهٔ کُتُبِ اعلیٰ حضرت
﴿۲﴾ شُعبهٔ درسي کُتُب
﴿۳﴾ شُعبهٔ اِصلاحي کُتُب
﴿٤﴾ شُعبهٔ تراجِم کُتُب
﴿٥﴾ شُعبهٔ تَفتِيشِ کُتُب
﴿٦﴾ شُعبهٔ تَخرِيج[1]

---

1..... د دې لِيك د وخته پورې (يعني رَبِيعُ الْآخر ١٤٣٧ھ پورې) ١٠ شُعبے نورې قائمې شوي دي (٧) فيضانِ قُرآن (٨) فيضانِ حديث (٩) فيضانِ صحابه و اَهلِبَيت (١٠) فيضانِ صحابِيات و صالِحات (١١) شُعبهٔ اميرِ اَهلِسُنَّت () فيضانِ مَدَني مُذاکره (١٣) فيضانِ اَولِياء و عُلَماء (١٤) بياناتِ دعوتِ اِسلامي (١٥) رسائلِ دعوتِ اسلامي (١٦) عربي تراجِم. (مجلس المدينةُ العلمية)

د "اَلمَدِينةُ الْعِلمِية" د ټولو نه اوله ترجِيح د اعلیٰ حضرت، اِمامِ اهلِسُنّت، مُجَدِّدِ دِين و مِلّت، عالِمِ شريعت، پيرِ طريقت، حضرت علّامه مولانا الحاج الحافِظ، القاري شاه **اِمام اَحمد رضا خان** رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيه بيش بَها تصانِيف د عصرِ حاضِر [يعني موجوده زماني] د تقاضو مطابق **حَتَّی الْوَسْع** [يعني د وَس مناسب] په آسان اُسلُوب کښې وړاندې کول دي. ټول اسلامي وروڼه او خويندې په دې علمي، تَحقِيقي او اِشاعتي مَدَني کار کښې هر مُمکِن تعاون کوئ او د مجلس له طرفه چاپ شوي کتابونه پخپله هُم لوَلئ او نورو ته هُم د دې ترغيب ورکوئ.

**الله** تَبَارَكَ وَتَعَالٰی دِ سره د "اَلمَدِينةُ الْعِلمِية" د "**دعوتِ اسلامي**" ټولو مجالِسو ته د يوولسمې او دولسمې په خاطر ډيره ډيره ترقي ورکړي او زمونږه په هر عملِ خير کښې دِ اِخلاص راعطا کړي او زمونږ د دواړو جهانو د ښيګڑو باعث دِ ئې اوکړئوي او مونږ ته دِ د شِين شِين کُنبد لاندې د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ديدار په نظارو کښې شهادت، په جَنَّتُ البقِيع کښې خخيدل او په جَنَّتُ الفِردَوس کښې د خپل خوږ مَدَني حبيب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاونډ رانصيب کړي.

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

## پيش لفظ

مرګ يو داسې حقيقت دے چه د هغے انکار نه شي کيدے څوک چه د هر څومره عُمره پورې ژوندے اوسي خو آخر به مري، خوش نصيبه دي هٰغه خلق څوک چه د مرګ نه مخکښې د خپل مرګ او قبر و آخرت په تيارئ کښې مشغول اوسي او د اللہ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى په بارګاه کښې کاميابي حاصله کړي. اللہ تعالٰى دِ مونږ ته هُم د خپل مرګ او آخرت د فِکر کولو توفيق راکړي. آمين

چه کله څوک د دې فاني دُنيا نه رُخصت شي نو د هغه د مُتَعَلِّقينو، عزيزانو او خپلوانو په سر د هغه د کَفَن دَفَن يعني د غُسل، کفن او خخولو ذِمَّه واري راشي خو [عام طور] مُشاهَده هُم دا ده چه د کَفَن دَفَن د شرعي اَحکامو او صحيح طريقۀ کار د عِلم نه لرلو په وجه خلق پريشانه شي او په دې وجه بعضې خلق خو د خپلې وروړ ولئ او خانداني رسم و رواج مطابق د غُسل او کَفَن دَفَن څه اخوا ديخوا انتظام اوکړي او بعضې خلق په مزدورئ باندې د يو پيشه ور غَسّال [يعني د غُسل ورکولو پيشه اختياروونکي] نه د کَفَن دَفَن خِدمت واخلي او بعضې خو په داسې موقع په هيڅ نه پوهيږي، يو او بل ته وائي چه ته غُسل ورکړه ځکه چه نه خو هغوئ کله يو مړي ته غُسل ورکړے وي او نه د کَفَن دَفَن په طريقه پوهيږي بلکه په هغوئ کښې بعضې خو داسې وي چه مړي ته غُسل ورکول خو لرې خبره ده د مړي خوا ته ورتللو نه هُم يَريږي. په داسې ټول صورتِ حال کښې نتيجه دا راخيژي چه مړي غريب ته په بے دردئ سره په څه اخوا ديخوا طريقه غسل ورکړي او ځان ترې خلاص کړي. **خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** داسې کولو کښې د

مړي ډيره زياته حَق تَلفي کيږي او ډير تکليف ور رسي. ياد ساتئ! په کومو خيزونو چه ژوندي کس ته تکليف رسي په هغے مړي ته هُم تکليف رسي. شيخِ طريقت، امِيرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَة په خپله رِساله "**د مړي بے وَسي**" کښې د شرحُ الصُّدُور په حواله نقل کوي چه د حضرتِ سَيِّدُنا سُفيان ثَوري رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه نه روايت دے چه مړے په هر څه پوهيږي تر دې چه غُسل ورکوونکي ته وائي: تا ته دِ **الله** تعالٰى قَسَم وي زما سره په غُسل کښې نرمي اوکړه. (شَرْحُ الصُّدُور، باب معرفة الميت....الخ، ص۹۵)

لِـهذا خپلو عزيزانو او نورو مسلمانانو سره ښيکړه کوئ او د هغوئ د سُنَّتو مطابق د کَفَن دَفَن ترکيب کوئ. د دې د پاره بهترينه طريقه دا ده چه تاسو د کَفَن دَفَن طريقه او د دې مُتَعَلِّق مسائل زده کړئ دغسې به د يو عزيز وغيره په وفات کيدو تاسو پخپله ورمخکښې کيږئ او د هغه د [غُسل او] کَفَن دَفَن مُعامَلات به د سُنَّتو مطابق کولے شئ. آيا تاسو د تَجهِيز و تَکفِين [کَفَن دَفَن او غُسل ورکولو وغيره] طريقه زده کول غواړئ بلکه آيا تاسو غواړئ چه د مرګ نه پس ستاسو د کَفَن دَفَن مُعامَلات د سُنَّتو مطابق اوشي نو راشئ او د دعوتِ اسلامي **مَدَني ماحول** کښې شامل شئ. د امِيرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَة عطا کړو مَدَني انعاماتو باندې عمل اوکړئ او **مَدَني قَافِله** کښې سفر کول خپل معمول جوړ کړئ. اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰى د نيکو خلقو او **عاشِقانِ رَسُول** د صُحبت په بَرَکت به مو د سُنَّتو ډک ژوند تيرولو فِکر جوړ شي او د مرګ نه پس به د هُم دې **عاشِقانِ رَسُول** په لاسو د سُنَّتو مطابق د کَفَن دَفَن سعادت هُم حاصل کړئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ د عاشِقانِ رسُول مَدَني تحريك **دعوتِ اسلامي** د نيکئ د دعوت په جذبه او اُمَّت سره د خير ښيکړې په جذبه (2017ء پوري) ۰۰ نه زيات مجلسونه او شُعبے قائمې کړي دي او په هُم هغے کښې يو مجلِس تَجهِيز و تَکفِين هم دے چه هغه نه صرف د **عاشِقانِ رَسُول** د سُنَّت مطابق کَفَن دَفَن د پاره کوششونه کوي بلکه د تجهِيز و تکفين [يعني کفن دفن او مړي ته د غُسل ورکولو طريقو] ښودلو کښې هم مصروفِ عمل دي او د دې د پاره (په مُلك او بهر ملکونو کښې هم) باقاعِده د "تجهِيز و تِکفِين کورس" ترکيب دے. په دې کورس کښې د ځنکدن نه واخله د خخولو د مراحِلو پورې او د هغے مُتَعَلِّق د ضروري مسائلو د ښودلو کوشش کيږي مَثَلًا ❁ چه کله ځنکدن شروع شي نو څه کول پکار دي ❁ تلقين ځنګه کول پکار دي ❁ رُوح وتلو نه پس څه کارونه کول پکار دي ❁ د مړي د غُسل طريقه، د دې فضائل او مسائل ❁ د کفن قِسمونه ❁ د سړي او ښځې او ماشوم د کفن تفصيل ❁ د جنازے د لـمانځه طريقه او د جنازے د لـمانځه دُعاګانې ❁ د قَبْر قِسمونه ❁ د قَبْر او خخولو بيان ❁ د نوحه [يعني په ژړا کښې د مړي د ستائنو] بيان او ❁ د مريض د پوښتنې ❁ د تعزِيَّت [يعني د مړي وارثانو ته د مړي د بخښنې دُعا يعني لاس نيوه، عُذر کول] ❁ اِيصالِ ثواب ❁ د فاتِحه وئيلو طريقه وغيره. هُم دغسې د اسلامي خويندو په مجلِسِ تَجهِيز و تَکفِين کښې اسلامي خويندو ته د تَجهِيز و تَکفِين کورس کولو ترکيب دے.

دا کتاب "**د کَفَن دَفَن طريقه**" د هُم دې کورس نصاب دے چه دا مخکښې د مجلِسِ تجهِيز و تَکفِين له طرفه مرتب کړے شو بيا د مجلِس ذِمَّه دار، مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي و رُکنِ شُورىٰ حاجي ابو زياد محمد عِماد عطاري مَدَني دې ته کتابي شکل ورکولو د پاره دا اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة ته وړاندې کړو. لِـهذا اوس د ترميم او

اضافي او تخريج سره دا د نصاب په صورت کښې ستاسو په لاسو کښې دے، دا په تَوجُّه سره اولولئ، اُمِيد دے چه اسلامي وروڼو او اسلامي خويندو کښې به په تجهِيز و تَکفِين کښې د حصّه اخستلو او د "تجهِيز و تَکفِين کورس" کولو او نورو ته د ترغيب ورکولو جذبه پيدا کيږي او څوك چه په دې کښې فعّال دي د هغوئي جذبه به نوره قوي کيږي.

اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ مجلِس "اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة" دا کتاب د لاندې ليکلو خُصوصياتو سره د وړاندې کولو سعادت حاصلوي:

❁ ..... د "اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة" د انداز مطابق دا کتاب هُم په تخريج سکلے کړے شوے دے، د اَحادِيثو او فِقهي مسائلو وغيره د وَس مناسب د تخريج اهتمام شوے دے.

❁ ..... د کومو کتابونو نه چه تخريج شوے دے په آخره کښې د هغه ټولو کتابونو فهرست د "مآخذ و مراجِع" په نوم جوړ کړے شوے دے او په دې فهرِست کښې د مُصَنِّفِينو او مُؤلِّفِينو نومونه سره د سنِ وفات، مطابِع او د چاپ کيدو د سن سره ذِکر کړے شوي دي.

❁ ..... ځائے په ځائے په مشکلو الفاظو اِعراب هم لکولے شوي دي.

❁ ..... د آياتِ قُرآني رسمُ الخط (خط عُثماني) برقرار ساتلو د پاره ټول آيات د يو مخصوص قُرآني سافټ وئير نه (د Corel Draw په ذريعه) پيسټ کړے شوي دي.

❁ ..... د آياتِ قُرآني ترجَمه د کَنزُ الايمان نه وړاندې کړے شوي ده.

❁ ..... د آياتو او تَراجِم تقابُل د ''کَنزُ الاِيمان (اُردُو)'' (مطبوعه مَکْتَبَةُالْمَدِينه) سره دوه ځله شوے دے.

❁ ..... د ترقيم د نښو يعني د کاما، فُل سټاپ [يعني د اودريدو د ټکي]، د اِنورټڈ کامو [يعني واو معکُوس] وغيره ضرورتاً اهتمام شوے دے.

❁ ..... کتاب نور ښکلي کولو د پاره سر ليکونه (Headings)، قُرآني آيات، بعضي عِبارات، [د عباراتو] نمبرې او بارډر وغيره د ډيزائننګ سافټ وئير په ذريعه شوي دي.

❁ ..... دوه ځله د پوره کتاب پروف ريډنګ شوے دے.

په دې کتاب کښې چه تاسو څه صِفَت اُووينئ يقيناً هغه د **الله** تعالٰی د عطا او د هغه د خوږ حبيب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نظرِ کرم په وجه دي او د عُلَماءِ کِرامو رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰى بِالخصوص د امير اَهلِسُنَّت د فيضان [يعني بَرَکت] صدقه ده او د احتياط باوجود چه پکښې کومه خامي پاتې وي هغه دِ زمونږه بے اراده کوتاهي اوګڼلے شي. لوستونکو خصوصاً عُلَماءِ کِرامو دَامَتْ فُيُوضُهُم ته ګُزارش دے چه که تاسو پکښې څه خامي محسوسه کړئ يا خپله قيمتي رائے او تجويزونه راکول غواړئ نو مونږ ته د ليك په صورت کښې اطلاع راکړئ. **الله** تعالٰی دِ مونږ ته د هغه عَزَّوَجَلَّ د رِضا د پاره د کار کولو توفيق راکړي او د دعوتِ اسلامي مجلِس ''اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة'' او نورو مجلسونو ته دِ ډيره ډيره ترقي ورکړي.

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

مجلِس اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

## د دُرُود شريف فضيلت

شيخِ طريقت، امِيرِ اَهلِسُنَّت، حضرتِ علّامه مولانا اَبُو بِلال **محمد اِلياس عطّار قادِري رَضَوِي** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه بياناتِ عطّارِيَّه (حصّه اوّل) صفحه کښې د "اَلْقَوْلُ الْبَدِيْع" په حواله د دُرُود شريف فضيلت نقل کوي:

## په مخ مُبارك باندې د خوشحالئ آثار

د حضرتِ سَيِّدُنا **سَهْل** بِن **سَعْد** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روايت دے چه يوه ورځ سرکارِ نامدار، زمونږ د بے وسو مددګار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بهر ته تشريف راوړو، په دې موقع حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو طَلحه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ ورمخکښې شو او عرض ئې اوکړو: "يَارَسُولَ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! زما مور و پلار دِ په تاسو قُربان شي، نن مو په مخ مُبارك باندې د خوشحالئ آثار ښکاري". خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اُوفرمائيل:

"بېشکه! اوس جِبرائيلِ امِين (عَلَیْہِ السَّلَام) زما څنګ ته راغلے وو او هغوئ اُووئيل: اے **مُحَمَّد**! (صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) چا چه په تاسو باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو **الله** تعالٰی به د هغه په اعمال نامه کښې لس نيکئ ليکي او لس ګناهونه به ئې وران [يعني ختم] کړي او لس دَرَجات به ئې زيات کړي."
(اَلْقَوْلُ الْبَدِيْع ص۱۰۷)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# د ټولو نه اولنې قاتِل و مقتُول

په عَجائبُ القرآن کښې حضرتِ عَلَّامه عبد المُصطَفیٰ اعظمي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه ليکي: د زمکې په سر د ټولو نه اولنې قاتِل "قابِيل" او د ټولو اولنې مقتول "هابِيل" دے. دا دواړه د حضرتِ سَيِّدُنا آدم عَلَيْهِ السَّلَام فرزندان دي. د دې دواړو واقعه دا ده چه د حضرت حَوّا رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا په هر **حَمْل** کښې به يو هلك او يوه جينئ پيدا کيدل او د يو **حَمْل** هلك سره به ئې د بل **حَمْل** د جينئ نکاح تړله. د دې دستور مطابق حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام د قابِيل نکاح "لِيُوذا" سره کول غوښتل چه هغه د هابِيل سره پيدا شوې وه خو قابِيل پرې راضي نه شو او ولے چه اِقلِيما زياته ښکلې وه ځکه هغه د هغے طلب ګار شو. حضرتِ آدم عَلَيْهِ السَّلَام هغه پوهه کړو چه اِقلِيما ستا سره پيدا شوې ده ځکه هغه ستا خور ده، هغے سره ستا نکاح نه شي کيدے خو قابِيل په خپل ضِد ټينګ شو. آخِر دا چه حضرتِ آدم عَلَيْهِ السَّلَام ورته حُکم اوکړو چه تاسو دواړه خپلې خپلې قُربانئ د **الله** تعالٰی په دربار کښې ورانديږ کړئ د چا قُرباني چه قبوله شي هُم هغه به د اِقلِيما حقدار وي.

په هغه زمانه کښې د قُربانئ د قبليدو نښه دا وه چه د آسمان نه به يو اور راکوز شو او هغه قرباني به ئې اوخوړله. چنانچه قابِيل د غنمو څه وَکې او هابِيل يوه بزه [يعني چيلئ] د قربانئ د پاره ورانديږ کړه. آسماني اور د هابِيل قرباني اوخوړله او د قابِيل غنم ئې پرېښودل. په دې خبره د قابِيل په زړه کښې بُغض او حسد پيدا شو او د هابِيل د قتل کولو اِراده ئې اوکړه او هابِيل ته ئې اُووئيل چه زه به تا قتل کړم. هابِيل ورته اُووئيل چه قرباني قبلول د **الله**

تعالٰی کار دے او هغه صرف د مُتَّقيانو بندګانو قرباني قبلوي. که ته مُتَّقي وے نو ستا قرباني به ضرور قبوله شوي وے. آخر دا چه قابِيل خپل ورور هابِيل قتل کړو.

## د ټولو نه مخکښې هابِيل خخ کړے شو

قابِيل چه کله هابِيل قتل کړو نو ولے چه د هغے نه مخکښې يو انسان هُم نه وو مړ شوے ځکه قابِيل حيران وو چه د ورور د وفات شوي وجود سره څه اوکړم، چنانچه د ډيرو ورځو پورې هغه وفات شوے وجود په شا کړے وو او ګرځيدو. بيا هغه اوليدل چه دوه قارغان په خپل مينځ کښې اونښتل او يو قارغه بل قارغه مړ کړو. بيا هغه ژوندي قارغه په خپله منبوکه او پنجو زمکه اوکنستله او يو قُوتي [ډوغالے] ئې جوړ کړو او په هغے کښې ئې مړ قارغه واچوو او خاورو کښې ئې پټ کړو. دا منظر ئې چه اوليدو نو قابِيل پوهه شو چه مړے په زمکه کښې خخول پکار دي. چنانچه هغه قبر اوکنستو او ورور ئې پکښې خخ کړو. (مدارك التنزيل، المائدة، تحت الآية: ٣١، ص٤٨٦)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! چه کله څوك وفات شي نو شرعي حُكم دا دے چه هغه خخ کړے شي او که مسلمان وي نو د هغه د خخولو نه مخکښې دِ د تجهِيز و تَكفِين اهتمام اوکړي.

## تجهِيز و تَكفِين څه ته وائي؟

د تجهِيز لُغَوي معنٰى ده: د ضرورت سامان راپيدا کول، ښکلے کول او د تكفِين معنٰى ده: کفن ور اغوستل. د مرګ نه پس چه انسان ته کوم لباس

اوخوړ شي هغے ته کفن وائي او د تجهِيز و تَکـفِين نه مُراد د مرګ نه واخله تر خخولو پورې چه د مړي د پاره د کومو اُمورو ضرورت وي هغه ټول اُمُور پوره کول. په دې کښې د مړي غُسل، کفن، د جنازے لـمونځ، قبر کنستل ټول شامِل دي.

## شرعي حُکم

د مسلمان تجهِيز و تَکـفِين فرضِ کِفايه دے.

## فرضِ کِفايه

فرضِ کِفايه هغه دي چه د هغے کول د هر يو د پاره ضروري نه دي بلکه څوك څوك چه خبر شو په هغوئي کښې څه کسانو اوکړو نو د ټولو له طرفه ادا شو او کومو ته چه خبر شوے وو په هغوئي کښې يو هُم اونکړو نو ټول به ګنهګار وي. (وقار الفَتَاوىٰ کتاب الصلوة، ۵۷/۲ مُلَخَّصاً)

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** په تجهِيز و تَکـفِين [يعني کفن دفن] کښې شريك کيدل سعات او د اجر و ثواب باعِث دي، په حديث شريف کښې د دې زبردست فضيلت راغلے دے. چنانچه

## د تجهِيز و تَکـفِين زبردست فضيلت

اَميرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدُنا عَلِيُّ الْمُرْتَضٰى شيرِ خُدا كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم نه روايت دے چه سُلطانِ انبياء صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے چه څوك کوم مړے اولـمبوي، کفن ورواغوندي، خوشبو پرې پورې کړي، جنازه ئې اوچته کړي، [د جنازے] لـمونځ ئې اوکړي او کومه ناقِصه خبره [يعني د مړي

عيب] چه اُووِيني هغه پټه کړي هغه د ګناهونو نه داسې پاك شي څنګه چه د پيدائش په ورځ وو. (ابنِ مَاجَه کتابُ الجنائز، بابُ ماجاء فی غسل المیت: ۲۰۱/۲، حدیث۱٤٦۲)

سُبْحٰنَ اللّٰهِ عَزَّوَجَلَّ! څنګه ښکلے فضيلت دے. لکه د تجهِيز و تَکـفِين کولو والؤ خو مزې شي لِـهذا که د يو مسلمان د وفات نه خبر شئ او کيدے شي نو د ښو ښو نِيَّتونو کولو سره ئې په کفن دفن کښې ضرور شاملیږئ.

## د اميرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه شوق او ترغيب

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د شيخِ طريقت، اميرِ اَهلِسُنَّت، بانئ دعوتِ اسلامي حضرتِ علّامه مولانا اَبُو بِلال **محمد اِلياس عطّار قادِري رَضَوِي** دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه د ډيرو کلونو نه دا معمول وو چه هغوئي به د **عاشِقانِ رَسُول** په تجهِيز و تَکـفِين کښې په شوق او رَغبت حصّه اخستله او د مړي د غُسل نه واخله، فاتحه خواني او دُعا وغيره ټولو مُعامَلاتو کښې به په خپل مخصوص ښکلي انداز کښې ورڅاندې ورڅاندې وو، د مرحوم کورنئ ته به ئې تعزِيَّت کولو او د هغوئي سره به ئې همدردي کوله، د صبر او هِمّت نصيحت به ئې ورته کولو او هغوئي ته به ئې د خپل عزيز د ايصالِ ثواب د پاره د نيکو ترغيب ورکولو. د غم په دې ساعتونو کښې د هغوئي دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه د شريك کيدو او په ښکلي انداز کښې د **اِنفرادي کوشش** په بَرَکت د ډيرو اِسلامي ورونړو په ژوند کښې مَدَنـي اِنقلاب راغلے دے د توبې توفيق ورنصيب شوے دے او د دعوتِ اسلامي **مَدَني ماحول** کښې شامل شوي دي او د سُنَّتو په خدمت او د نيکئ دعوت عام کولو کښې مصروف شوي دي. هغوئي دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه دا غواړي چه ټول دعوتِ اسلامي والا اِسلامي ورونړه او اسلامي خويندې په

کفن دفن کښې حصّه واخلي، همدردي اوکړي او د دې مَدَنـي مقصد لاندې چه **"ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي."** ډير ډير اِنفرادي کوشش اوکړي او نوي نوي اِسلامي ورونړه او اسلامي خويندې په **مَدَني ماحول** کښې شامل کړي. هغوئي دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه موقع په موقع په خپلو مَدَنـي ګُلونو کښې د کفن دفن اَهَمِّيَّت بيانوي او په دې کښې د حصّه اخستلو ترغيب هم ورکوي چنانچه يو ځل ئې په مَدَنـي مَدَنـي مُذاکَره کښې اِرشاد اُوفرمائيلو:

"اګر که تاسو [هغه مړے] نه پيژنئ خو بيا هُم [په جنازه وغيره کښې] شرکت کوئ چه کله په جُمات کښې [د جنازے] اعلان اوشي نو حصاريږئ، د جنازے لـمونځ کوئ او بيا ګورئ چه د هغه عزيز څوک دے هغوئي ته تعزِيَّت [غمرازي] کوئ"..... يو ځل ئې دا هُم اِرشاد اُوفرمائيلو: "که مونږه په کَفَن دَفَن کښې حصّه اخلو نو د هغه د خفه عزيزانو په زړونو کښې به څه نه څه خوشحالي داخليږي، د هغوئي به ډاډ ګيرنه کيږي، تسلّي به ئې کيږي، غم تيرول به پرې آسانيږي او که د هغوئي نه څوک هډو تپوس اونکړي او په کفن دفن کښې حصّه وانخلي نو هغوئي ته به څومره خفګان رسي"..... بيا هغوئي دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه خپله باره کښې د ترغيب د پاره دا هُم اوفرمائيل چه کله به زه خبر شوم چه د فلانکي والِد وفات شوے دے نو زه به پخپله ورغلم، هغه وخت به مړے پروت وو او خلق به پريشانه ولاړ وو په داسې حالت کښې چه څوک د چا په ووګه د تسلئ لاس کيږدي نو د دې ډير پوخ اثر کيږي او غمونه ئې لرې شي، ډير مدينه مدينه ترکيب اوشي. بيا هغوئي د اسلامي ورونړو د ترغيب و تحريص د پاره يو مدني سپرلے څه داسې بيان کړو:

## چه کله عاشِقانِ رَسُول په کفن دفن کښې شريك شو...

د يو اِسلامي ورور څه داسې بيان دے چه زه د دعوتِ اسلامي د خوشبودار ماحول د بَرَکتونو حاصلولو نه مخکښې فيشن پرست او د ماډرن ګلچر [يعني فيشني ثقافت] شوقي ووم، **مَدَني ماحول** سره زما تړون او د توبه کولو سبب څه داسې جوړ شو چه زما د والد صاحب په وفات کيدو څه **عاشِقانِ رَسُول** د همدردئ او غمرازئ په جذبه زمونږ کور ته راغلل. ما سره ئې د خپلو خلقو په شان ملاقات اوکړو، هِمَّت ئې راکړو او د صبر تلقين ئې راته اوکړو. چه کله والد صاحب ته د غُسل ورکولو وخت راغې نو اِسلامي ورونړه رامخکښې شو او په خپلو لاسو ئې د سُنَّت مطابق غسل ورکړو، کفن ئې ورواغوستلو او په ډيره نرمئ سره ئې ټول معاملات پوره کړل. چه کله د جنازے لـمونځ کيدلو نو په هغے کښې هُم شريك شو، اديرې ته هُم راغلل او خخولو کښې ئې هُم حصّه واخستله. والد صاحب خاورو ته سپارلو نه پس زما دوستان او خپل خپلوان، عزيزان ټول بيرته لاړل خو دا **عاشِقانِ رَسُول** اِسلامي ورونړه، چه زمونږه خپلوان هُم نه وو، د والد صاحب د قبر خوا ته کښيناستل او نعت شريف لوستل ئې شروع کړو. د دې **عاشِقانِ رَسُول** د خير ښيګړې او غمرازئ دا جذبه چه ما اوليدله نو ډير زيات مُتأَثِّره شوم او دغسې مې په زړه کښې د دعوتِ اسلامي **مَحَبَّت** پيدا شو، ما د هغه **عاشِقانِ رَسُول** شکريه ادا کړه، هغوئ زما د آخرت د بهترئ او د دې مَدَنـي مقصد چه **"ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي."** په جذبه په ما باندې اِنفرادي کوشش اوکړو او ما ته ئې د علاقے په نزدے جُمات کښې د دعوتِ اسلامي په **مَدرَسةُ الْمَدينه** بالِغان کښې د سبق وئيلو فِکر راکړو. ما د خپلو غمرازئ کوونکو

اِسلامي ورونړو د نيکئ دعوت رَد نه کړے شو او سمدستي مې د شرکت کولو نِيَّت اوکړو، په **مَدرَسَةُ الْمَدينه** [برائے بالِغان] کښې مې په مخارجو د قُرآنِ پاك لوستلو سعادت حاصلول شروع کړو، اِسلامي ورونړو به په ډير مَحَبَّت سره سبق راکولو، د آخرت فِکر به ئې راکولو او د دعوتِ اسلامي د سُنَّتو ډکې اِجتِماع کښې به ئې د شرکت کولو ترغيب راکولو، چه د هغے په بَرَکت ما ته هُم هفته واره د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې د حاضرئ سعادت حاصل شو، دغسې زه د دعوتِ اسلامي **مَدَني ماحول** ته رانزدې شوم، مَدَني کارونو کښې مې په جوش و جذبه حصّه اخستل شروع کړل او اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د دې بيان ورکولو په وخت کښې پاکستان سطح باندې د مجلِس خُدّامُ الْمَساجِد د نِګران په حيثِيَّت د جُماتونو [جوړلو] د خِدمت په کوششونو کښې مصروف يم.

ترا شکر مولا دیا مدنی ماحول　　نہ چھوٹے کبھی بھی خدا مدنی ماحول
سلامت رہے یا خدا مدنی ماحول　　بچے بد نظر سے سدا مدنی ماحول

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د غمرازئ بَرَکت

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** تاسو اوليده چه د يو څو اِسلامي ورونړو غمرازئ او کَفَن دَفَن کښې شرکت کولو د يو ماډرن او فيشن پرست ځلمي په ژوند کښې مَدَنـي اِنقلاب راوستو او هغه په مَدَني کارونو کښې ترقي کوله کوله د دعوتِ اسلامي د مجلِس خُدّامُ الْمَساجِد نِګران جوړ شو او د نيکئ دعوت عام کول ئې شروع کړل. تاسو هم د دعوتِ اسلامي **مَدَني ماحول** سره خپل تَعَلُّق مضبوط ساتئ، د سُنَّتو ډکو اِجتِماعاتو کښې شرکت کوئ، د

خپلې اصلاح او د ټولې دُنيا د اِصلاح د کوشش د پاره په مَدَني انعاماتو عمل او **مَدَني قَافِلو** کښې سفر کوئ، ډير ډير اِنفرادي کوشش کوئ، غمرازي هُم کوئ او د نيکئ دعوت عام کړئ، راځئ د غمژن مسلمان د غمرازئ کولو او د يو مسلمان په زړه کښې د خوشحالئ داخلولو فضيلت هُم اوګورئ. چنانچه

## د غمرازئ فضيلت

د حضرتِ سَيِّدُنا جابِر رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه روايت دے چه د دواړو جهانو سردار صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چه د يو غمژن کس سره تعزِيَّت [يعني غمرازي] اوکړي **اللّٰه** تعالٰی به هغه ته د تقوىٰ لباس ور واغوندي او د رُوحونو په مينځ کښې به د هغه په رُوح رحمت اوکړي. (اَلْمُعْجَمُ الْاَوْسَط للطبرانی، ٦/٤٢٩ حدیث٩٢٩٢)

## د مومن په زړه کښې د خوشحالئ داخلولو فضيلت

نَبِيِّ رَحمت، شفيعِ اُمَّت صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: څوك چه د يو مومن په زړه کښې خوشحالي داخلوي **اللّٰه** تعالٰی د هغه خوشحالئ نه يوه فرښته پيدا کوي چه هغه د **اللّٰه** تعالٰی په عبادت او ذِکر کښې مصروفه اوسيږي. چه کله هغه بنده خپل قبر ته لاړ شي نو هغه فرښته د هغه څنګ ته راشي او تپوس کوي: آيا ته ما نه پيژنې؟ هغه وائي: ته څوك ئې؟ نو هغه فرښته جواب ورکوي: زه هغه خوشحالي يم کومه چه تا د فلانکي په زړه کښې داخله کړي وه، نن به زه ستا په ويره کښې تا ته اُنس [يعني مَحَبَّت او اُلفت، بَلدتيا] در رسووم او د سوالاتو په جواب کښې به دِ ثابِت قدم ساتم او تا ته به

د قيامت د ورځې نظارې ښايم او ستا د پاره به ستا د رب عَزَّوَجَلَّ په بارګاه کښې سفارش کووم او تا ته به په جَنَّت کښې ستا ځائے درښايم.

(اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب كتاب البر والصلة، باب الترغيب فى قضاء حوائج المسلمين، ۳/۲۹۹، حديث ۲۳)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## تجهيز و تَكفِين او دعوتِ اسلامي

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** د خود غرضئ او نفسانفسي په دې خراب دور کښې د عاشِقانِ رسُول مَدَني تحريك **دعوتِ اسلامي** د خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د غمژن اُمَّت په اصلاح او د سُنَّتو په خدمت کښې مصروفِ عمل دے او اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ تر اوسه (يعني جُمادَى الْاُوْلٰى ۱۴۳۹ھ) پورې د دعوتِ اسلامي پيغام د دُنيا تقريباً ټولو ملكونو ته رسيدلے دے او دا سفر جاري دے. مَدَني كارونو كښې د ترقئ د پاره د دعوتِ اسلامي (2017ء پورې) د ۰۰ نه زياتې شُعبے او مَجالِس جوړ شوي دي چه هغه د مَدَني مركز د ورکړے شوي طريقۀ كار مطابق په مكمل انداز كښې د نيكئ دعوت او اَحيائے سُنَّت كښې مصروفِ عمل دي. په هُم دې كښې يو مجلس تَجهِيز و تَكفِين [يعني كَفَن دَفَن] هم دے چه هغه د عاشِقانِ رَسُول د كَفَن دَفَن مرحلې د سُنَّت او شريعت مطابق سر ته رسولو او په دې كښې چه كوم خِلافِ شَرع رسمونه داخل شوي دي د هغے د لرې كولو خواهش لري او بنيادي طور د دې دوو اُمُورو د پاره كوشش كښې دے:

﴿۱﴾ عاشِقانِ رَسُول ته د كَفَن دَفَن طريقه ښودل او

﴿۲﴾ د عاشِقانِ رَسُول كَفَن دَفَن كول

عاشِقانِ رَسُول ته کَفَن دَفَن زده کولو د پاره د مجلِس له خوا تر اوسه پورې ګڼړ شمیر تربِیَّتي اِجتِماعات او په مَدَنـي چینل باندې مختلفې سلسلې وړاندې کړے شوي دي چه په هغے کښې د بیانولو په ذریعه او د عملي طریقې په ذریعه هُم [د کَفَن دَفَن طریقې] ښودلے کیږي. هُم دغسې د مَدَنـي مُذاکرو، دار الاِفتاء اَهلِسُنَّت د سلسلو، د مجلِس له طرفه د کَفَن دَفَن تفصیل او مسائلو باندې مُشتمِله وِیډیو، په عالَمي مَدَني مرکز کښې کیدونکي د فرض عُلومو د کورس د وِیډیو، او د "فیضانِ فرض عُلوم کورس" په نوم میموري کارډ په ذریعه هُم د تربِیَّت سلسله شته دے. یوه بله زبردسته د صِفَت وړ کارنامه دا ده چه د مجلِس له طرفه د **Muslim Funeral(KafanDafan)app.** په نوم یو موبائل اپلیکیشن جوړ کړے شوے دے چه په هغے کښې د نورو تفصیلاتو سره سره مړي ته د غسل ورکولو او د کفن ور اغوستلو عملي طریقه هُم ښودلې شوي ده او د مجلس له طرفه یو ویب سائټ **(tajheezotakfeen.dawateislami.net)** هُم جوړ کړے شوے دے چه د هغے نه د دې شُعبے متعلق معلومات او او د متعلقینو او ذِمَّه دارو نمبرې حاصلیدے شي. د دې نه علاوه د مجلس له طرفه یو بل قابِلِ قدر کوشش شوے دے او هغه دے "تجهیز و تکفین کارډ" چه هغه په جیب کښې هُم ساتلے شي او په هغے کښې خاص طور مړي ته غُسل ورکوونکو د پاره د کَفَن دَفَن مختلفې مرحلے مختصرے بیان کړے شوي دي. هر متعلقه اسلامي ورور او اِسلامي خور دِ دا کارډ ځان سره اوساتي او د موقعے په مناسبت دِ ئې تقسیموي هُم.

د زده کولو او نورو ته ښودلو دا سلسله عام کولو او زیات نه زیات اسلامي وروڼرو ته د دې فائدې رسولو په غرض د دعوتِ اسلامي په نورو شُعبو مَثَلًا

جامِعَةُ الْمدِينه، مَدرَسةُ الْمَدينه، او مَدَنـي تربِيَّتي کورس، مدني کارونه کورس او د لـمانځه کورس اِسلامي ورونړو او د دعوتِ اسلامي اَئمه کرامو، مُبَلِّغينو او غَسّال او قبرونه کنستونکو ته هُم د تجهِيز و تَکفِين د تربِيَّت سلسله شته دے او تر اوسه پورې د دوئي يو ښه شمير تربِيَّت حاصل کړے دے او دا سلسله جاري ده. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ تربِيَّت حاصلوونکو ډيرو اِسلامي ورونړو خپل تاثُرات هم بيان کړي دي، چنانچه د يو غَسّال [يعني په اُجرت غُسل ورکوونکي] بيان دے چه "د دعوتِ اسلامي د تربِيَّتي اِجتِماع په بَرَکت اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ زمونږه ډيره اِصلاح وشوه." هُم دغسې د يو اِسلامي ورور زړه نرې شو او په ژړا ئې اُووئيل چه "کاش! ما ته دا تربِيَّت مخکښې حاصل شوے وے."

د اِسلامي ورونړو په شان اسلامي خويندو ته هُم د تجهِيز و تَکفِين د تربِيَّت سلسله ده چه په هغے کښې د دعوتِ اسلامي مُبَلِّغاتِ او ذِمَّه دارې اسلامي خويندې تربِيَّت کوي، په ټول مُلك کښې د مَدرَسةُ الْمَدينه لِلبَنات او جامِعَةُ الْمدِينه لِلبَنات سره سره د دوئي هُم کنړ شمير تربِيَّتي اِجتِماعات شوي دي او د تربِيَّت حاصلولو نه پس اسلامي خويندې په تجهِيز و تَکفِين کښې مصروفِ عمل دي او دا سلسله جاري ده. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ

د مجلِس له طرفه د تربِيَّت حاصلوونکو اسلامي ورونړو د امتحان اخستو سلسله هم وي چه په هغے کښې د کَفَن دَفَن طريقه، د جنازے د لـمانځه د اِمامت او د فاتِحه [يعني دُعا] طريقه شامله ده. هُم دغسې اسلامي خويندو نه هم د امتحان (Test) اخستو ترکيب شته دے او تر اوسه پورې سوونو اسلامي خويندو او اِسلامي ورونړو د امتحان ورکولو سعادت حاصل کړے دے.

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! پاکستان نه علاوه نورو مُلکونو کښې هُم د کَفَن دَفَن د تربِيَّت سلسله شته دے بلکه بعضو مُلکونو کښې باقاعده مجالِس هُم قائم شوي دي. د مجلِسِ تجهِيز و تَکـفِين په اَهدافو کښې شامل دي چه په ټوله دُنيا کښې د دې شُعبے مُتَعَلِّق ذِمَّه داران مُقرر کړے شي، صرف پاکستان کښې د ۱۵۰۰۰ ذِمَّه دارانو د تقرُّر هَدَف دے او د دې د حاصلولو د پاره مجلِس سرګرمِ عمل دے. کومو مُقاماتو کښې چه د تربِيَّت او ټيسټ نه پس اِسلامي وروڼه مُقرر کړے شوي دي هلته د مجلِس له طرفه په ښکاره مُقاماتو کښې د بينرو لګولو سلسله هُم ده چه د کَفَن دَفَن د پاره اِسلامي وروڼه په آسانئ سره رابطه کولے شي، په دې بينرو باندې د ذِمَّه دارانو رابطه نمبرې هُم موجودي وي. (هُم دغسې اسلامي خويندو سره رابطه کولو دپاره د هغوئ په هفته وارو د سُنَّتو ډکو اجتماعاتو کښې "مړي ته د غُسل ورکوونکي ذِمَّه داري" او د هغوئ د رابطه نمبر د اعلان ترکيب کيږي او د هغوئ د محارِم رابطه نمبر د مجلِس تجهِيز و تَکـفِين د ويب سائټ نه هُم حاصليدے شي.)

دنورو تفصيلاتو د پاره (tajheezotakfeen.dawateislami.net) اوګورئ او په کومو مُقاماتو چه ذِمَّه داران مُقرر کړے شوي دي د هغوئ تفصيل او رابطه نمبرې هُم حاصلې کړئ. د دې نه علاوه تاسو په دې ويب سائټ کښې کوم کوم معلومات اخستے شئ. راشئ د دې په باره کښې څه تفصيل اوګورئ:

## د مجلِس تجهِيز و تَکـفِين ويب سائټ

ويب سائټ چه څنګه چالو کړئ نو ستاسو مخې ته به هوم پيج ( Home Page) وي او په هغے کښې به په مينځ کښې څه آئيکونز (icons) ښکاري او په هغے به جُدا جُدا دا عُنوانات لِيک وي.

﴿۱﴾ د مرګ راتلو بيان ﴿۲﴾ تجهِيز و تَکـفِين
﴿۳﴾ د مړي د غُسل طريقه ﴿٤﴾ د کَفَن بيان
﴿٥﴾ د جنازے د لـمانځه طريقه ﴿٦﴾ د قبر و دَفَن بيان
﴿۷﴾ د فاتِحه طريقه

تاسو چه د کوم عُنوان لاندې معلومات حاصلول غواړئ په هغے کِلِك اوکړئ نو يوه پاڼه به راښکاره شي چه په هغے کښې به د لِيك په صُورت کښې د هغه عُنوان لاندې تفصيلات موجود وي، هُم دغسې نور عُنوانات هُم تاسو کتلے شئ.

هوم پيج باندې ښِي طرف ته يو آئيکون باندې "تجهِيز و تَکـفِين کورس" ليکلے دے د هغے نه لاندې اسلامي ورور او اسلامي خور ليکلے شوي دي، دلته تاسو په خپل مطلوبه آئيکون باندې کِلِك کولو سره په mp3 يا mp4 کښې د ډاؤن لوډ کولو په ذريعه د اوريدلو او کتلو سهولت حاصلولے شئ. هُم دغسې په هوم پيج باندې په شروع کښې مينيوبار (Menu Bar) دے چه په هغے کښې هوم، مِيډيا بکس، ګيلري، ذِمَّه داران، کونټيك اَس (Contect us)، ډيپارټمينټس وغيره مختلِف آپشنز (Options) موجود دي. د دې په ذريعه تاسو د اميرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه او نِګرانِ شورىٰ بيانات، مَدَنـي ګُلدستې، مَدَنـي مُذاکَرې، فرض عُلوم کورس، د [آخرت] د غم نه ډك کلامونه، نعت، مُناجات، نِيَّتونه، دُعاګانې، وال پيپرز، د مَکْتَبَةُ الْمَدِينه رسالے، مختلف مَدَنـي ګُلونه، پاکستان سطح باندې د مختلفو ښارونو او د ټولې دُنيا د ملکونو د مجلِس تَجهِيز و تَکـفِين د ذِمَّه دارانو نومونه او نمبرې، کارکردګي

او نور فارمونه او بينرز وغيره کتلے شئ او ډاؤن لوډ کولے ئې هُم شئ، هُم دغسې چه په هوم پيج باندې لاندې طرف ته راشئ نو تاسو به دا ليکلې اوګورئ: د اُمَّتِ مُصطَفیٰ سره د خير ښيګڑې د جذبے لاندې د دعوتِ اسلامي د مجلِس تجهِيز و تَکفِين د پاره خپل خِدمات وړاندې کولو د پاره دلته کلِک اوکړئ. کلِک کولو باندې به يو فارم ښکاره شي، هغه تَوجُّه سره ډک کړئ او آخره کښې (Submit) باندې کلِک کړئ نو مُتَعَلِّقه ذِمَّه دار ته به هغه تفصيل راشي.

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** تاسو هُم اُمَّت سره د ښيګڑې په جذبه د تجهِيز و تَکفِين زده کولو او ښودلو د پاره رابطه اوکړئ، د ژوندو مسلمانانو په شان مړو شوو سره هم ښيګڑه اوکړئ او د هغوئ کَفَن دَفَن کښې حصّه واخلئ، د هغوئ کورنئ ته تَعزِيَّت [يعني غمرازي] اوکړئ او په هغوئ باندې اِنفرادي کوشش اوکړئ او هغوئ هُم د دعوتِ اسلامي مَدَنـي ماحول کښې شامل کړئ اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ ډير زيات ثواب به اوکټئ او بهشميره بَرَکتونه به حاصل کړئ. راشئ په دې باره کښې د فيضانِ سُنَّت جِلد د باب "د نيکئ دعوت" نه يو رِوايت اوګورئ:

## د قبر د رنړا سامان

**اللّٰه** تَبَارَكَ وَتَعَالیٰ حضرت سَيِّدُنا موسیٰ **کليمُ اللّٰه** عَلَيْهِ السَّلَام ته وحي اُوفرمائيله: "**د خير** [يعني د نيکئ] **خبرې پخپله هم زده کوه او نورو ته ئې هم زده کوه، زه به د خير** [يعني د نيکئ د خبرو] **زده کوونکو او ښودونکو قبرونه روښانه کووم چه هغوئ ته د هيڅ قِسمه ويره نه وي.**" (حِلْيَةُ الاولياء ج٦ ص٥ رقم ٧٦٢٢)

دا رِوايت نقل کولو نه پس اميرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَة فرمائي:

## دَ مُبَلِّغِينو قبرونه به اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ ځليږي

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د دې روايت نه د نيکئ د خبرې د زده کولو او ښودلو اَجر و ثواب معلوم شو. د **سُنَّتو ډك بيان** کوونکو يا درس ورکوونکو او اَوريدونکو خو به مزې شي، اِنْ شَآءَ الله تعالٰی د هغوئ قبرونه به د دننه نه ځليږي او هغوئ ته به هيڅ قسم ويره نه وي. په **اِنفِرادي کوشش** کوونکو د **نيکئ دعوت** ورکوونکو، د سُنَّتو د تربِيَّت په **مَدَني قافلو** کښې د سفر کوونکو او د **فِکرِ مَدِينه** په ذريعه د **مَدَني انعاماتو** د رسالے هره ورځ د ډکولو ترغِيب ورکوونکو او د **سُنَّتو ډکې اجتماع** دعوت ورکوونکو، **مُبَلِّغِينو** او د **نيکئ دعوت** اوريدونکو قبرونه به هم اِنْ شَآءَ الله تعالٰی د حُضُور صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نُور په خاطر **نُورٌ علٰی نُور** وي.

قبر میں لہرائیں گے تا حشر چشمے نور کے
جلوہ فرما ہوگی جب طَلعَتِ رسولُ اللہ کی (حدائقِ بخشش حصّہ اوّل ص۱۵۲)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ښه ښه نِيَّتونه

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** تجهِيز و تَکفِين زده کولو او ښودلو او د يو مسلمان په کَفَن دَفَن کښې د حصّه اخستلو مُتَعَلِّق که ښه ښه نِيَّتونه اوکړئ نو اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی ثواب کښې به مو ډيره اِضافه اوشي ځکه چه يو خو بغير د ښه نِيَّت نه د يو عملِ خير ثواب هُم نه حاصليږي، بله دا چه څومره زيات ښه نِيَّتونه وي هغه همره به ثواب هُم زيات کيږي. نِيَّت د زړه پخې اِرادے ته وائي اګر که هغه د هر څيز وي او شريعت کښې نِيَّت د عبادت اِرادے ته وائي. (نُزهَةُ

القاری، ۱/۱۶۹) ډير مُباح کارونه چه په هغے کښې نه ثواب شته او نه ګناه (مَثَلًا خوراك څښاك، اُوده کيدل، ګرځيدل وغيره) که په دې کښې د ثواب نِيَّت اوکړے شي نو دا به عبادت جوړ شي او که بد نِيَّت پکښې اوکړے شي نو دا به بد کار جوړ شي او که هيڅ نِيَّت هُم پکښې اونکړے شي نو دا به مُباح شي. د نِيَّت دا فائده هم ده چه که د نِيَّت کولو نه پس ئې هغه کار اونکړے شو نو بيا به هُم د نِيَّت ثواب ورکولے شي. (فیضانِ سُنَّت، جلد ۲ باب غیبت کی تباہ کاریاں، ص۴۶۱تا۴۶۲ ماخوذاً)

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** کوم کار چه هم کوئ د **الله** تعالیٰ د رضا د پاره ئې کوئ او په هغے کښې ريا کارئ او ښودنې ته دخل مه ورکوئ! د ريا کارئ نه مُراد دے "**د الله** تعالیٰ د رِضا نه علاوه په څه بله اِراده عِبادت کول" مَثَلًا په کَفَن دَفَن کښې ځکه حِصّه اخستل چه خلق مې صِفَت اوکړي چه دے مسلمانانو سره د ښيګړې ډيره جذبه لري. [د ريا کارئ] د نورو معلوماتو د پاره د فيضانِ سُنَّت، جِلد باب "د نيکئ دعوت" اولنئ صفحې اولولئ چه په هغے کښې اميرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ د ريا کارئ نقصانات او د هغے ۸۰ مثالونه بيان کړي دي، دلته د هغے نه دوه مثالونه وړاندې کيږي:

"د مړي په موقع ځکه منډه ترړه کول او د جنازے په جُلُوس کښې او د خخولو په موقع ځکه وړاندې وړاندې کيدل چه خلقو کښې ښکاره شم، د مړي خاوندان رانه مُتأَثِّره شي، د هغوئ په نظر کښې ښه انسان شم."

"د چا د مصيبت په اوريدو ځکه خُله ورانول يا همدردانه جُملے وئيل چه خلق را ته رحم دِله اُووائي. (البته د غمژن مسلمان د زړه ساتلو په نِيَّت د هغه په مخکښې **د الله** د رضا د پاره داسې کول عِبادت او د ثوابِ آخرت باعِث دي)"

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** بېشکه پخپله د امیرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه وجُود مُبارك زمونږ د پاره یو ډیر غټ نِعمت دے، دا د هغوئي د مُخلِصانه کوششونو نتیجه ده چه نن مونږ ته د عاشِقانِ رسُول مَدَني تحریك **دعوتِ اسلامي** د سُنَّتو ډك ښکلے ښکلے **مَدَني ماحول** حاصل دے چه د دې په وجه د لکونو لکونو مسلمانانو اِصلاح وشوه او هغوئي توبه ګار شو او د صلوٰة و سُنَّت په لاره روان شو بلکه سوونو غیر مُسلِمو ته چه د کُفر او شِرك په تِیارو کښې ورك وو هغوئي ته د امیرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه او د دې مَدَني تَحریك په بَرَکت د اِیمان لازوال نعمت نصیب شو او د هغوئي په زړونو کښې هُم د عِشقِ رَسُول سمندر چپې وهل شروع کړل او هغوئي هُم **عاشِقانِ رَسُول** جوړ شو او هغوئي هُم دا مَدَني مقصد حاصل کړو چه **"ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي."** اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** هُم د امیرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه په بَرَکت مونږ ته فِکرِ مدینه کول، **مَدَني قَافِلو** کښې سفر کول، د نیکئ دعوت ورکول، اِنفرادي کوشش کول او د نورو مَدَني کارونو کولو سره سره د هر جائز کار نه مخکښې د ښو ښو نِیَّتونو کولو فِکر حاصل شو. د نِیَّت مُتَعَلِّق زمونږه د خوږ آقا مکّـی مَدَنـی مُصطَفیٰ صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عالیشان دے: د مُؤمِن نِیَّت د هغه د عمل نه بهتر دے. (مُعجَم کبیر، ۱۸۵/۶ حدیث۵۹۴۲) د نِیَّت د اَهَمِّیَّت او فائدو په وجه امیرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه په خپلو بیاناتو، مدني مُذاګرو، کتابونو او رِسالو او نورو لیکونو کښې هُم مُسلسل د نِیَّتونو کولو ترغیب ورکوي بلکه ښه ښه نِیَّتونه هُم بیانوي چه نِیَّتونه کول آسان شي او په ثواب کښې اِضافه اوشي. دے سلسله کښې د نِیَّتونو مُتَعَلِّق د هغوئي آډیو بیان **"نِیَّت کا پھل"** او

رساله "ثواب بڑھانے کے نُسخے" د مَكْتَبَةُ الْمَدِينه نه هدِيَّةً غوښتلے شئ مونږ ته هُم پكار دي چه د هر كار نه مخكښې څه نه څه ښه ښه نِيَّتونه كوو. د نِيَّت د اَهَمِّيَّت مُتَعَلِّق په حديثِ پاك كښې دي: رښتيني نِيَّت د ټولو نه غوره عمل دے. (اَلجامِعُ الصَّغِير ص٨١ حديث ١٢٨٤) د رښتيني نِيَّتونو جذبه حاصلولو او ثواب زياتولو د پاره د ښو ښو نِيَّتونو زده كولو او سُنَّتو باندې عمل كولو د پاره د **دعوتِ اسلامي** خوشبودار مَدَنـي ماحول كښې شامل شئ او هره مياشت كم از كم د درې ورځو مَدَني قَافِله كښې سفر كوئ او د مَدَني انعاماتو مطابق ژوند تيروئ، ستاسو د ترغيب او تَحريص [يعني د نيكئ حرص پيدا كولو] د پاره تاسو ته يو مَدَنـي سپرلے اوروو، چنانچه

## د رښتينې نِيَّت بَرَكت

د يو اسلامی ورور بيان دے دا د هغه ورځو خبره ده چه په بابُ المَدينه كراچئ كښې د سُنّتو ډكې د درې ورځو د اجتماع زبردسته تياري جاري وه. د مختلفو ښارونو نه **مَدَنِي قَافِلِي** د سُنَّتو ډكه اِجتِماع كښې شريك كيدو د پاره په ذوق او شوق تيارئ كښې مشغولي وې. د ډيرو ښارونو نه بابُ المَدينه كراچئ ته د تلو د پاره خصوصی ټرينونه [يعني ريل گاډي] بُك كړے شوي وو. په هم هغه ورځو كښې زمونږه يو عزيز وفات شو يو څو ورځې پس هغه مرحوم چا په خوب كښې اوليدو او د حال تپوس ئې ترې اوكړو نو هغه څه داسې اووئيل چه ما په كراچئ كښې كيدونكي د دعوتِ اسلامي د سُنّتو ډكې اجتماع كښې د شركت په نِيَّت په خُصوصي ټرين كښې د ځان د پاره سِيټ بُك كړے وو خو ما په اِجتِماع كښې شركت اونكړے شو **الله** تعالٰی د هغه رِښتيني نِيَّت په په بَرَكت زما بخښنه اوكړه.

رحمتِ حق "بہا" نہ می جوید  رحمتِ حق "بہانہ" می جوید

(د الله عَزَّوَجَلَّ رحمت "بها" يعني قِيمت نه غواړي . د الله عَزَّوَجَلَّ رحمت خو "بهانه" غواړي)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!  صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** تاسو اوليده؟ د ښه نِيَّت څومره اوچته مرتبه ده چه د عمل کولو موقع د نه حاصليدو باوجود صرف په اِجتماع کښې د شرکت په نِيَّت د خوش نصيبه بخښنه وشوه. حضرتِ سَيِّدُنا حَسَن بَصری رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه اِرشاد فرمائي: "انسان ته به د يو څو ورځو په عمل نه بلکه په ښه نِيَّت جَنَّت حاصليږي." (کیمیائے سعادت، ۸۶۱/۲، دعوت اسلامی کی مدنی بہاریں، ص۲۰۸)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!  صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

راځئ! د تجهِيز و تَکفِين مُتَعَلِّق څه نِيَّتونه اوکړئ.

## د تجهِيز و تَکفِين د طريقې سودلو نِيَّتونه

❁ د رضائے اِلٰهی حاصلولو او ثوابِ آخرت کمولو د پاره به عاشِقانِ رَسُول ته د کَفَن دَفَن طريقه ښايم ❁ د تعليمِ عِلمِ دِين حاصلولو د پاره به صفا سُتره جامے اغوندم ❁ خوشبو به لګوم ❁ د مُقرره وخت پابندي به کوم ❁ په شروع کښې به د اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط وئيلو په ذريعه د حَمْد، دُرُود و سلام، تَعَوُّذ او تَسمِيه نه شروع کوم ❁ د موقعې په مُناسبت به عَزَّوَجَلَّ، صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم، رَضِیَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ او رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه وايم ❁ د دِيني کتابونو ادب به کوم ❁ په آسان انداز کښې به د پوهه کولو کوشش کوم ❁ که څوك په

کومه خبره پوهه نه شو نو بيا بيا پوهه کولو کښې به سستي نه کووم ❁ ټولو زده کوونکو ته به يو شان تَوجُّه ورکووم ❁ د رټلو دګلو [او قهريدلو] نه به ځان ساتم ❁ موقع په موقع به د زده کوونکو حوصله افزائي کووم ❁ مرګ او د هغے نه پس راتلونکي مرحلے به يادووم او خپل ځان ته او نورو ته به د آخرت فکر ورکووم.

## د تجهِيز و تَکفِين زده کولو نِيَّتونه

❁ رضائے اِلٰهي حاصلولو او د آخرت ثواب ګټلو د پاره به د کَفَن دَفَن طريقه زده کووم ❁ د تعليمِ عِلمِ دين د پاره به صفا سُتره جامے اغوندم ❁ خوشبو به لګووم ❁ د مُقرره وخت پابندي به کووم ❁ بے وجهې به جامے، بدن، د سر يا ګيرې وينښته سمولو راسمولو نه ځان ساتم ❁ د درئ نه تارونه راښکلو، په فرش باندې ګوتو لوبولو، اخوا ديخوا کتلو، خبرو کولو او تکيه وهلو نه به ځان ساتم ❁ د پردے د پاسه پرده نه کيدو په صورت کښې به د زنګونانو ودرلو په ذريعه د نورو د پاره د بدنظرئ کولو باعِث جوړيدو نه ځان ساتم ❁ په زنګونانو باندې سر کيښودلو، نورو ته اشارو کولو، بيرته تللو وغيره نه به ډډه کووم ❁ د عِلمِ دين زده کولو په نِيَّت به چه تر څو پورې کيدے شوه د اَلتَّحِيَّات په شان کښينم او په عِلمِ دين باندې ځان پوهه کولو د پاره به نظر ښکته ساتم او ښه په غور به اورم ❁ ضرورتاً به د خپل ځائے نه خوزيږم، ناسته کښې به کم ځائے نيسم او د نورو د پاره به ځائے فراخه کووم ❁ موبائل فون به بند ساتم ❁ خپل مينځ کښې خبرو اترو نه به د ځان ساتلو کوشش کووم ❁ د نورو د زړه ازارولو

نه به ځان ساتم ❁ د مزاج خلاف معامَله باندې به د صبر کولو په ذريعه ثواب کټم ❁ که په کومه خبره پوهه نه شوم نو په ادب به د بيا پوهه کولو درخواست کووم ❁ د دِيني کتابونو او اُستاذانو ادب به کووم ❁ څه چه زده کړم هغے کښې به نورو ته ښودلو کښې بُخل نه کووم ❁ د عاشِقانِ رَسُول د کَفَن دَفَن د پاره به د خپلو مصروفياتو نه وخت مخصوصووم (مَثَلًا دوه يا درې ګينټې به) ځان د مجلِس د خدمت د پاره پيش کووم.

## تجهِيز و تَکفِين کښې د حصّه اخستلو نِيَّتونه

❁ رضائے اِلٰهي حاصلولو او د آخرت ثواب کټلو د پاره به د عاشِقانِ رَسُول په کَفَن دَفَن کښې حِصّه اخلم ❁ فرضِ کِفايه به ادا کووم ❁ د مسلمان حق به ادا کووم ❁ په ټولو اُمورو کښې به سُنَّت او شرعي احکام په نظر کښې ساتم ❁ د مرحوم کورنئ سره به همدردي او غمرازي کووم ❁ چه څومره کيدے شوه اوداسه کښې به اوسيږم ❁ که موقع وه نو نرمئ سره به د مرحوم په کورنئ او د هغه په نورو خپلوانو اِنفرادي کوشش کووم ❁ خپل ځان د پاره او مرحُوم او د هغه د کورنئ او اُمَّتِ مُسلِمه د پاره به دُعائے خير کووم ❁ خِلاف شرع کار نه به د وس مطابق د هغوئ د منع کولو کوشش کووم ❁ مرحُوم ته به اِيصالِ ثواب کووم او د هغه کورنئ ته به د ايصالِ ثواب د پاره د مَدَني رسالو تقسيمولو او مَدَني قَافِله کښې د سفر کولو ترغيب ورکووم.

اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

## ”اے انسانه یو ځل به مري آخر دِ مرګ دے“ د شپږ ویشتو حُرُوفو په نِسبَت د مجلِس تجهِیز و تَکفِین مَدَني ګلونه

﴿۱﴾ **فرمانِ مُصطَفٰی** صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دے: نِيَّةُ الْمُؤْمِنِ خَيْرٌ مِّنْ عَمَلِهٖ يعني د مسلمان نِيَّت د هغه د عمل نه بهتر دے. (مُعجَم کَبِیر للطبرانی ، ٦/١٨٥ حدیث٥٩٤٢) ځکه دِ د مجلِس تجهِیز و تَکفِین هر ذِمَّه دار د امیرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ عطا کړو ” مَدَني انعاماتو“ نه په ”مَدَني انعام نمبر۱“ باندې عمل کولو سره دا نِيَّت هُم کوي چه ”زه به د اللّٰه تَبَارَكَ وَتَعَالٰی د رضا او د هغه د حبیب صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خوشحالولو د پاره د دعوتِ اسلامي د شُعبے ”مجلِس تجهِیز و تَکفِین“ مَدَني کار د مَدَني مرکز د طریقۀ کار مطابق کووم. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ

﴿۲﴾ د مجلِس تجهِیز و تَکفِین کار، د شریعت او د مَدَني مرکز د ورکړے شوي طریقۀ کار (کوم چه د شریعت خِلاف نه وي) مطابق د مسلمانانو مړو د کَفَن دَفَن او د هغه د مُتَعَلِّقینو د غمرازئ ټول مُعامَلات د ثواب ګټلو د پاره کول او ټولو عاشِقانِ رَسُول ته مړي ته د غُسل ورکولو طریقه زده کول دي.

﴿۳﴾ د مجلِس تجهِیز و تَکفِین ټول اِسلامي وروڼه دِ د کَفَن دَفَن، تعزِیَّت او د جنازے د لـمانځه وغیره مسائل زده کړي، د دوئي د پاره د مَکْتَبَةُ الْمَدِینه کتاب ”د کَفَن دَفَن طریقه“ لوستل لازمي دي چه په دې کښې ❁ مَدَنـي وَصِیَّت نامه ❁ د جنازے د لـمانځه طریقه ❁ شیطان کے بعض ہتھیار [د شیطان بعضې وسلې] ❁ د فاتِحه طریقه ❁ د قبر والؤ حِکایات ❁ بهارِ شریعت حصّه ٤

جِلد اوّل کتابُ الـجنائز صفحه ۷۹۹ تا ۸۵۷ (مطبوعه مَکْتَبَةُ الْمَدِینه بابُ الْمَدینه کراچۍ) او فَتَاوىٰ رَضَوِيَّه جِلد ۹ نه اِستِفاده اخستے شوي ده. "دار الاِفتاء اَهلِسُنَّت" نه ضرورتاً شرعي رَهنمائي اخلئ. دے شُعبے سره تَعَلُّق لرونکو ذِمَّه دارانو ته پکار دي چه د کَفَن دَفَن مُتَعَلِّق پوره تربِيَّت حاصل کړي، مَکْتَبَةُ الْمَدِینه نه جاري شوي ويډيو په نوم د "تجهِيز و تَکفِين تربِيَّتي اِجتِماع" دِ حاصله کړي، د دې شُعبے ويب سائټ (tajheezotakfeen.dawateislami.net) کښې هُم دا ويډيو کتلے او اوريدلے شئ. ډويژن نه واخله مُلك سطح پورې د هر ذِمَّه دار په جَدوَل کښې کم از کم هفته کښې د يوے ويډيو اجتماع کولو هدف شامل دے.

❁ د مجلِسِ تجهِيز و تَکفِين د هرې سطحې ذِمَّه دار ته تاکيد دے چه هر کال د مُحَرَّمُ الْحَرَام په مياشت کښې کتاب "د کَفَن دَفَن طريقه" لوَلي او دا ويډيو کورې، د صَفَرُ الْمُظَفَّر په مياشت کښې کيدونکي د هرې سطحې مشوره کښې به د هرې سطحې د ذِمَّه دار نه د هغه کارکردکي اخستے شي.

﴿٤﴾ نگرانِ مجلِس (مُلك سطح) دِ وقتاً فوقتاً مختلفو مقاماتو کښې تربِيَّتي اِجتِماعات منعقِد کوي او په هره علاقه او هر بٰنار کښې دِ د دې کار تجربه لرونکي اِسلامي ورونړو ته ذِهن ورکوي او د دې کار د پاره دِ ئې تياروي، د هغوئ نومونه او موبائل نمبرې دِ اخلي چه ضرورتاً رابطه کولو کښې آساني وي. که کيدے شي نو تربِيَّتي اِجتِماع کښې قبر کنستونکي اِسلامي ورونړه ضرور شريك کوئ چه د هغوئ هُم د شريعت مطابق تربِيَّت اوشي.

﴿٥﴾ د هفته وارې اِجتِماع په جُماتونو کښې دِ د شرعي رهنمائي سره بينر اولګولے شي چه د هغے عُنوان دا وي: " اِسلامي ورونړو [يعني نارينه] مړي ته

غسل ورکولو د پاره په دې نمبر رابطه اوکړئ (مجلسِ تجهِيز و تَکفِين دعوتِ اسلامي)" هُم دغسې د اسلامي خويندو د اِجتِماعاتو په مقاماتو کښې "اسلامي خويندو [يعني زنانه] مړي ته غسل ورکولو د پاره په دې نمبر رابطه اوکړئ (مجلسِ تجهِيز و تَکفِين دعوتِ اسلامي)"[1] د علاقے په جُماتونو کښې دِ هُم د ذِمَّه دار رابطه نمبر او رابطې د پاره مخصوص عِبارت د جُمات په بورډ وغيره باندې اوليکلے شي چه د ضرورت په وخت کښې خلق رابطه کولے شي. (کوم نمبر چه ورکوئ هغه د مجلِس په مشوره ورکوئ)

﴿٦﴾ کوم ځائے کښې چه څوك صحيحُ العقيده سُنِّي عاشقِ رَسُول وفات شوے وي، د مجلِس اِسلامي ورونړه دِ ښو ښو نِيَّتونو سره اوّل نه آخره پورې (يعني د مړي د غُسل نه واخله خخولو پورې) د شرکت سعادت حاصلوي او د ايصالِ ثواب د اِجتِماعاتو ترکيب دِ هُم کوي.

﴿٧﴾ د مړي د غُسل نه واخله تر خخولو پورې ټول مُعامَلات په "**مَدَنـي وصِيَّت نامه مع د کَفَن دَفَن اَحکامات**" کښې د ورکړے شوي طريقۀ کار مطابق د کولو کوشش کوئ. غَسّال (يعني غُسل ورکوونکي) اِسلامي ورونړو سره هر وخت د **مَکْتَبَةُ الْمَدِينه** چاپ شوي کتاب "د کَفَن دَفَن طريقه" او د "تجهِيز و تَکفِين" کارډ هر وخت موجود کيدل پکار دي. او موبائل ايپليکيشن **Muslim Funeral(KafanDafan)app** او ويب ايډريس **(tajheezotakfeen.dawateislami.net)** هم ورسره موجود کيدل پکار دي ځکه چه په هغے کښې مختلفو علاقو کښې مړي ته غُسل ورکولو د پاره رابطه نمبرې موجودې دي.

---

1 د بينر انداز په آخرو صفحاتو کښې اوګورئ.

﴿۸﴾ د مړي د غُسل نه واخله تر خخولو پورې بعضې وخت د خپلوانو او عزيزانو د رارسيدو انتظار کيږي، هغه وخت د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اِدارې **مَکْتَبَةُ الْمَدِينه** چاپ شوي رسالے "*مُردے کے صدے* [يعني د مړي غمونه]" او کتاب "د کَفَن دَفَن طريقه" نه د نيکئ دعوت ورکوئ. د دې نه علاوه دغه دوران کښې هم دا ذِهن ورکول پکار دي چه دغه وخت هُم ختمِ قُرآن، دُرُود شريف، اِستِغفار او د نورو تَسبِيحاتو وِرد جاري ساتي.

﴿۹﴾ د کفن تيارولو وخت کښې، مړي ته غُسل ورکولو وخت کښې، د جنازے د لـمانځه د انتظار په وخت کښې او قبرستان کښې د خخولو په دوران کښې د اِنفرادي کوشش ډيرې موقعې وي. په داسې موقع بِالخصوص د مړي وارثانو باندې اِنفرادي کوشش کول او هغوئ د دعوتِ اسلامي **مَدَني ماحول** کښې د شاملولو کوشش پکار دے او که کيدے شي نو اديرې ته تللو وخت کښې "د قبرونو والؤ حِکايات" او د کَفَن دَفَن طريقه" نه مَدَنـي گُلونه بيانوئ.

﴿۱۰﴾ بعضو علاقو کښې د خخولو نه فوراً پس د قبر څنګ کښې يا صبا له د مړي ايصالِ ثواب د پاره "د ختمِ قُرآن" سلسله وي په داسې موقع باندې هم د مجلِس **مَدرَسةُ الْمَدينه** (لِلبَنِين) په اجازت د نزدے **مَدرَسةُ الْمَدينه** (لِلبنين) د مَدَنـي ماشومانو په ذريعه د ختمِ قُرآن ترکيب کوئ. (د مجلِس مَدرَسةُ الْمَدينه (لِلبَنِين) د طے شوو مَدَنـي گُلونو په رنړا کښې دِ ترکيب اوکړے شي)

﴿۱۱﴾ څنګه چه هره معامَله کښې د هرې علاقے خپل رسم و رواج مختلف وي، هُم دغسې مړي ته د غُسل او کفن ورکولو تر دې چه خخولو پورې

ډيرو مُعامَلاتو کښې هُم رسم و رواج مختلف وي، بلکه کيدے شي چه د عِلمِ دين نه د لرې والي او جَهالت په وجه غير شرعي معامَلات هم کيږي. اُمَّتِ مُسلِه سره د ښيګڑې په نِيَّت چه کوم ځائے غير شرعي معامَلات وينئ يا واورئ هلته دارُ الاِفتاء اَهلِسُنَّت ته سمدستي رابطه کوئ او د مړي وارثانو ته په ښو ښو نِيَّتونو په نرمئ او حکمَتِ عَمَلئ سره د نيکئ دعوت ورکړئ.

﴿۱۲﴾ د غير شرعي معامَلاتو (مَثَلًا نوحه کول، سينه وهل، د سر ويښته شوکول، د مصيبت په وخت کښې کُفرِيه خبرې کول، نارينه او زنانه يو ځائے کېدل وغيره) د معلومات کيدلو نه پس هغوئ ته د هغے ګناه بيانول او د هغے شرعي رَهنُمائي کولو وخت کښې د دې خبرې خاص خيال ساتئ چه د فساد انديښنه نه وي (کوم ځائے چه غالِب ګُمان دا وي چه په پوهه کولو به خبره اُومني، نو صرف هلته ترکيب کول پکار دي) او د مَکْتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوي رِساله "کَلِماتِ کُفر" ورته پيش کوئ.

﴿۱۳﴾ په دې موقع باندې عام طور زړه نرم شي او انسان نيکئ طرف ته لږ زر مائل کيږي. په دې موقع باندې د مجلِس له طرفه جاري شوے د اَميرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَة تعزيتي مکتوب اورولو باندې د مړي د ايصالِ ثواب د پاره د جُمات، مَدارسُ الْمَدينه او جامِعاتُ الْمَدِينه وغيره تعمير کولو ذِهن هُم ورکولے شئ. (که د مُتَعَلِّقه شُعبه جاتو د ذِمَّه دار په مشوره او اجازت اوشي نو زياته بهتره ده)

﴿۱٤﴾ د دريمې، څلويښتمې او کليزې په موقع د اِجتِماعِ ذِکر و نعت اهتمام کوئ، د مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي د بيان ترکيب جوړوئ او د مَکْتَبَةُ الْمَدِينه د رسالو

وغيره تقسيمولو مضبوط ترکيب جوړوئ. ”د کَفَن دَفَن طريقه“ کښې د اِجتِماعِ ذِکر و نعت برائے ايصالِ ثواب بيانات موجود دي.

﴿۱۵﴾ د د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اِداري **مَکْتَبَةُ الْمَدِينه** چاپ شوي رساله ”*شيطان کے بعض ہتھيار* [يعني د شيطان بعضې وسلې] “ [اُردو] د صفحه نمبر ۱۰ نه پورې ضرور ضرور ضرور اولولئ.

## د اِجتِماعِ ذِکر و نعت برائے ايصالِ ثواب جَدوَل

(زيات نه زيات مِنَټه)

| | |
|---|---|
| تِلاوت و نعت شريف | مِنټه |
| د سُنَّتو ډك بيان | ۱۰مِنټه |
| ذِکْرُ الله | ۵مِنټه |
| رِقَّت ناکه دُعا | مِنټه |
| صلوٰة و سلام (۳ شعرونه) مع اختتامي دُعا | منټه |

**مدينه:** کوم وخت چه مقرر شي د هغے پابندي کوئ،“ ”د ماسخُتن د لـمانځه نه پس به کيږي“ د دې وينا په ځائے د ګينټې [يعني ګړئ/ساعت] د وخت مطابق وخت مقرروئ، مَثَلًا که د شپے نهه بجو وخت ټاکلے شوے وي نو د خلقو انتظار مه کوئ او په صحيح وخت باندې د تِلاوت نه شروع کوئ.

**مدينه:** د هغه ځائے نه اِيصالِ ثواب د پاره سمدستي **مَدَنِي قَافِلِي** په سفر روانوئ.

﴿۱۶﴾ په تقسيمِ رسائل کښې بالخصوص د موقعې په مناسبت د رسالو ترکيب کول پکار دي مَثَلًا د قبر وړومبئ شپه، د مړي غمونه، د مړي بے وسي، چار سُنّی خیز خواب [يعني څلور ويروونکي خوبونه]، بادشاہوں کی ہڈیاں [د بادشاهانو هډوکي]، د فاتِحه طريقه، فيضانِ يٰسين شريف، د لـمانځه فيضان وغيره.

❁ د مړي وارثانو سره وروسته هم رابطه ساتل پکار دي، [د مړي وارثان که] د مړي د ايصالِ ثواب د پاره مسلسل کم از کم هفته وارو اِجتِماعاتو کښې حاضري او هره مياشت د دري ورځو مَدَني قَافِله کښې د سفر کولو ترکيب اوکړي نو مدينه مدينه.

## ﴿۱۷﴾ د مَدَني قَافِلو، مَدَني انعاماتو او مختلفو کورسونو ماهانه اَهداف

د مجلِس د هرې سطحې ذِمَّه داران دِ د خپل نګرانِ مشاورت په مشوره د **مَدَني قَافِلو**، مَدَني انعاماتو، د ورځو "**اِصلاح اعمال کورس**" د ورځو "**مَدَني کارونه کورس**" ماهانه اَهداف مقرروي او د دې د پاره دِ پوره پوره کوشش هُم کوي.

## ﴿۱۸﴾ د ذِمَّه دارانو مقررولو ترکيب:

| # | سطح | ذِمَّه دار |
|---|---|---|
| 1 | علاقه | علاقه سطح باندې ۳ رُکني مجلِس تجهيز و تَکفِين |
| 2 | ډويژن | ډويژن سطح باندې ۳ رُکني مجلِس تجهيز و تَکفِين |
| 3 | کابينه | کابينه سطح باندې ۳ رُکني مجلِس تجهيز و تَکفِين |

| # | سطح | ذِمَّه دار |
|---|---|---|
| 4 | کابينات | کابينات ذِمَّه دار مجلِس تجهيز و تَکفِين |
| 5 | صوبه | صوبائي ذمه دار (رکن مجلس) |
| 6 | مُلك | نګران مجلِس تجهيز و تَکفِين |

| # | سطح | ذِمَّه دار |
|---|---|---|
| 7 | رُکنِ شوریٰ | مجلِس تجهيز و تَکفِين |

❁ په کابينه، ډويژن او علاقه سطح باندې به ۳، ۳ رُکني مجلِس وي، د دې مجلِس نګران به رُکنِ کابينه، رُکنِ ډويژن مشاورت او رُکنِ علاقائي

مشاورت وي. ❁ صوبائي ذمه داران د پاکستان سطح د مجلس ارکان دي ❁ کابينات ذِمَّه داران د پاکستان سطح د مجلِس رُکن دي، هُم دې مجلِس نه به يو مَدَني انعامات، يو مَدَني قَافِله ذِمَّه دار او يو کارکردګي ذِمَّه دار وي ❁ مختلفو ملکونو کښې به مُلکي سطح باندې مجلِس وي او هغه به د رُکنِ شُورىٰ تحت وي. (بيرونِ مُلك والا ذِمَّه داران دِ د مُتَعَلِّقه رُکنِ شُورىٰ د اجازت نه بغير ذِمَّه داران نه جوړوي) ❁ ياد ساتئ! د هرې سطحې اَراکِين او نګران مقررولو د پاره د مُتَعَلِّقه سطح د نګران اجازت ضروري دے. (اَميرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَة په هر مجلِس کښې د مَدَني اِسلامي ورور کيدل خوښوي)

## ﴿۱۹﴾ د مَدَني مشورې تاريخ او مَدَني ګلونه:

| # | تاريخ | مدني مشوره اخستونکے | سطح | شرکاء | مَدَني ګلونه |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | 1 | نګران ډويژن مشاورت/ډويژن ذِمَّه دار | ډويژن | علاقه تا ډويژن ۳رُکني مجلِس | انفرادي کارکردګي، پيشګي جَدوَل و جَدوَل کارکردګي، د ذمّه دارانو د تقرُّر، ترقئ او تنزلئ جائزه، د راروانې مياشتې اَهداف وغيره |
| 2 | 2 | نګرانِ کابينه/ کابينه ذِمّه دار | کابينه | ډويژن تا کابينه ۳ رُکني مجلِس | 〃 |
| 3 | 4 | نګرانِ کابينات/ کابينات ذمّه دار٦ | کابينات | کابينه ذمّه داران (بهتره دا ده چه د هرې کابينې ۳ رُکني مجلس شرکت وکړي | 〃 |
| 4 | 5 | رُکن مجلس | صوبه | اراکين کابينات | 〃 |
| 5 | 6 | رُکنِ شُورىٰ/ نګرانِ مجلِس | مُلك | کابينات ذمّه داران | 〃 |

**وَضاحَت:** رُکنِ شُورىٰ/ نګرانِ مجلِس دِ د پاکستان سطح د مجلِس (صوبائي ذمه دارانو) هره مياشت مَدَني مشوره اخلي، يوه مياشت د انټرنيټ په ذريعه او بله مياشت بِالــمشافه [يعني مخامخ].

❁ د معمول نه علاوه کيدونکو د شُعبه جاتو مَدَنـي مشورو يا د ذِمَّه دارانو د سُنَّتو ډکو اِجتِماعاتو د پاره اَوَّلاً "اجازت نامه" پوره ډکول او د مقرر شوي طريقۀ کار مطابق مُتَعَلِّقه ذِمَّه دار ته جمع کول وي، (د نور وضاحَت د پاره "اجازت نامه برائے مدني مشوره يا تربِيَّتي اِجتِماع" مَدَنـي ګُلونه په غور سره اولولئ، دا اجازت نامه د پاکستان انتظامي کابينه د مکتب نه ميل شوي ده، په وخت د ضرورت بيا هم حاصلولے شئ.)

## ﴿۲۰﴾ د کارکردګئ جمع کولو تاريخونه:

❁ علاقه [تاريخ] ❁ ډويژن ۳ [تاريخ] ❁ کابينه ٤ [تاريخ] ❁ کابينات ٥ [تاريخ] ❁ صوبه ٦ [تاريخ] ❁ مُلك ۷ [تاريخ].

﴿۲۱﴾ د مَدَنـي مشورو د زياتوالي نه بچ کيدلو د پاره د مقرر کړے شوي سطح نه علاوه د بلې سطحې مَدَني مشوره اخستو د پاره مُتَعَلِّقه نګران نه اجازت اخستل ضروري دي ❁ چه کله د غټې سطحې ذِمَّه دار د نورو سطحو د ذِمَّه دارانو مشوره اوکړي نو په هغه مياشت کښې به د هغوئ مَدَني مشوره نه کيږي ❁ هُم دغسې کومه مياشت چه نګرانِ کابينه/مشاورت، د شُعبے د ذِمَّه دارانو مَدَني مشوره اوکړي نو هغه مياشت به هُم شُعبه ذِمَّه داران مَدَني مشوره نه کوي (د شُعبے مَدَني کارونه مضبوط او مُنَظَّم کولو د پاره وقتاً فوقتاً د خپل نګرانِ مشاورت نه د شُعبے د اسلامي وروررنړو مدني مشورہ کول فائده مند دي.)

﴿۲۲﴾ د پاکستان او بيرونِ مُلك سطح ذِمَّه داران دِ د هرې عيسوي مياشتې ۷

تاريخ پورې کارکردګي پاکستان انتظامي کابينه/ دفتر مجلِس بيرونِ مُلك مکتب او مُتَعَلِّقه رُکنِ شُورىٰ ته ميل کوي. (ياد ساتئ! کارکردګي مشورې سره مشروط نه ده، که په څه وجه مَدَني مشوره اونه شي بيا هُم په مُقرره تاريخ خپل نګران ته کارکردګي پيش کوئ)

﴿۲۳﴾ هر ذِمَّه دار دِ د هرې مياشتې پيشکي جَدوَل د عيسوي مياشتې ۱۹ تاريخ پورې خپل نګران (نګرانِ مشاورت/نګرانِ مجلِس) نه منظوروي، بيا دِ د هغے مطابق پيشکي اطلاع ورکولو سره په خپل جدوَل عمل کوي او مياشت پوره کيدو نه پس دِ ۳ تاريخه پورې کارکردګي جَدوَل خپل نګران (نګرانِ مشاورت/نګرانِ مجلِس) ته پيش کوي.

﴿۲٤﴾ د مُتَعَلِّقه نګران په مشاورت دِ شُعبه ذِمَّه داران د نهې په ورځ د تحريري کار ترکيب جوړوي.

﴿۲۵﴾ مُتَعَلِّقه نګرانِ مشاورت سره مربُوط [يعني رابطه] کښې اوسيږئ. هغه ته د خپلې کارکردګئ خبر ورکوئ او هغه سره مشوره کوئ. څوك چه نګران سره څومره زيات رابطه کښې اوسيږي هغه به هغه همره [تنظيمي طور] مضبوطيږي. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ.

﴿۲٦﴾ ذِمَّه داران دِ د خپلې دُنيا او آخرت د بهترئ د پاره لاندې ليکلې شوي اُمورو باندې د عمل کولو کوشش کوي:

❁ د فرض عُلومو زده کولو کوشش جاري ساتئ، فرض عُلوم زده کولو د پاره د امير اَهلِسُنَّت کتابونه او بهارِ شريعت، فَتَاوىٰ رَضَوِيَّه او اِحْيَاءُ الْعُلُوم وغيره لوستل خپل عادت جوړ کړئ خصوصاً د صدرُ الافاضِل مُفتي سيِّد محمّد نعيمُ

الدِّين مُراد آبادي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د اسلامي عَقائدو مُتَعَلِّق (د مَكْتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوے) كتاب "كتابُ الْعَقائد" ، د بهارِ شريعت اوله حِصّه، كُفريه كَلِمات كے بارے ميں سوال جواب او مسائلو زده كولو د پاره د بهارِ شريعت مُنتَخب ابواب او حصّو سره سره د امير اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه ټول كتابونه او رسالے. او د نبو او بدو اخلاقو د معلوماتو حاصلولو د پاره (د مَكْتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوی) "باطِنی بيماريوں كی معلومات" او "نجات دلانے والے اعمال كی معلومات" اولولئ، لوستلو د پاره څه وخت مَثَلًا (سحر ١٩ منټه) د امير اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د كتابونو او رِسالو د پاره او دغسې د نورو كتابونو د پاره هم څه وخت مَثَلًا (د مانښام د لـمانځه نه پس او طعام نه مخكښې ١٩ منټه) خاص كړئ.

❁ اِجتِماعي طور كتلو والا هفته واره "مدني مُذاكَره" كښې د شروع نه آخرې پورې خپل شركت يقيني جوړ كړئ، د دې په بَرَكت به د عِلم لازواله خزانه په لاس درشي او په مَدَني انعام نمبر ٤٧ باندې عمل كولو د پاره د مَدَنـي چينل سلسلې او اِصلاحي بياناتو سره سره د فيضانِ مَدَنـي مُذاكَره او فيضانِ فرض عُلوم د ميموري كارډ اوريدو تركيب جاري ساتئ. اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰى د دې په ذريعه به هُم ډير فرض عُلوم حاصل كړئ. ❁ "د ٦٣ ورځو مَدَنـي تربيتي كورس" د بعضو فرضو عُلومو حاصلولو يوه بهترينه ذريعه ده. ❁ عَمَلي طور مَدَني كارونو كښې شريك كيږئ، هره ورځ كم از كم دوه ګينټې مَدَني كارونو كښې لګوئ مَثَلًا مَدَني قَافِله كښې سفر او مَدَني انعاماتو باندې عمل كولو د پاره هره ورځ د فِكرِ مدينه ذِهن ورکولو د پاره كم از كم دوه اِسلامي ورونړو باندې اِنفرادي كوشِش، مَدَنـي دَوره، مَدرَسةُ الْمَدينه بالِغان، د سحر لـمانځه نه پس مَدَنـي حلقه، صدائے مدينه، چوك درس، د وخت د پابندئ سره

د اوّل نه تر آخره پورې په هفته واره او نورو اِجتِماعاتو کښې شرکت وغیره. ❁ خپل مَدَنـي مقصد په نظر کښې ساتلو سره هره ورځ فِکرِ مدینه کوئ او هره میاشت د مَدَني انعاماتو رساله خپل ذِمَّه دار ته جمع کوئ او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح د کوشش د پاره په ټول عُمر کښې یو ځل په یو مخ دولس میاشتې او هرو دولسو میاشتو کښې یوه میاشت او هره میاشت کم از کم ۳ ورځې د جَدوَل مطابق مَدَني قَافِله کښې د سفر کولو ترکیب جوړوئ. ❁ بے ناغه فِکرِ مدینه کوئ او د عطّار د **کَران، دوست، منظورِ نظر** او **محبوبِ عطّار** جوړیدلو کوشش جاري ساتئ. اِستِقامت حاصلولو د پاره هره میاشت کم از کم د درې ورځو **مَدَني قَافِله** کښې سفر کول خپل معمول جوړ کړئ او ضروري خبرې په لږو الفاظو کښې او څه په اشارو کښې او څه د لِیك په صورت کښې د کولو کوشش سره سره د نظر ښکته ساتلو ترکیب جوړوئ او د قُفلِ مدینه درجه مُناسب، بهتر او مُـمتاز د پاره کوشش جاري ساتئ. ❁ د مرکزي **مجلِسِ** شُورىٰ، کابینه او د خپلې شُعبے راتلونکي مَدَنـي کُلونه پخپله هُم لوَلئ او مُتَعَلِّقه ټولو ذِمَّه دارانو ته په وخت د رَسَولو ترکیب هُم جوړوئ. ❁ اراکِینِ مجلِس په مَدَني انعام نمبر ٤٧ باندې د عمل کولو په صورت کښې هره ورځ کم از کم یوه ګینټه او دولس منټه د مَدَنـي چینل کتلو ترکیب جوړوئ او هفته واره مَدَنـي مُذاکَره براهِ راست کتلو سره سره د نورو ریکارډ شوو مَدَنـي مُذاکَرو او د مَدَنـي چینل د سلسو په اهتمام سره د کتلو عرض دے. د (**www.dawateislami.net** او **www.ameer-e-ahlesunnat.net** د کتلو هُم ترغیب ورکوئ) ❁ د مَدَني کارونو او ملاقات په دوران کښې د شیخِ طریقت، امِیرِ اَهلِسُنَّت، حضرتِ علّامه مولانا اَبُو بِلال **محمد اِلیاس عطّار قادِري رَضَوِي**

دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَة په ذريعه سلسلۀ عاليه، قادِرِيَّه، رَضَوِيَّه، عطّارِيّه کښې د مُريد او طالِب جوړولو کوشش جاري ساتئ، چه څوك مُريد يا طالِب شي نو د هغه د پاره د مجلِس مکتوبات و تعويذاتِ عِطّارِيّه نه د مکتوب [يعني خط] ترکيب اوکړئ، او د شَجَرۀ قادِرِيَّه رَضَوِيَّه ضيائيه عطاريه د حاصلولو او د هرې ورځې لوستلو ترغيب هُم ورکړئ. ❁ مَدَني کار اِستِقامت سره کولو د پاره بِالخصوص مَدَني انعام او باندې عمل کوئ ❁ مَدَني انعام نمبر : آيا نن تاسو د **مجلس شُوري؟، کابينا تو، مشاور تونو** او نورو ټولو **مَجالِسو** د چا چه تاسو ماتحت ئې، د هغوئ مو (د شريعت په دائره کښې د اوسيدو سره) **اِطاعت** [يعني فرمانبرداري] اوکړه؟ ❁ مَدَني انعام نمبر : که د يو ذِمّه دار (يا يو عام اسلامي ورور) نه څه بدي [يعني غلطي] اوشي او د هغه د اِصلاح ضرورت محسوسيږي نو په ليکلي صورت کښې يا مخامخ د هغه سره د ملاقات په صورت کښې (په دواړو صورتو کښې په نرمئ سره) مو د پوهه کولو کوشش اوکړو. يا مو **مَعَاذَالله** عَزَّوَجَلَّ بے د شرعي اجازته نورو ته خبره ښکاره کړه او د غيبت په ګناه کښې اخته شوئ؟

**مدينه:** د بيرونِ مُلك ذِمّه داران د مُتَعَلِّقه رُکنِ شُورىٰ په اجازت په دې مَدَني ګُلونو کښې بدلون يا اِضافه کولے شي.

**مرکزي مجلِس شُورىٰ ﴿ دعوتِ اسلامي ﴾**

**مدني مقصد:** ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ

**تاريخ اجراء** (نوي او بدل کړے شوي مَدَني ګُلونه): جُمادَى الأُولٰى ١٤٣٩ھ / 17فروري 2018ء

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

## ”اے انسانه یو ځل به مري آخر دِ مرګ دے“ د شپږ ویشت حُرُوفو په نِسبَت د اسلامي خویندو د مجلِس تجهِیز و تَکفِین مَدَني ګلونه

﴿عالمي مجلِس مشاورت دعوتِ اسلامي﴾

❁ **فرمانِ مُصطَفٰی** صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دے: نِيَّةُ الْمُؤْمِنِ خَيْرٌ مِّنْ عَمَلِهٖ يعني د مسلمان نِیَّت د هغه د عمل نه بهتر دے. (مُعجَم کَبِیر للطبرانی، ۱۸۵/٦ حدیث۵۹۴۲) ځکه دِ د مجلِس تجهِیز و تَکفِین د هرې سطحې ذِمَّه داره د امیرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ عطا کړو ”مَدَني انعاماتو“ نه په ”مَدَني انعام نمبر۱“ باندې عمل کولو سره دا نِیَّت هُم اوکړي چه ”زه به د اللّٰه تَبَارَكَ وَتَعَالٰی د رضا او د هغه د حبیب صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خوشحالولو د پاره د دعوتِ اسلامي د شُعبے ”مجلِس تجهِیز و تَکفِین“ مَدَني کار د مَدَني مرکز د طریقۂ کار مطابق کووم. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ

﴿۱﴾ د مجلِس تجهِیز و تَکفِین کار، د شریعت او د مَدَني مرکز د ورکړے شوي طریقۂ کار مطابق (کوم چه د شریعت خِلاف نه وي) د مسلمانانو مړو د کَفَن دَفَن او د لواحقاتو د غمرازئ ټول مُعامَلات د ثواب ګټلو او ټولو عاشقاتِ رَسُول ته مړي ته د غُسل ورکولو طریقه ښودلو د پاره دي.

﴿۲﴾ د مجلِس تجهِیز و تَکفِین د هرې سطحې اِسلامي خور دِ د غُسل، کَفَن او تعزِیَّت وغیره مسائل زده کړي، د دې د پاره مَدَنـي مُذاکَره اوریدل پکار دي. د دې نه علاوه د مَکْتَبَةُ الْمَدِینه د کتابونو او رِسالو لوستل فائده مند دي

مَثَلًا ❁ د کَفَن دَفَن طريقه ❁ مَدَنـي وَصِيَّت نامه ❁ د جنازے د لـمانځه طريقه ❁ د فاتِحه طريقه ❁ د قبر والؤ حِکايات ❁ د شيطان کے بعض ہتھيار [د شيطان بعضې وسلې] ❁ بهارِ شريعت حصّه ٤ جِلد اوّل نه کتابُ الجنائز صفحه ٧٩٩ تا ٨٥٧ (مطبوعه مَکْتَبَةُ الْمَدِينه بابُ الْمَدينه کراچئ) د مړي غُسل، د کَفَن دَفَن شرعي مَدَنـي کُلونه او فَتَاوىٰ رَضَوِيَّه جِلد ٩ او "دار الاِفتاء اَهلِسُنَّت" نه ضرورتاً شرعي رَهنمائي اخلئ. د دې شُعبے سره تَعَلُّق لرونکو ذِمَّه دارو اسلامي خويندو ته پکار دي چه د کَفَن دَفَن مُتَعَلِّق پوره تربِيَّت حاصل کړي، مَکْتَبَةُ الْمَدِينه نه جاري شوے آډيو ميموري کارډ هُم د دې يوه ذريعه ده. (د دارُالاِفتاء اَهلِسُنَّت درکونه [ايډريس] او رابطه نمبرې کتاب "د کَفَن دَفَن طريقه" کښې موجودې دي)

﴿٣﴾ د هفته وارو سُنَّتو ډکو اِجتِماعاتو مُقام کښې دِ د کَفَن دَفَن مُتَعَلِّق بينړې يا پينافليکسې زوړندې کړے شي. د بينر خوا ته د تجهِيز و تَکفِين د (ذيلي سطح) ذِمَّه دارې موجود کيدل ضروري دي. په بينر دِ د تجهِيز و تَکفِين (د ذيلي سطح) د ذِمَّه دارې [د مَحرَم] نمبر ورکړے شي، بهتره دا ده چه دوه رابطه نمبرې وي چه هغه ډبل دولس ګينټې چالو وي. (د بينر نمونے کتاب "د کَفَن دَفَن طريقه" په آخره کښې موجودې دي)

﴿٤﴾ کوم ځائے کښې چه څوك صحيحُ العقيده سُنِّي عاشقهٔ رَسُول اسلامي خور وفات شوي وي، د مجلِس تجهِيز و تَکفِين اِسلامي خويندې دِ ښو ښو نِيَّتونو سره اوّل نه تر آخرې پورې (يعني د مړي غُسل او کفن کښې) د شرکت سعادت حاصلوي. د غُسل او کفن ورکولو نه پس خخولو پورې بعضې وخت د مرحومې د اقربا او عزيزانو د رارسيدو انتظار کيږي (که د آواز د پردے مضبوط ترکيب وي)

نو هغه وخت د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اِداري **مَکْتَبَةُ الْمَدِينه** چاپ شوي رسالے "*مُردے کے صدے*[يعني د مړي غمونه]" وغيره نه د نيکئ دعوت ورکوئ. بل صورت کښې دغه وخت ختمِ قُرآن، دُرُود شريف او د نورو تَسبِيحاتو وِرد جاري ساتئ.

﴿۵﴾ کفن تيارولو او مړي ته د غُسل ورکولو په دوران کښې د اِنفرادي کوشش ډيرې موقعې وي. په داسې موقع بِالخصوص د مړي وارثانو باندې اِنفرادي کوشش کول او هغوئ د دعوتِ اسلامي **مَدَنِي ماحول** کښې د شاملولو کوشش پکار دے.

﴿۶﴾ بعضو علاقو کښې د خخولو نه پس يا صبا له د مړي د ايصالِ ثواب د پاره "د ختمِ قُرآن" سلسله وي په داسې موقع باندې هم د **مجلِس مَدرَسَةُ الْمَدِينه** (لِلبَنات) په اجازت د نزدے **مَدرَسَةُ الْمَدِينه** (لِلبنات) (که وي نو د هغے) د مَدَنـي ماشومو په ذريعه د ختمِ قُرآن ترکيب کوئ. که بل څه صورت وي نو نو د لرې مدارس **الْمَدِينه** نه دِ د اِيصالِ ثواب ترکيب اوکړے شي (**مَدرَسَةُ الْمَدِينه** کښې د ايصال ثواب مدني ګُلونه کتاب تجهِيز و تَکفِين کښې اولولئ او د مجلِس مَدرَسَةُ الْمَدِينه (لِلبَنات) د مُقررو شوو مَدَنـي ګُلونو په رنړا کښې دِ ترکيب اوکړے شي)

﴿۷﴾ څنګه چه هره معامَله کښې د هرې علاقے خپل رسم و رواج مختلف وي، هُم دغسې مړي ته د غُسل او کفن ورکولو تر دې چه خخولو پورې ډيرو مُعامَلاتو کښې هُم رسم و رواج مختلف وي، بلکه کيدے شي چه د عِلمِ دين نه د لرې والي او جَهالت په وجه غير شرعي معامَلات هم کيږي. اُمَّتِ مُسلِمه سره د ښيکړې په نِيَّت چه کوم ځائے غير شرعي معامَلات وينئ يا واورئ هلته دارُ الاِفتاء اَهلِسُنَّت سره سمدستي رابطه کوئ او د مړي لواحقاتو ته په ښو ښو نِيَّتونو په نرمئ او حکمَتِ عَمَلئ سره د نيکئ دعوت ورکړئ.

❁ د غير شرعي معامَلاتو (مَثَلًا نوحه [يعني د مړي د دروغو صِفتونه بيانول او په ژړا کښې آواز ويستل چه هغے ته ستائني وائي]، سينه وهل، د سر ويښته شوکول، د مصيبت په وخت کښې کُفرِيه خبرې کول او د نارينه او زنانه يو ځائے ګډ وډ راجمع کيدلو وغيره) د معلوماتو کيدلو نه پس هغوئي ته د هغے ګناه بيانول او د هغے شرعي رَهنُمائي کولو وخت کښې د دې خبرې خاص خيال ساتئ چه د فساد انديښنه نه وي (کوم ځائے چه غالِب ګُمان دا وي چه په پوهه کولو به خبره اُومني، نو صرف هلته [د پوهه کولو] ترکيب کول پکار دي) او د **مَکْتَبَةُ الْمَدِينه** چاپ شوي رِساله " گلِماتِ کُفر" ورته پيش کوئ.

﴿۸﴾ په دې موقع باندې عام طور زړه نرم شي او انسان نيکئ ته لږ زر مائل کيږي. په دې موقع باندې د مجلِس له طرفه جاري شوے د اَميرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِيَه تعزيتي مکتوب اورولو باندې د مړي د ايصالِ ثواب د پاره د جُمات، **مَدارسُ الْمَدينه** او **جامِعاتُ الْمدِينه** وغيره تعمير کولو ذِهن هُم ورکولے شئ. (که د مُتَعَلِّقه شُعبه جاتو د ذِمَّه دار په مشوره او اجازت اوشي نو زياته بهتره ده)

﴿۹﴾ د دريمې، څلويښتمې او کليزې په موقع د اِجتِماعِ ذِکر و نعت اهتمام کوئ، د دې د پاره د اِجتِماعِ ذِکر و نعت د مَدَنـي گُلونو (مدني گُلونه برائے اجتماعِ ذِکر و نعت د دعوت اسلامي په ويب سائټ موجود دي) مطابق د اِجتِماعِ ذِکر و نعت برائے اِيصالِ ثواب ترکيب جوړوئ او د **مَکْتَبَةُ الْمَدِينه** د رسالو وغيره تقسيمولو مضبوط ترکيب جوړوئ. (بهتره دا ده چه د اوسيدلو د علاقے د اجتماعِ ذِکر و نعت د (علاقه سطح) ذِمّه دار په ذريعه د اِجتِماعِ ذِکر و نعت ترکيب اوکړے شي)

﴿۱۰﴾ د ايصالِ ثواب اجتماعاتو (اجتماعِ ذِکر و نعت) انعقاد هُم کوئ. د دې د پاره د لاندې ليکلو بياناتو نه مدد اخستے شئ. (دا بيانونه کتاب "د کفن دفن طريقه" کښې موجود دي.)

﴿1﴾ د اِيصالِ ثواب بَرَکتونه ﴿2﴾ د اِيمان حفاظت
﴿3﴾ د صُحبت اثر ﴿4﴾ د دُنيا غندنه [يعني مذمَّت]

د دې نه علاوه د مَکْتَبَةُ الْمَدِينه د لاندې ليکلو کتابونو او رسالو نه هُم استِفاده کيدے شي. ❁ د قَبْر وړومبئ شپه ❁ **د مړي بے وَسي** ❁ *مُردے کے صدمے*[يعني د مړي غمونه] ❁ د فاتِحه طريقه ❁ د قبرونو والؤ حِکايات ❁ *بادشاہوں کی ھڈياں* [د باشاهانو هډوکي] ❁ *ويران محل* [يعني شړ محل] او ❁ کتاب "د کَفَن دَفَن طريقه" Link [لِنک] دا دے: Hpp://www. Dawateislami.net/bookslibrary/3041

﴿11﴾ په تقسيمِ رسائل کښې بالخصوص د موقعې په مناسَبت د رسالو ترکيب کول پکار دي مَثَلًا د قبر وړومبئ شپه، *"مُردے کے صدمے*[يعني د مړي غمونه]"، **د مړي بے وَسي**، *چار سنسنی خيز خواب* [يعني خلور ويرونکي خوبونه]، *بادشاہوں کی ھڈياں* [د بادشاهانو هډوکي]، د فاتِحه طريقه، فيضانِ يٰسين شريف، د لمانځه فيضان وغيره. ❁ غَسَّاله (يعني مړي ته غُسل ورکوونکو) اسلامي خويندو سره د مَکْتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوے کتاب "د کَفَن دَفَن طريقه" او "تجهِيز و تَکفِين کارډ" هر وخت موجود کيدل پکار دي. د دې نه علاوه موبائل ايپليکيشن Muslim Funeral (Kafan Dafan) app او د ويب ايډريس (tajheezotakfeen.dawateislami.net) هم ورسره موجود کيدل پکار دي ځکه چه په هغے کښې مختلفو علاقو کښې مړي ته غُسل ورکولو د پاره رابطه نمبرې موجودې دي.

❁ د مړي لواحقاتو سره وروسته هم رابطه ساتل پکار دي، د مړي د ايصالِ ثواب د پاره هغوئي باندې مسلسل کم از کم هفته وارو اِجتِماعاتو کښې د شرکت نِيَّت اوکړئ.

﴿۱۲﴾ د هرې عيسوي مياشتې (سِوا د رَمَضان د آخرې عَشَرې نه) علاقائي سطح باندې کيدونکي د تجهِيز و تَکفِين د تربِيَّتي اِجتِماع ترکيب "د تجهِيز و تَکفِين د تربِيَّتي اِجتِماع د مَدَنـي ګُلونو" مطابق جوړوئ. (د تجهِيز و تَکفِين د تربِيَّتي اِجتِماع مَدَنـي ګُلونه "جَدوَل برائے تجهِيز و تَکفِين اِجتِماع، مع "د ځنکدن بيان"، "د مړي د غُسل نِيَّتونه"، "مړي ته د کفن اغوستلو نِيَّتونه، "د کَفَن دَفَن مُتَعَلِّق سوالونه جوابونه"، "مطلوبه [يعني ضروري] خيزونه"، "د کفن د پاره درې بے بها تُحفے، "د وارثانو د پوهه کولو د پاره مَدَنـي ګُلونه"، "د عِدَّت او خفګان کولو مسائل"، وغيره په کتاب "د کَفَن دَفَن طريقه" کښې موجود دي.)

﴿۱۳﴾ د تجهِيز و تَکفِين [يعني کَفَن دَفَن] ذِمَّه دارو ته لاندې ليکلې مَدَنـي ګُلونه اوښائي. ❁ کَفَن دَفَن د پاره پس د مابنامه تللے شئ ❁ د غُسل و کفن د پاره تلونکو اسلامي خويندو شمير دوه او زيات نه زيات څلور پکار دے او د هغوئ چه کم از کم دوه رابطه نمبرې وي چه هغه ډبل ګينټې on [يعني چالو وي] ❁ د تجهِيز و تَکفِين [يعني غُسل ورکولو او کفن] د پاره د اسلامي خويندو د تللو ترکيب د هغوئ په خپله علاقه کښې جوړوئ ❁ د يوے علاقے نه بلې علاقے ته د تجهِيز و تَکفِين [يعني غُسل او کفن] د پاره اسلامي خويندو ته د تللو اجازت نشته (خو که مَحرَم ئې بوځي نو د کوم پيژندګلو کس کره تلے شي) ❁ داسې نه ده پکار چه په علاقه کښې د تجهِيز و تَکفِين [يعني غُسل او کفن] د پاره يوه اسلامي خور هُم موجوده نه وي، په دې سلسله کښې د اِنفرادي کوشش په ذريعه داسې مضبوط ترکيب جوړول پکار دي چه د بلې علاقے نه د ترکيب جوړلو حاجت نه پيښيږي، د دې د پاره دا ترکيب کول پکار دي چه دعوتِ اسلامي سره تعلق لرونکي هرې اسلامي خور ته د تجهِيز و تَکفِين تربِيَّت ورکړے شي که هغه د تجهِيز و تَکفِين د شُعبے سره تعلق لري او که نه چه بيا د بلې علاقے نه د ترکيب جوړلو حاجت نه پيښيږي، البته که کله د مجلِس معاونت برائے اسلامي خويندې ذِمَّه دارې له طرفه په بله علاقه کښې د تجهِيز

و تَکـفِين [يعني غُسل او کفن] د ترکيب کولو د پاره اُووئيلے شي نو د حالاتو پيش نظر بله علاقه کښې ترکيب جوړولے شي ❁ که يوه ذِمَّه داره اسلامي خور پخپله مختلفو رفاعي ادارو يا هسپتال وغيره ته د تجهِيز و تَکـفِين [يعني غُسل او کفن ورکولو] د پاره لاړه شي او د پردے د پابندئ سره ترکيب جوړ کړي نو باك نشته خو د مجلس له طرفه د دې باقاعده اجازت نشته. ❁ که بوډئ اسلامي خويندې د تجهِيز و تَکـفِين [يعني غُسل او کفن ورکولو] د پاره د نقاب اچولو نه بغير لاړې شي نو باك نشته. ❁ تجهِيز و تَکـفِين [يعني غُسل او کفن ورکولو] د پاره بهتره دا ده چه په خپله ذاتي خرچه ترکيب جوړوئ، او که د مړي وارثان پخپله د بوتللو د پاره راشي يا سوَرلئ را اوليږي نو د هغے استعمالولو کښې باك نشته.

﴿۱٤﴾ د تجهِيز و تَکـفِين د دې اَهَمي فريضے د ادا کولو اجازت دِ صرف تربِيَّت يافته ته ورکړے شي، د تجهِيز و تَکـفِين د (علاقه تا عالـمي سطح) ذِمَّه دارې او هره مياشت د تجهِيز و تَکـفِين تربِيَّت کوونکي د هرې ذِمَّه دارې اسلامي خور (او د هغه اسلامي خويندو چه مړي ته د غُسل ورکولو د پاره باقاعده وخت ورکولے شي، د هغوئي) د تجهِيز و تَکـفِين د تفتيشي مجلس په ذريعه د تيستِ اخستلو ترکيب د تجهِيز و تَکـفِين د (کابينه/کابينات سطح) ذِمَّه دارې په ذريعه لازمي جوړول پکار دي. د دې د پاره په دې سکائپ آئي ډيانو، **btmattari12@Outlock.com,live:btmattari12** او دے ميل آئي ډي، **btmattari86@gmail.com** باندې سحر 9:00 بجے نه مابنام 4:00 بجے پورې (د اتوار نه علاوه بله) هره ورځ رابطه کولے شئ. (مُلك او بيرونِ مُلك والا ټول په دې رابطه کولے شي) ❁ کومه اسلامي خور چه تيستِ کښې "مُـمتاز" راشي هغه به د تربِيَّت ورکولو اهل وي ❁ کومه اسلامي خور چه تيستِ کښې "بهتره" راشي هغه به د تجهِيز و تَکـفِين د پاره تلے شي. او ❁ کومه اسلامي خور چه "موقوف" شي د دې نه مُراد ناکامه کيدل دي. ❁ څوك چه تيستِ کښې

"موقوف" شي د هغوئي د تربِيَّت ترکيب به ټيسټ مجلِس لِلبنات کوي. (ياد ساتئ صرف ټيسټ کښې کاميابي حاصلوونکو اسلامي خويندو ته به د تجهِيز و تَکفِين اجازت وي لِـهذا د تجهِيز و تَکفِين (علاقه سطح) ذِمَّه داره دِ د خپلې علاقے د بهترو اسلامي خويندو نومونه، رابطه نمبرې او څه وخت چه هغوئي تلے شي، د دې فهرست دِ جوړ کړي او محفوظ دِ ئې کړي) ❁ داسې ذِمَّه داره اِسلامي خور کومه چه د تجهِيز و تَکفِين په شُعبه کښې مقرره نه وي خو د تجهيز و تکفين په ټيسټ کښې کاميابه شوي وي، هغه هم د تجهِيز و تَکفِين اِجتِماع کولے شي خو دا خبره دِ نظر کښې ساتي چه د هغے د خپلې شُعبے جَدوَل مُتاثر نه شي. ❁ داسې مُلك کښې چه په هغے کښې د تجهِيز و تَکفِين د تربِيَّت (تجهِيز و تَکفِين اِجتِماع) کولو والا يوه اِسلامي خور هُم نه وي هلته دِ تجهِيز و تَکفِين ذِمَّه داره (رُکن بيرونِ مُلك) چه په ټيسټ کښې "مُـمتاز" راغلي وي هغه د سکائپ په ذريعه د هغه ځائے د ذِمَّه دارو تربِيَّت کولے شي. ❁ د تجهِيز و تَکفِين ذِمَّه دار (مُلك سطح) دِ د ذو العقدة الـحرام په مياشت کښې جائزه اخلي چه کومو کومو کابيناتو کښې په **جامِعَةُ الْمدِينه** او **مَدرَسةُ الْمَدينه** کښې د تجهِيز و تَکفِين د تربِيَّتي اِجتِماعاتو ترکيب جوړ شوے دے؟ په کمي کيدو يا عمل نه کيدو باندې په اَحسن انداز د دې تفهيم کوئ. ❁ کومې اسلامي خويندې چه د تربِيَّت ورکولو اَهلِيَت لري د هغوئي په ذريعه دِ هر کال په ذو العقدة الـحرام کښې د **جامِعَةُ الْمدِينه** د ناظماتو، مُعَلِّماتو او هر کال دِ په ذو العقدة الـحرام کښې د **مَدرَسةُ الْمَدينه** د نوو ناظماتو، مُعَلِّماتو او د او مدرسه کورس کوونکو او هرو درې کالو کښې دِ د **دارُالْمدينه** د ناظِماتو او ټيچرو په **جامِعَةُ الْمدِينه** يا **مَدرَسةُ الْمَدينه** کښې د تجهِيز و تَکفِين د اِجتِماع ترکيب اوکړے شي. (هر کال به په **جامِعَةُ الْمدِينه** کښې اُولٰی درجاتو کښې د تجهِيز و تَکفِين اِجتِماع کيږي او هر کال به په **مَدرَسةُ الْمَدينه** کښې مدرسه کورس او د مدني قاعده کورس طالباتو د تجهِيز و تَکفِين اِجتِماع کيږي) ❁ **جامِعَةُ الْمدِينه، مَدرَسةُ الْمَدينه** او **دارُ المدينه** کښې د کاميابيدو والا نومونه دِ په نوټس بورډ باندې

اولګولے شي او متعلقه تجهِيز و تَکـفِين ذِمَّه داري (علاقه سطح) ته دِ د هغوئي معلومات ورکړے شي. ❁ (د کابينه سطح) تجهِيز و تَکـفِين ذِمَّه داري ته پکار دي چه د (کابينه سطح) ذِمَّه داري خصوصي اِسلامي خور په ذريعه تجهِيز و تَکـفِين اِجتِماع کښې د خصوصي اسلامي خويندو د شرکت ترکيب جوړوي، هغوئي يوے ډډې ته کښينوئ او هغوئي ته دِ د خصوصي اسلامي خويندو مُبَلِّغه په اشارو کښې د بيان وغيره ترجماني کوي. بهتره به دا وي چه د خصوصي اسلامي خويندو مُبَلِّغه هُم هغه وي کومه چه تيِست کښې "مُـمتاز" راغلي وي.

﴿۱۵﴾ (د کابينه او پکابيناتو سطح) ذِمَّه دارو سره د خپلو حدونو د علاقو د نومونو لِست او د تجهِيز و تَکـفِين د (علاقائي سطح) د ذِمَّه دارو نومونه او رابطه نمبرې هُم موجودې پکار دي.

## ﴿۱۶﴾ د ذِمَّه دارو د مُقررولو ترکيب

❁ د مجلِس تجهِيز و تَکـفِين د مَدَني کار د پاره د ذِمَّه دارو تقرر علاقه سطح نه واخله عالـمي سطح پورې دے ❁ پکار ده چه د هرې سطحې د تجهِيز و تَکـفِين ذِمَّه داره اسلامي خور بُردباره [يعني صابِره]، فرمانبرداره، خوش اخلاقه، وفاداره، باکِرداره، با اخلاقه، پوهه، هوښياره، تعليم يافته، خود اعتِماده، د ذِمَّه دارئ احساس لرونکي، شرعي پرده کوونکي، ذاتي دوستئ نه ځان ساتونکي، د مَدَني انعاماتو عامِله، د دعوتِ اسلامي مَدَنـي اُصولو باندې عمل کوونکي، د دعوتِ اسلامي د اصطلاحاتو نه خبرداره ، د مَدَني مشورو او تربِيَّتي حلقو پابنده غرض دا چه د ترغيب نمونه وي يعني عملي طور مَدَني کارونو کښې شريکه وي او **مَدَني ماحول** کښې د شاملېدو ځې کم از کم مياشتې شوي وي. بهتره دا ده چه د تجهِيز و تَکـفِين د مَدَني کار شوق لري ❁ (د علاقه سطح) د

تجهِيز و تَـكـفِين ذِمَّه داري ته چه فون کولو او وتلو کښې ضرور آساني وي او چه ډبل دولس ګينټې ترکيب جوړولے شي ❁ چه هره اسلامي خور د تجهِيز و تَـكـفِين د پاره چا سره رابطه اوکړي نو هغے ته دِ د تجهِيز و تَـكـفِين د مُتَعَلِّقه (د علاقه سطح) ذِمَّه داري سره د رابطې کولو اُووئيلے شي. ❁ په هره شُعبه کښې د اسلامي خور تَقَرُّر صرف په دې وجه نه دے پکار چه د دې مَحرم (يعني اسلامي ورور) د دې شُعبے ذِمَّه دار دے بلکه دې ته کتل پکار دي چه آيا هغه اسلامي خور د دې مَدَني کار اَهل ده [او که نه]؟ د نګرانِ شُورىٰ د 11 مئ 2009ء مَدَني مشوره کښې دا مَدَنـي کُل [يعني نُکته] هُم موجوده ده چه ”اَهل او هم ذهن ته دِ مَدَني کار ورکړے شي.“

| نمبر شُمار | سطح | | ذِمَّه داره اسلامي خور |
|---|---|---|---|
| | پاکستان سطح | بيرون ملك | |
| 1 | **علاقه** | ..... | د تجهِيز و تَـكـفِين (علاقه سطح) ذِمَّه داره |
| 2 | ډويژن | ډويژن | د تجهِيز و تَـكـفِين (ډويژن سطح) ذِمَّه داره |
| 3 | کابينه | کابينه | د تجهِيز و تَـكـفِين (کابينه سطح) ذِمَّه داره |
| 4 | کابينات | کابينات | د تجهِيز و تَـكـفِين (کابينات سطح) ذِمَّه |
| 5 | صوبه | زون | د تجهِيز و تَـكـفِين (صوبه سطح) ذِمَّه داره |
| 6 | ملك | ملك | د تجهِيز و تَـكـفِين ذِمَّه داره (د مُلك سطح) |
| 7 | ممالك | ممالك | مُمالِك ذِمَّه داره |
| 8 | عالـمي | عالـمي | د تجهِيز و تَـكـفِين ذِمَّه داره (رُکنِ مجلِس بيرونِ مُلك) |

### ﴿۱۷﴾ ماهانه اَهداف

❁ د يوے اندازے مطابق په 2015ء کښې په پاکستان کښې د مړو شرح في ورځ [تقريباً] ۷۰۰ سړي او ۷۰۰ ښځې دي يعني اوسطاً في ګينټه ۳۰ سړي او ۳۰ ښځې، د دې مطابق دِ هره مياشت اَهداف مُقرر کړے شي چه مونږ کوم ځائے ته رسيدلي يو. ❁ زمونږه هَدَف هرې عاشقۀ رسُول ته "د تجهيز و تَکفِين طريقه" ښودل دي. ❁ د دې شُعبے په هره سطح باندې د ذِمَّه دارو تَقَرُّر يقيني جوړول دي او ❁ هره مياشت د تربِيَّت حاصلوونکو او ټيسټ ورکوونکو شمير کښې اضافه کول دي.

### ﴿۱۸﴾ د ماهانه کارکردګئ فارم جمع کولو تاريخونه

❁ د تجهيز و تَکفِين ذِمَّه داران دِ (علاقه سطح نه عالـمي سطح پورې) "کارکردګي برائے مجلِس تجهيز و تَکفِين"(علاقه سطح نه عالـمي سطح پورې) مطابق د هرې عيسوي مياشتې په لحاظ کارکردګي جمع کوي.

❁ تجهيز و تَکفِين ذِمَّه داره (ډويژن سطح) د عيسوي مياشتې ۵ تاريخ.

❁ تجهيز و تَکفِين ذِمَّه داره (کابينه سطح) د عيسوي مياشتې ۷ تاريخ.

❁ تجهيز و تَکفِين ذِمَّه داره (کابينات سطح) د عيسوي مياشتې ۹ تاريخ.

❁ تجهيز و تَکفِين ذِمَّه داره (صوبه سطح) د عيسوي مياشتې ۱۱ تاريخ

❁ تجهيز و تَکفِين ذِمَّه داره (مُلك سطح) د عيسوي مياشتې ۱۳ تاريخ.

❁ مُمالِك ذِمَّه داري د عيسوي مياشتې ۱۳ تاريخ.

❁ د عالَمي مجلِس مشاورت ذِمَّه داري د عيسوي مياشتې ۱۵ تاريخ. (دا ټول کاغذونه په ريکارډ فائل کښې موجود دي)

❁ تجهيز و تَکفِين ذِمَّه داري (مُلك سطح) دِ د هرې عيسوي مياشتې ۳ تاريخ

پورې د تجهيز و تَکـفِين د ټيستونو مُتَعَلِّق معلومات (ملك سطح) باندې کوي او نګرانِ مجلِس معاونت برائے اسلامي خويندې دِ (د رُکنِ شورىٰ) په ذريعه د دې مُتَعَلِّقه رُکنِ شُورىٰ او عالمي مجلِس مشاورت ذِمَّه دار ته جمع کوي.

❁ عالمي مجلِس مشاورت ذِمَّه دار دِ د هرې عيسوي مياشتې د پينځم تاريخه پورې د تجهيز و تَکـفِين د ټيستونو مُتَعَلِّق معلومات (عالمي سطح) باندې نګرانِ مجلِس مَدَني کار برائے اسلامي خويندې (رُکنِ شورىٰ) ته جمع کوي. (دا دواړه کاغذونه کتاب "د کَفَن دَفَن طريقه" کښې موجود دي.)

﴿۱۹﴾ تجهيز و تَکـفِين ذِمَّه داره (علاقه سطح نه عالـمي سطح پورې) مُتَعَلِّقه کارکردګي فارم شُعبه مشاورت ته جمع کولو سره سره مُتَعَلِّقه مجلِس مشاورت ذِمَّه دارې اسلامي خور ته هُم جمع کوئ.

❁ تجهيز و تَکـفِين ذِمَّه داران (علاقه سطح نه عالـمي سطح پورې) دِ علاقه سطح نه عالـمي سطح پورې "کارکردګي برائے مجلِس تجهيز وتکفين" د خپلو ماتحتو ذِمَّه دارو کارکردګي نظر کښې ساتلو سره ډکوي. (ياد ساتئ! کارکردګي مشورې سره مشروط نه ده، که په څه وجه مَدَني مشوره اونه شي بيا هُم په مُقرره تاريخ خپلې ذِمّه دارې اسلامي خور ته کارکردګي پيش کوئ)

﴿۲۰﴾ تجهيز و تَکـفِين ذِمَّه داران (علاقه سطح نه عالـمي سطح پورې) دِ ماهانه مَدَني مشوره کښې د خپلو ماتحتو ذِمَّه دارو کارکردګي بهتره کيدو مَثَلًا د سُنَّتو ډکې اِجتِماع پابندي، د تجهيز و تَکـفِين کارکردګي بهتريدو، د مُتَعَلِّقه ذِمَّه دارو شمير د اضافه کيدو او هره مياشت کارکردګي په وخت باندې د جمع کولو په صورت کښې د هغوئ حوصله افزائي کوي او د مدَنـي تُحفے (يعني کتابونه او رسالے / ميموري کارډ) ورکولو ترکيب دِ جوړوي. (ياد ساتئ! مَدَنـي عطياتو نه د تُحفے ورکولو اجازت نشته) ❁ کوم کتاب يا ميموري کارډ چه چا ته تُحفه کښې ورکولے کيږي نو تُحفه ورکولو وخت کښې په هغه کس دا نِيَّت

کول هُم پکار وي چه څومره ورځو کښې به ئې اولولئ يا واورئ يا اوګورئ؟

## ﴿۲۱﴾ د ماهانه مَدَنـي مشورې تاريخ او مَدَنـي ګلونه

تجهِيز و تَکـفِين ذِمَّه دارې [اسلامي خويندې] دِ (علاقه سطح تا مُلك سطح) د لاندې ليکلې ترکيب مطابق د مَدَني مشورې او مَدَنـي ګُلونو ترکيب جوړوي.

| تاريخ | مَـدَني مشوره اخستونکي | سطح | شرکاء | مَدَنـي ګلونه |
|---|---|---|---|---|
| 1 | تجهِيز و تَکـفِين ذِمّه داره اسلامي خور (علاقه سطح) | علاقه | تجهِيزو تَکـفِين د پاره تلونکے | انفرادي کارکردګي پيشکي جَدوَل و جَدوَل کارکردګي،ترقي وتنزلي جائزه، د راروانې مياشتې په اَهدافو وغيره کلام |
| 3 | تجهِيز و تَکـفِين ذِمّه داره اسلامي خور (ډويژن سطح) | ډويژن | تجهِيزو تَکـفِين ذِمّه دارې (علاقه سطح) | انفرادي کارکردګي پيشکي جَدوَل و جَدوَل کارکردګي، ترقي وتنزلي جائزه، د راروانې مياشتې په اَهدافو وغيره کلام |
| 4 | تجهِيز و تَکـفِين ذِمّه داره اسلامي خور (کابينه سطح) | کابينه | تجهِيزو تَکـفِين ذِمّه دارې (ډويژن سطح) | انفرادي کارکردګي پيشکي جَدوَل و جَدوَل کارکردګي، ترقي وتنزلي جائزه، د راروانې مياشتې په اَهدافو وغيره کلام |
| 5 | تجهِيز و تَکـفِين ذِمّه داره اسلامي خور (کابينات سطح) | کابينات | تجهِيزو تَکـفِين ذِمّه دارې (کابينه سطح) | انفرادي کارکردګي پيشکي جَدوَل و جَدوَل کارکردګي، ترقي وتنزلي جائزه، د راروانې مياشتې په اَهدافو وغيره کلام |
| 6 | تجهِيز و تَکـفِين ذِمّه داره اسلامي خور (صوبه سطح) | صوبه | تجهِيزو تَکـفِين ذِمّه دارې (کابينات سطح) | انفرادي کارکردګي پيشکي جَدوَل و جَدوَل کارکردګي،ترقي وتنزلي جائزه، د راروانې مياشتې په اَهدافو وغيره کلام |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| 7 | تجهيز و تَـكفِين ذِمّه داره اسلامي خور (مُلك سطح) | مُلك | تجهيز و تَـكفِين ذِمّه داري (صوبه سطح) | انفرادي كاركردگي پيشكي جَدوَل و جَدوَل كاركردگي، ترقي وتنزلي جائزه، د راروانې مياشتې په اَهدافو وغيره كلام |

❁ په ماهانه مَدَني مشوره کښې د تجهِيز و تَـكفِين د کارکردګئ په هر کالم باندې هَدَف ورکول نه دي پکار. په کوم مُلك يا ښار کښې چه مَدَني مشوره وي د هغه ځائے د نوعِيت مطابق صرف د هُم هغه مَدَني کار هَدَف ورکول پکار دي او چه هغے کښې کمے نه وي، کوم هَدَف چه ورکړے شي بيا دِ د هغے تپوس هُم ضرور اوکړے شي. ❁ تجهِيز و تَـكفِين ذِمَّه دارې (علاقه تا مُلك سطح) دِ عملي جَدوَل د هرې مياشتې دويم تاريخه پورې خپلې ذِمَّه دارې ته جمع کوي. (دا دواړه صفحې په ريکارډ فائل کښې موجودې دي) ❁ تجهِيز و تَـكفِين ذِمَّه دارې (صوبه سطح) دِ هره مياشت په څلورو کابيناتو کښې، د تجهِيز و تَـكفِين ذِمَّه دارې (کابينات سطح) دِ هره مياشت په څلورو کابينو کښې او د تجهِيز و تَـكفِين ذِمَّه دارې (کابينه سطح) دِ هره مياشت ډويژن کښې خپل جدول جوړوي. ❁ د مَدَنـي مشورو د زياتوالي نه بچ کيدو د پاره د مقرر کړے شوي سطح نه علاوه د بلې سطحې مَدَني مشوره اخستو د پاره د مجلس مشاورت ذِمَّه دارې اسلامي خور نه اجازت اخستل ضروري دي ❁ چه کله د غټې سطحې ذِمَّه داره د نورو سطحو د ذِمَّه دارو مشوره اوکړي نو په هغه مياشت کښې به د هغوئ مَدَني مشوره نه کيږي ❁ هُم دغسې کومه مياشت چه مُتَعَلِّقه مجلِس ذِمَّه داره يا مشاورت د شُعبے د ذِمَّه دارو مَدَني مشوره اوکړي نو هغه مياشت به هُم شُعبه ذِمَّه دارې مَدَني مشوره نه کوي (د شُعبے مَدَني کارونه مضبوط او مُنَظَّم کولو د پاره وقتاً فوقتاً د خپل مجلس مشاورت په ذريعه د شُعبے د اسلامي خويندو مدني مشوره کول فائده مند دي.)

﴿۲۲﴾ د تجهِيز و تَکفِين ذِمَّه داري (علاقه تا عالـمي سطح) د خپلې ذِمَّه داري اسلامي خور سره مربُوط [يعني رابطه] کښې اوسيږئ. هغے ته د خپلې کارکردګئ خبر ورکوئ او مشوره ورسره کوئ. څوك چه ذمه داري سره څومره زياته رابطه کښې اوسيږي هغه به هغه همره [تنظيمي طور] مضبوطيږي. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ.

﴿۲۳﴾ که يو ځائے کښې د تجهِيز و تَکفِين ذِمَّه داري (علاقه تا عالـمي سطح) مقررې نه وي يا که مقررې خو وي خو د سخت عُذر په وجه مَدَني کار نه شي کولے نو د هغے د مجلِس مشاورت په ذريعه دِ د هغے کارکردګي تياره کړے شي.

﴿۲۴﴾ که په يو مُلك کښې د تجهِيز و تَکفِين په ذِمَّه دارو (علاقه تا مُلك سطح) کښې د هرې سطحې ذِمَّه داره اسلامي خور مُقرره کړے شي نو د تنظيمي ترکيب مطابق مُتَعَلِّقه تجهِيز و تَکفِين ذِمَّه داره اسلامي خور په "مَدَنـي ګُلونه برائے تجهِيز و تَکفِين" پوره د پوهه کولو ترکيب کوئ. ❁ د تجهِيز و تَکفِين (علاقه تا عالـمي سطح) کښې د هرې سطحې ذِمَّه داري اسلامي خور چه کوم مَدَنـي ګُلونه خپلې ماتحتې ته اوښودل نو د هغے نه يوه سطح اوچته [ذِمَّه داري] سره دِ هُم رابطه اوکړي او حِکمت عملئ سره دِ هغه چيك کړي چه آيا د هغے مطابق نفاذ اوشو؟ که کمے پکښې وي نو په اَحسن طريقه دِ پوهه کړے شي.

﴿۲۵﴾ د تجهِيز و تَکفِين (علاقه تا عالـمي سطح) ذِمَّه داري دِ د خپلې دُنيا او آخرت د بهترئ د پاره لاندې ليکلي اُمورو باندې د عمل کولو کوشش اوکړي.

(۱) د فرض عُلومو زده کولو کوشش جاري ساتئ، فرض عُلوم زده کولو د پاره د امير اَهلِسُنَّت کتابونه او بهارِ شريعت، فَتَاوىٰ رَضَوِيَّه او اِحْيَاءُ الْعُلُوم وغيره لوستل خپل عادت جوړ کړئ خصوصاً د صدرُ الافاضِل مُفتي سيِّد محمّد نعيمُ الدِّين مُراد آبادي رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د اسلامي عَقائدو مُتَعَلِّق (د مَکْتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوے)

کتاب "کتابُ الْعَقائد" ، د بهارِ شریعت اوله حِصّه، کُفریہ کَلِمات کے بارے میں سوال جواب او مسائلو زده کولو د پاره د بهارِ شریعت مُنتَخب ابواب او حصّو سره سره د امیرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه تول کتابونه او رسالے. او د نبو او بدو اخلاقو د معلوماتو حاصلولو د پاره (د مَکْتَبَةُ الْمَدِینه چاپ شوی) "باطنی بیماریوں کی معلومات" او "نجات دلانے والے اعمال کی معلومات" اولولئ، لوستلو د پاره څه وخت مَثَلًا (سحر ۱۹ منټه) د امیرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه د کتابونو او رِسالو د پاره او دغسې د نورو کتابونو د پاره هم څه وخت مَثَلًا (د ماښام د لـمانځه نه پس او طعام نه مخکښې ۱۹ منټه) خاص کړئ. (۲) د شرعي پردے پابندي کوئ او نښکلې بورقه په سر کولو نه ځان ساتئ. (۳) هره ورځ کم از کم دوه ګینټې مَدَنې کارونو کښې لګوئ. مَثَلًا د وخت د پابندئ سره اوّل نه تر آخره پورې په هفته وارو اِجتِماعاتو او تربِیَّتي حلقه کښې شرکت وغیره. (٤) د خپلې اِصلاح د کوشش د پاره په مَدَنې انعاماتو باندې عمل کولو سره سره مُستقِل قُفلِ مدینه تحریک کښې شاملې شئ، هره ورځ فِکرِ مدینه کوئ او هره میاشت د مَدَنې انعاماتو رِساله خپلې ذِمَّه دارې اسلامي خور ته جمع کوئ او د ټولې دُنیا د اصلاح د کوشش د پاره خپلو محارمو ته په ټول عُمر کښې په یوه مخه مسلسل د دولسو میاشتو او هرو دولسو میاشتو کښې یوه میاشت او هره میاشت کښې کم از کم درې ورځې د جَدوَل مطابق مَدَنې قَافِله کښې د سفر کولو ترغیب ورکوئ. (۵) د رضائے رَبُّ الانام عَزَّوَجَلَّ مَدَنې کارونو باندې عمل کوئ او د عطّار د اجمیري، بغدادي، مکّـي او مَدَنـي لور جوړیدو کوشش جاري ساتئ او ضروري خبرې په کمو الفاظو کښې، څه په اشاره او څه د لِیک په صورت کښې د کولو کوشش سره سره د نظر نښکته ساتلو ترکیب جوړوئ. (٦) د

مرکزي مجلِس شوریٰ، کابینه او د خپلې شُعبے د مشورو حاصلیدو والا مَدَني کُلونه پخپله هُم لولئ او مُتَعَلِّقه ټولو ذِمَّه دارو ته ئې په وخت د رسَولو ترکیب هُم جوړوئ. ❁ هفته واره براهِ راست مَدَني مُذاکره کتلو سره سره د نورو ریکارډ شوو مَدَني مُذاکرو اهتمام سره د کتلو مَدَني عرض دے.

(د www.dawateislami.net او www.ameer-e-ahlesunnat.net کتلو هُم ترغیب ورکوئ) ❁ د مَدَني کارونو او ملاقات په دوران کښې د شیخِ طریقت، امِیرِ اَهلِسُنَّت، حضرتِ علّامه مولانا اَبُو بِلال **محمد اِلیاس عطّار قادِري رَضَوِي** دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه په ذریعه سلسلهٔ عالیه، قادِرِیَّه، رَضَوِیَّه، عطّارِیّه کښې د مُریدې او طالِبې جوړولو کوشش جاري ساتئ، چه څوك مُریده یا طالِبه شي نو د هغے د پاره د مجلِس مکتوبات و تعویذاتِ عِطّارِیّه نه د مکتوب [یعني د خط] ترکیب اوکړئ، او د شَجَرهٔ قادِرِیَّه رَضَوِیَّه ضیائیه عطاریه د حاصلولو او د هرې ورځې لوستلو ترغیب هُم ورکړئ. ❁ مَدَني انعام نمبر : آیا نن تاسو د **مجلس شُوریٰ، کابیناتو، مشاورتونو** او نورو ټولو مَجالِسو د چا چه تاسو ماتحته ئې، د هغوئ مو (د شریعت په دائره کښې) **اِطاعت** [یعني فرمانبرداري] اوکړه؟ مَدَني انعام نمبر : که د یوے ذِمّه داري (یا عامې اسلامي خور) نه څه بدي [یعني غلطي] اوشي نو په لیکلي صورت کښې یا مخامخ د هغے سره د ملاقات په صورت کښې (په دواړو صورتو کښې په نرمئ سره) مو د هغے د پوهه کولو کوشش اوکړو. یا مو **مَعَاذَاللّٰه** عَزَّوَجَلَّ بے د شرعي اجازته نورو ته خبره ښکاره کړه او د غیبت په ګناه کښې اخته شوئ؟

﴿۲۶﴾ **تپوس**

**فرمانِ امیرِ اَهلِسُنَّت** دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَة: [د مدني کارونو باره کښې] تپوس کول د مَدَني کارونو ژوند دے. (مدنی کاموں کے تقسیم کے تقاضے، ص۹)

❁ د تجهِيز و تَکفِين (علاقه تا عالـمي سطح) ذِمَّه دارې کتاب "د کَفَن دَفَن طريقه" کښې موجود مَدَني کارونه خپله ډائرئ کښې ځان سره د ياد داشت په طور اوليکئ يا پرې نښې اولګوئ چه په وخت هر مدني ګُل باندې عمل کيدے شي. ❁ د تجهِيز و تَکفِين (علاقه تا عالـمي سطح) ذِمَّه دارې دِ خپلو ماتحتو ذِمَّه دارو نه په ماهانه مَدَني مشوره کښې پوښتنه کوي چه په دې مَدَنـي ګُلونو ئې تر څو پورې عمل کړے دے؟ ❁ که څه کمزورې پکښې وي نو مُتَعَلِّقه ذِمَّه دارې دِ پوهه کړي او آئنده بهترولو د پاره دِ حِکمتِ عَمَلي تياره کړي. ❁ د تجهِيز و تَکفِين (علاقه تا عالـمي سطح) ذِمَّه دارې دِ کتاب "د کَفَن دَفَن طريقه" ځان سره محفوظ کړي. ❁ د تجهِيز و تَکفِين (علاقه تا عالـمي سطح) ذِمَّه دارې دِ د خپلو ماتحتو ذِمَّه دارو عملي جَدوَل او ډك شوي "کارکردګي فارمونه په دِسپلے فائل کښې ترتيب وار کيږدي او محفوظ دِ ئې کړي ❁ که څه مسئله درپيښه وي يا څه مشوره وي نو د تنظيمي ترکيب مطابق ئې خپلې ذِمَّه دارې اسلامي خور ته اورسوئ ❁ د تجهِيز و تَکفِين (د کابينه سطح) ذِمَّه داره اسلامي خور شرعي سفر کښې د کيدو په صورت کښې د مجبورئ په حالت کښې د ټيليفونِك مشورې په ذريعه هُم مَدَنـي ګُلونه ښودلے شي ❁ د خپل مُلك د حالاتو او نوعِيَت مطابق د خپل مُلکي کابينه د نګران يا د مجلِس معاونت برائے اسلامي خويندې (د کابينه سطح) د ذِمَّه دار او د مُتَعَلِّقه مُـمالك ذِمَّه دارې په اجازت په دې مَدَنـي ګُلونو کښې حسبِ ضرورت بدلون کيدے شي.

## د عِيادت [يعني د مريض د پوښتنې] بيان

## د دُرُود شريف فضيلت

شفيعِ مَحشر، حبيبِ داور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: تاسو خپل مجلسونه په ما باندې دُرُود شريف لوستلو باندې ښکلي کړئ ځکه چه ستاسو په ما باندې دُرُود شريف لوستل به په ورځ د قيامت ستاسو د پاره نُور وي.

(اَلْجَامِعُ الصَّغِير ص۲۸۰، حديث۴۵۸۰)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## تبې ته بده مه وايه!

د حضرتِ سَيِّدُنا جابِر رَضِیَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ نه روايت دے: حُضُورِ اَقدَس صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرتِ سَيِّدَتُنا اُمِّ السَّائِب رَضِیَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا کره تشريف يورلو، اوئې فرمائيل: په تا څه شوي دي چه ته رپيږې؟هغے عرض اوکړو: تبه ده، خُدائے دِ په دې کښې بَرَکت نه کوي. خورِ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائيل: تبې ته بده مه وايه ځکه چه هغه د انسان خطاګاني داسې لرې کوي څنګه چه بټۍ د اوسپنې خيرې [لرې کوي]. (مُسلِم کتاب البر...الخ، باب ثواب المؤمن...الخ، ص۱۳۹۲، حديث۲۵۷۵)

## خوشخبري واوره!

حضرتِ سَيِّدَتُنا اُمِّ عَلاء رَضِیَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا چه هغه د سَيِّدُنا حکيم بِن حِزام رَضِیَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ ترور او د وارو جهانو د سردار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه بيعت کوونکو ښځو کښې يوه وه. فرمائي چه کله زه بيماره شوم نو نبيِ رَحمت، شفيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زما عِيادت [يعني تپوس] اُوفرمائيلو او ما ته ئې اُوفرمائيل چه اے اُمِّ عَلاء! خوشخبري واوره چه د مسلمان بيماري د هغه نه

ګناهونه داسې لرې کوي څنګه چه اور د اوسپنې او سپینو زرو خیرې لرې کوي.“:[1] (اَبو داؤد کتاب الجنائز، باب عیادۃ النساء، ۳/۲۴۶، حدیث۳۰۹۲)

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** بیماري د رحمت او مغفرت باعث ده لِـهذا که کله بیمار شئ نو خفه کیږئ مه بلکه د **الله** تعالیٰ شُکر ادا کوئ او صبر کوئ او د نور ثواب حقدار جوړ شئ او چه کله څوك بیمار شي نو د هغه د تسلئ او زړه خوشحالولو د پاره د هغه عِیادَت [یعني تپوس] هُم کوئ ځکه چه عِیادت کول زمونږه د خوږ خوږ آقا صَلَّی اللہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سُنَّتِ مبارکه دي او په دې کښې ډیر زیات ثواب هم دے. راځئ چه د امیرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه د رسالے ”نہرکی صدائں[یعني د نهر غږ]“ نه د عِیادَت [یعني د مریض د تپوس] څه مَدَنـي ګُلونه راټول کړو او د زړه مَدَنـي ګُلدَسته کښې ئې اولګوو خو مخکښې څه ښه ښه نِیَّتونه اوکړو.

## د عِیادت [یعني تپوس] نِیَّتونه

❁ رضائے اِلٰهی حاصلولو او د آخِرت ثواب ګټلو د پاره به د عاشقانِ رَسُول عِیادت [یعني تپوس] کووم. ❁ د عِیادت سُنَّت به ادا کووم ❁ د سُنَّت مطابق به د مریض په تندي لاس ایښودلو سره دا دُعا لوَلم: ’لَا بَأْسَ طَهُوْرٌ اِنْ شَآءَ اللہ‘ ❁ هغه ته به د بیمارئ فضائل بیانولو باندې تسلي ورکووم ❁ د صبر فضائل به ورته بیانووم او د صبر تلقین به ورته کووم ❁ که هغه ګیله کوله او کیدے شوه نو په نرمئ به ئې پوهه کووم او د شُکر ادا کولو ترغیب به ورکووم.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

---

[1] د بیمارئ د نورو فضائلو، آداب او علاج د معلوماتو حاصلولو د پاره د امیرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه رِساله ”بیمار عابِد“ ولولئ.

# د عِيادَت ۳۱ مَدَني ګلونه

۸ فرامِينِ مُصطَفٰی ﷺ: ﴿۱﴾ عُوْدُوا الْمَرِيْضَ يعني د مريض عِيادت [يعني تپوس] اوکړئ. (الادب المفرد، باب عيادة المريض، ص۱۳۷، حديث۵۱۸) ﴿۲﴾ څوك چه د يو مريض د عِيادت د پاره ځي نو الله تعالٰی په هغه باندې د پينځه اويا زره (۷۵۰۰۰) فرښتو سورے کوي او د هغه هر قدم اوچتولو باندې د هغه د پاره يوه نيکي ليکي او په هر قدم ايښودلو باندې د هغه يوه ګناه ورانوي [يعني بخښي] او يوه درجه ئې اوچتوي تر دې چه هغه په خپل ځائے کښيني، چه کله هغه کښيني نو رَحمت هغه پټ کړي او خپل کور ته بيرته راتلو پورې به رَحمت هغه مسلسل پټ کړے وي. (مُعجَم اوسط، باب العين، ۳/۲۲۲، حديث۴۳۹۶) ﴿۳﴾ څوك چه د يو مريض عِيادت له ځي نو آسمان نه يو مُنادي نِدا [يعني غږ کوونکے غږ] کوي، تا ته دِ بِشارت (يعني زيرے) وي ستا تلل ښه دي او تا د جَنَّت يو منزِل خپل ځائے جوړ کړو. (سُنَنِ اِبنِ مَاجَه کتاب الجنائز، باب ماجاء فی ثواب من عاد مريضاً، ۲/۱۹۲، حديث۱۴۴۳) ﴿۴﴾ کوم مسلمان چه د يو مسلمان د عِيادت د پاره سحر لاړ شي نو مابنام پورې د هغه د پاره اويا زره فرښتے اِستِغفار (يعني د بخښنې دُعا) کوي او چه مابنام لاړ شي نو سحره پورې اويا زره فرښتے [د هغه د پاره] اِستِغفار کوي او د هغه د پاره به په جَنَّت کښې يو باغ وي. (ترمذی، کتاب الجنائز، باب ماجاء فی عيادت المريض، ۲/۲۹۰، حديث۹۷۱) ﴿۵﴾ چا چه په ښه طريقه اودس اوکړو، بيا ئې د خپل مسلمان ورور د ثواب په نِيَّت عِيادت اوکړو نو هغه به د جَهنَّم نه د ۷۰ کالو فاصله پورې لرې کړے شي. (اَبو داؤد کتاب الجنائز، باب فی فضل العيادة (علی الوضوء)، ۳/۲۴۸، حديث۳۰۹۷) ﴿۶﴾ چه کله ته د مريض څنګ ته ورشې نو هغه ته اُووايه چه ستا د پاره دُعا اوکړي ځکه چه د هغه دُعا د

فرښتو په شان ده. (اِبنِ مَاجَه کتاب الجنائز، باب ماجاء فی عیادۃ المریض، ۱۹۱/۲، حدیث۱۴۴۱) ﴿۷﴾ مریض چه تر څو پورې صحت یاب نه شي د هغه یوه دُعا هُم نه رَد کیږي (اَلتَّرغِیْب وَالتَّرهِیْب کتاب الجنائز وما یتقدمها، الترغیب فی عیادۃ المرضٰی و تاکیدها والترغیب فی دعاء المریض ۱۶۵/۴۰ حدیث۵۳۴۴) ﴿۸﴾ چه کله یو مسلمان د کوم مسلمان عیادت ته لاړ شي نو ۷ ځله دِ دا دُعا اولولي اَسْأَلُ اللّٰهَ الْعَظِیْمِ رَبَّ الْعَرْشِ الْکَرِیْمِ اَنْ یَّشْفِیَكَ (زه د عَظَمت والا، د عرشِ عظیم مالِك اللّٰه تعالٰی نه ستا د پاره د شِفا سوال کووم) که مرګ نه وي راغلے نو هغه ته به شِفا اوشي (اَبو داؤد، کتاب الجنائز، باب الدعاء للمریض عند العیادۃ، ۲۵۱/۳، حدیث۳۱۰۶) ❁ د مریض عِیادت [یعني تپوس کول] سُنَّت دي. که دا معلومه وي چه عِیادت د پاره ورتلل به مریض بد ګڼړي [یعني د هغه د پاره به د تکلیف باعث جوړیږي] نو داسې حالت کښې عِیادت له مه ورځئ (بہارِ شریعت حِصّہ۱۶، ۵۰۵/۳) ❁ که مریض نه تاسو په زړه کښې خفګان لرئ یا مو ورسره طبیعت نه لګي بیا ئې هُم عِیادت کوئ ❁ د اِتّباعِ سُنَّت په نِیَّت ئې عیادت کوئ، که صرف دے د پاره ئې تپوس اوکړئ چه کله زه بیمار شم چه هغه مې هُم تپوس د پاره راشي نو ثواب به نه کیږي ❁ چه د چا عِیادت ته ورشئ او بیماري پرې سخته وي نو د هغه د یَرولو خبرې مه کوئ مَثَلًا چه ستا حالت خو ډیر خراب دے او مه په داسې انداز سر خوزوئ چه د هغے نه د حالت خرابیدل مُراد اخستے شي ❁ د عیادت په موقع د مریض یا غمژن کس په مخکښې په خپل مخ باندې د غم او خفګان کیفیت راولئ ❁ چه د خبرو اترو انداز مو بالکل داسې نه وي چه مریض یا د هغه د عزیز زړه کښې وسوسه پیدا شي چه دا زمونږ په تکلیف خوشحاله دے ❁ د مریض د کور کسانو سره هم همدردي کوئ او څه خدمت یا امداد ئې که کولے شئ هغه کوئ ❁ د مریض څنګ ته چه ورشئ نو د هغه د طبیعت تپوس اوکړئ او د

هغه د پاره د صِحت او عافِيَت دُعا اوکړئ ❁ د نبيِّ رَحمت، شفيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عادت کريمه دا وو چه کله به ئې د کوم مريض عِيادت ته تشريف يوړلو نو دا به ئې فرمائيل: لَا بَأْسَ طَهُوْرٌ اِنْ شَآءَ اللّٰه تَعَالٰى (يعني د هيڅ باك خبره نه ده، که الله تعالى اوغواړي نو دا مرض (د ګناهونو نه) پاك کوونکے دے) (بُخارى كتاب المناقب، باب علامات النبوة فى الاسلام ٢٠/٥٠٥، حديث ٣٦١٤) ❁ مريض باندې ځان د پاره دُعا کوئ ځکه چه د مريض دُعا نه رَد کيږي ❁ **فرمانِ مُصطَفٰى** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د مريض پوره عِيادت [يعني تپوس] دا دے چه د هغه په تندي لاس کيږدي او تپوس ترې اوکړي چه مزاج دِ څنګه دے؟ (تِرمِذِى كتاب الاستئذان والآداب، باب ماجاء فى المعانقه والقبلة، ٤/٣٣٥، حديث ٢٧٤٠) **مشهور مُفَسِّر حَكِيمُ الْاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د دې حديثِ پاك نه لاندې فرمائي: يعني چه کله څوك د يو بيمار تپوس ته ورشي نو خپل لاس دِ د هغه په تندي کيږدي بيا دِ په ژبه دا اُووائي (يعني ستاسو طبيعت څنګه دے) په دې د بيمار تسلي کيږي خو د ډير ساعته پورې دِ پرې لاس نه کږدي، دا لاس کينبودل د مَحَبَّت ښکاره کولو د پاره دي. (مِراٰةُ الْمَنَاجِيح، مصافحه اور معانقه كا بيان، ٦/٣٥٨ بتصرف قليل) ❁ د مريض په مخکښې داسې خبرې کول پکار دي چه په هغه ښې لګي، د بيمارئ فضائل او د **الله** تعالٰى د رَحمت تذکرې ورته کوئ چه د هغه ذِهن د آخرت ثواب ته مائل شي او د ګيلې او شکايت الفاظ په ژبه نه راوړي ❁ د عِيادت په وخت کښې د موقعې په مناسبت مريض ته د نيکئ دعوت هُم ورکوئ خصوصاً د لـمانځه د پابندئ فکر ورکوئ ځکه چه بيمارئ کښې ډير مريضان د لـمانځه نه هُم غافله شي ❁ مريض ته د مَدَنـي چينل کتلو ترغيب ورکوئ او د دې د بَرَکتونو نه ئې خبروئ ❁ مريض ته **مَدَنِي قَافِلو** کښې د سفر ترغيب او که پخپله د سفر قابِل نه وي نو د ځان له طرفه د کور د يو کس په

سفر د ليږلو ترغيب ورکوئ او د **مَدَني قَافِلو** هغه مَدَنـي سپرلي ورته بيانوئ چه کومو کښې د دُعاګانو په بَرَکت مريضانو ته شِفا حاصله شوي وي ❁ مريض سره ډير ساعت مه کښينئ او مه ورته شور جوړوئ خو که بيمار پخپله د ډير ساعته پورې ستاسو د کښينولو خواهش مند وي نو که کيدے شي نو د هغه د جذباتو احترام اوکړئ ❁ د بعضې خلقو عادت وي چه مريض يا د هغه نُمائنده سره ملاقات کوي نو څه نه څه علاج ورښائي او بعضې خو مريض ته ټينګتيا کوي چه زه کوم علاج درښايم هغه اوکړه، فلانکئ دوائي واخله جوړ به شے! مريض ته پکار دي چه د هر چا ښودلے علاج نه کوي ځکه چه "نيم حکيم خطرۀ جان" [يعني نيم حکيم د صحت د پاره خطره وي]، د چا ښودلي علاج کولو نه مخکښې خپل طبيب [ډاکټر] سره مشوره کوئ. خبردار! څوك چه د طبيب نه کيدو باوجود خلقو ته علاجونه ښائي هغوئي دِ داسې نه کوي ❁ د مريض د عِيادت [يعني تپوس] په موقع تُحفے راوړل ښه کار دے خو د نه وړلو په صورت کښې د سره عِيادت نه کول او زړه کښې دا خيال کول چه که هيڅ هم ور نه وړم نو سوچ به کوي چه تش لاس عِيادت د پاره راغې، نو تش لاس هُم عِيادت کول پکار دي، نه کول د ثواب نه د محرومه کيدو باعِث دي. ❁ که تاسو عيادت له ځئ او ځان سره ميوے او بسکټ وغيره تُحفه کښې وړئ نو مشوره ده چه د **مَکْتَبَةُ الْمَدِينه** چاپ شوي څه مَدَنـي رسالے هُم ځان سره يوسئ او مريض ته ئې پيش کړئ چه هغه ئې خپلو مُلاقاتيانو، (او که هسپتال کښې وي نو) ګاونډيانو مريضانو او د هغوئ عزيزانو ته تُحفه کښې ورکولے شي. بلکه کاش! چه مريض پخپله هُم څه مَدَنـي رسالے هَدِيَّةً راغواړي او د دې غرض د پاره ئې ځان سره کيږدي او ثوابونه اوکټي. ❁ د فاسِق عِيادت هُم جائز دے ځکه چه

عِيادت د اسلام د حقونو نه دے او فاسِق هُم مُسلم دے (بهارِ شريعت حِصّه١٦، ٣/٥٠٥) ❁ د مُرتد او کافِر حَربي عِيادت جائز نه دے (في زمانه دُنيا کښې ټول کُفّار حربيان دي) ❁ د بدمذهبه (غيرِ مُرتد) عِيادت کول هُم منع دي او شرعاً د دې اجازت نشته.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! تاسو د عِيادت [يعني د مريض د تپوس] آدابو او فضائلو باندې مُشتمل مَدَني کُلونه اوکتل، لِهذا د ډير ډير ثواب کټلو د پاره چه کله هُم موقع په لاس درشي نو دا مَدَني کُلونه نظر کښې ساتلو سره د مريض عِيادت کوئ، خاص طور د صِحت او عافِيَت د دُعا مَدَني کُلونو باندې ضرور عمل کوئ ځکه چه څه معلومه ده د قبوليَت وخت وي، ستاسو دُعا قبوله شي او مريض ته شِفا حاصله شي. راشئ په دې باره کښې د محبوبِ عطّار مرحوم رُکنِ شُوریٰ حاجي زم زم رضا عطّاري رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه واقعه واورئ چنانچه

## د آپريشن نه بغير جوړ شو

وکيلانو او ججانو کښې د دعوتِ اسلامي کار کولو د پاره د جوړ شوي مجلِسِ وُکلا د فاروق نګر (لاړکانه بابُ الاسلام سندھ) رُکن اسلامي ورور څه داسې بيان دے چه زما د يو نيم کال ځوئ په 13مئ 2012ء د ګرمئ د زياتوالي په وجه سخت بيمار شو او په سکّي [يعني پيپرو] کښې ئې اوبه اوشوې، په دې وجه مو اسپتال کښې داخل کړو، هلته ئې څوارلس ورځې علاج اوشو خو حالت ئې نور خراب شو. چنانچه په 27، مئ 2012ء مو د بابُ الْمَدينه (کراچئ) يو ښه

هسپتال ته يوړو او هلته ئې پينځلَّس ورځې نور علاج اوشو. آخر دا چه ډاکټرانو اُووئيل چه د ماشوم د سکې [يعني پيپرو] به غټ آپريشن کيږي. په دې مونږه ډير پريشانه شو خو په هُم هغه ورځو کښې محبوبِ عطّار حاجي زم زم رضا عطّاري رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه زما د ځوئ د عِيادت [يعني تپوس] د پاره هسپتال ته تشريف راوړو. دُعا کولو نه پس ئې زما ځوئ دم کړو او تسلي ئې راکړه چه هِمَّت مه بيله اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰى صرف دوائيانو سره به فائده اوشي، آپريشن به کول نه غواړي. په دويمه ورځ مو چه د آپريشن نه مخکښې کوم ټيسټونه اوکړل نو ډاکټرانو چه د هغے رپورټونه اوکتل نو حيران پاتې شو او اوئې وئيل چه اوس د آپريشن ضرورت نشته ماشوم به په دوائيانو ښه شي، دغسې اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ زما ځوئ د حاجي زم زم رضا عطّاري رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د دُعاګانو په بَرَکت په دوائيانو ښه شو. (محبوبِ عطّار کی ۱۲۲ حکایات ص۸۰)

## د نکدن بيان

د ځنکدن لُغَوي معنٰی ده راښکل، او د دې نه مُراد د بدن نه رُوح وتل دي، هُم دې ته ساه ختل او مرګ راتلل هُم وائي. ځوك چه دے دُنيا کښې پيدا شوے دے هغه به يوه نه يوه ورځ ضرور مري. هُم دغسې به مونږه هُم مرو او د مرګ نه پس مراحلو نه به تيريږو، ياد ساتئ! تيريدونکے يو يو ساعت مونږه مرګ ته نزدے کوي خو مونږه خپل مرګ هير کړے دے او معلومه نه ده چه د کوم صبا انتظار کوو چه په هغے کښې به توبه او نيك اعمال کوو. حضرتِ سَيِّدُنا منصور بِن عَمّار رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه يو ځلمي ته نصيحت کښې اُوفرمائيل: اے ځلميه! ستا ځواني تا په دوکه کښې اخته نه کړي، ځومره ځلمي داسې وو چه هغوئي په توبه کښې ناوخته کړل او اُوکړده اُوکړده اُميدونه ئې لرل، مرګ ئې هير کړو او دا به ئې وئيل چه صبا به توبه اوکړو، بل صبا به توبه اوکړو تر دې چه د هُم دې

غفلت په حالت کښې هغوئ ته مرګ راغې او هغوئ د تورو تِيارو قبرونو ته کوز کړے شو. (مُکَاشَفَةُ الْقُلُوب بآب فی العشق ص٣٤)

## د مرګ یاد

**فرمانِ مُصطَفٰی** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دے: خوندونه ختموونکے (يعني مرګ) په کثرت سره یادوئ. (تِرمِذِی کتآب الزھد، بآب مآجاء فی ذکر الموت، ٤/١٣٨، حدیث٢٣١٤)

یو حدیث کښې دي: څوك چه په شپه او ورځ کښې ۵۰ ځله مرګ یادوي هغه به د شهیدانو سره پاڅولے کیږي. (شَرْحُ الصُّدُور ص٢٠، والتذکرۃ للقرطبی، بآب ذکر الموت و فضلہ ص١٢)

## عقلمند مومن

حضرتِ سَیِّدُنا اِبنِ عُمَر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْھُمَا نه روایت دے چه یو انصاري کس د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دربار کښې عرض اوکړو: یارَسُولَ اللّٰہ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ټولو نه عقلمند مُؤمِن څوك دے. نو خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد اُوفرمائیلو: څوك چه مرګ زیات یادوي او د هغے نه پس د پاره ښه تیاري کوي. (اِبنِ مَاجَہ کتآب الزھد، بآب ذکر الموت والاستعداد لہ، ٤/٤٩٦، حدیث٤٢٥٩ مأخوذاً)

لِـهذا مونږ ته هُم پکار دي چه د مرګ او آخرت د تیارئ ذهن جوړ کړو، خپلو ګناهونو نه ربښتیني او پخه توبه اوکړو او دا عزم اوکړو چه آئنده به ټول عُمر په سُنَّتو باندې عمل کوو. اِنْ شَآءَاللّٰہ عَزَّوَجَلَّ

## د مومن او کافِر مرګ

حضرتِ زَید بِن اسلم رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: چه کله په یو مُؤمِن باندې داسې ګناهونه پاتې شي چه د هغے په بدل کښې ورسره نیك اَعمال نه وي نو په

هغه باندې د مرګ سختئ مُسَلَّطې کړے شي چه دا سختئ د هغه د ګناهونو بدل جوړې شي او د مُؤمِن تکليفونه په جَنَّت کښې د هغه د درجاتو اوچتلو سبب دي او کافر چه په دُنيا کښې څه ښه کار اوکړي نو په هغه باندې مرګ آسان کړے شي چه هغه ته د هغه کار بدله په دُنيا کښې پوره پوره ورکړے شي بيا يقيناً هغه به دوزخ ته ځي.

(شَرْحُ الصُّدُور ص۲۹ و (مُعجَم کبير للطبرانی، ۷۹/۱۰ حديث ۱۰۰۱۵)

## د ځنکدن سختې

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** د مرګ د سختو په باره کښې حضرتِ علامه جلال الدّين سُيوطي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه په شرحُ الصُّدُور کښې فرمائي: "مرګ د دُنيا او آخرت په ويرو کښې د ټولو نه زيات ويروونکے دے، دا په اَرو باندې د څيرلو، په قينچيانو باندې د پريك کولو او په کټوو کښې د خوټکولو نه هُم زيات سخت دے. که مړے راژوندے شي او د مرګ سختې خلقو ته بيان کړي نو د هغوئ خوبونه به ورك شي او ټول عيش او سکون به ئې تريخ شي." (شَرْحُ الصُّدُور ص۳۳، و موسوعة ابن ابی الدنيا، کتاب ذکر الموت، باب الخوف من الله، ٤٤٦/٥، حديث۱۷۰)

## ازغي لرونکي څانګه

حضرتِ عُمر رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ حضرتِ **کَعْب** رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ ته اُوفرمائيل: مونږ ته د مرګ د سختئ په باره کښې اوښايه، حضرتِ **کَعْب** رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اُووئيل: **اَميرُ الْمُؤمِنِين!** مرګ د داسې څانګې په شان دے چه په هغے کښې ډير زيات ازغي وي او هغه [څانګه] د انسان بدن ته داخله شوي وي او د هغے هر ازغي په هر رګ کښې ځائے نيولے وي بيا هغه يو سړے په ډيره زياته سختئ

راښکارِي نو څه بهر ته راشي او څه بدن کښې پاتې شي. (مُکَاشَفَةُ الْقُلُوب، باب فی بیان شِدَّةِ الموت، ص۱٦۸ و مصنف ابنِ ابی شیبه، کتاب الزهد، باب ماقال فی البکاء من خشیة الله، ۸/۳۱۲ حدیث۱۲۲)

## د شيطان وار

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** د ځنکدن معامَله واقعي ډيره نازکه ده، يو طرف د مرګ سختې نو بل طرف ته د ايمان ضائِع کولو د پاره د شيطان خطرناکې حملې، ځکه چه د مرګ په وخت کښې شيطان قِسم قِسم چلونه استعمالوي چه په څه طريقه د مړ کيدونکي ايمان برباد شي. اِمام اِبنُ الحاج مکِّی قُدِّسَ سِرُّهُ په "مدخَل" کښې ليکي چه د ځنکدن په وخت کښې دوه شيطانان راشي او د انسان دواړو ډډو ته کښيني، يو د هغه د پلار په شکل کښې او بل د هغه د مور په شکل کښې، يو ورته وائي هغه [فلانکې] کس يهودي شوے مړ شوے وو، ته هُم يهودي شه ځکه چه يهوديان هلته ډير سکون کښې دي، بل وائي هغه [فلانکې] کس نصراني [يعني عيسائي] شوے دُنيا نه تلے وو، ته هُم نصراني شه ځکه چه نَصارىٰ هلته ډير سکون کښې دي. (المدخل لابن الحاج، ۳/۱۸۱)

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** په چا چه د **الله** تعالیٰ خاص کرم او احسان اوشي د هغه ايمان به سلامت اوسي، مونږه د **الله** تعالیٰ په بارګاه کښې سوال کوو چه د خپل خوږ حبيب صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خاطر د ځنکدن په وخت کښې زمونږه ايمان سلامت لري، زمونږه خاتِمه په خير اوکړي او د ځنکدن په وخت کښې زمونږ خوا ته شيطان رانشي بلکه خوږ خوږ مُصطَفیٰ صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کرم فرما شي او مونږ ته د خوږ آقا صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نندارو کښې مرګ راشي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

یاالٰہی بھول جاؤں نزع کی تکلیف کو　　شادیِ دیدارِ حسنِ مصطفٰی کا ساتھ ہو

اوس څه مَدَنـي ګُلونه وړاندې کيږي چه کله د چا ځنکدن شي نو د رضائے اِلٰهی او ثوابِ آخرت، او د مسلمانانو د خير ښيګړې د پاره او نورو ښو ښو نِيَّتونو سره په دې مَدَنـي ګُلونو عمل اوکړئ او د قريبُ الـمرګ کس سره ښيګړه اوکړئ.

## د ځنکدن والا کس خوا ته کسانو د پاره مَدَنـي ګلونه

چه کله د مرګ وخت نزدے راشي او نښې ئې ښکاره شي نو سُنَّت دا دي چه،

❁ مړ کيدونکے کس په ښئ ډډه څملوئ او مخ ئې قبلے ته کړئ يا

❁ دا هُم جائز دي چه نيغ ئې څملوئ او ښپے ئې قبلے ته کړئ چه په دې صورت کښې به ئې هُم قبلے ته مخ شي خو په دې صورت کښې ئې سر لږ اوچت ساتئ.

❁ که قبلے ته ئې مخ کول مشکل وي چه هغه ته به تکليف رسي نو په څه حالت چه دے [په هغه حالت ئې] پريږدئ.

(دُر المُختار معه رَدُّالْمُحتَار کتاب الصلوٰۃ، باب صلوٰۃ الجنازہ ۳/۹۱)

## د مومن د مرګ علامتونه

حضرتِ سَيِّدُنا سلمان فارسي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي: ما د رَسُولُ اللّٰہ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه فرمان اوريدلے دے چه مړ کيدونکو کښې دري علامتونه ګورئ که په تندي ئې خوله راشي، سترګو کښې ئې اوښکې راشي او سپيږمي ئې خورے شي نو دا د اللّٰہ تعالٰی رحمت دے.

(نوادر الاصول للحکیم الترمذی، الاصل السادس والثمانون، ۲۷۲/۱)

## مړ کیدونکي ته د کَلِمۂ طَیِّبه تلقین کول سُنَّت دي

د چا چه ځنکدن وي هغه ته د کَلِمۂ طَیِّبه تلقین کول سُنَّت دي. چنانچه د حضرتِ سَیِّدُنا ابو سعید خُدري رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روایت دے چه د **الله** تعالٰی محبوب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائیلے دے: خپلو مړ کیدونکو ته د کَلِمۂ طَیِّبه، لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ تلقین کوئ. (مُسلِم، کتاب الجنائز، باب تلقین الموت... الخ، ص۸۲۱ حدیث۲۱۲۳)

اَمیرُ الْمُؤمِنِین حضرتِ سَیِّدُنا عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ اِرشاد فرمائیلے دے: تاسو مړک ته نزدے خپلو خلقو سره د مړک په وخت کښې موجود اوسیږئ، هغوئي ته د کَلِمۂ طَیِّبه تلقین کوئ او د هغوئي په مخکښې د کَلِمۂ طَیِّبه ذِکر کوئ ځکه چه دا مړ کیدو والا هغه ویني څه چه تاسو نه وینئ. (التذکرة للقرطبی، باب تلقین المیت لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ، ص ۳۵)

## د تلقین مَدَنـي ګلونه

❁ د ځنکدن په وخت کښې ئې چه تر څو پورې رُوح مرئ ته نه وي راغلے تر هغے پورې ورته تلقین کوئ یعني د هغه خوا ته په اوچت آواز اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَ اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰه (صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) لوَلئ خو د دې د وئیلو حکم ورته مه کوئ. (جَوْهَرة نیرة کتاب الصلوة، باب الجنائز ص۱۳۰)

❁ چه کله هغه کَلِمه اُووائي نو تلقین پریږدئ، خو که د کلمه وئیلو نه وروسته څه خبره اوکړي نو دوباره ورته تلقین اوکړئ چه د هغه آخرې کلام لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰه شي. **فرمانِ مُصطَفٰی** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دے چه د چا آخرې

کلام لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ شي هغه به جَنَّت ته داخليږي. (اَبو داود کتاب الجنائز، باب فی التلقین، ۲۵۵/۳ حدیث۳۱۱۶ و عالمګیری کتاب الصلوٰة ، الباب الحادی والعشرون فی الجنائز، الفصل الاول فی المحتضر، ۱۵۷/۱)

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** د دې ذکر کړے شوي حديثِ پاك نه معلومه شوه چه د چا آخري کلام کَلِمۂ طَيِّبه وي هغه جَنَّتي دے، لِـهذا څومره خوش نصيبه او قابِلِ رشك دي هغه، څوك چه په کَلِمۂ طَيِّبه وئيلو وئيلو کښې د دې دُنيا نه رُخصت شي، **الله** تعالٰی دِ مونږ ته هُم دا سعادت رانصيب کړي چه د ځنکدن په وخت کښې زمونږه په ژبه هُم کَلِمۂ طَيِّبه جاري شي. **اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين** صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم. په دې باره کښې د عاشِقانِ رسُول مَدَني تَحريك **دعوتِ اسلامي** د **مَدَني ماحول** د بَرَکتونو نه مالامال يو مَدَنـي سپرلے اوګورئ:

## عطّار ته ګران

د دعوتِ اسلامي د مرکزي مجلِسِ شُورىٰ نګران حاجي محمد مُشتاق عطّاري رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه څه موده بيمار وو او په هم هغه بيمارئ کښې وفات شو. آخري وخت کښې چه ورسره کوم اسلامي وروڼه موجود وو هغوئي اُووئيل چه د شپے د حاجي محمد مُشتاق عطّاري رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه طبيعت او حالت زيات خراب شو نو هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه اُوفرمائيل چه مخ مې قبلے ته کړئ، چنانچه د هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه د حُکم مطابق ئې مخ قبلے ته کړے شو. هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه په پټو سترګو د دُرُود و سلام او کَلِمۂ طَيِّبه وظيفه شروع کړه. د ډير وخته پورې هم دغسې په ذِکر و دُرُود کښې مصروف وو. بيا ئې په اوچت آواز کَلِمۂ طَيِّبه اُووئيله او د ځنکدن حالت پرې راغې او څه ساعت پس ئې رُوح د دې فاني دُنيا نه عالَمِ بالا طرف ته والوَتو.

د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئ رحمت وي او د هغوئ په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

د ځنکدن په وخت کښې د تلقِين باره کښې **مشهور مُفَسِّر حَكِيمُ الْأُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: د کَلِمۂ طَيِّبه ورښودلو دا حُکم اِستِحبابي [يعني مُستَحَب] دے او هُم دا د جمهور عُلَماء مذهب دے. ياد ساتئ که مومن د مرګ په وخت کښې کَلِمه اونه وئيلے شي لکه بيهوشه يا شهيد وغيره نو هغه په ايمان وفات شو ځکه چه په ژوند کښې مومن وو لِـهذا اوس هُم مومن دے بلکه که د ځنکدن په بيهوشئ کښې ئې د خُلے نه کَلِمۂ کُفر واوريدے شي نو بيا به هُم مومن وي د هغه کَفَن دَفَن، جنازه هر څه به کيږي ځکه چه د بيهوشئ د حالت اِرتِداد مُعتبر نه دے. (مِراٰۃ المناجیح، جنازوں کی کتاب، ۲/۴۴۴)

❁ پکار ده چه تلقين کوونکے څوك نيك کس وي، داسې نه وي چه د هغه په مرګ خوشحاله وي، او دغه وخت د هغه سره د نيکو او پرهيزګارو خلقو موجود کيدل ډيره ښه خبره ده او هغه وخت هلته د سُوْرَۂ يٰسٓ[1] شريف تِلاوت او خوشبو کيدل مُسْتَحَب دي، مَثَلًا اګربتئ يا سپيلني لوګې کړئ. (عالمگیری کتاب الصلوٰۃ باب الحادی والعشرون، الفصل الول فی المحتضر، ۱/۱۵۷)

❁ د ځنکدن په وخت کښې هلته د حيض و نفاس والا ښځې حاضريدے شي خو چه د چا حيض و نفاس اودريدلے وي او لا غسل ئې نه وي کړے

[1] سُوْرَۂ يٰسٓ او د هغې څه فضائل په آخرو صفحاتو کښې اوګورئ.

هغے ته او جُنُب (يعني په چا چه غُسل فرض شوے وي هغه) ته راتلل نه دي پکار، او کوشش کوئ چه په کور کښې تصوير يا سپې نه وي، که دا څيزونه وي نو فوراً ويستل پکار دي ځکه چه دا څيزونه چرته وي هلته د رَحمت فرښتے نه راځي.

❁ د چا د ځنکدن په وخت کښې د هغه د پاره او ځان د پاره مسلسل دُعائے خير کوئ، هيڅ بده خبره د خُلے نه مه اوباسئ ځکه چه دغه وخت کښې څه وئيل شي په هغے فرښتے آمين وائي.

❁ که ځنکدن کښې سختي اُووِينئ نو سُوْرَۂ يٰسٓ او سُوْرَۂ رَعْد اولولئ. (بهارِ شريعت حِصّه ٤، ١/٨٠٨) ځکه چه دے سره مرګ کښې آساني راځي.

## پير صاحب ورته تلقين اوکړو

ټنډوجام (باب الاسلام سنده) مُبَلِّغِ دعوتِ اسلامي افتخار احمد عطاري مَدَني ماحول کښې شاملیدو نه مخکښې ډير زيات ماډرن [يعني فيشني] وو، خوش قسمتئ سره ورته د دعوتِ اسلامي مَدَني ماحول نصيب شو، په سُنَّتو عمل کوونکو مُبَلِّغِينو د صُحبت او د امير اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د نِسبت په بَرَکت ئې د نيکئ دعوت عام کول شروع کړل. **مَدَني ماحول** کښې شاملیدو نه څه موده پس شَوَّالُ الْمُكَرَّم کښې يوه شپه د ماسخُتن د لـمانځه نه فارغ شو نو ناڅاپه ئې سينه کښې درد محسوس شو، درد مسلسل زياتيدو، ډاکټر له ئې بوتلو، دوائي سره ئې څه ښيکړه وشوه، خو بيا ئې ناڅاپه په اوچت آواز کَلِمۂ طَيِّبه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰه لوستل شروع کړه، د هغوئي ځوئ محمد عُمير عطّاري تري داسې ناڅاپه د کَلِمۂ طَيِّبه وئيلو د وجهې تپوس اوکړو نو هغوئي اُووئيل: ځويه مخامخ اوکوره، زما پير ومُرشِد اميرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه ما

ته د ګلمۀ طَيِّبه وئيلو تلقين فرمائي او دوباره ئې په اوچت آواز ګلمۀ طَيِّبه لوستل شروع کړه او هُم دغسې مسلسل لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰه وئيلو وئيلو کښې ئې د بدن نه ساه اوختله. د هغوئ د ځوئ بيان دے چه د وفات نه مخکښې د ماښام د لـمانځه نه پس والِد صاحب د فِکرِ مدينه په ذريعه د مَدَني انعاماتو رساله کښې خانې هُم ډکې کړي وې. (بے قصور کی مدد، ص۱۹)

**د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئ رحمت وي او د هغوئ په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم**

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** د دعوتِ اسلامي سره تَعَلُّق لرونکي اسلامي ورور مَدَنـي سپرلے تاسو واوريدلو چه د هغه د ځنکدن په وخت کښې اميرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه هغه ته د ګلمۀ طَيِّبه تلقين اوکړو. دا اسلامي ورور د نيکئ دعوت عام کوونکے، د مَدَني انعاماتو مطابق عمل او فِکرِ مدينه کوونکے او د دعوتِ اسلامي په مَدَني کارونو کښې مصروف اوسيدونکے مُبَلِّغ وو لِـهذا تاسو هُم خپل زړه کښې د اولیائے کرامو مَحَبَّت زياتولو، د اولیائے کرامو بَرَکتونه حاصلولو او دُنيا و آخرت بهترولو د پاره د دعوتِ اسلامي مَدَني ماحول سره تړون اوکړئ او مَدَني کارونو کښې مشغول شئ او د دې مقصد **"ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي."** نه لاندې په مَدَني انعاماتو عمل او مَدَني قَافِلو کښې سفر خپل معمول جوړ کړئ. ستاسو شوق او جذبه زياتولو د پاره د اميرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه هٰغه دُعائيه ګلمات وړاندې کيږي کومې چه هغوئ مَدَني انعاماتو باندې عمل کوونکو د پاره ادا کړي دي: چنانچه اَميرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه فرمائي:

## دُعائے عطّار

اللہ رَبُّ الْعِزَّت عَزَّوَجَلَّ دِ تاسو د مدينے مُنوَّرے د سدابهارو ګلونو په شان خنديدلي لري، کله دِ هم ستاسو خوشحالئ ختمې نه شي. په ژوند او مرګ، ځنکدن او برزخ او د قيامت خوفناکو وختونو کښې او هر ځائے کښې مو خوشحالئ نصيب شه، اللہ تعالیٰ دِ ستاسو او د ټولې قبيلے بخښنه اوکړي او په جَنَّتُ الْفِردَوس کښې دِ د خپل خورِ حبيب صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ګاونډ درنصيب کړي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم (جَنَّت کی طلبگاروں کیلئے مَدَنی گُلدستہ، ص۳۲)

## چه ساه ئې اوخيژي نو په دې مَدَني ګلونو عمل اوکړئ

❁ چه کله د چا ساه اوخيژي نو [د کپړے] يوه پلنه پټئ ئې د زنې نه واخله سره پورې راتاو کړئ او د سر د پاسه غوټه ورکړئ چه خُله ئې وازه پاتې نه شي او سترګې ئې بندې کړئ او ګوتې او ښپے او لاسونه ئې نيغ کړئ، دا کار چه د هغه په کور کښې څوک زيات په نرمئ کولے شي [مَثَلًا] ځوئ يا پلار دِ ئې اوکړي. (جَوْهَرة نيرة، کتاب الصلوٰة، باب الجنائز ص۱۳۱)

❁ سترګې چه ورله بندوئ نو دا دُعا لوَلئ:

بِسْمِ اللّٰهِ وَعَلٰى مِلَّةِ رَسُوْلِ اللّٰه (صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم)

ترجمه: د اللہ د نوم سره او د رَسُولُ اللہ (صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) په مِلّت باندې.

دا دُعا هُم اولولئ:

اَللّٰهُمَّ يَسِّرْ عَلَيْهِ اَمْرَهُ وَسَهِّلْ عَلَيْهِ مَا بَعْدَهُ وَ اَسْعِدْهُ بِلِقَآئِكَ وَاجْعَلْ مَا خَرَجَ اِلَيْهِ خَيْرًا مِمَّا خَرَجَ عَنْهُ

(دُر المُختار معه رَدُّالمُحتَار، کتاب الصلوٰۃ، باب صلوٰۃ الجنازۃ، ۳/۹۷)

ترجمه: يا الله عَزَّوَجَلَّ! د ده مُعامَله په ده آسانه کړې، او د دې نه پس والا مُعامَلات هُم په ده آسان کړې او په خپل مُلاقات دا نيك بخته کړې او د ده آخرت د ده د دُنيا نه بهتر کړې.

❁ په خيټه ئې اوسپنه يا لـمده خاوره يا بل څه دروند څيز کيږدئ چه خيټه ئې اونه پرسيږي خو چه د ضرورت نه زيات وزني نه وي ځکه چه د تکليف باعِث دي. (عالمگیری کتاب الصلوٰۃ، الباب الحادی والعشرون، فی الجنائز، الفصل الاوّل فی المحتضر، ۱/۱۵۷)

❁ د مړي خوا کښې د قُرآنِ مجيد تلاوت جائز دے خو چه د هغه ټول بدن په څه کپړه وغيره پټ وي او په تَسْبِيْح او نورو اَذکارو کښې مُطلقاً باك نشته. (رَدُّالمُحتَار کتاب الصلوٰۃ، باب صلوٰۃ الجنازۃ، مطلب: فی القراءۃ عند المیت، ۳/۹۸)

**مدينه:** د ګاونډيانو او دوستانو عزيزانو وغيره د اطلاع د پاره د مړي اعلان اوکړئ[1] چه د جنازے لـمانځه ته ډير خلق راشي او د هغه د پاره دُعا اوکړي. (عالمگیری کتاب الصلوٰۃ، الباب الحادی والعشرون، فی الجنائز، الفصل الاوّل، ۱/۱۵۷)

## د مړي د غُسل بيان

مړي ته غُسل ورکول فرضِ کِفايه او د ډيرو فضيلتونو او اجر و ثواب کټلو ذريعه هُم ده او څوك چه د زړه د اخلاصه د ثواب حاصلولو د پاره مړي

1 د مړي اعلان او نور اعلانونه د کتاب په آخره کښې اوګورئ.

ته غُسل ورکړي نو د الله تعالٰی په رَحمت د ګناهونو د بخښنې حقدار جوړ شي. چنانچه

## مړي ته د غُسل ورکولو فضيلت

حضرتِ سَيِّدُنا جابِر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روايت دے چه تاجدارِ رِسالت، شَهَنشاهِ نُبُوَّت صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: چا چه کوم مړي ته غُسل ورکړو هغه به د خپلو ګُناهونو نه داسې پاك او صفا شي څنګه چه په هغه ورځ وو په کومه ورځ چه د هغه مور هغه راوړې وو. (مُعْجَمُ اَوْسَط للطبرانی باب الهاء، ٤٢٩/٦، حدیث٩٢٩٢)

## د څلويښتو کبيره ګناهونو د بخښنې نُسخه

حديثِ پاك کښې دي: چا چه کوم مړي ته غُسل ورکړو او د هغه عيب ئې پټ کړو الله رَحمٰن عَزَّوَجَلَّ د داسې کس څلويښت کبيره ګناهونه بخښي. (اَلْمُعْجَمُ الْکَبِیْر للطبرانی باب الالف، ٣١٥/١، حدیث٩٢٩)

اوس به د مړي د غُسل طريقه بيانيږي خو مخکښې څه نِيَّتونه اوکړئ.

## مړي ته د غُسل ورکولو نِيَّتونه

❁ رضائے اِلٰهی حاصلولو او د آخرت د ثواب ګټلو د پاره به مړي ته غُسل ورکووم ❁ فرضِ کِفايه به ادا کووم ❁ چه څومره کيدے شوه اوداسه کښې به اوسيږم ❁ ضرورتاً به مُعاوِنينو [يعني غسل ورکولو کښې ملګرتيا کوونکو] ته د غُسل طريقه او سُنَّتونه ښايم ❁ د مړي د ستر پټولو به خاص خيال ساتم ❁ چه اندامونه ئې خوزووم نو په قلاره او نرمئ سره به حرکت ورکووم ❁ د اوبو د اِسراف نه به ځان ساتم ❁ د مړي بے وسئ ليدلو نه به د عِبرت حاصلولو کوشش کووم ❁ که څه مسئله پيښه شوه نو دارُ الْاِفتاء اَهلِسُنَّت نه به شرعي

رهنُمائي حاصلووم ❁ خُدانخواسته که د مړي مخ تور شو يا څه بل څه بدلون پکښې اوشو نو د شريعت د حُکم مطابق به ئې پټووم او ملګرو ته به هم د هغے د پټولو ترغيب ورکووم ❁ که ښه علامت پکښې ښکاره شو مَثَلًا خوشبو راتلل، مُسکي کيدل وغيره نو خلقو ته به ئې هُم بيانووم.

## مړي ته د غُسل ورکولو طريقه

اګربتئ يا سپيلني بل کړئ، پينځه يا ووه ځله ئې تختے ته لُوګے کړئ يعني دومره پيرے ئې د تختے نه تاؤ راتاؤ کړئ، په تخته باندې مړے داسې څملوئ څنګه ئې چه قبر کښې څملوي، د نامه نه واخله د زنګونانو سره ئې په يوه ټوټه [يعني کپړه باندې] پټ کړئ. (نن صبا پرې د غُسل په دوران کښې سپينه کپړا اچوي، هغه چه لـمده شي نو د مړي ستر پکښې ښکاري او بے پردګي ئې کيږي لِهٰذا **نسواري** يا د بل رنګ پيړه کپړه چه د لـمديدو سره ئې ستر نه ښکاري، کپړه که دوه ځله راغبرګه کړئ نو غوره ده) د پردے د پوره پوره احتياط سره د مړي نه جامے اُوباسئ بيا دِ غُسل ورکوونکے د خپل لاس نه کپړه راتاو کړي او اوّل دِ ورله دواړه طرف ته اِستنجاء اوکړي (يعني په اوبو دِ ئې اووِينځي) بيا دِ ورله د لـمانځه په شان اودس اوکړي يعني درې ځله دِ ورله مخ [اووِينځي] بيا دِ ورله د څنګلو سره دواړه لاسونه درې درې ځله اووِينځي، بيا دِ ورله د سر مسح اوکړي، بيا دِ ورله درې ځله دواړه ښپے اووِينځي. د مړي په اوداسه کښې اول درې ځله لاسونه د ګيټو پورې وِينځل، خُله وِينځل او په پوزه کښې اوبه اچول نشته، البته د مالوچو پوسنکي دِ لُوند کړي او په غاښونو، ورو، شوندو او سپيرمو [يعني د پوزې په سورو] پورې دِ ئې ورله راښکاږي. بيا دِ ورله د سر يا د ګيږې ويښته ئې که وي اووِينځي، صابُن يا شيمپو

استعمالولے شئ. بيا ئې په ګڅه ډډه څملوئ او د بيړې د پانړو خوټکيدلي اوبه (چه ټرمې شوي وي) او که دا نه وي نو خالِصې ټرمې اوبه پرې د سر نه د ښپو پورې تيرې کړئ چه تختے ته اورسيږي. بيا ئې په ښئ ډډه کړئ او هم هغه شان اوکړئ بيا ئې کښينوئ او په نرمئ ئې د خيټې په لاندينئ حصّه لاس رابنکارئ او که څه ترې اوځي نو اوئې وِينځئ. په دويم ځل د اودس او غسل ورکولو حاجت نشته بيا پرې د سر نه واخله ښپو پورې د کافورو اوبه تيرې کړئ. بيا ورله په يوه پاکه کپړه بدن په قلاره قلاره وچ کړئ. يو ځل په ټول بدن باندې اوبه بهيول فرض دي او دړې ځله سُنَّت دي. د مړي په غُسل کښې بے دريغه اوبه مه اړوئ. ياد ساتئ آخرت کښې د يو يو څاڅکي حساب دے.[1] (مَدَنِي وَصِيَّت نامه نه ماخوذاً)

## زنانه مړي ته د غُسل ورکولو طريقه

غُسل او کفن د پاره د دې څيزونو انتظام اوکړئ.

﴿۱﴾ د غُسل تخته ﴿۲﴾ اګربتئ ﴿۳﴾ د تِيلو ډبے ﴿٤﴾ دوه پيړې څادرې (که نسواري وي نو بهتره ده) ﴿٥﴾ مالوچ ﴿٦﴾ د غټ رومال په شان دوه کپړے (د استنجا وغيره د پاره) ﴿۷﴾ دوه بالټي ﴿۸﴾ دوه مګے [يعني د لامبلو د لاستي والا لَوتے] ﴿۹﴾ صابُن ﴿۱۰﴾ د بيړې پانړې ﴿۱۱﴾ دوه تولياګاني ﴿۱۲﴾ د کفن ناګندلي د غټ بر ټوټه [کپړه] ﴿۱۳﴾ قينچي ﴿۱٤﴾ ستن او تار ﴿۱٥﴾ کافور ﴿۱٦﴾ خوشبو.

اګربتئ يا سپيلني بل کړئ، پينځه يا ووه ځله ئې تختے ته لُوګے کړئ يعني دومره پيرے ئې د تختے نه تاؤ راتاؤ کړئ، په تخته باندې مړے داسې

[1] د اوبو د اِسراف او د مُستعملو اوبو په باره کښې د اَهمو معلوماتو د پاره د امیرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَة رِساله ”د اودس طريقه“ ولولئ.

څملوئ څنګه چه ئې په قبر کښې څملوي، د نامه نه واخله د زنګونانو سره ئې په يوه ټوټه [يعني کپړه باندې] پټ کړئ. (نن صبا پرې د غُسل په دوران کښې سپينه ټوټه اچوي، هغه چه لـمده شي نو د مړي ستر [پکښې ښکاري او] بے پردګي ئې کيږي لِهذا **نسواري** يا د بل رنګ پيړه کپړه چه د لـمديدو سره ئې ستر نه ښکاري، ټوټه که دوه څله راغبرګه کړئ نو غوره ده) د پردے د پوره پوره احتياط سره د مړي نه جامے اُوباسئ، هُم دغسې که ميخکې يا والئ يا بل څه کالے وي نو هغه هُم ترې په نرمئ اوباسئ بيا دِ غُسل ورکوونکي د خپل لاس نه کپړه راتاو کړي او اوّل دِ ورله دواړه طرف ته اِستنجاء اوکړي (يعني په اوبو دِ ئې اووينځي) بيا دِ ورله د لـمانځه په شان اودس اوکړي يعني درې څله دِ ورله مخ [اووينځي] بيا دِ ورله د څنګلو سره دواړه لاسونه درې درې څله اووينځي، بيا دِ ورله د سر مسح اوکړي، بيا دِ ورله درې څله دواړه ښپے اووينځي. د مړي په اوداسه کښې اول درې څله لاسونه د ګيټو پورې وِينځل، خُله وِينځل او په پوزه کښې اوبه اچول نشته، البته د مالوچو پوسنکې دِ لُوند کړي او په غاښونو، ورو، شوندو او سپيڑمو [يعني د پوزې په سورو] پورې دِ ئې ورله راښکاړي. بيا دِ ورله سر اووينځي، صابُن يا شيمپو يا دواړه استعمالولے شئ. (خو د دې د زيات استعمال سره ويخته جاخه کيږي لِهذا د بيړې د پانړو خوټکيدلي اوبه کافي دي) بيا ئې په ګڅه ډډه څملوئ او د بيړې د پانړو خوټکيدلي اوبه (چه ترمې شوي وي) او که دا نه وي نو خالصې ترمې اوبه پرې د سر نه ښپو پورې تيرې کړئ چه تختے ته اورسيږي. بيا ئې په ښئ ډډه کړئ او هم هغه شان اوکړئ بيا ئې کښينوئ او په نرمئ ئې د خيټې په لاندينئ حصّه لاس راښکاړئ او که څه ترې اوځي نو اوئې وِينځئ. په دويم ځل د اودس او غُسل ورکولو حاجت نشته بيا پرې د سر نه واخله ښپو پورې د کافورو اوبه تيرې کړئ. بيا ورله په يوه پاکه ټوټه بدن په قلاره قلاره وچ کړئ. يو ځل په ټول بدن باندې اوبه بهيول فرض دي او درې څله سُنَّت دي. د مړي په غُسل

کښې بے دريغه اوبه مه اړوئ. ياد ساتئ آخرت کښې د يو يو څاڅکي حساب دے۔[1] (مَدَني وَصِيَّت نامه نه ماخوذاً)

## د مړي د غُسل مَدَنـي ګلونه

❁ د مړي په غُسل او کَفَن دَفَن کښې تادي کول [يعني زر کول] پکار دي ځکه چه په حديث کښې د دې ډير تاکيد راغلے دے. (جَوْهَرة نيرة، كتاب الصلوٰة باب الجنائز، ص۱۳۱) **مشهور مُفَسِّر حَكِيمُ الأُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: چه څومره کيدے شي خخولو کښې تادي کول پکار دي، بے ضرورته ناوخته کول سخت ناجائزه دي ځکه چه په دې کښې د مړي د پرسيدو، شليدو او بے حُرمتئ انديښنه وي. (مِراٰة المناجيح، جنازوں کی کتاب، ۲/۴۴۷)

❁ [دمړي په] ټول بدن باندې يو ځل اوبه بهيول فرض دي او دري ځله سُنَّت دي، کوم ځائے کښې چه غسل ورکوئ نو **مُسْتَحَب** دا دي چه هلته پرده اوکړئ چه د لـمبولو والؤ او کومك کوونکو نه سِوا ئې بل څوك نه شي ليدلے، لـمبولو وخت کښې ئې داسې څملوئ څنګه ئې چه قبر کښې څملوي يا ئې قبلے طرف ته ښپے کړئ يا چه څنګه آسانه وي هغسې اوکړئ. (عالمگيری کتاب الصلوٰة، الباب الحادی والعشرون فی الجنائز الفصل الثانی فی الغسل، ۱/۱۵۸)

## غُسل ورکوونکي د پاره مَدَنـي ګلونه

❁ غُسل ورکوونکي ته پکار ده چه باطهارت [يعني پاك] وي. که جُنُبي کس غُسل ورکړو نو کراهت دے خو غُسل به اوشي. (عالمگيری، كتاب الصلوٰة الباب الحادی والعشرون فی الجنائز، الفصل الثانی فی الغسل، ۱/۱۵۹)

---

[1] د اوبو د اِسراف او د مُستعملو اوبو په باره کښې د اَهمو معلوماتو د پاره د امیرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَة رِساله "د اودس طريقه" ولولئ.

❁ که بے اودسه کس غُسل ورکړو نو کراهت نشته. (عالمگیری، کتاب الصلوٰۃ الباب الحادی والعشرون فی الجنائز، الفصل الثانی فی الغسل، ۱/۱۵۹)

❁ د غُسل ورکوونکي خوا ته خوشبو [يعني اګربتئ وغيره] بلول **مُسْتَحَب** دي چه که د مړي د بدن نه بوئ وغيره راځي چه هغه پرې پوهه نه شي کنې هغه به پريشانه شي، او هغه ته پکار دي چه په قدر د حاجت د مړي اندامونو ته ګوري، بے ضرورته دِ کوم اندام ته نه ګوري ځکه چه کيدے شي د هغه په بدن کښې څه عيب وي چه هغه به هغه پټ ساتلو. (جَوْهَرة نيرة، کتاب الصلوٰۃ باب الجنائز، ص۱۳۱)

❁ سړے دِ سړي لـمبوي او ښځه دِ ښځې لـمبوي، مړے که ورځے هلك وي نو ښځه ئې هُم لـمبولے شي او ورځه جينئ سړے هم [لـمبولے شي]، ورځې نه دا مُراد دے چه د شَهوت حد ته نه وي رسيدلي. (عالمگیری، کتاب الصلوٰۃ الباب الحادی والعشرون فی الجنائز، الفصل الثانی فی الغسل، ۱/۱۶۰)

❁ مړي ته غُسل ورکولو نه پس غَسّال (يعني غُسل ورکوونکي) د پاره غُسل کول **مُسْتَحَب** دي. (دارُالْاِفتاء اَهلِسُنَّت)

## مړے که اوبو ته غوزار شي

❁ مړے که اوبو ته غوزار شو يا پرې باران اوشو او په ټول بدن باندې ئې اوبه اُوبهيدلې نو غُسل ئې اوشو خو په ژوندو چه د مړي کوم غُسل واجِب دے، د هغے نه به دوئي به هله برئُ الذِّمّه کيږي چه غسل ورکړي، لِـهذا که مړے اوبو کښې وومونډلے شو نو د غُسل په نِيَّت درې پيرے اوبو کښې حَرَکت ورکړئ چه غُسلِ مسنون ادا شي او که يو ځله مو حرکت ورکړو نو

واجِب ادا شو خو د سُنَّت مطالبه به پاتې وي. (رَدُّالْمُحتَار کتاب الصلوۃ، باب صلوۃ الجنازۃ، مطلب: فی حدیث کل سبب و نسب منقطع الا سببی و نسبی، ۱۰۹/۳)

## که د مړي څرمن رژيږي نو

❁ که د مړي د بدن د يوے حِصّے څرمن پخپله رژيږي نو په هغے اوبه مه اچوئ او هغه څرمن دِ د مړي سره خخه کړے شي. (دارُالْاِفتاء اَهلِسُنَّت)

❁ د مړي بدن که داسې شوے وي چه لاس لګولو سره به ئې څرمن ولاړيږي نو لاس ورته مه لګوئ صرف اوبه پرې تيرې کړئ. (عالمگیری، کتاب الصلوۃ الباب الحادی والعشرون فی الجنائز الفصل الثانی فی الغسل، ۱۵۸/۱)

## د مړي ويښته او نوکان کټ کول

❁ د مړي ګيره يا د سر ويښته کمنزول يا نوکان پريك کول يا د کوم ځائے ويښته خرئيل يا تراشل يا وښکل ناجائزه او مکروهِ تحريمي دي بلکه حُکم دا دے چه په څه حالت دے په هُم هغه حالت ئې خخ کړئ، خو که نُوك ئې مات شوے وي نو هغه ترې اغستے شئ او که نوکان يا ويښته مو ترې وتراشل نو کفن کښې ئې کيږدئ. (رَدُّالْمُحتَار کتاب الصلوۃ، باب صلوۃ الجنازۃ، مطلب: فی القراءۃ عند المیت، ۱۰٤/۳)

❁ د مړي د بدن کوم اندام که د بيمارئ وغيره په وجه لرې کړے شوے وي، هغه ټول به خخول وي. (دارُالْاِفتاء اَهلِسُنَّت)

## مُتَفَرِّق مَدَنـي ګلونه

❁ که د مړي د بدن په زخم پټئ لګيدلي وي نو مه ئې ترې لرې کوئ.

(دارُالْاِفتاء اَهلِسُنَّت)

❁ کينوله [يعني د رَګ پلاستيکي ستن] لګولو نه پس چه کومه پټۍ لګولې شوي وي، هغه که په ترمو اوبو اچولو په آسانۍ لرې شي نو لرې ئې کړئ ګنې پريږدئ ئې. (دارُالْاِفتاء اَهلِسُنَّت)

❁ مړي ته غُسل ورکولو نه پس که ترې وِينه روانه شي او په دې سبب ئې کفن ناپاکه شي نو نه به دوباره غُسل ورکوي او نه به ئې کفن بدلوي. بلکه که داسې هره مُعامَله اوشي نو غُسل او کفن هيڅ هُم دوباره نه دي کول پکار، البته بهتره دا ده چه د کوم ځائے نه وينه بهيږي هلته زيات مالوچ کيږدئ چه کفن نه خرابيږي. (دارُالْاِفتاء اَهلِسُنَّت)

❁ غُسل ورکولو نه پس که ورته په پوزه، غوږونو، خُله او نورو سُورو کښې مالوچ کيښودے شي نو باك نشته خو بهتره دا ده چه مه ئې کيږدئ.

(الدر المُختار معه رَدُّالْمُحتَار کتاب الصلوٰة. باب صلوٰة الجنازة ۳/۱۰٤)

❁ د مريض د اِستنجا ځائے [د خاورو] په لُوټو باندې صفا کولو کښې باك نشته خو بهتره دا ده چه د هر هغه څيز د استعمال نه ډډه اوکړے شي د کوم څيز نه چه مړي ته د معمولي شان تکليف رسيدو هُم اندېښنه وي.

(دارُالْاِفتاء اَهلِسُنَّت)

❁ ترخونو کښې او نورو اندامونو کښې کوم ځائے چه اوبه په آسانۍ نه رسي هغه ځايونو کښې په تَوجُّه سره اوبه بهيول پکار دي.

❁ د غُسل په دوران کښې د اوبو اچولو وخت کښې دُعاګانې يا کلمه وغيره لوستل ضروري نه دي، په اوبو به پاکي حاصله شي. (دارُالْاِفتاء اَهلِسُنَّت)

❁ په کټ کښې هُم غُسل ورکولے شئ خو بهتره دا ده چه د دې د پاره يو کټ مخصوص کړے شي، بيا دِ ټول غُسلونه په هغے کښې ورکوي خو که چا داسې اونکړلو او په استعمالي کټ ئې هُم غُسل ورکړو نو باك نشته خو بيا دِ هغه کټ استعمال کړے شي، دغسې پريښودل اِسراف دے. (دارُالاِفتاء اَهلِسُنَّت)

❁ بعضو ځايونو کښې دا دستور دے چه مړي ته غُسل ورکولو د پاره نوي منګي او نوي لَوټے راوړي د دې هيڅ ضرورت نشته، د کور په استعمالي منګي او لوټه هُم غُسل ورکولے شئ او بعضې داسې جِهالت کوي چه د غُسل ورکولو نه پس [هغه منګي او لوټه وغيره] ماتوي، دا ناجائزه او حرام دي ځکه چه مال ضائع کول دي او که دا خيال ئې وي چه نجِس شو نو دا هُم فُضُول خبره ده ځکه چه اوّل خو هغے ته څاڅکي نه کيږي او که اوشي نو هُم راجِح دا دي چه د مړي غُسل نجاستِ حُکميه لرې کولو د پاره دے نو د مُستَعملو [يعني استعمال شوو] اوبو څاڅکي اوشو او مُستعلي اوبه نَجَسې نه دي، ځنګه چه د ژوندو د غُسل او اوداسه اوبه، او فرض کړئ چه د نَجَسو اوبو څاڅکي ورته اوشو نو وه ئې وينځئ وينځلو سره به پاك شي او اکثرو ځايونو کښې هغه منګي او لَوټے په جُماتونو کښې کيږدي، که نِيَّت ئې دا وي چه لـمونځ ګُزارو ته به فائده اورسيږي او مړي ته به ثواب اورسيږي نو دا ښه نِيَّت دے او [په دې نِيَّت] ايښودل بهتر دي او که دا خيال ئې وي چه کور کښې ايښودل سپيره والے دے نو دا غټه بے وقوفي ده او بعضې خلق [د هغه منګي [پاتې] اوبه اړوي، دا هُم حرام دي. (بهارِ شريعت حِصّه ٤، ١/٨١٦)

مړي ته غُسل ورکولو نه پس د مړي په سترګو رانجه پورې کول خِلافِ سُنَّت دي. (دارُالاِفتاء اَهلِسُنَّت)

❁ که د مړي خُله کښې د نقلي غاښونو جامني لګيدلي وي، که په آسانئ راوتلے شي چه مړي ته پرې تکليف نه رسي نو ويستل پکار دي او که د تکليف اندیښنه وي نو ويستل نه دي پکار. (دارُالاِفتاء اَهلِسُنَّت)

❁ که څوك اُووائي چه بدمذهبه ته غُسل ورکول دي نو تلل نه دي پکار ځکه بدمذهبه سره د داسې احسان کولو شرعاً اجازت نشته. (دارُالاِفتاء اَهلِسُنَّت)

❁ ښځه خپل خاوند ته غُسل ورکولے شي. (عالمگیری، کتاب الصلوۃ الباب الحادی والعشرون فی الجنائز الفصل الثانی فی الغسل، ۱/۱۶۰)

## اسلامي خويندو د پاره مَدَنـي ګلونه

❁ که حيض يا نفاس والا يا جُنُبِيه وفات شي نو صرف يو غُسل کافي دے ځکه چه که د غُسل واجب کيدو هر څومره اسباب وي ټول په يو غُسل ادا کيږي. (الدر المُختار معه رَدُّالمُحتَار کتاب الصلوٰۃ، باب صلوٰۃ الجنازۃ ۳/۱۰۲)

❁ بهتره دا ده چه د مرحومې نزدے خپل کسان مَثَلًا مور، لُور، خور، اِنګور وغيره که وي نو هغوئي هُم په غُسل کښې شاملې کړے شي ځکه چه د کور کسان به په نرمئ غُسل ورکوي. (عالمگیری، کتاب الصلوۃ الباب الحادی والعشرون فی الجنائز الفصل الثانی فی الغسل، ۱/۱۵۹ بتغیر)

❁ حامِله [يعني د کومې ښځې چه ګيډه وي هغه] هُم غُسل ورکولے شي.

❁ پکار ده چه غُسل ورکوونکي باطهارته وي او که جُنُبِيه (يعني په چا چه غسل فرض وي هغے) غُسل ورکړو نو کراهت دے خو غُسل به اوشي.

(عالمگیری، کتاب الصلوۃ الباب الحادی والعشرون فی الجنائز الفصل الثانی فی الغسل، ۱/۱۵۹)

❁ که د مړي په نُوکانو نِيل پالِش [د نوکانو پالِش] لګيدلي وي نو چه څومره کيدے شي ترې لرې ئې کړئ، د هغے د پاره ريموور (يعني د رنګ لرې کولو څه کيميکل وغيره) استعمالولے شئ. (دارُالْاِفتاء اَهلِسُنَّت)

❁ غسل ورکولو وخت کښې چه پرې کوم څادر غورولے کيږي تر څو پورې چه د هغے د ناپاکه کيدو يقين نه وي هغے ته به ناپاکه نه وائي لِـهذا هغه استعمالولے شئ. (دارُالْاِفتاء اَهلِسُنَّت)

❁ مړي له زينت کول (يعني مَيک اَپ کول او نکريزې لګول) ناجائزه دي. (دارُالْاِفتاء اَهلِسُنَّت)

❁ په عوامو کښې دا خبره مشهوره ده چه مړي ته غُسل ورکولو د پاره تلونکو اسلامي خويندو ته روحاني مسائل پيښيږي، د دې هيڅ اصل نشته، دا صرف وَهم دے، هُم دغسې [بعضې] خلق دا هُم وائي چه بے واده [جينئ] ته د مړي خوا ته ورتلل نه دي پکار، د دې هُم هيڅ اصل نشته. (دارُالْاِفتاء اَهلِسُنَّت)

❁ خاوند د خپلې ښځې جنازے ته ووځه هم ورکولے شي او قبر ته ئې هُم کوزولے شي او مخ ته ئې هُم کتلے شي، صرف د غُسل ورکولو او ښکاره بدن ته د لاس لګولو مُـمانعت دے. (الدر المُختار معه رَدُّالْمُحتَار كتاب الصلوٰة. باب صلوٰة الجنازة ۳/۱۰۵)

## د مُفتئ دعوتِ اسلامي د مړي غُسل

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** څوك چه د دُنيا د بے وفا کيدو احساس لري، هر وخت د مرګ تصور کوي، تِلاوت او عِبادت ئې خپله مشغله ګرځولي وي، ذِکر و دُرُود کښې مشغول اوسي نو دواړو جهانو کښې به ئې بيړئ پوريوځي. راځئ

د داسې صفاتو لرونکي يو باکِرداره مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي يو مَدَني سپرلے واورئ:

د عاشِقانِ رسُول مَدَني تحريك **دعوتِ اسلامي** د مرکزي **مجلِسِ شُورىٰ** رُکن او مُفتئ دعوتِ اسلامي الحافِظ القارى الحاج حضرتِ عَلَّامه مولانا **محمد** فاروق عطّاري الـمَدَني رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د دِينِ اِسلام مُخلِص او کرم جوش مُبَلِّغ وو. په زُهد و ورع او تقوىٰ او پرهيزګارئ کښې بېمثاله وو، هره ورځ به ئې د قُرآنِ پاك د يو منزِل تِلاوت کولو، دغسې به ئې ووه ورځو کښې د قُرآنِ پاك ختمولو سعادت حاصلولو. د ژبې قُفلِ مدينه ئې ډيره مضبوطه وه، خبره به ئې هله کوله چه چا به ورسره خبره اوکړه ځکه اکثر به خاموشه اوسيدلو، کله چا په قَهقَهه لګولو [يعني په زوره خندلو] نه وو ليدلے البته په شونډو به ئې مُسکا ضرور ښکاريدله، خوش اخلاقه او سنجيده وو. د دعوتِ اسلامي مَدَني کارونو کښې ډير مُتَحَرِّك [يعني سرګرمِ عمل] وو، خاص طور د مَدَني انعاماتو او **مَدَني قَافِلو** ډير پابند وو. هُم دغسې يو ښه اُستاذ او مُفتي هُم وو. خپل شاګردان به ئې ډير په تَوجُّه او آسان انداز پوهه کول او د تپوس کوونکي تسلي به ئې کوله. **دارُالْاِفتاء** کښې به ئې هُم د سوال کوونکي خبره په تَوجُّه اوريدله او په آسان او عام فهم انداز کښې به ئې جواب ورکولو. هغوئي تقريباً ٤٠٠٠ فتوې ليکلي وې. په تفسيرِ جَلالَين ئې تقريباً د ٠٠ صفحاتو حاشيه ليکلي وه او د تفسير **صِراطُ الْجِنان** په شپږو سيپارو ئې هم تقريباً کار پوره کړے وو. هغوئي يو بامقصده ژوند تير کړو او د دِينِ اسلام په خِدمت کښې به مصروف وو، په ١٨ **مُحَرَّمُ الْحَرَام** ١٤٢٧ھ بمطابق 17 فروري 2006ء د **جُمُعې** په ورځ په **بابُ الْمَدينه** کراچئ کښې وفات شو. د شپے تقريباً لس بجے غُسل ورکړے شو. غُسل ورکوونکو اسلامي ورونړو اُووئيل چه مونږه په غړيدلو سترګو اوليدل چه مُفتئ دعوتِ اسلامي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د غُسل دوران

کښې مُسکې شو. د دې ګواهي هلته موجودو نورو اسلامي وروڼړو هُم ورکړه، لکه هغوئي چه د شيخ سَعدي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د دې شعر مِصداق وو:

یاد داری که وقت زادن تو — همه خنداں بدند تو گریاں
آنچناں زی که وقتِ مُردن تو — همه گریاں شَوند تو خنداں

[ترجمه] یاد ساته! ته چه کله دُنیا ته راغلې نو تا ژړل او خلقو خندل، داسې ژوند تیر کړه چه ستا د مرګ په وخت خلق ژاړي او ته مُسکې ئې.

## د نعت خوانئ دوران کښې د شونډو حرکت

غُسل ورکولو نه پس اِسلامي وروڼړه د مفتئ دعوتِ اسلامي نه ګیرچاپیره راجمع شو او نعت خواني ئې شروع کړه. د تَخَصُّص فِی الْفِقْه (مُفتي کورس) د دویم کال د یو طالِبِ عِلم بیان دے چه ما اولیدل چه د نعت خوانئ په دوران کښې د اُستاذِ مُحترم مفتئ دعوتِ اسلامي الحاج محمد فاروق عطّاري مَدَنـي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه شونډې مُبارکې خوزیدلي.

**د اللهُ رَبُّ الْعِزَّت عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.** اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

# د کَفَن بیان

د مرګ نه پس چه انسان ته کوم لِباس اغوستلے کیږي هغے ته کَفَن وائي، دا فرضِ کِفایه دے.

## د کفن وراغوستلو فضیلت

**خوږو خوږو اسلامي وروڼړو!** مړي ته کفن اغوستل د ثواب کار دے او په ډیرو حدیثونو کښې کفن وراغوستلو والا د پاره د جَنَّتي جامو او د وریښمنو

د ښکلي لباس زيرے ورکړے شوے دے. چنانچه يو حديثِ پاك اوګورئ.

## جَنَّتي لِباس

د حضرتِ سَيِّدُنا ابُو اُمامه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روايت دے رسولِ انور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: چا چه مړي ته کفن واغوستو نو الله تعالٰی به هغه ته د سُندَس جامے (يعني د جَنَّت انتهائي ښکلے لِباس) وراغوندي.

(مُعجَم کَبِیر للطبرانی، ۸/۲۸۱، حدیث۸۰۷۸)

## د کفن دَرَجي

د کفن درې دَرَجي دي:

﴿۱﴾ ضرورت ﴿۲﴾ کِفايت ﴿۳﴾ سُنَّت

## کَفَنِ ضرورت

کَفَنِ ضرورت د نارينه او زنانه دواړو د پاره دا دے چه څه پيدا شي او کم از کم دومره وي چه ټول بدن ئې پرې پټ شي.

(الدر المُختار معه رَدُّالمُحتَار کتاب الصلوٰۃ، باب صلوٰۃ الجنازۃ ۳/۱۱۵)

## کفَنِ کِفايت

د نارينه مړي کفَنِ کِفايت د پاره دوه ټوټې دي:

﴿۱﴾ غټ څادر ﴿۲﴾ اِزار [يعني لَنګ]

د زنانه مړي کفَنِ کِفايت د پاره درې کپړے دي:

﴿۱﴾ غټ څادر ﴿۲﴾ اِزار [يعني لَنګ] ﴿۳﴾ لوپټه يا

﴿۱﴾ غټ څادر ﴿۲﴾ قميص او ﴿۳﴾ لوپټه (بہارِ شریعت حِصّہ۴، ۱/۸۱۷)

# كفنِ سُنَّت

نارينه د پاره د كفنِ سُنَّت دري ټوټې دي:

﴿۱﴾ غټ څادر ﴿۲﴾ اِزار [يعني لَنګ] ﴿۳﴾ قميص

زنانه د پاره كفنِ سُنَّت پينځه ټوټې دي:

﴿۱﴾ لِفافه ﴿۲﴾ اِزار [يعني لَنګ] ﴿۳﴾ قميص

﴿٤﴾ سينه بند ﴿۵﴾ لوپټه (بهارِ شريعت حِصّه٤، ۸۱۷/۱)

خُنثٰی مشكِل [يعني هٰغه هيجړا چه په هغه كښې د نر او ښځې دواړو نښې وي او دا نه معلوميږي چه دا ښځه ده او كه نر، هغه] ته دِ د زنانه په شان د پينځۀ ټوټو كفن واغوستے شي خو د كُسُم [يو قِسم ګل چه كپړے پرې رنګ كوي] يا د زعفران رنګ كړے شوے او وريښمينه كفن هغه [يعنی خُنثٰی مُشكل] ته وراغوستل ناجائزه دي. (عالمګيری، كتاب الصلوٰة الباب الحادی والعشرون فی الجنائز الفصل الثانی فی الغسل، ۱۶۱/۱)

# ماشومانو ته كوم كوم كفن وركول پكار دي

كوم نابالغه چه د شهوت حد ته رسيدلے وي هغه د بالِغ په حُكم كښې دے. يعني بالِغ ته چه په كفن كښې څومره ټوټې وركولے كيږي هغه ته دِ هُم هغه وركړے شي او د دې نه وړوكي هلك ته يوه ټوټه او وړوكي جينۍ ته دوه ټوټې (غټ څادر او اِزار [يعني لَنګ]) وركولے شئ او وړوكي هلك ته هُم دوه ټوټې (غټ څادر او اِزار [يعني لَنګ]) كه وركړے شي نو ښه ده او بهتره دا ده چه دواړو ته پوره كفن وركړے شي اګر كه د يوے وركې ماشوم وي.

(رَدُّالمُحتَار كتاب الصلوٰة، باب صلوٰة الجنازة، مطلب: فی الكفن ۱۱۷/۳۰)

# د کفن تفصيل

﴿۱﴾ **غټ څادر**: يعني د مړي د اوګډوالي نه دومره زيات چه دواړه طرف ته اوترلے شي.

﴿۲﴾ **اِزار**: (يعني لنګ) د سر نه واخله ښپو پورې يعني د غټ څادر نه دومره وړوکے څومره چه د ترلو د پاره زيات وو.

﴿۳﴾ **قميص**: د څټ نه واخله د زنګونانو د لاندې پورې او چه دا مخکښې او شاته دواړه طرف ته برابر وي او په دې کښې به څاقونه او لستونړی نه وي، د نارينه قميص په اُوګو اوخيرئ او د زنانه د پاره ئې د سينے طرف ته [اوخيرئ]

﴿٤﴾ **سينه بند**: سينے نه نامه پورې او بهتره دا ده چه د ورنونو پورې وي.

﴿٥﴾ **لُوټه**: درې لاسه پکار وي يعني يو نيم ګز (مَدَنی وصِیت نامہ، بہارِ شریعت حِصّہ ٤، ٨١٨/١) [يعني د دې اوګډوالے د شا د نيمې د لاندې نه واخله د سينے د ښکته پورې او پلن والے ئې د يو غوږ د نرمې حِصّے نه د بل غوږ د نرمې حِصّے پورې پکار دے (مَدَنی وصِیت نامہ)]

عام طور تيار کفن اخستلے کيږي، کيدے شي چه هغه د مړي د اوګډوالي په حساب د سُنّت مطابق ناپ نه وي، دا هم کيدے شي چه دومره زيات وي چه په اِسراف کښې راشي، لِهٰذا احتياط په دې کښې دے چه د تان نه د ضرورت مطابق ټوټه کټ کړے شي. (مَدَنی وصِیت نامہ)

## د کفن ور اغوستلو نِيَّتونه

❁ د رضائے اِلٰهی حاصلولو او د آخرت د ثواب ګټلو د پاره به مړي ته کفن اغوندم ❁ فرضِ کِفايه به ادا کووم ❁ ضرورتاً به د کفن وراغوستلو نه مخکښې معاوِنينو [يعني ما سره مدد کوونکو] ته د کفن وراغوستلو طريقه او سُنَّتونه ښايم ❁ د غسل د تختے نه چه مړے کفن باندې څملووم نو ډير زيات احتياط او نرمي به کووم او دغه وخت به ئې د ستر پټولو خاص خيال ساتم ❁ د مړي په تندي به د شهادت په ګوته بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم ليکم ❁ هُم دغسې به ورته په سينه باندې لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ليکم ❁ عِطر يعني خوشبو به ورله لګووم ❁ که د مدينے اُوبه او آبِ زم زم پيدا شو نو په کفن او مخ به ئې ورله شيندم ❁ قَبْر کښې به د قبلے طرف ته تاخ شان جوړ کړم او شجره شريف او عهدنامه وغيره به پکښې کږدم.

## نارينه ته د کفن اغوستلو طريقه

کفن ته يو ځل يا درې يا پينځه يا ووه ځله [د اګربتئ يا سپيلني] لوګې اوکړئ. بيا ئې داسې خور کړئ چه اوّل غټ څادر په هغے د پاسه لنګ [يعني وړوکے څادر] او د هغے د پاسه قميص کيږدئ. بيا مړے په هغے څملوئ او [د کفن] قميص وروواغوندئ، بيا ورته په کِيره (او که کِيره ئې نه وي نو په زنه) او په ټول بدن باندې خوشبو وومږئ، په هٰغه اندامونو کوم چه په سجده کښې لګي يعني په تندي، پوزه، لاسونو، زنګونانو او ښپو ورله کافُور اولګوئ. (د ستر ځائے ته ئې نه خو کتلې شئ، نه ورته بِلاحائل لاس لګولې شئ) بيا پرې لَنګ [يعني وړوکے څادر] د کښ طرف نه او بيا د ښي طرف نه راتاو کړئ. بيا په آخِره کښې پرې غټ څادر اول د کښ

طرف نه او بيا د ښي طرف نه راتاو کړئ چه ښې طرف ئې د پاسه راتاو شي او د سر او ښپو طرف ته ئې (دواړو سرونه) اوترئ.

## زنانه ته د کَفَن اغوستلو طريقه

کفن ته يو ځل يا دري يا پينځه يا ووه ځله [د اګربتئ يا سپيلني] لوګې اوکړئ. بيا ئې داسې خور کړئ چه اوّل غټ څادر په هغے د پاسه لنګ [يعني وړوکے څادر] او د هغے د پاسه قميص کيږدئ. بيا مړے په هغے څملوئ [د کفن] قميص ورواغوندئ او ويښته ئې دوه ځايه کړئ او د قميص د پاسه ئې ورته په سينه واچوئ او [د کفن] لوپټه ورله د نيمې شا نه لاندې پورې خوره کړئ او په سر د پاسه ئې ورله راولئ او په مخ ئې ورله د نقاب په شان واچوئ چه [ښکته] په سينه باندې خوره وي. د دې اوګډوالے د شا د نيمې نه د لاندې پورې او پلن والے ئې د يو غوږ د نرمې حِصّے نه د بل غوږ د نرمې حِصّے پورې پکار دے. ځيني خلق لوپټه داسې ور په سر کوي څنګه چه ئې زنانه په ژوندۍ په سر کوي دا د سُنّتو خِلاف دي. بيا ورته په ټول بدن باندې خوشبو وومړئ، په هٰغه اندامونو کوم چه په سجده کښې لګي يعني په تندي، پوزه او لاسونو ورله کافُور اولګوئ. بيا پرې لَنګ [يعني وړوکے څادر] د ګڅ طرف نه او بيا د ښي طرف نه راتاو کړئ. بيا په آخِره کښې پرې غټ څادر اول د ګڅ طرف نه او بيا د ښي طرف نه راتاو کړئ چه ښې طرف ئې د پاسه راتاو شي او د سر او ښپو طرف ته ئې (دواړو سرونه) اوترئ. بيا په آخِره کښې ورله سِينه بند د سينے د برې حِصّے نه ورنونو پورې راولئ او په څه مزي ئې اوترئ. نن صبا د زنانۂ په کفن کښې هُم غټ څادر په آخره کښې راتاوهي نو که د قميص نه پس سِينه بند کيښودے شي هم څه باك نشته خو غوره دا دي چه سِينه بند د ټولو نه په آخِره کښې وي. (مَدَنی وصِیت نامه)

# کفن څنګه پکار دے

❁ کفن ښه پکار دے يعني سړي به چه په اخترو کښې او د **جُمُعې** په ورځ څنګه جامے اغوستلي او ښځې به چه څنګه جامے پلار کره تللو د پاره اغوستلي د هغه قِيمت پکار دے. حديث شريف کښې دي، مړو ته ښه کفن ورکړئ ځکه چه هغوئي خپل مينځ کښې ملاقات کوي او په ښه کفن تفاخُر کوي يعني خوشحاليږي. (رَدُّالمُحتَار کتاب الصلوٰة، باب صلوٰة الجنازة، مطلب: فی الکفن ۳۰/۱۱۲)

❁ سپين کفن بهتر دے ځکه چه نبي اکرم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: خپلو مړو ته په سپينو ټوټو [يعني کپړو] کښې کفن ورکړئ. (تِرمِذِی، کتاب الجنائز، باب ماجاء ما یستحب من الاکفان، ۲/۳۰۱، حدیث ۹۹۶)

❁ د زَړې ټوټې کفن هُم کيدے شي، خو که زړه ټوټه وي نو چه وينځلے شوي وي ځکه چه کفن سُتره کيدل مرغوب [يعني خوښ کار] دے. (جَوْهَرة نیرة، کتاب الصلوة، باب الجنائز، ص۱۳۵)

❁ کفن که په آبِ زم زم يا د مدينے په اوبو بلکه په دواړو باندې لُوند کړے شوے وي نو سعادت دے. (مَدَنی وصِیت نامه)

# مُتَفَرِّق مَدَنـي ګلونه

❁ د مړي دواړه لاسونه ډډو ته کيږدئ، په سينه ئې ورله مه ګرځدئ چه دا د کُفّارو طريقه ده. (الدر المُختار معه رَدُّالمُحتَار کتاب الصلوٰة، باب صلوٰة الجنازة ۳/۱۰۵) بعضې ځائے کښې ئې ورله د نامه نه لاندې داسې کيږدي لکه د لـمانځه په قِيام کښې، داسې هُم مه کوئ. (بہارِ شریعت حِصّه ٤، ۱/۸۱٦)

❁ مړي که څه مال پريښودے وي نو کفن د هغه د مال نه کيدل پکار دي. (رَدُّالْمُحتَار کتاب الصلوٰة، باب صلوٰة الجنازة، مطلب فی الکفن، ۳/۱۱٤)

❁ که چا وصِيَّت اوکړو چه ما ته په دوه ټوټو کښې کفن راکړئ نو په دې وَصِيَّت به عمل نه کيږي، درې ټوټې دِ ورکړے شي او که دا وصِيَّت اوکړي چه د زرو روپو کفن راکړئ نو دا به هم نه نافِذ کيږي، د مُتَوَسِّط درجې [کفن] دِ ورکړے شي. (رَدُّالْمُحتَار کتاب الصلوٰة، باب صلوٰة الجنازة، مطلب فی الکفن، ۳/۱۱۲)

❁ عُلَماء و مَشائخ عمامه [يعني پټکې] په سر خخولے شئ، عام خلق عِمامه په سر خخول منع دي. (الدر المُختار معه رَدُّالْمُحتَار کتاب الصلوٰة، باب صلوٰة الجنازة مطلب فی الکفن، ۳/۱۱۲ ملتقطاً)

❁ غُسل ورکولو نه پس، کفن کښې مخ پټولو نه مخکښې د مړي په تندي باندې د شهادت په کوته بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم اوليکئ (مَدَنی وصِيَّت نامه)

❁ هُم دغسې ورته په سينه باندې لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰه صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوليکئ. (مَدَنی وصِيَّت نامه)

❁ د زړه په ځائے [ورته] يارَسُولَ الله [اوليکئ] (مَدَنی وصِيَّت نامه)

❁ د نامه او سينے په مينځنئ حِصّه د کفن د پاسه: يا غوثِ اعظم دستگِير رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه يا اِمامِ اعظم ابو حنيفه رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه يا اِمام احمد رضا رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه، يا شيخ ضياءُ الدِّين رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه د شهادت په کوته اوليکئ. (مَدَنی وصِيَّت نامه) د خپل پير صاحب نوم هُم ليکلے شئ لکه يا عطّار.

❁ او د نامه د پاس نه واخله د سره پورې د کفن په ټوله حِصّه باندې دِ (د شا نه علاوه) "مدينه مدينه" اوليکلے شي. ياد ساتئ! دا هر څه په سياهي نه صرف

د شهادت په ګوته ليکل دي او که څوك سيّد صاحِب يا عالِمِ دين ئې اوليکي نو سعادت دے.

❁ [اَميرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه فرمائي] په دواړو سترګو دِ راته د مدينے مُنوَّرے د کجورو هډوکي کيښودلے شي. (مَدَنی وصِيَّت نامه)

❁ که د کومې اسلامي خور مخصوصې ورځې وي يا حامِله وي نو هغه مړي ته کتلے شي، په دې کښې هيڅ باك نشته. (دارُالْاِفتاء اَهلِسُنَّت)

❁ د کفن ټوټه د جامو ګنډلو مشين (يا په لاسو) ګنډلے شئ. (دارُالْاِفتاء اَهلِسُنَّت)

## د کفن د پاره دخلور بے بها تُحفے

﴿۱﴾ "بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ" ۷۰ ځله اوليکئ او د مړي کفن کښې ئې کيږدئ اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی د مُنکَر نکِير مُعامَله به پرې آسانه شي. (شمس المعارف مترجم ص ۷٤)

﴿۲﴾ د اَميرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدُنا ابوبکر صِدّيق رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه روايت دے چه حُضُورِ اکرم صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چه د هر لـمانځه (يعني د فرضو سُنّتو وغيره لوستلو) نه پس عهد نامه لوَلي، فرښته به هغه ليکي او مُهر به پرې لګوي او د قيامت د پاره به ئې ګرځدي، چه کله **اللّٰه** تعالٰی هغه بنده د قبر نه راپاڅوي، فرښته به هغه نَوِشته [يعني ليك] راوړي او غږ به اوشي عهد والا چرته دي، هغوئ ته دِ هغه عهدنامه ورکړے شي. امام حکِيم تِرمِذی رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه دا روايت نقل کوي او فرمائي، د اِمام طاؤس رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه په وَصِيَّت دا عهد نامه د هغوئ په کفن کښې اوليکلے شوه. (دُرِّ مَنْثُور، پ٦، مريم، تحت الآية ۸۷، ٥/٥٤٢)

اِمام فقيه اِبنِ عجِيل رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه هُم د دُعائے عهد نامه په نِسبت فرمائيلي دي: چه کله دا عهد نامه اوليکئ او مړي سره ئې قبر کښې کيږدئ نو **اللّٰه** تعالٰی به هغه ته د نَکِيرَينو او عذابِ قبر نه امان ورکړي. (فَتَاوٰی رَضَوِيَّه ۹/۱۰۹)

**عهدنامه** دا ده:

اَللّٰهُمَّ فَاطِرَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ عَالِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ

الرَّحْمٰنَ الرَّحِيْمَ اِنِّيْ اَعْهَدُ اِلَيْكَ فِي هٰذِهِ الْحَيَاةِ

الدُّنْيَا بِاَنَّكَ اَنْتَ اللّٰهُ الَّذِيْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ وَحْدَكَ

لَا شَرِيْكَ لَكَ وَاَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُكَ وَرَسُوْلُكَ

فَلَا تُكِلْنِيْ اِلٰى نَفْسِيْ فَاِنَّكَ اِنْ تُكِلْنِيْ اِلٰى نَفْسِيْ

تُقَرِّبْنِيْ مِنَ الشَّرِّ وَتُبَاعِدْنِيْ مِنَ الْخَيْرِ وَاِنِّيْ لَآ اَثِقُ

اِلَّا بِرَحْمَتِكَ فَاجْعَلْ رَحْمَتَكَ لِيْ عَهْدًا عِنْدَكَ

تُؤَدِّيْهِ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ اِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيْعَادَ.

(دُرِّ مَنثُور، پ٦، مریم، تحت الآیة ٨٧، ٥/٥٤٢)

﴿٣﴾ چه دا دُعا د مړي په کفن کښې اولیکي نو الله تعالٰی به د قیامته پورې د هغه نه عذاب لرې کړي.

اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَسْاَلُكَ يَا عَالِمَ السِّرِّ يَا عَظِيْمَ الْخَطَرِ يَاخَالِقَ

الْبَشَرِ يَا مُوْقِعَ الظَّفَرِ يَا مَعْرُوْفَ الْاَثَرِ يَا ذَاالطَّوْلِ وَالْمَنِّ

يَا كَاشِفَ الضُّرِّ وَالْمِحَنِ يَا اِلٰهَ الْاَوَّلِيْنَ وَالْاٰخِرِيْنَ فَرِّجْ

عَنِّيْ هُمُوْمِيْ وَاكْشِفْ عَنِّيْ غُمُوْمِيْ وَصَلِّ اَللّٰهُمَّ عَلٰى

سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّسَلِّمْ.

(فَتَاوٰی رَضَوِيَّه ۹/۱۰۹)

﴿٤﴾ څوك چه دا دُعا په پرچئ اوليكي او [د مړي] په سِينه ئې د كفن نه لاندې كيږدي، هغه ته به عذابِ قبر نه كيږي او مُنكَر نَكِير به نه وِيني، هغه دُعا دا ده:

لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَه لَا شَرِيْكَ

لَه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ لَه الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ

وَلَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْمِ.

(فَتَاوٰی رَضَوِيَّه ۹/۱۰۸)

**مَدَني مشوره:** د دعوتِ اسلامي د اِشاعتي اِداري مَكْتَبَةُ الْمَدِينه نه "**كفن كے تين انمول تحفے**" په نوم پرچئ واخلئ او ځان سره ئې كيږدئ او د مسلمانانو د وفات كيدو په موقع ئې پيش كوئ او ثواب كټئ او كفن فروشو او د كفن دفن كولو والا سَماجي اِدارو ته ئې هُم پيش كړئ چه هغوئي د هر كفن سره يوه پرچئ فِيْ سَبِيْلِ الله وركوي.

## د جنازے لـمونځ

د جنازے لـمونځ فرضِ كِفايه دے يعني كه يو كس ئې هُم ادا كړي نو ټول بَرِئُ الذِّمَّه شو [يعني د نورو ټولو د سر نه ذِمّه واري لرې شوه] كُنې كومو كومو

ته چه خبر رسيدلے وو او رانغلل هغه ټول کنهکار شو، (فَتَاوٰی تاتارخانیه، کتاب الصلوٰة، الفصل الثانی و الثلاثون فی الجنائز، ۲/۱۵۳) د دې د پاره جَمعه شرط نه ده، که يو کس ئې اوکړي نو هم فرض ادا شو. (عالمگیری، کتاب الصلوٰة الباب الحادی والعشرون فی الجنائز الفصل الخامِس فی الصلوٰة علی المیّت، ۱/۱۶۲) د دې د فرضِيَّت نه انکار کول کُفر دے. (الدر المُختار معه رَدُّالْمُحتَار، کتاب الصلوٰة، باب صلوٰة الجنازة ۳/۱۲۰)

## د مړي مُتَعَلِّق د جنازے د لـمانځه ۷ شرطونه

د جنازے په لـمانځه کښې مړي سره تَعَلُّق لرونکي دا ۷ شرطونه دي:

﴿۱﴾ د مړي مسلمان کيدل ﴿۲﴾ د مړي د بدن او کفن پاک کيدل ﴿۳﴾ د جنازے هلته موجود کيدل، يعني ټول بدن يا اکثر يا نيم بدن چه سر ورسره موجود وي، لِـهذا د غائب [د جنازے] لـمونځ نه شي کيدے ﴿٤﴾ جنازه [يعني د جنازے کټ] په زمکه پروت کيدل يا چه په لاس کښې وي خو چه نزدے وي، که په ځناور وغيره بار وي نو لـمونځ به نه کيږي ﴿۵﴾ جنازه د لـمونځ کوونکي مخې ته قبلے طرف ته کيدل ﴿٦﴾ د مړي د بدن کومه حصّه پټول چه فرض دي، هغه پټه کيدل ﴿۷﴾ مړے د اِمام محاذي (يعني مخې ته) کيدل، يعني که يو مړے وي نو چه د هغه د بدن څه حصّه د اِمام محاذي (يعني مخې ته) وي او که يو څو مړي وي نو د يو د بدن څه حصّه د اِمام محاذي (يعني مخې ته) کيدل کافي دي. (رَدُّالْمُحتَار کتاب الصلوٰة، باب صلوٰة الجنازة، مطلب: هل يسقط فرض...الخ، ۳/۱۲۱، ۱۲۳)

## د دې شرائطو څه تفصيل

❁ مړي نه مُراد هغه دے څوك چه ژوندے پيدا شو او بيا مړ شو لِـهذا که ماشوم مړ پيدا شو نو د هغه د جنازے لـمونځ به نه کيږي. (بهارِ شريعت حِصّه ٤، ۱/۸۲٦ مُلَخَّصاً)

❁ که د وړوکي ماشوم مور او پلار دواړه يا يو مسلمان وي نو هغه مسلمان دے، د هغه [د جنازے] لـمونځ دِ اوکړے شي او که دواړه کافِر وي نو [د جنازے] لـمونځ ئې مه کوئ. (بهارِ شرِيعت حِصّه ٤، ١/٨٢٦)

❁ د بدن پاك کيدو نه مُراد دا دے چه غُسل ورکړے شوے وي يا د غُسل ناممکنه کيدو په صورت کښې ئې ورله تَيَمُّم کړے وي او که د کفن وراغوستلو نه مخکښې ئې د بدن نه نَجاست خارج شي نو هغه دِ وينځلے شي او که وروسته خارج شو نو د وينځلو حاجت نشته او د کفن پاك کيدو مطلب دا دے چه پاك کفن ور واغوستلے شي او که [د کفن ورکولو نه] وروسته تر ې نَجاست خارج شو او کفن ککړ شو نو باك نشته. (رَدُّالْمُحتَار کتاب الصلوٰة، باب صلوٰة الجنازة، مطلب: فی صلوٰة الجنازة ٣/١٢٢ ملتقطاً)

❁ بے غسله ئې که [د جنازے] لـمونځ اوکړے شو نو اونه شو، غُسل ورکړئ او بيا ئې [جنازه] اوکړئ او که قبر کښې مو کيښودے وي، خو لا خاوره مو پرې نه وي اړولي نو قبر نه ئې را اُوباسئ او غُسل ورکړئ او [د جنازے] لـمونځ ئې اوکړئ او که خاورې مو پرې اړولي وي نو بيا ئې نه شئ راويستلے، لِـهذا بيا ئې په قبر [د جنازے] لـمونځ اوکړئ، وړومبې لـمونځ نه وو شوے ځکه چه بے غُسله شوے وو او اوس ولے چه غُسل ورکول ناممکنه دي لِـهذا اوس به اوشي. (رَدُّالْمُحتَار کتاب الصلوٰة، باب صلوٰة الجنازة، مطلب: فی صلوٰة الجنازة ٣/١٢١)

❁ که جنازه ئې غلطه کيښوده يعني چه د اِمام نبي طرف ته د مړي ښپے وي نو لـمونځ به اوشي خو که قصداً ئې داسې اوکړل نو ګنهګار شو. (الدر المُختار معه رَدُّالْمُحتَار کتاب الصلوٰة، باب صلوٰة الجنازة ٣/١٢٤)

❁ که قِبله پيژندلو کښې غلَطي وشوه يعني مړے ئې په خپل خيال کښې قبلے ته کيښودے وو خو حقيقةً قبلے ته نه وو نو موضِع تَحَرّي کښې (يعني کوم ځائے چه د تَحَرّي حُکم وي نو) که تَحَرّي ئې اوکړه نو لـمونځ اوشو کنې اونشو. (الدر المُختار معه رَدُّالمُحتار کتاب الصلوٰة، باب صلوٰة الجنازة، الخ ٣/١٢٤)

## د خودکشئ کوونکي د جنازے حُکم

❁ چا چه خُودکشي اوکړه [يعني ځان ئې مړ کړو] حالانکه دا ډيره غټه ګناه ده، خو د هغه د جنازے لـمونځ به کيږي اګر که قصداً [يعني اِرادتاً] ئې خُودکُشي کړي وي، څوك چه رَجم کړے شو (يعني د سزا په طور په ګټو ويشتلو ويشتلو مړ کړے شو) يا قِصاص کښې (يعني د قتل په بدل کښې) مړ کړے شو، هغه ته به غُسل ورکولے کيږي او [د جنازے] لـمونځ به ئې هُم کيږي. (رَدُّالمُحتار کتاب الصلوٰة، باب صلوٰة الجنازة، مطلب: هل يسقط فرض...الخ ٣/١٢٧ و عالمګيري، کتاب الصلوٰة، الباب الحادی والعشرون فی الجنائز، الفصل الخامِس فی الصلوٰة علی المیت، ١/١٦٣)

## د جنازے نِيَّتونه

د شيخِ طريقت، امِيرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه ليکلو د جنازے مَدَني ګُلونو په رنړا کښې څه نِيَّتونه اوکړئ.

❁ رضائے اِلٰهي عَزَّوَجَلَّ حاصلولو او د آخرت د ثواب ګټلو د پاره به د جنازے لـمونځ کووم ❁ فرضِ کِفايه به ادا کووم ❁ د مرحوم د عزيزانو زړه به خوشحالووم ❁ مړي د پاره به د بخښنې دُعا او ايصالِ ثواب کووم ❁ [د جنازے] د لـمانځه نه پس به په مسنُونه طريقه د جنازے څلورو واړو ښپو ته ووګه ورکووم (يعني مخکښې د سر ښي طرف ته بيا د ښپو ښي طرف ته، بيا د سر ګڼ طرف ته او بيا د ښپو ګڼ طرف ته) ❁ هر ځله به لس لس قدمه يعني ټول به څلويښت قدمه څم او د

څلويښتو کبيره ګناهونو د بخښنې حقدار به جوړيږم ❁ جنازے ته ووځه ورکولو وخت کښې به خلقو ته تکليف ورکولو او ټيلے وهلو نه ځان ساتم ❁ خپله جنازه اوچتيدل او خخيدل به يادووم او فِکرِ آخرت به کووم.

## د جنازے جَمعه څوك ورکړي؟

د جنازے د لـمانځه د اِمامت حق بادشاهِ اسلام ته دے، بيا قاضي ته، بيا د جُمُعې د لـمانځه اِمام ته، بيا د محلے اِمام ته، بيا ولي [يعني وارِث] ته. د محلے د اِمام په ولي باندې تَقَدُّم (يعني د ولي [يعني وارث] نه زيات حقدار کيدل) د اِستحباب په طور دے (يعني مُستحب دي) او دا هُم هله چه د ولي [يعني وارِث] نه غوره وي ګڼې ولي [يعني وارِث] بهتر دے. (غنية المتملي فصل فی الجنائز ص ٥٨٤. و الدر المُختار معه رَدُّالمُحتَار کتاب الصلوٰة. باب صلوٰة الجنازة. ٣/١٣٩، ١٤١)

## د جنازے د لـمانځه ارکان او سُنَّتونه

د جنازے د لـمانځه دوه رُکن دي:

﴿١﴾ څلور ځله اَللّٰهُ اَکْبَر وئيل ﴿٢﴾ قِيام

جنازه کښې دري سُنَّتِ مُؤَکَّده دي:

﴿١﴾ ثناء ﴿٢﴾ دُرُود شريف ﴿٣﴾ د مړي د پاره دُعا

(الدر المُختار معه رَدُّالمُحتَار. کتاب الصلوٰة. باب صلوٰة الجنازة. ٣/١٢٤)

## د جنازے د لـمانځه طريقه[1] (حَنَفِي)

[1] د جنازې د لـمانځه نه مخکښې د مرحُوم د حُقوقو او د طريقې مُتَعَلِّق اعلان وکړئ، د اميرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَة ليکلې شوے دا اعلان د کتاب په آخره کښې په دے عُنوان "د بالِغ د جنازې نه مخکښې دا اعلان کوئ" دے."

شيخِ طريقت، امِيرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَة [خپله رِساله] "د جنازے د لـمانځه طريقه" صفحه ۹ کښې د جنازے د لـمانځه طريقه داسې ليکي:

مُقتدي دِ داسې نِيَّت اوکړي: "زه نِيَّت کووم د دې جنازے د لـمانځه د پاره د اللّٰه تعالٰی، دُعا د دې مړي د پاره، په دې اِمام پسے" (فَتَاوٰی تَاتَارخَانِيه ، کتاب الصلوٰة، الفصل الثانی والثلاثون فی الجنائز، ۱۵۳/۲) بيا دِ اِمام او مُقتدي مخکښې غوږونو پورې لاسونه پورته کړي او د "اَللّٰهُ اَکْبَر" وئيلو سره دِ ئې د معمول مطابق د نامه نه لاندې اوترې او ثناء دِ اولولي. په دې کښې دِ د "وَ تعالٰی جَدُّكَ" نه پس "وَجَلَّ ثَنَاءُكَ وَلَآ اِلٰهَ غَيْرُك" اولولي بيا دِ لاس پورته کولو نه بغير "اَللّٰهُ اَکْبَر" اولولي، بيا دِ دُرُودِ اِبراهِيم اولولي، بيا دِ لاس پورته کولو نه بغير "اَللّٰهُ اَکْبَر" اولولي او [د جنازے] دُعا دِ اولولي (اِمام دِ تکبيرونه په اوچت آواز وائي او مُقتديان دِ ئې په قلاره وائي. باقي ټول اَذکار دِ اِمام او مُقتدي په قلاره وائي) د دُعا نه پس "اَللّٰهُ اَکْبَر" اولولئ او لاسونه زوړند کړئ بيا دواړو طرفو ته سلام اوکړځوئ. په سلام کښې دِ د مړي، فرښتو او په لـمانځه کښې د حاضرو خلقو نِيَّت اوکړي، هُم هغه شان څنګه چه د نورو لـمونځونو په سلام کښې نِيَّت کيږي، دلته دومره خبره زياته ده چه د مړي نِيَّت دِ هم اوکړي. (بَهارِ شرِيعَت، حِصّه ٤، ۸۳٦/۱ مأخوذاً)

## ثناء

سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ

وَتَعَالٰى جَدُّكَ وَلَآ اِلٰهَ غَيْرُكَ

پاك ئې ته اے الله (عَزَّوَجَلَّ) او زه ستا حَمْد [يعني ثناء] بيانووم او ستا نوم بَرَکت والا دے او ستا عَظَمت اوچت دے او ستا نه سِوا بل هيڅ څوك مَعبُود [يعني د عِبادت لائِق] نشته.

## دُرُودِ اِبراهِيم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰٓى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ

عَلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ وَ عَلٰٓى اٰلِ اِبْرٰهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ ۝

اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰٓى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ

عَلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ وَ عَلٰٓى اٰلِ اِبْرٰهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ ۝

اے الله! دُرود اولیږه (زمونږ په سردار) **مُحَمّد** باندې او د هغوئ په آل باندې څنګه چه تا دُرود لیږلے په (سیّدُنا) اِبراهِيم او د هغوئ په آل باندې، بیشکه ته صِفت کړے شوے بُزُرګ ئې. اے **الله** عَزَّوَجَلَّ بَرَکت نازِل کړه (زمونږ په سردار) **مُحَمّد** باندې او د هغوئ په آل باندې څنګه چه تا بَرَکت نازِل کړو په (سیّدُنا) اِبراهيم او د هغوئ په آل باندې، بیشکه ته صِفت کړې شوے بُزُرګ ئې.

## د بالِغ نارینه او زنانه د جنازے دُعا

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِحَيِّنَا وَمَيِّتِنَا وَشَاهِدِنَا وَغَآئِبِنَا وَصَغِيْرِنَا

وَكَبِيْرِنَا وَذَكَرِنَا وَاُنْثٰنَا ؕ اَللّٰهُمَّ مَنْ اَحْيَيْتَهٗ مِنَّا فَاَحْيِهٖ

عَلَى الْاِسْلَامِ وَمَنْ تَوَفَّيْتَهٗ مِنَّا فَتَوَفَّهٗ عَلَى الْاِيْمَانِ ؕ

(اَلْمُسْتَدْرَك لِلْحَاكم، كتاب الجنائز، ١/٦٨٤، حديث١٣٦٦)

اِلٰهي! بخښنه اوکړې زمونږه د هر ژوندي او زمونږه د هر مړي او زمونږه د هر حاضر او زمونږه د هر غائِب او زمونږه د هر وړوکي او زمونږه د هرلوئ او زمونږه د هر نارينه او زمونږه د هرې زنانه. اِلٰهي ته په مونږ کښې چه څوک ژوندي لرې هغه په اسلام ژوندي لرې او په مونږ کښې چه چا له مرګ ورکوې نو په ايما ن مرګ ورکړې.

## د نابالِغه هلك د جنازے دُعا

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا فَرَطًا وَّاجْعَلْهُ لَنَآ اَجْرًا وَّذُخْرًا

وَّاجْعَلْهُ لَنَا شَافِعًا وَّمُشَفَّعًا ؕ

(كَنزُ الدَقائق كتاب الصلوٰة، باب الجنائز ص٥٢)

اِلٰهي دا (هلك) چه مخکښې اورسي نو زمونږ د پاره ئې [د آخرت د کټې] سامان کوونکے جوړ کړے او دا زمونږ د پاره د اجر (موجِب) او په وخت باندې کار راتلونکے جوړ کړې او دا زمونږ د پاره شفاعت کوونکے جوړ کړې او هٰغه چه د چا سِفارش منظور شي.

## د نابالِغه جينئ د جنازے دُعا

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهَا لَنَا فَرَطًا وَّاجْعَلْهَا لَنَآ اَجْرًا وَّذُخْرًا

وَّاجْعَلْهَا لَنَا شَافِعَةً وَّمُشَفَّعَةً ط

(كَنزُ الدَقائق كتاب الصلوٰة، باب الجنائز ص٥٢ و جوهرة نيرة، كتاب الصلوٰة، باب الجنائز، ص١٣٨)

اِلٰهي دا (جينئ) چه مخکښې اورسي نو زمونږ د پاره ئې [د آخرت د کتې] سامان کوونکي جوړه کړے. او دا زمونږ د پاره د اجر (موجِب) او په وخت باندې کار راتلونکي جوړه کړے او دا زمونږ د پاره شفاعت کوونکي جوړه کړے او هٰغه چه د چا سِفارش منظور شي.

❁ څوك چه پيدائِشي ليونے وي يا د بالِغ کيدو نه مخکښې ليونے شوے وي او په هم هغه ليونتوب کښې مړ شو نو د هغه د جنازے په لـمانځه کښې به د نابالِغه دُعا وئيله شي. (جوهرة نيرة كتاب الصلوة، باب الجنائز ص۱۳۸، و غُنية المتملی فصل فی الجنائز ۵۸۷)

## جنازه چه اوکړئ نو دُعا اوکړئ

د جنازے د لـمانځه نه پس صفونه مات کړئ او د مړي د پاره مُختصره دُعا اوکړئ، حديثِ پاك کښې هُم د جنازے کولو نه پس د دُعا ترغيب ورکړے شوے دے چنانچه حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه روايت دے چه خورِ مکّـی مَدَنـی آقا صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: چه کله تاسو په مړي لـمونځ اوکړئ نو د هغه د پاره د زړه د اِخلاصه دُعا اوکړئ.

(اَبو داؤد كتاب الجنائز، باب الدعا للميت، ۲۸۲/۳، حديث ۳۱۹۹)

**مشهور مُفَسِّر حَكِيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د دې حديثِ پاك نه لاندې فرمائي: پس د جنازے د لـمانځه نه دُعا سُنَّتِ رَسُولُ الله صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هُم ده او سُنَّت صحابي هُم. چنانچه نبي صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شاهِ حبشه نَجاشي د جنازے لـمونځ اوکړو او ورپسے ئې دُعا اوکړه. حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله بِن سلام رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ يوے جنازے ته ورغلو نو [د جنازے] لـمونځ شوے وو نو هغوئي حاضرو خلقو ته اُوفرمائيل چه لـمونځ خو مو اوکړو ما سره په شريکه دُعا خو اوکړئ، کومو فُقَهائے کرام رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی چه د دې دُعا نه منع کړي ده د هغے صورت دا دے چه د سلام ګرځولو نه پس هُم دغسې [په نيغو صفونو کښې] په ولاړه ولاړه دُعا اوکړے شي چه د هغے نه

[نوے] راتلونکے کس [د جنازے] د لـمانځه دوکه اوخوري يا ډيرې اُوکړ. دې دُعاګانې اوکړے شي چه د هغے نه بے وجهې خخولو کښې ډير ناوخته شي.
(مِراٰۃُ المناجیح، جنازے کے ساتھ چلنے اور اُس پر نماز پڑھنے کا بیان، ۲/۴۷۹)

## که د جنازے پوره جَمعه حاصله نکړے شي نو؟

❁ مسبوق (يعني د چا نه چه يو څو تکبيرونه لاړل هغه دِ) خپل باقي تکبيرونه د اِمام د سلام ګرځولو نه پس اُووائي او که دا انديښنه وي چه که [د جنازے] دُعا وغيره وائي نو پوره کولو نه مخکښې به خلق جنازه پورته کړي نو صرف تکبيرونه دِ اُووائي دُعا وغيره دِ پريږدي. (الدر المُختار معه رَدُّالْمُحتَار کتاب الصلوٰۃ، باب صلوٰۃ الجنازۃ، ۳/۱۳۶)

## په پيزار د پاسه ولاړ جنازه کول

❁ که پيزار په ښپو د جنازے لـمونځ کوئ نو د پيزار او زمکې دواړو پاک کيدل ضروري دي او که پيزار ووباسئ او په هغے د پاسه اودريږئ نو د پيزار د تلې او زمکې پاک کيدل ضروري نه دي، اعلیٰ حضرت اِمامِ اهلِسُنّت مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د يو سوال په جواب کښې اِرشاد فرمائي:

”که هغه ځائے په متيازو وغيره ناپاکه وو يا د چا چه د پيزار تلې ناپاکه وو او په دې حالت کښې ئې پيزار په ښپو لـمونځ اوکړو نو د هغوئ لـمونځ اونشو، احتياط هُم دا دے چه پيزار اوباسي او په هغے د پاسه ښپے کيښودلے شي او لـمونځ اوکړے شي ځکه چه که زمکه يا [د پيزار] تلے ناپاکه وي نو لـمانځه کښې به خلل راشي.“ (فَتَاوٰی رَضَوِیَّہ، ۹/۱۸۸)

## جنازه کښې څو صفونه پکار دي؟

❁ بهتره دا ده چه جنازه کښې درې صفونه وي ځکه چه حديث شريف کښې دي: ”د چا (د جنازے) لـمونځ چه درې صفونو اوکړو د هغه بخښنه به اوشي.“

که ټول ووه سړي وي نو يو دِ اِمام جوړ شي، بيا په وړومبي صف کښې دِ درې اودريږي، په دويم کښې دوه او دريم کښې يو. (غنية المتملي فصل فی الجنائز ص ۵۸۸) جنازه کښې آخري صف د ټولو صفونو نه غوره دے.

(الدر المُختار معه رَدُّالمُحتَار کتاب الصلوٰة، باب صلوٰة الجنازة، ۱۳۱/۳)

## د جنازے مُتَفرِّق مَدَنـي ګلونه

❁ که اِمام پينځه تکبيرونه اُووائي نو پينځم تکبِير کښې دِ مُقتدي د اِمام مُتابعت نه کوي بلکه خاموش دِ ولاړ اوسي چه کله اِمام سلام ګرځوي نو د هغه سره دِ سلام اوګرځوي. ❁ څوك چه جنازے سره وي هغه ته [د جنازے] لـمونځ کولو نه بغير بيرته تلل نه دي پکار او [د جنازے] د لـمانځه نه پس د مړي د کورنئ نه که اجازت واخلي نو بيرته تللے شي او د خخولو نه پس د اجازت اخستو حاجت نشته. (عالمگيری کتاب الصلوٰة الباب الحادی و العشرون فی الجنائز، الفصل الخامِس فی الصلوٰة علی المیت، ۱۶۵/۱) ❁ که څوك کوهي ته غوزار شو او مړ شو يا پرې کور را اولويدو او مړے نه شي راوِيستلے نو په هم هغه ځائے د هغه جنازه اوکړئ (رَدُّالمُحتَار، کتاب الصلوٰة، باب صلوٰة الجنازة، مطلب: فی تعظیم اولی الامر واجب، ۱۴۷/۳) ❁ جنازے سره پياده تلل غوره دي او که څوك په سورلئ وي نو [د جنازے نه] مخکښې تلل مکروه دي او که مخکښې وي نو چه جنازے نه لرې وي. (عالمگيری کتاب الصلوٰة، الباب الحادی و العشرون فی الجنائز، الفصل الرابع فی حمل الجنازة، ۱۶۲/۱ و صغیری شرح منیة المصلی، فصل فی الجنائز ص ۲۹۲) ❁ که خلق ناست وي او [د جنازے] د لـمانځه د پاره هلته جنازه راوړله شي نو تر څو ئې چه [جنازه] نه وي کيښودي تر هغے پورې مه پاځئ. (الدر المُختار معه رَدُّالمُحتَار کتاب الصلوٰة، باب صلوٰة الجنازة، ۱۶۰/۳) ❁ که څه ځائے کښې ناست ئې او په هغه ځائے جنازه تيريږي نو اودريدل ضروري نه دي، خو که څوك ورسره تلل غواړي نو هغه دِ پاځي او لاړ دِ شي. (عالمگيری کتاب الصلوٰة الباب الحادی و العشرون فی الجنائز، الفصل الرابع فی حمل الجنازة، ۱۶۲/۱) ❁ چه کله جنازه

ګډدئ نو داسې ئې مه ګډدئ چه قبلے ته ئې ښپے یا سر شي بلکه په ډډه ئې کیږدئ چه ښئ ډډه ئې قبلے ته وي. (عالمګیری کتاب الصلوٰۃ الباب الحادی و العشرون فی الجنائز، الفصل الرابع فی حمل الجنازۃ، ۱/۱۶۲)

❁ په جنازه چه کوم څادر اچولے کیږي هغه چه د قُرآني آیتونو والا نه وي نو بهتره ده ځکه چه بعضې وخت دا څادر ښپو پورې اورسیږي.

❁ د جنازے په جُلُوس کښې ټول اسلامي ورونړه په شریکه د اِمامِ اَهلِسُنَّت رَحْمَۃُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه قصیدۂ دُرُود "کعبے کے بدرُ الدجے تم پہ کروڑوں دُرُود" لوَلئ. (د دې نه علاوه هُم نعتونه وغیره لوَلئ خو صرف او صرف د اَکابِرِ عُلَماءِ اَهلِسُنَّت[1] کلامونه لوَلئ) (مَدَنی وصِیَّت نامہ) شیخِ طریقت، امیرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَہ خپله رِساله "مُردے کے صدمے [یعنی د مړي غمونه]" کښې د جنازے څه مَدَنی ګُلونه لیکلي دي، دا هُم اوګورئ:

---

[1]..... امیرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَہ کتاب "کُفریہ کَلِمات کے بارے میں سوال جواب" صفحه ۳۷ کښې فرمائي: خیر هُم دې کښې دے چه د مُستَند عُلَمائے اَهلِسُنَّت کلامونه (وئیلې او) واوریدې شي، اردو کلام اوریدو (او لوستلو) د پاره مشورۃً د "نعتِ رسُول" د ووه حُرُوفو په نسبت ووه مبارك نومونه وړاندې کووم: ﴿۱﴾ اِمامِ اَهلِسُنَّت مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَۃُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه (حَدائقِ بخشش شریف) ﴿۲﴾ اُستاذِ زَمَن حضرتِ مولانا حسن رضا خان رَحْمَۃُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه (ذوقِ نعت) ﴿۳﴾ خلیفۂ اعلیٰ حضرت مَدّاحُ الحبیب حضرتِ مولانا جمیلُ الرّحمٰن رَضَوِي رَحْمَۃُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه (قبالہ بخشش) ﴿٤﴾ شهزاد ۂ اعلیٰ حضرت تاجدارِ اَهلِسُنَّت حُضُور مُفتئ اعظم هِند مولانا مُصطَفیٰ رضا خان رَحْمَۃُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه (سامانِ بخشش) ﴿٥﴾ شهزاد ۂ اعلیٰ حضرت، حُجَّۃُ الاسلام حضرت مولانا حامِد رضا خان رَحْمَۃُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه (بیاضِ پاك) ﴿٦﴾ خلیفۂ اعلیٰ حضرت صدرُ الافاضِل حضرتِ علّامه مولانا سیِّد محمّد نعیمُ الدِّین مُراد آبادي رَحْمَۃُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه (ریاض النعیم) ﴿۷﴾ مشهور مُفَسِّر حَکِیمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد یار خان رَحْمَۃُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه (دِیوانِ سالِك)." (او د عِشق و مَحَبَّت نه ډك د امیرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَہ کلام (وَسائلِ بخشش).)

# ”جنازه باعِثِ عِبرت ده“ د پينځلَّس حُرُوفو په نسبت د جنازے ۱۵ مَدَنـي ګلونه

❁ څلور فرامِينِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم:

﴿۱﴾ چا ته چه د کومې جنازے خبر اوشي، هغه دِ د مړي اَهل [يعني د کور کسانو] ته ورشي، هغوئي ته دِ تعزِيَّت اوکړي، الله تعالٰی به د هغه د پاره يو قِيراط ثواب اوليکي، بيا که د جنازے سره لاړ شي نو الله تعالٰی به [د هغه د پاره] دوه قِيراطه اَجر اوليکي، بيا په هغے لـمونځ [يعني جنازه] اوکړي نو درې قِيراطه، بيا په خخولو کښې حاضر شي نو څلور [قيراطه] او هر قِيراط د اُحُد (غَر) همره دے. (فَتَاوٰی رَضَوِيَّه ۹/۴۰۱ و عُمدةُ القاری، کتاب الايمان، باب اتباع الجنائز من الايمان، ۱۰/۴۰۰، تحت الحديث ۴۷)

﴿۲﴾ د مسلمان په مُسلمان باندې شپږ حقونه دي، (په هغے کښې يو دا دے) چه کله وفات شي نو د هغه په جنازه کښې شريك شي. (مُسلِم کتاب السلام، باب من حق المسلم للمسلم رد السلام، ص۱۱۹۲ حديث۲۱۶۲ مُلَخَّصاً)

﴿۳﴾ چه کله يو جَنَّتي کس وفات شي، نو الله تعالٰی حيا فرمائي چه هغه خلقو ته عذاب ورکړي خوك چه د هغه جنازه وړي او څوك چه په هغے پسے وروسته روان وي او چا چه د هغه د جنازے لـمونځ اوکړو. (فِرْدَوْس بِمَأْثُور الْخطَاب، ۱/۲۸۲ حديث۱۱۰۸)

﴿۴﴾ مُؤمِن بنده ته به د مرګ نه پس د ټولو نه وړومبئ جزا دا ورکولے کيږي چه د هغه د جنازے د ټولو شريکو بخښنه به اوکړے شي. (مُسند البزار، ۱۱/۸۶، حديث۴۷۹۶)

## جنازے سره د ملګرتيا کولو ثواب

❁ حضرتِ سَيِّدُنا داؤد عَلَيْهِ السَّلَام د الله تَبَارَكَ وَتَعَالٰی په بارګاه کښې عرض اوکړو: يا الله عَزَّوَجَلَّ! چا چه صرف ستا د رضا د پاره جنازے سره ملګرتيا اوکړه، د هغه

جزا څه ده؟ اللّٰه تعالٰی اُوفرمائیل: په کومه ورځ چه هغه مړ شي، فرښتے به د هغه د جنازے سره ځي او زه به د هغه ښخښنه کووم. (شَرْحُ الصُّدُور، باب مشی الملئکة...الخ ص۹۷)

## د جنازے د لیدلو د وخت وظیفه

حضرتِ سیِّدُنا مالِك بِن اَنَس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا چا د وفات نه پس په خوب کښې اولیدو او تپوس ئې ترې اوکړو: مَا فَعَلَ اللّٰہُ بِكَ؟ یعني اللّٰه تعالٰی ستا سره څه سُلوك اوکړو؟ هغوئي اُووئیل: د یوے کلمے په وجه ئې وښښلم کومه به چه حضرتِ سَیِّدُنا عُثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د جنازے د لیدلو په وخت کښې وئیله. (هٰغه کَلِمه دا ده) سُبْحٰنَ الْحَیِّ الَّذِی لَا یَمُوْت (یعني هٰغه ذات پاك دے کوم چه ژوندے دے، هغه ته به کله هم مرګ نه راځي) لِهٰذا ما به چه هُم جنازه اولیدله نو هُم دا کَلِمه به مې وئیله د دې کلمے د وئیلو په سبب اللّٰه تعالٰی زه وښښلم.
(اِحیاءُ الْعُلوم، کتابُ ذِکر الموت و ما بعدہ، باب منامات المشائخ، ۲۶۶/۵ مُلَخَّصاً)

❁ جنازه کښې د رضائے اِلٰهي د پاره، د فرضو د ادائیګئ او د مړي او د هغه د عزیزانو د زړونو خوشحالولو وغیره ښو ښو نِیَّتونو سره شرکت کول پکار دي.

❁ جنازے سره تللو وخت کښې د خپل انجام په باره کښې سوچ کوئ چه څنګه نن د ده جنازه روانه ده. هُم دغسې به یوه ورځ زما جنازه هُم روانه وي، څنګه چه دا اوس د منونو خاورو لاندې خخیدو والا دے. هُم دغسې به یوه ورځ ما هُم خخوي. داسې غور و فِکر کول عبادت او ثواب دے.

❁ جنازے ته ووګه ورکول ثواب دے. حُضُور نَبِیِّ کریم رَءُوْفٌ رَّحِیم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د حضرتِ سَیِّدُنا سَعْد بِن مُعاذ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ جنازه پورته کړي وه. (طبقات کُبریٰ لابنِ سعْد، ۳۲۹/۳ و بنایة، کتاب الصلوٰة، باب الجنائز، فصل فی حمل الجنازة، ۲۴۲/۳ مُلَخَّصاً)

## د جنازے د وړلو ثواب

❁ **حديثِ** پاك كښې دي: ”څوك چه جنازه څلويښت قدمه يوسي د هغه **څلويښت كبيره** ګناهونه به وران [يعني معاف] كړے شي.“ او په حديث شريف كښې دي: څوك چه د جنازے څلورو واړو ښپو له ووګه ورګړي اللّٰه تعالٰی به د هغه **حَتْمی** (يعني مُستقله) بخښنه اوفرمائي. (اَلْجَوْهَرَةُ النَّيِّرة كتاب الصلوٰة باب الجنائز ص۱۳۹، دُرِّ مُختار معه رد المحتار، كتاب الصلوٰة باب الصلوٰة الجنائز مطلب فی حمل الميت ۳/۱۵۸ و بَهارِ شريعَت حصّه۱، ٤/۸۲۲)

## د جنازے په ووګو كولو طريقه

جنازه په ووګو كول سُنَّت دي. سُنَّت دا دي چه پرله پسے څلورو واړو ښپو له ووګه ورګړي او هره پيره لس لس قدمه لاړ شي. پوره سُنَّت دا دي چه مخكښې د سر ښي طرف ته ووګه ورګړي، بيا د ښپو ښي طرف ته (يعني ښئ ښپے طرف ته) بيا د سر ګڅ طرف ته او بيا د ښپو ګڅ طرف ته او لس لس قدمه لاړ شي نو ټول څلويښت قدمه شو. (عالمگيري كتاب الصلوٰة، الحادی و العشرون فی الجنائز، الفصل الرابع فی حمل الجنازة، ۱/۱۶۲ و بَهارِ شريعَت حصّه٤، ۱/۸۲۲) بعضې خلق د جنازے د وړلو په وخت كښې اعلان كوي، دوه دوه قَدَمه لاړ شئ! هغوئ ته پكار دي چه داسې اعلان كوي: ”[د جنازے د يوے يوے ښپے سره] لس لس قَدَمه لاړ شئ.“

## احتياط كوئ

❁ جنازے ته ووګه ورګولو وخت كښې قصداً [يعني اِرادَتاً] د تكليف ورګولو په انداز كښې خلقو له ټيلے ورګول، څنګه چه بعضې خلق د غټانو په جنازه كښې كوي، دا ناجائزه، حرام او جَهنَّم ته بوتلونكے كار دے.

## د ماشوم د جنازے د وړلو طريقه

❁ كه د **وړوكي** ماشوم جنازه يو كس په لاسو كښې اخستې وړي نو باك نشته

او په نمبر نمبر دِ ئې د يو نه پس بل په لاسو کښې اخلي. (عالمگیری ج۱ ص۱۶۲) (که د ماشوم جنازه وي او که د غټ خو) ښځو ته د جنازے سره تلل ناجائِزه او منع دي. (بَهارِ شرِيعَت ج۱، ص ۸۲۳، دُرِّمُختار، ج۳، ص۱۶۲)

## آيا خاوند د خپلې ښځې جنازے ته ووځه ورکولے شي؟

❁ خاوند د خپلې ښځې جنازے ته ووځه هُم ورکولے شي، قبر ته ئې هُم کُوزولے شي او مخ ئې هُم ليدلے شي. صرف د غُسل ورکولو او ښکاره بدن ته د لاسو لګولو مُـمانَعت دے. (بَهارِ شرِيعَت حصّه۴، ۱/۸۱۳)

❁ جنازے سره په اوچت آواز کَلِمه طَيِّبه يا کَلِمۂ شهادت يا حَمْد و نعت وغيره لوستل جائز دي. (اُوګورئ، فَتَاوٰی رَضَوِيَّه ۹، ۱۳۹تا۱۵۸)

جنازہ آگے آگے کہہ رہا ہے اے جہاں والو! مرے پیچھے چلے آؤ تمہارا رہنما میں ہوں

## د قَبْر او دفن بيان

مړے خخول فرضِ کِفايه دي او د خخولو نه مُراد دا دے چه کنډ [يعني قَبْر] وکنئ، په هغے کښې مړے کيږدئ او [د ګټو وغيره] تختے پرې کيږدئ او خاورې پرې واړوئ. دا جائز نه دي چه څلور واړه طرفه تړي ديوال راتاو کړئ او بند ئې کړئ. (عالمگیری کتاب الصلوٰۃ، الباب الحادی والعشرون فی الجنائز، الفصل السّادس فی القبر والدفن...الخ، ۱/۱۶۵ ورد المحتار، کتاب الصلوٰۃ باب الصلوٰۃ الجنازہ، مطلب فی دفن المیت ۳/۱۶۳)

قَبْر د آخرت په منزلونو کښې د ټولو نه ورومبې منزِل دے که دا آسان وو نو د دې نه پس راتلونکي منزلونه به د دې نه آسان وي او که دلته مشکلات وو نو مخکښې معامَله به د دې نه هُم زياته سخته وي لِـهذا عقلمند هُم هغه دے څوك چه خپل مرګ او قَبْر ته کوزيدل ياد ساتي او د اوس نه د دې تياري اوکړي.

## د دې د پاره تياري اوکړئ

حضرتِ سَيِّدُنا براء بِن عازِب رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي چه مونږه د خوږ نبي صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره يوه جنازه کښې شريك وو، حُضُور صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د قَبْر غاړې ته کښيناستلو او دومره ئې اوژړل چه د سترګو مبارکو نه وتلو اُوښکو مبارکو باندې ئې خاوره لـمده شوه. بيا ئې اُوفرمائيل: د دې د پاره تياري اوکړئ. (اِبنِ مَاجَه، کتاب الذهد، باب الحزن و البکاء، ٤/٤٦٦، حديث٤١٩٥)

## قَبْر کښې به ما سره هيڅ څوك هُم نه وي

د اَميرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدُنا عُثمانِ غني رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ غُلام حضرتِ سَيِّدُنا هاني رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي: اَميرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدُنا عُثمانِ غني رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ به چه کله د يو قَبْر خوا ته اودريدلو نو دومره به ئې ژړل چه په اُوښکو به ئې ګِيره مُبارکه لـمده شوه. (ترمِذِی، کتاب الذهد، ٤/١٣٨، حديث٢٣١٥) په المواعظ العُصفُورية کښې دا حکايت لږ په تفصيل بيان کړے شوے دے او په هغے کښې څه داسې هُم دي چه کله د عُثمانِ غني رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه د قَبْر په ليدلو د ډير زيات ژړلو د سبب تپوس اوکړے شو نو اوئې فرمائيل: ما ته خپله تنهائي [يعني يواځې اوسيدل] رايادہ شي ځکه چه قَبْر کښې به خلقو کښې ما سره هيڅ څوك هُم نه وي، (بيا ئې د نيکئ د دعوت داسې مَدَنـي ګُلونه وړاندې کړل چنانچه) اوئې فرمائيل: د چا د پاره چه د هغه دُنيا قيد خانه ده د هغه د پاره د هغه قَبْر جَنَّت دے او د چا د پاره چه دُنيا د هغه جَنَّت دے د هغه قَبْر د هغه د پاره قيدخانه ده، د چا د پاره چه د دُنيا ژوند بطور قيد وو مرګ د هغه د خلاصي پيغام دے، چا چه په دُنيا کښې نفساني خواهشات پرينښودل هغه ته به په آخرت کښې پوره پوره حصّه ورکړے شي، بهتر کس هغه دے چه هغه

مخکښې د دې نه چه دُنيا هغه پريږدي، هغه پخپله دُنيا پريږدي او خپل **ربّ** تعالٰی سره مُلاقات کولو نه مخکښې د هغه نه راضي شوے وي. د هر کس د **قَبْر** مُعامَله د هغه د دُنياوي ژوند مطابق ده يعني که په نيکئ کښې ئې ژوند تير کړے وي نو په **قَبْر** کښې ئې راحتونه وي او که بدو کولو کښې مړ شو نو صرف هلاکتونه دي. (مواعِظِ حَسَنه، ص٦١)

## د قَبْر مړي ته خِطاب

د مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان دے: چه کله مړے **قَبْر** کښې کيښودے شي نو **قَبْر** ورته وائي: اے اِنسانه! په تا افسوس دے! ته زما باره کښې څه څيز په دوکه کښې اچولے وې؟ آيا تا ته معلومه نه وه چه زه د ازميښتونو، تِيارو، تنهائي او خزندګانو کور يم، چه تا به په ما مخکښې وروسته ښپے ايښودلي او تيريدلي به نو ته کوم غرور [يعني تَـکَبُّر] ګير کړے وې؟ که هغه مړے نيک وي نو د هغه له طرفه څوك جواب ورکوونکے **قَبْر** ته جواب ورکوي: آيا تا ته نه ده معلومه چه دے کس به د نيکئ حُکم ورکولو او د بدو نه به ئې منع کوله نو **قَبْر** وائي بيا خوبه زه د ده د پاره په شنه [يعني شين باغ] کښې بدل شم، د هغه بدن به نُوراني شي او د هغه رُوح به د **الله** تعالٰی رحمت ته نزدے لاړ شي. (مُکَاشَفَةُ الْقُلُوب البابُ الخامس و الاربعون فی بیان القبر و سواله، ص١٧٠ و معجم کبیر، ٣٧٧/٢٢٠، حدیث٩٤٢)

## تا عِبرت ولې حاصِل نه کړو

حضرت محمد بِن صَبِيح رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي چه کله انسان **قَبْر** کښې کيښودلے شي او هغه ته عذاب ورکولے کيږي نو د هغه نزدے مړي وائي: اے د خپلو ورونړو او ګاونډيانو نه پس دُنيا کښې اوسيدو والا! آيا تا زمونږه

تلو نه څه نصيحت نه وو حاصل کړے؟ او آيا ستا د پاره زمونږه مړه کيدل او خخيدل څه د غور قابله خبره نه وه؟ آيا تا زمونږه د مرګ په وجه زمونږه د اعمالو ختميدل نه وو ليدلي؟ خو ته ژوندے پاتې شوې او تا ته د عمل کولو مُهلت درکړے شو، خو تا هغه مُهلت غنيمت اونه ګڼړلو او نيك اعمال دِ اونه کړل، او د زمکې هغه ټکړه ورته وائي: اے د دُنيا په ظاهر [معاش او عزّت] باندې تَـکَبُّر کوونکيه! تا د خپلو هغه خپلوانو نه ولې عِبرت حاصل نه کړو چا به چه په دُنياوي نِعمتونو تَـکَبُّر [فخر] کولو خو هغوئ ستا په مخکښې زما په خيټه کښې ورك شولو، مرګ هغوئ قبرونو ته راوستل او تا هغوئ په ووګو سواره دے منزل ته راروان ليدلي وو چه د دې نه هيڅ د تيښتې لار نشته. (مُکَاشَفَةُ الْقُلُوب، الباب الخامِس و الاربعون فی بیان القبر و سالہ، ص۱۷۰)

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** د **اللہ** تعالٰی نيك بندګان د **قَبْر** دننه حالاتو باندې ډير غور کوي خو افسوس! مونږه څو څو ځله **قَبْرونه** وينو خو عِبرت نه حاصلوو، کاش! چه مونږه هُم سنجيدګئ سره غور کوونکي جوړ شو او خپله مُحاسَبه اوکړو چه د قبر و آخرت د پاره مو څه تياري کړي ده او کوم ژوند مو چه باقي دے هغه څنګه تيرول پکار دي. راځئ خپل پاتې ژوند نيکو کښې تيرولو، ګناهونو نه توبه کولو، توبه باندې استقامت حاصلولو او ځان د قَبْر او حشر د عذابونو نه بچ کولو د کوشش د پاره د عاشِقانِ رسُول مَدَني تحريك دعوتِ اسلامي مَدَني ماحول سره خپل تَعَلُّق مضبوط کړئ، د نيکئ د دعوت مَدَني کارونو کښې پوره پوره حصّه واخلئ، د مَدَني انعاماتو مطابق ژوند تيروئ او د سُنَّتو د تربِيَّت مَدَني قَافِلو کښې عاشِقانِ رَسُول سره د سُنَّتو ډك سفر جاري ساتئ.

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## مړي خخولو کښې د شرکت فضيلت

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** څوك چه جنازه کښې شامل شي او د مړي خخولو پورې شريك اوسي نو هغه به د عظيمُ الشّانه ثواب حقدار وي چنانچه

## د درې قِيراطو ثواب

حضرتِ سَيِّدُنا جابِر رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه روايت دے چه تاجدارِ رِسالت شَهَنشاهِ نُبُوَّت صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چه جنازے سره لاړو او [د مړي] خخولو پورې ورسره وو **اللہ** تعالٰی به د هغه د پاره داسې درې قِيراطه ثواب ليکي چه په هغے کښې به هر قِيراط د اُحُد غر همره وي.

(مُعجَم اوسط للطبرانی، من اسمه هاشم، ٦/٤٢٩، حدیث٩٢٩٢)

## د قَبْر قِسمونه

د جوړلو په اِعتِبار د قَبْر دوه قِسمونه دي:

﴿١﴾ لـحد والا قَبْر ﴿٢﴾ شقي قَبْر

### ﴿١﴾ لـحد والا قَبْر

د دې د تيارولو طريقه دا ده چه [د مړي د اُوکړدوالي په حساب] يو څلور کوټې شان کند وکنئ او په هغے کښې قبلے طرف ته ديوال کښې دومره ځائے وکنئ چه په هغے کښې مړے په آسانئ ايښودلے شي. ياد ساتئ لـحد صرف سخته زمکه کښې جوړيدے شي، نرمه زمکه کښې نه شي جوړيدے.

﴿٢﴾ **شقي قَبْر**: دا داسې تياريږي چه يو څلور کوټې شان کند اوکنستلے شي او عام طور دلته د هُم دې رواج دے، لـحد سُنَّت دے که زمکه د دې قابِله

وي نو هُم دا اوکړئ او که زمکه نرمه وي نو بيا شقي قَبْر کښې باك نشته.

(عالمگیری کتاب الصلوٰۃ ، الباب الحادی والعشرون فی الجنائز ، الفصل السّادس فی القبر و الدفن...الخ ، ۱/۱۶۵)

## لـحد والا قَبْر

قبلے طرف ته ديوال کښې د مړي د ايښودلو ځائے [لـحد] دے

## شقي قَبْر

## جَنَّتُ البَقِيع کښې خخ شوے مُبَلِّغِ دعوتِ اسلامي

يقيناً هر يو کس به مري هر کس ته به مرګ راځي خو چا له چه مدينه کښې مرګ راشي او بيا ئې جَنَّتُ البَقِيع کښې لـحد جوړ شي نو د هغه به څه وائې! حديثِ پاك کښې دي: تاسو کښې چه د چا نه کيدے شي چه مدينه کښې مړ شي نو هغه ته پکار دي چه صرف مدينه کښې مړ شي ځکه چه څوك مدينه کښې مړ شي زه به د هغه شَفاعت کووم او د هغه په حق کښې به ګواهي ورکووم. (شُعَبُ الْاِیمان باب فی المناسك، فضل الحج و العمرۃ، ۳/۴۹۷، حدیث ۱۴۸۲)

موت لے کے آجاتی زندگی مدینے میں　　موت سے گلے مل کر زندگی سے مل جاتا

د اَهلِ بَقِيع د فضيلت مُتَعَلِّق زما خوږ آقا مکّـی مَدَنـی مُصطَفیٰ صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: ټولو نه مخکښې به زما قَبْر برسيره کيږي، بيا به د ابوبکر او عُمر قبرونه برسيره کيږي، بيا به زه د اَهلِ بَقِيع خوا ته راشم نو هغوئي به هُم د خپلو قَبْرونو نه را اُوځي او هغوئي به زما سره وي.

(اَلْمُسْتَدْرَك لِلْحَاكم، كتاب معرفة الصَّحابة، باب فضيلة الشَّيخَين... الخ، ١٣/٤، حديث٤٤٨٦)

جَنَّتُ الْبَقِيع د مدينے مُنوَّرے هغه قديم او بَرَکت لرونکي اِدِيره ده چه په هغے کښې زيات و کم د لسو زرو صحابۂ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان مُقَدَّس مزارات دي او دا جَنَّتُ الْبَقِيع د آقائے دوجهان صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ښپو مبارکو طرف ته دے، دلته چه چا ته خخيدل نصيب شي نو هغه د ډير لوئ مُقَدَّر خاوند دے! داسې عظيم سعادت حاصلولو د پاره د هر عاشِق زړه بېقراره اوسي او هُم دا خواهش لري.

کاش دشت طیبہ میں، میں بھٹک کے مر جاتا　　پھر بَقِيعِ غرقَد[1] میں، دفن کوئی کر جاتا

(وَسائلِ بخشش ص ١٥٥)

يقيناً قابِلِ رَشک دي هغه خوش نصيبه عاشِقانِ رَسُول چا ته چه مدينه کښې مړه کيدل نصيب شو او جَنَّتُ الْبَقِيع کښې ئې قبرونه جوړ شو، که تاسو هم د عِشقِ رَسُول ډك ډك جامونه څښل، د مدينے په ياد کښې ژړيدل او په

[1] جَنَّتُ الْبَقِيع ته بَقِيعُ الغَرقَد هم وائي، عربئ کښې بقيع ونې لرونکي ميدان ته وائي، غرقَد د يوے خاصې ونې نوم دے. په دے ميدان کښې مخکښې د غرقَد ونې وې ځکه د دے ځائ نوم بَقِيعُ الغَرقَد شو. (مِرآةُ المناجيح، قبر کی زیارت، ٥٢٥/٢)

مدينه کښې د مړ کيدو او **جَنَّتُ الْبَقِيع** کښې د خخيدلو خواهش زياتول غواړئ نو راشئ او د دعوتِ اسلامي **مَدَني ماحول** کښې شامِل شئ، د مَدَني انعاماتو مطابق عمل او مَدَني قَافِله کښې سفر خپل معمول جوړ کړئ ځکه چه د معاشرې هغه خلق چه د ګناهونو په دَلدَل کښې نخښتي وو هغوئي چه دعوتِ اسلامي ته راغلل نو د خپلو ګناهونو نه ئې توبه اوکړه، څوك چه جُماتونو نه لرې اوسيدل هغوئي جُماتونه آبادوونکي جوړ شو، څوك چه به د سُنَّتو ډکې اِجتِماع ته نه راتلل هغوئي د سُنَّتو درس ورکوونکي مُبَلِّغ جوړ شو، راشئ د يو خوش نصيبه عاشِقِ رَسُول مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي محمد عِرفان عَطّاري واقعه واورئ چه هغه د دعوتِ اسلامي **مَدَني ماحول** سره ټړون اوکړو او د هغه قِسمت وځليدو. مدينه کښې د مړ کيدو او بَقِيع پاك کښې د خخيدو رښتينې جذبے هغه آخر د خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم قدمونو مبارکو ته اورسولو. چنانچه

د **بابُ الْمَدينه** کراچئ د علاقے نيا آباد (لياري) اِسلامي ورور، مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي او ډويژن مَدَني قَافِله ذِمَّه دار محمد عِرفان عَطّاري يو خوش اخلاقه اِسلامي ورور وو، هغوئي د مَدَني کارونو ډيره جذبه لرله. هغوئي به د دې مَدَنـي مقصد چه ''**ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي.**'' مطابق د خپلې اِصلاح د پاره مَدَني انعاماتو باندې پابندئ سره عمل او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح د کوشش د پاره به ئې په **مَدَني قَافِلو** کښې ډير ډير سفر کولو او اِسلامي ورونړو ته به ئې هُم د سفر کولو ترغيب ورکولو، د مَدَنـي دورې هُم پابند وو، د هغوئي دا معمول وو چه د جَمعې لـمانځه له به جُمات ته روان وو نو اِسلامي ورونړو ته به ئې د لـمانځه دعوت ورکولو. هغوئي په يوه مخه د دولسو مياشتو مَدَني قَافِله کښې هُم سفر کړے وو او ډير ډير د نيکئ دعوت به ئې ورکولو. کور کښې د هغوئي کِردار د ټولو خوښ او مِثالي وو او د کور ټولو کسانو

به ورسره مينه لرله، محمد عِرفان عَطّاري به په هغوئي هُم اِنفرادي کوشش کولو او د نيکئ دعوت به ئې ورکولو، چنانچه د هغوئي په ترغيب د هغوئي مشر ورور د دولسو مياشتو مَدَني قَافِله کښې د سفر کولو سعادت حاصل کړو. د نيکئ د دعوت او د سُنَّت عام کولو په جذبه عِرفان عَطّاري **عاشِقانِ رَسُول** سره موزَمبِيق (افريقه) ته هُم مَدَني قَافِله کښې د سفر سعادت حاصل کړو او زيات و کم ۵ مياشتې هلته مُقيم وو. په دې دوران کښې ئې ګڼړ شمير غير مُسلِمه د اسلام دائرې ته د داخلولو سعادت حاصل کړو، تر دې چه د فيضانِ مدينه (موزمبيق) د تعميراتو په دوران کښې هُم بعضو غير مُسلِمو د هغوئي په لاس اسلام قبول کړو.

د سُنَّتو د تربِيَّت په **مَدَني قَافِلو** کښې سفر کولو کولو کښې هغه ورځې هُم راغلې چه ربنتيا ربنتيا ورته د سفرِ مدينه خوشخبري هُم راغله، د غم خوار آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم در ته چه اُوغوښتے شو نو لَبَّيک ئې اُووئيلو (او د عُمرې سعادت حاصلولو د پاره) حَرَمَين طَيِّبين ته روان شو (والده صاحِبه او زوجه هُم ورسره وه)، مَکَّۀ مُکَرَّمه کښې عُمره ادا کولو او څه ورځې قيام کولو نه پس مدينے مُنوَّرے ته روان شو، مدينے ته چه اورسيدو او د هغه ځائے په خوشګواره او خوشبوداره فضا کښې چه رَوضۀ رسول ته د حاضريدو وخت راغې نو په درَزيدلي زړه ئې د حاضرئ سعادت حاصل کړو. مدينه کښې د اوسيدو په دوران کښې بيمار شو او د تيزې تبې په وجه ئې طبيعت زيات ناسازه شو. د ماسپښين لـمونځ ادا کولو نه پس ئې د **الله** تعالٰی په بارګاه کښې لاس پورته کړل او په دُعا کښې مشغول شو او څه داسې عرض ئې اوکړو: يا **الله!** زه اوس د دې ځائے نه بيرته نه ځم، زه هُم دلته مړ کيدل او **جَنَّتُ الْبَقِيع** کښې خخيدل غواړم. دُعا نه پس د آرام کولو د پاره څملاستلو خو دُعا ئې د **الله** تعالٰی په بارګاه کښې قبوله شوې وه، چنانچه بيهوشي پرې راتلو والا وه، چه کله اِسلامي ورونړو هسپتال ته بوتللو د

پاره پورته کولو نو هغه په اوچت آواز يا رَسُولَ الله اُووئيلو او کَلِمۂ طَيِّبه ئې اُووئيله او بيهوشه شو او بيا د هُم هغه بيهوشئ په حالت کښې وفات شو. جنازه ئې د گُنبَدِ خَضرىٰ په نظارو کښې ادا کړے شوه او جَنَّتُ الْبَقِيع کښې خخ کړے شو. **د اللهُ رَبُّ الْعِزَّت عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئ رَحمت وي او د هغوئ په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.**

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د قَبْر اُوکړدوالے او پلنوالے څومره پکار دے؟

❁ د **قَبْر** اُوکړدوالے د مړي د ونې [يعني قد] نه لږ شان زيات پکار وي او پلنوالے ئې د اُوکړدوالي په نيمه او جَوَر والے ئې کم از کم د [د مړي د ونې يعني قد] په نيمه پکار ده[1] او مُتَوَسِّط دَرَجه دا ده چه سينے پورې وي. د دې نه مُراد دا دے چه لحد دومره جَوَر وي يا شقي **قَبْر** دومره جَوَر وي. دا مطلب نه دے چه د کوم ځائے نه کنستل شروع شوے وي ګنې د هغه ځائے نه دِ د آخرې پورې دا مِقدار وي. (فَتَاوىٰ رَضَوِيَّه مُخرَّجة ۳۷۰/۹ و رَدُّالْمُحْتَار، کتاب الصلوة، باب صلوة الجنازة، مطلب: فی دفن المیت ۱٦٤/۳)

---

[1] قبر د مړي د ونې هُمره جَوَر کنستل زيات بهتر دي ځکه چه بدن ئې سخا شوے وي نو بوئ به نه خوريږي او د جَوَر والي په وجه به د سړې خور ځناور ګورکتئ نه هُم حفاظت کيږي. دا بعضې وخت قبر سُورے کړي او د مړي غوښې خوري. فُقَهائے کرامو رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰى جَوَر قبر کنستل خوښ کړي دي او د دے ترغيب ئې ورکړے دے چنانچه علّامه ابنِ عابِدين شامي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: که قبر ئې زيات جَوَر کړو او د مړي د ونې [يعني قد] هُمره [جَوَر] ئې کړو نو ښه ئې وکړل، د داسې جَوَرولو مقصد د بوئ حصارولو او د سړې خورو ځناورو کنستلو نه بچ کولو کښې مُبالغه ده. (رَدُّالْمُحْتَار، کتاب الصلوة، باب صلوة الجنازة، مطلب: فی دفن المیت ۱٦٤/۳) مُحَقِّق عَلَى الْاِطلاق شيخ عبد الحق مُحَدِّث دِهلوي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: قبر جَوَرول سُنَّت دي ځکه چه داسې کول مړي د سړې خور ځناور ګورکتئ نه بچ کول دي. (اَشِعَّةُ اللَّمعات کتاب الجنائز، باب دفن المیت، ۷۳۹/۱)

## قَبْر دننه نه څنګه پکار دے؟

❁ د قبر دننه طرف ته ديوالونه د کچه خاورې پکار دي، د اور پخې شوي خښتې استعمالول نه دي پکار. که دننه د پخو خښتو ديوال ضروري وي نو بيا دِ دننه طرف ته په خټو باندې ښه ليو کړے شي. (رَدُّالْمُحْتَار، کتاب الصلوٰة، باب صلوٰة الجنازة، مطلب: فی دفن المیت ۱۶۷/۳ و عالمگیری، کتاب الصلوٰة الباب الحادی والعشرون فی الجنائز، الفصل السادس فی القبر و الدفن...الخ، ۱۶۶/۱)

❁ قبر کښې دننه پزَکې وغيره غورول ناجائزه دي ځکه چه بے سببه مال ضائع کول دي. (رَدُّالْمُحْتَار، کتاب الصلوٰة، باب صلوٰة الجنازة، مطلب: فی دفن المیت، ۱۶۴/۳)

❁ که کيدے شو نو د تختو دننه طرف دِ په سُوْرَۂ يٰسٓ، سُوْرَۃُ الْمُلْك او دُرُودِ تاج دم کړے شي. (مَدَنی وصِیَّت نامه)

## د خخولو نِيَّتونه

❁ رضائے اِلٰهی حاصلولو او د آخرت ثواب حاصلولو د پاره به د عاشِقانِ رَسُول په خخولو کښې حِصّه اخلم ❁ فرضِ کِفايه به ادا کووم ❁ حقِ مُسلِم به ادا کووم ❁ د قبرستان دُعا به لوَلَم: اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَا اَهْلَ الْقُبُوْرِ يَغْفِرُ اللّٰهُ لَنَا وَلَكُمْ وَاَنْتُمْ سَلَفُنَا وَنَحْنُ بِالْاَثَرِ ❁ که کيدے شوه نو په اوچت آواز به ئې لوَلم چه نور کسان ئې هُم اُووائي ❁ که د ښپو زخمي کيدو يا تکليف اندېښنه نه وه نو اديره کښې به ښپے ابلې ښپے کړځم ❁ په قَبْر باندې ښپے اينښودولو او قَبْر باندې کښيناستلو نه به ځان ساتم او که کيدے شوه نو نرمئ سره به نور خلق هُم پوهه کووم چه هغوئي هُم بچ اوسي ❁ بے ځايه خبرو او توقو تقالو نه به پرهيز کووم. ❁ د موقعې په مناسبت به خلق يو ځائے ته راجمع کووم او د نيکئ دعوت به ورکووم ❁ مرګ او قَبْر کښې خخيدل به يادووم او ځان

ته او نورو خلقو ته به عِبرت ورکووم ❁ مرحوم او ټولو مُؤمِنانو د پاره به د بخښنې دُعا کووم ❁ ایصالِ ثواب به هُم کووم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د خخولو طريقه

جنازه **قَبْر** ته نزدے قبلے طرف ته کيږدئ ځکه چه **مُسْتَحَب** دي او مړے د قبلے طرف نه **قَبْر** ته کوز کړئ. د قبر کُوز طرف [يعني ښيو طرف] ته ئې مه کيږدئ او سر طرف ئې [خخولو وخت کښې] مه مخکښې کوئ.

(دُر المُختار معه رَدُّالمُحتَار کتاب الصلوٰة، باب صلوٰة الجنازة ۳/۱۶۶)

❁ د ضرورت مطابق دِ دوه يا درې او بهتره دا ده چه قوي او نيك سړي **قَبْر** ته کوز شي. زنانه مړے دِ د هغے محارِم کوزوي يعني هغوئي د چا سره ئې چه نکاح د هميشه د پاره حرامه وه لکه ورور، ځوئ، پلار وغيره، که دا نه وي نو نور خپلوان، که دا هُم نه وي نو پرهيزګارو باندې ئې کُوزه کړئ. (عالمگيری کتاب الصلوٰة، الباب الحادی والعشرون فی الجنائز، الفصل السادس فی القبر و الدفن... الخ، ۱/۱۶۶ مُلَخَّصاً)

❁ زنانه مړے د کوزولو نه واخله تختے لګولو پورې په څه ټوکي [يعني کپړه، څادر] پټ ساتئ. (رَدُّالْمُحْتَار، کتاب الصلوٰة، باب صلوٰة الجنازة، مطلب: فی دفن المیت، ۳/۱۶۸ و جَوْهَرة نیرة، کتاب الصلوٰة، باب الجنائز، ص۱۴۰)

❁ مړے چه **قَبْر** ته کوزوئ نو هغه وخت دا دُعا اُووائې:

بِسْمِ اللهِ وَبِاللهِ وَعَلٰى مِلَّةِ رَسُوْلِ الله

(تنویر الابصار، کتاب الصلوٰة، باب صلوٰة الجنازة، ۳/۱۶۶)

❁ مړے [قبر کښې] په ښئ ډده داسې څملوئ چه مخ او سينه ئې قبلے طرف ته شي. (الدُر المُختار معه رَدُّالمُحتَار کتاب الصلوٰة، باب صلوٰة الجنازة ۱۶۶/۳ ملتقطاً)

❁ د دې آسانه طريقه دا ده چه د مړي د شا نه لاندې د نرمې خاورې يا شکې بالښت شان جوړ کړئ او لاسونه ئې د ډډو نه جُدا کيږدئ. چرته چه دا مُشکِله وي نو نيغ ئې څملوئ [يعني شا ئې په زمکه اولګوئ] او مخ ئې قبلے ته کړئ، اوس اکثر هُم دا معمول دے، (فَتَاوٰی رَضَوِيَّه ۳۷۱/۹ ملتقطاً)

❁ او که مَعَاذَاللّٰه مَعَاذَاللّٰه مخ ئې قبلے ته نه وو او داسې سخت شوے وو چه نه شي اَوښتلے نو پريږدئ او زيات تکليف مه ورکوئ. (فَتَاوٰی رَضَوِيَّه ۳۷۲/۹)

❁ د کفن غوټې خلاصې کړئ ځکه چه اوس ئې ضرورت نشته او که خلاصې ئې نه کړئ نو باك نشته. (الدُر المُختار معه رَدُّالمُحتَار کتاب الصلوٰة، باب صلوٰة الجنازة ۱۶۷/۳ و جَوْهَرة نيرة، کتاب الصلوٰة، باب الجنائز، ص۱۴۰)

❁ البته که د کفن غُوټې خلاصولو سره د ستر ښکاره کيدو يا د زنانه د بے پردګئ اندېښنه وي نو بالکل د خلاصولو اجازت نشته. (دارُالاِفتاء اَهلِسُنَّت)

❁ که د مړي مخ کتلو د پاره چه قبلے ته شو که نه، نو که د زنانه د مخ ښکاره کولو حاجت وي نو د دې احتياط لِحاظ ساتئ چه د يو نامحرمه نظر هم پرې پرې نه وځي. (دارُالاِفتاء اَهلِسُنَّت)

د کفن غُوټه خلاصوونکے دِ دا دُعا لوَلي: اَللّٰهُمَّ لَا تَحْرِمْنَا اَجْرَه وَلَا تَفْتِنَّا بَعْدَه (طحطاوی علی مراقی الفلاح، کتاب الصلوٰة، باب احکام الجنائز، فصل فی حملها و دفنها، ص۶۰۹) ترجمه: اے اللّٰه عَزَّوَجَلَّ! مونږه د ده د اجر نه مه محرومه کوې او مونږه د ده نه پس فِتنه کښې مه اچوې.

❁ **قَبْر** په کچه خښتو بند کړئ، که زمکه نرمه وي نو (د لرګي) تختے لګول جائز دي. (رَدُّالْمُحْتَار، کتاب الصلوٰة، باب صلوٰة الجنازة، مطلب: فی دفن المیت، ۳/۱۶۷)

❁ [امیرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه فرمائي] کاش چه! ساداتِ کرام [یعني سَیِّدان] مې خپلو د رحمت ډکو لاسونو باندې **قَبْر** ته کُوز کړي او اَرْحَمُ الرّٰحِمِیْن ته مې حواله کړي. (مَدَنی وَصِیَّت نامه)

## په قَبْر د خاورو اړولو طریقه

❁ جنازه کښې [یعني د مړي خخولو وخت کښې] حاضرو هر یو کس د پاره مُسْتَحَب دي چه د سر طرف نه پرې په دواړو لاسو درې ځله خاوره واچوي، په وړومبي ځل اُووائي مِنْهَا خَلَقْنٰکُمْ (مونږه ته د زمکې نه جوړ کړې) په دویم ځل وَفِیْهَا نُعِیْدُکُمْ (او هُم دې ته به تا بیا بوځو) دریم ځل اُووائي وَمِنْهَا نُخْرِجُکُمْ تَارَةً اُخْرٰی (او د هُم دې نه به تا بیا را اُوباسو). (جَوْهَرة نیرة، کتاب الصلوٰة، باب الجنائز ص۱۴۱)

❁ څومره خاوره چه د **قَبْر** نه راوتي ده د هغے نه زیاته اچول مکروه دي. (عالمګیری کتاب الصلوٰة، الباب الحادی والعشرون فی الجنائز، الفصل السادس فی القبر و الدفن... الخ ۱/۱۶۶)

❁ لاسو پورې مو چه کومه خاوره اونښلي هغه که څنډئ او که وینځئ ئې اختیار دے. (بهارِ شریعت حصّه ۴، ۱/۸۴۵)

## خخولو نه پس قبر د کوپان په شان جوړ کړئ!

❁ **قَبْر** د اوښ د کوپان په شان جوړ کړئ ځلور کُوتې ئې مه جوړوئ (لکه څنګه چه نن صبا خخولو نه یو څو ورځې پس په خښتو وغیره ځلور کُوتې جوړوي، داسې مه جوړوئ) (رَدُّالْمُحْتَار، کتاب الصلوٰة، باب صلوٰة الجنازة، مطلب: فی دفن المیت ۳/۱۶۹)

❁ **قَبْر** چه یوه لویشت اوچت وي یا لږ نور زیات. (رَدُّالْمُحْتَار، کتاب الصلوٰة، باب صلوٰة الجنازة، مطلب: فی دفن المیت، ۳/۱۶۸)

## قَبْر باندې اوبه شيندل څنګه دي؟

❁ خخولو نه پس **قَبْر** باندې اوبه شيندل مسنون دي. (فَتَاوٰی رَضَوِيَّه، ۳۷۳/۹)

❁ د دې نه علاوه وروسته بُوتي وغيره ته اوبه ورکولو د پاره که پرې اوشيندئ نو جائز دي. (مَدَنی وصِيَّت نامه)

❁ بعضې خلق د خپل عزيز په قبر د څه صحيح مقصد نه بغير صرف رسمي طور اوبه شيندي دا ناجائزه او اِسراف دے. (فَتَاوٰی رَضَوِيَّه، ۳۷۳/۹ مفهوماً)

❁ **قَبْر** باندې ګُلونه اچول بهتر دي ځکه چه تر څو پورې لامده وي نو تَسْبِيْح به کوي او د مړي زړه به ورسره خوشحاليږي. (رَدُّالْمُحْتَار، کتاب الصلوٰة، باب صلوٰة الجنازة، مطلب: فی دفن المیت ۱۸٤/۳)

## قَبْر کښې تَبَرُّکات ايښودل د بَرَکت باعِث دي

❁ شَجَره يا عهدنامه قبر کښې ايښودل جائز دي او بهتره دا ده چه د مړي مخې ته د قبلے طرف ته تاخ وکئ او په هغے کښې ئې کيږدئ بلکه په "دُرِّ مُختار" کښې ئې په کفن باندې عهدنامه ليکلو ته جائز وئيلې دي او فرمائيلي ئې دي چه د دې په وجه د بخښنې اُمّيد دے او د مړي په سينه او تندي باندې بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ليکل جائز دي. يو کس د دې وصيَّت کړے وو، د وفات نه پس ئې ورته په سينه او تندي بِسْمِ اللّٰه شريف اوليکله، بيا چا خوب کښې اوليدو، د حال تپوس ئې ترې اوکړو، هغه اُووئيل: چه کله زه قبر کښې کيښودے شوم نو د عذاب فرښتے راغلې، فرښتو چه زما په تندي بِسْمِ اللّٰه شريف اوليدله نو اوئې وئيل: ته د عذاب نه بچ شوې. (الدُّر المُختار معه رَدُّالْمُحتَار کتاب الصلوٰة، باب صلوٰة الجنائز، ۱۸۵/۳) داسې هُم کيدے شي چه په تندي ورته بِسْمِ اللّٰه

شريف اوليکئ او په سينه ورته لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوليکئ (رَدُّالْمُحْتَار، کتاب الصلوة، باب صلوة الجنازة، مطلب: فی ما یکتب علی کفن المیت ۳/۱۸۶)

❁ که **قَبْر** کنستونکے په **قَبْر** کښې تاخ جوړ نه کړي نو دا تَبَرُّکات د کفن د پاسه ايښودلے شئ. (دارُالْاِفتاء اَهلِسُنَّت)

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** تاسو کښې چه څوك کولے شئ نو عهدنامه يا شَجَره شريف يا دواړه په **قَبْر** کښې کَږدئ اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی د دې په بَرَکت به ستاسو د عزيز مشکلات آسان شي او **قَبْر** کښې به ورته راحتونه نصيب شي. راځئ! چه يو دغسې مَدَنـي سپرلے واورو! چنانچه

## قَبْر کښې ورته راحتونه نصيب شو

زم زم نګر (حيدر آباد بابُ الاسلام سنده) نه راغلي يو مکتُوب [يعنی خط] کښې څه داسې لِيك وو: اګست 2004ء کښې يوه عَطّارِيَّه اسلامي خور وفات شوه. هغے ته چه د دعوتِ اسلامي کومې مُبَلِّغې اسلامي خور غُسل ورکړے وو هغے د مرحومې خپلوانو ښځو ته د اميرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه عطا کړي شَجَرۀ قادِرِيَّه رَضَوِيَّه عَطّاريه ورکړه او د هغے په **قَبْر** کښې د ايښودلو مشوره ئې ورکړه. چنانچه د هغے د کور سړو شَجَرۀ عالِيَّه د هغے په **قَبْر** کښې کيښودله، څه موده پس مرحومه د هغے يوے خپلواني ښځې په خوب کښې اوليدله چه په يوه شانداره بستره ناسته ده او ډيره خوشحاله ښکاري. مرحومه مُسکئ شوه او څه داسې ئې اُووئيل: دا شَجَره شريف واخله او هغه اسلامي خور ته ئې شُکريه سره بيرته ورکړه، دا د هغے امانت دے. اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د دې شَجَرۀ (عَطّاريه) په بَرَکت زه په **قَبْر** کښې ډيره په سُکون يم. (شرح شَجَرۀ عالِيَّه قادِرِيَّه عَطّاريه، ص۱۶۹)

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** دا ټول د دعوتِ اسلامي د مَدَني ماحول بَرَکتونه دي چه دے ماحول مونږ ته مسلمانانو سره د ښیګڑې جذبه راکړي ده، تاسو هُم دې مَدَني ماحول سره تړون اوکړئ او خپل **قَبْر** او آخرت بهترولو د پاره مَدَني انعاماتو باندې عمل او مَدَني قَافِلو کښې سفر خپل معمول جوړ کړئ او که تاسو په سلسله قادِرِيَّه عَطّارِيَّه کښې بَيعَت[1] [يعني مُرِيد] ئې نو ځان سره جيب وغيره کښې د شَجَرهٔ عَطّارِيَّه ايښودلو معمول هُم جوړ کړئ اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ په ښکاره سترګو به د دې بَرَکتونه اُووِينئ.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## فاتِحه وئيل او ايصالِ ثواب[2]

❁ فاتِحه اولولئ (يعني د مُرَوّجه سورتونو او آيتونو تِلاوت) اوکړئ او حُضُورِ اکرم صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم [ته ئې تُحفتاً نذرانةً پيش کړئ] او د هغوئ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په وسيله ئې ټولو انبياء و مُرسَلِين، ملائکهٔ مُقرَّبِين، صحابه و صحابِيات، اُمَّهاتُ الـمُؤمِنِين، اهلِ بَيتِ اَطهار، شُهَدائے کرامو و عُلَمائے دِين، اولیائے کرامو و بُزُرګانِ دِين ته ايصالِ ثواب کړئ، بيا ئې ټولو مسلمانانو انسانانو او پيريانو او خُصوصاً مرحوم (يا مرحومې) ته ايصالِ ثواب کړئ [يعني اُوبخښئ].

---

[1] که تر اوسه پورې تاسو د کوم جامِع شرائط پير صاحب نه بَيعَت [يعني مُريد] شوي نه ئې نو په سلسله عاليه قادريه عطاريه کښې د مُرِيد جوړيدو طريقه په صفحه نمبر 35، 52 کښې اوګورئ.

[2] فاتحه لوستلو نه مخکښې د حاضرو خلقو توجه راګرځولو د پاره د تِلاوت اعلان وکړئ، د امیرِ اهلسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه ليکلې شوے دا اعلان د کتاب په آخره کښې په دے عُنوان شته دے: "تلاوت نه مخکښې دا اعلان وکړئ"

❁ خخولو نه پس د **قَبْر** سر طرف ته د سُوْرَةُ البَقَرَه اوله رُکُوع الٓمّٓ نه مُفلِحُوْن او ښپو طرف ته آخرئ رُکُوع د اٰمَنَ الرَّسُوْلُ نه د سورت ختميدو پورې وئيل **مُسْتَحَب** دي.[1] (جَوْهَرة نيرة، كتاب الصلوٰة، باب الجنائز ص۱٤۱)

❁ د **قَبْر** سر ته مخ په قبله اودريږئ او اذان اوکړئ چه دا د مړي د پاره ډير زيات فائده مند دے. (فَتَاوىٰ رَضَوِيَّه ٥/٣٧٠ ماخوذاً)

## خخولو نه پس د تَلقِين بيان

❁ بيا ورته تلقين اوکړئ ځکه چه سُنَّت دي، حديثِ پاك کښې دي: چه کله ستاسو څوك مسلمان ورور مړ شي او هغه باندې خاورې واړوئ نو تاسو کښې دِ يو کس د **قَبْر** بر سر ته اودريږي او دا دِ اُووائي: اے فلانکيه د فلانکئ ځويه! هغه به اوري او جواب به نه ورکوي. بيا دِ اُووائي: اے فلانکيه بن فلانکئ! هغه به سم کښيني. بيا دِ اُووائي: اے فلانکيه بن فلانکئ! هغه به وائي: مونږ ته اِرشاد کړه، **الله** تعالٰی دِ په تا رحم اوکړي، خو تاسو ته د هغه د وئيلو خبر نه کيږي. بيا دِ اُووائي:

اُذْكُرْ مَا خَرَجْتَ عَلَيْهِ مِنَ الدُّنْيَا: شَهَادَةَ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ، وَاَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ (صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) وَاَنَّكَ رَضِيْتَ بِاللّٰهِ رَبًّا وَّ بِالْاِسْلَامِ دِيْنًا وَّ بِمُحَمَّدٍ (صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) نَبِيًّا وَّبِالْقُرْاٰنِ اِمَامًا۔

ترجَمه: ”ته هغه ياد کړه په کومه چه ته د دُنيا نه اُووتلې يعني دا ګواهي چه د **الله** نه سِوا هيڅ څوك د عبادت لائق نشته او **مُحَمَّد** صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغه بنده او رسُول دے. او دا

[1] د سُوْرَةُ البَقَرَه دا دواړه رُکُوع په صفحه نمبر 349 او صفحه نمبر 350 باندې اُوګورئ.

چه ته د الله په ربّ کيدو او د اسلام په دِين کيدو او د مُحَمَّد صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نبي کيدو او د قرآن په امام کيدو باندې راضي وې.

مُنکَر نکِير به يو بل د لاسه اونيسي او وائي به راځئ چه ځو مونږه د هغه خوا ته ولې کښينو چا ته چه خلقو د هغه حُجَّت [يعني د سوالونو جوابونه] زده کړي دي. په دې باندې چا عرض اوکړو: يارَسُولَ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! که د هغه د مور نوم معلوم نه وي؟ حُضُور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائيل: نو د حَوَّا (رَضِیَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا) طرف ته دِ ئې نسبت اوکړي. (معجم کبیر للطبرانی ج۸ ص۲۵۰ حدیث ۷۹۷۹)

**ياد ساتئ!** د فُلان اِبنِ فلانة [يعني فلانکيه د فلانکئ ځويه] په ځائے د مړي او د هغه د مور نوم اخلئ، مَثَلاً يا محمد اِلياس بن اَمِينه. (که مړے اسلامي خور وي نو مَثَلًا) يا فاطِمه بنتِ حلِيمه وغيره او تلقين صِرف په عربئ کښې لولئ.

بعضې اَجِلَّه اَئِمَّه تابِعِين فرمائي: چه کله قبر باندې خاورې واړولے شي او خلق بيرته ځي نو مُسْتَحَب ګڼرلے شي چه د قبر خوا ته [يو کس] اودريږي او مړي ته اُووائي:

يَافُلَان! قُلْ لَااِلٰهَ اِلَّا الله (درې ځله)

ترجَمه: اے فلانکيه! ته اُووايه چه د الله نه سِوا هيڅ څوك معبُود نشته.

(نوټ: د لته د يا فُلان په ځائے د مړي نوم اخلئ مَثَلًا يا اِلياس! او يا فاطِمه! وغيره)

بيا دِ داسې اُووائي: قُلْ رَّبِّيَ اللهُ وَدِيْنِيَ الْاِسْلَامُ وَنَبِيِّ مُحَمَّدٌ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

(شَرْحُ الصُّدُور بِاَب مَا يقَال عند الدفن و التلقين، ص۱۰۶)

ترجَمه: ته اُووايه! زما رب الله دے او زما دِين اسلام دے او زما نبي مُحَمَّد صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے.

اعلٰے حضرت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه په دې باندې دومره نوره اِضافه فرمائيلي ده:

وَاعْلَمْ اَنَّ هٰذَيْنِ الَّذِيْنَ اَتَيَاكَ اَوْ يَاْتِيَانِكَ اِنَّمَا هُوَ عَبْدَانِ لِلّٰهِ لَا يَضُرَّانِ وَ لَا يَنْفَعَانِ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ فَلَا تَخَفْ وَلَا تَحْزَنْ وَاشْهَدْ اَنَّ رَبَّكَ اللّٰهُ وَ دِيْنَكَ الْاِسْلَامُ وَ نَبِيَّكَ مُحَمَّدٌ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ثَبَّتَنَا اللّٰهُ وَ اِيَّاكَ بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَ فِي الْاٰخِرَةِ اِنَّهُ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ۔

ترجَمه: او پوهه شه چه دا دوه کسان کوم چه تا له راغلي دي يا به راځي، دا د **الله** بندګان دي. د **الله** د حُکم نه بغير نه ضرر رسوي نه فائده، پس مه يَريږه او مه غم کوه او ته ګواهي ورکړه چه ستا رب **الله** دے او ستا دين اسلام دے او ستا نبـی **مُحَمَّد** صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے، **الله** دِ مونږه او تا په قَولِ ثابِت باندې ثابِت لري، د دُنيا په ژوند کښې او آخرت کښې، بيشکه هغه بخښونکے او مهربانه دے.[1] (بهارِ شرِيعت حِصّه ٤، ١/٨٥١ و فَتَاوىٰ رَضَوِيَّه ٩/٢٢٣)

---

[1] د اسلامي خور قبر ته ودريږئ او داسې تلقين ورته وکړئ:

يَا فُلَانَةُ بنتَ فُلانَةٍ! اُذْكُرِيْ مَا خَرَجْتِ عَلَيْهِ مِنَ الدُّنْيَا: شَهَادَةَ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ، وَاَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ (صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) وَاَنَّكِ رَضِيْتِ بِاللّٰهِ رَبًّا وَّبِالْاِسْلَامِ دِيْنًا وَّبِمُحَمَّدٍ (صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) نَبِيًّا وَّبِالْقُرْاٰنِ اِمَامًا۔

ترجَمه: "ته هٰغه ياد کړه په کومه چه ته د دُنيا نه اُووتلې يعني دا ګواهي چه د **الله** نه سِوا هيڅ څوك د عبادت لائق نشته او مُحَمَّد صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغه بنده او رسُول دے. او دا چه ته د الله په ربّ کيدو او د اسلام په دِين کيدو او د مُحَمَّد صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نبـی کيدو او د قرآن په امام کيدو باندې راضي وې.

بيا داسې اُووائې: "يَافُلَانَةُ! قُوْلِيْ لَا اِلٰهَ اِلَّا الله" (درې ځله اُووائې)

تَرجَمه: اے فلانکئ! ته اُووايه چه د **الله** نه سِوا هيڅ څوك معبُود نشته.

قُوْلِيْ رَبِّيَ اللّٰهُ وَ دِيْنِيَ الْاِسْلَامُ وَنَبِيِّ مُحَمَّدٌ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم. (شَرْحُ الصُّدُور باب مايقال عند الدفن و التلقين، ص١٠٦)

تَرجَمه: ترجَمه: ته اُووايه! زما رب **الله** دے او زما دِين اسلام دے او زما نبـي **مُحَمَّد** صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے. (شَرْحُ الصُّدُور باب مايقال عند الدفن و التلقين، ص١٠٦)

اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه په دے باندې دومره نوره اِضافه فرمائيلي ده:

وَاعْلَمِيْ اَنَّ هٰذَيْنِ الَّذِيْنَ اَتَيَاكَ اَوْ يَاْتِيَانِكَ اِنَّمَا هُوَ عَبْدَانِ لِلّٰهِ لَا يَضُرَّانِ وَ لَا يَنْفَعَانِ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ فَلَا تَخَافِيْ وَلَا تَحْزَنِيْ وَاشْهَدِيْ اَنَّ رَبَّكِ اللّٰهُ وَ دِيْنَكِ الْاِسْلَامُ وَ نَبِيَّكِ مُحَمَّدٌ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ثَبَّتَنَا اللّٰهُ وَ اِيَّاكِ بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَ فِي الْاٰخِرَةِ اِنَّهُ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ۔

❁ خخولو نه پس د **قَبْر** خوا ته دومره ساعت حِصاريدل **مُسْتَحَب** دي څومره ساعت چه اوښ حلال کړے شي او غوښه ئې تقسيم کړے شي ځکه چه د دوئي د پاتې کيدو په وجه به مړي ته اُنس [يعني راحت] حاصليږي او د نکيرينو جواب ورکولو کښې به نه يَريږي او دومره ساعته پورې د مړي د پاره دُعا او اِستِغفار کوئ او دا دُعا کوئ چه د نکيرينو د سوالونو په جوابونو کښې ثابت قدم اوسي. (بهارِ شريعت حِصّه ۱.٤/٨٤٦)

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** عام طور چه خلق څنګه مړے خخ کړي نو فوراً د قبرستان نه روان شي، مړي ته اُنسِيَّت رسولو او عِبرت حاصلولو د پاره لږ ساعت هُم د حصاريدو فِکر نه لري خو اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د عاشِقانِ رسُول مَدَني تحريك **دعوتِ اسلامي** په **مَدَني ماحول** کښې د دې ترغيب ورکولے کيږي او دِير اسلامي وروڼه داسې وي چه هلته حِصار شي او نعت خواني کوي، دُرُود لوَلي او په تِلاوت او نورو اَذکارو کښې مشغول اوسي او مړي ته اُنسِيَّت [يعني راحت] رسوي. څومره خوش نصيبه دي هغه اسلامي وروڼه چه د دعوتِ اسلامي **مَدَني ماحول** کښې شامِل دي او هغوئ داسې اسلامي وروڼو سره نزدے اوسيږي چه هغوئ په ژوند کښې هُم او پس د مرګه هُم خپلو مسلمانانو وروڼو سره د ښيګڑې جذبه لري. راځئ چه دے باره کښې د مفتئ دعوتِ اسلامي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه په باره کښې واورو:

---

ترجَمه: او پوهه شه چه دا دوه کسان کوم چه تا له راغلي دي يا به راځي، دا د **الله** بندګان دي. د **الله** د حُکم نه بغير نه ضرر رسوي نه فائده، پس مه يَريږه او مه غم کوه او ته ګواهي ورکړه چه ستا رب **الله** دے او ستا دين اسلام دے او ستا نبـي **مُحَمَّد** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے، **الله** دِ مونږه او تا په قَولِ ثابِت باندې ثابِت لري، د دُنيا په ژوند کښې او آخرت کښې، بيشکه هغه بخښونکے او مهربانه دے.[1]

(بهارِ شريعت حِصّه ۱.٤/٨٥١ و فَتَاوٰى رَضَوِيَّه ۹/۲۲۳)

## مزار شريف باندې دولس ګينټې د ذِکر و اَذکار سِلسِله

چه کله مفتئ دعوتِ اسلامي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه دفن کړے شو نو د شيخ طريقت، امِيرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَة په ترغيب باندې تقريباً دوه نيم سوه نه زيات اِسلامي ورونړه تقريباً دولسو ګينټو پورې د هغوئ د مزار خوا ته پاتې شوي وو او په نعت خوانئ، اِصلاحي بياناتو او ذِکر و دُرُود کښې مشغول وو او دے دوران کښې د لـمونځونو وختونو کښې جَمعې سره د لـمونځونو سِلسِله هُم جاري وه او بيا د هغه ځائے نه سمدستي يوه مَدَني قَافِلِه هُم تياره شوه او هغه هلته صَحرائے مدينه کښې ووه ورځو پورې بابُ الاسلام سندھ سطح باندې کيدونکي د سُنَّتو ډکې اِجتِماع پورې هُم هلته موجوده وه. (مُفتی دعوتِ اسلامی، ص۷۳)

## د چا قَبْر ګلزار او د چا قَبْر کښې انګار

د بهر نه په ظاهره يو شان ښکاريدو والا قبرونه دننه يو شان نه وي، د چا **قَبْر** دننه د ګُلونو باغ وي او د چا **قَبْر** د سرو انګارونو او لړمانانو او مارانو نه ډک وي، لِهٰذا څوک چه د ګناهونو ډک ژوند تيروي او داسې حالت کښې مړ شي چه **الله** و رَسُول عَزَّوَجَلَّ و صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ترې ناراضه وي او قبر ته ګُوز کړے شي نو په عذاب کښې ګرفتار شي او کوم نيک بندګان چه د ايمان د سلامتيا سره د دُنيا نه رُخصت شي او **الله** و رَسُول عَزَّوَجَلَّ و صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ترې راضي وي نو هغوئ باندې د **الله** تعالٰی رحمتونه نازليږي او ډير په مزو کښې وي.

که تاسو هُم خپل **قَبْر** ګُلِ ګُلزار جوړول غواړئ نو راشئ او خپل **قَبْر** روښانه کولو د پاره، د ګُناهونو عادت ختمولو او د لـمونځونو او سُنَّتو عادت جوړولو د پاره د دعوتِ اسلامي **مَدَني ماحول** سره خپل تَعَلُّق مضبوط کړئ، د سُنَّتو د

تربِيَّت د پاره **عاشِقانِ رَسُول** سره **مَدَني قَافِلو** کښې د سُنَّتو ډك سفر اوکړئ او کامياب ژوند تيرولو او آخرت ښائسته کولو د پاره د مَدَني انعاماتو مطابق عمل کوئ او هره ورځ د فِکرِ مدينه په ذريعه د مَدَني انعاماتو رساله کښې خانې ډکوئ او د هرې مَدَني مياشتې په يکم تاريخ ئې خپل ذِمَّه دار ته جمع کوئ. ستاسو د ترغيب او تَحريص د پاره تاسو ته يو عظيمُ الشّان مَدَني سپرلے اورووم. چنانچه

## کله چه د مُفتئ دعوتِ اسلامي قبر وسپړے شو

امير اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د فيضانِ سُنَّت دويم جِلد باب "**غيبت کی تباہ کاریاں**" کښې فرمائي:

د عاشِقانِ رسُول مَدَني تحريك **دعوتِ اسلامي** د "مرکزی مجلسِ شوریٰ" د رُکن مُفتِئ دعوتِ اِسلامي الحاج اَلحافِظ اَلقاري حضرتِ عَلَّامه مولانا مفتي **محمد** فاروق عطارِي الـمدني رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه په باره کښې زما نيك گُمان دے چه هغه د دعوتِ اسلامي مخلِص مُبلِّغ او د **الله** تعالٰى ويره لرونکے بُزُرگ وو او لکه د دې حديثِ پاك مِصداق چه وو: **كُنْ فِي الدُّنْيَا كَاَنَّكَ غَرِيْبٌ** يعني "دنيا کښې داسې اوسه لکه ته چه مسافر ئې." (صَحيح بُخَارِی ج ٤ ص ٢٢٣ حديث ٦٤١٦) ١٨ **مُحَرَّمُ الْحَرَام** هـ بمطابق 17-2-2006 د **جُمُعې** په ورځ د **جُمُعې** د لـمانځه ادا کولو نه پس خپل کور (گلشنِ اقبال، بابُ الْمَدينه کراچئ) کښې ناڅاپه د زړه د حَرَکت بنديدو په وجه تقريباً د ديرش کاله د ځوانئ عُمر کښې وفات شوے وو. هغوئ رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه په صحرائے مدينه **بابُ الْمَدينه** کراچئ کښې دفن کړے شو. د وفات شريف نه تقريباً ٣ کاله او ٧ مياشتې او ١٠ ورځې پس يعني رَجَبُ الْمُرَجَّب ١٤٣٠هـ بمطابق 18-7-2009 د اتوار په شپه **بابُ الْمَدينه** کراچئ کښې څو څو ګينټو پورې [يعني ډير ساعته پورې] مسلسل تيز باران

اوشو او د هغے په وجه د مفتِئ دعوتِ اسلامي الحاج حافِظ محمد فاروق عطّاری رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه [قَبْر کښې سُورے اوشو او] د **قَبْر** مينځئ حصّه ښکاره شوه. کوم اِسلامي ورونړه چه صحرائے مدينه کښې په حفاظتی اُمورو مُتَعَيَّن وو هغوئي د سحر په وخت کښې اوليدو چه د **قَبْر** نه شنه رنړا راخيژي. کومو اِسلامي ورونړ چه عارضی طور **قَبْر** صحيح کړے وو د هغوئي حلفيه (يعنی په قسم سره) بيان دے چه مونږه اوليدو چه د خخولو نه تقريباً درې نيم کاله پس د مفتئِ دعوتِ اسلامی رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه مبارَک بدن او کفن داسې سلامت وو لکه اوس اوس چه وفات شوے وي، د خخولو په وخت کښې ئې چه کومه شنه شنه عمامه شريفه په سر مُبارك وه هغه اوس هُم هغسې ښکلي ځليدله او د عمامې شريفې ښي طرف ته غوږ ته نزدے ئې د زُلفو مبارکو څه حصّه ښکاريدله، نُوراني تندے ئې ځليدلو او مخ مبارك ئې هُم قبلے ته وو او د **قَبْر** مبارك نه ئې د خوشبُو داسې چپې راتللې چه دِماغ ئې تازه کولو. **قَبْر** ته د بارانه اوبه کوزيدو په وجه دا اِمکان وو چه **قَبْر** به نور هُم کښينې او سليپونه به د مرحوم بدن مبارك ته نُقصان اورسوي لهٰذا د دې واقعې تقريباً لس ورځې پس يعني په ٦ **شَعْبَانُ الْمُعَظَّم** ١٤٣٠ھ (28-7-2009) د چارشنبې په شپه سره د مُفتيانِ کرامو او عُلَمائے عِظامو د زرکاؤ اِسلامي ورونړو غټه اِجتِماع وشوه، غلامزاده ابو اُسَيد حاجي عُبَيد رضا ابنِ عطّار مدني سَلَّمَهُ اللّٰه الغنی د مخکښې نه موجود چاودي په ذريعه **قَبْر** ته دننه کوز شو چه دا اندازه اولګوي چه آيا بدن مبارك د منتقلئ د پاره بهر ته د راويستلو حاجت شته او که نه دغسې هُم **قَبْر** شريف بيا جوړيدے شي. هغوئي دننه جائزه واخستله او د دننه نه ئې د دعوتِ اسلامي د ''دارُالْاِفْتاء اَهلِسُنَّت'' مفتي صاحِب ته صورتِ حال بيان کړلو، مفتي صاحب حکم اوکړو چه بدن مبارَك بهر ته مه را اُوباسئ، غلامزاده حاجي عُبيد رضا ته مُووی کيمره ورکړے شوه چنانچه د زاړه **قَبْر** د دننه ماحول او د پاسه نه د خاورو

وغيره غورزيدو باوُجُود اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ هغوئي د عمامې شريفې، تندي مبارك او د زُلفو د بعضې حِصّے کامیابه مووي جوړه کړله، او هغه لږ ساعت پس په "صحرائے مدينه" کښې لکولو شوو مختلفو پردو باندې زرکاؤ اِسلامي ورونړو ته اُوښودلے شوه، هغه وخت د خلقو جذبات د ليدو قابِل وو، دا رُوح پرور منظر ئې چه اوليدو نو د بيشميره اِسلامي ورونړو په سترګو کښې اوښکې راغلې. د هغے نه پس راتلونکي شپه يعنی د زيارت په شپه ۷ شَعْبَانُ الْمُعَظَّم ۱۴۳۰ھ (بمطابق 29-7-2009)د دعوت اسلامي په مَدَنی چينل باندې براهِ راست "خُصوصی مَدَنـي مُکالَـمه" نشر کړے شوه او په هغے کښې د دنيا د مختلفو مُلکونو لاکونو کتونکو ته د کيمرې په ذريعه محفوظ کړے شوے د قَبْر دننه منظر او تقريباً درې نيم کاله مخکښې وفات شوي د مفتئ دعوت اسلامي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه صحيح سلامت بدن مبارك، عمامه شريفه، تندے مُبارك او د زُلفو مبارکو د څه ويښتو زيارت اوکړے شو. ولې چه دا خبر هر طرف ته خور شوے وو لهٰذا د مختلفو ښارونو د جُدا جُدا عَلاقو د اِسلامي ورونړو د بياناتو خُلاصه ده چه د خُصوصي مَدَنـي مُکالَـمې په دوران کښې ډيرې کوڅې او بازارونه داسې تش شو څنګه چه د مسلمانانو په علاقو کښې د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په مياشت کښې د روژه ماتي په وخت کښې تش شي او په تي وي باندې د هر کور نه د "خُصوصي مَدَنـي مُکالَـمې"آواز راتللو. په هوټلو کښې، د نائي وغيره په دُکانونو کښې چه کوم کوم ځائے ټيويان موجود وو هلته د عوامو رش جوړ شو او مَدَنی چينل باندې ئې د مفتئ دعوتِ اسلامي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د مَدَنـي سپرلي نظّارې کتلې. د يوے اطّلاع مطابِق مَدَنی چينل باندې "خُصوصي مَدَنـي مُکالَـمه" اوريدو او تقريباً درې نيم کاله مخکښې د وفات شوي مفتئ دعوتِ اسلامي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه روغ بدن مبارك ئې چه اوليدلو نو يو غير مسلمه اسلام قبول کړو. اَلْحَمْدُلِلّٰه

عَزَّوَجَلَّ د دعوتِ اسلامي اِشاعتي اِداري مَکْتَبَةُ الْمَدِينه په دې سلسله کښې د شبِ بَراءَت ۱۴۳۰ھ په مُبارکه موقع يوه تاريخي ويډيو ''مفتیِ دعوتِ اسلامی کی جب قبر کھلی'' په نوم جاري کړه د نن تاريخه پورې زرګاؤ ويډيو خرڅي شوي دي.

جَبیں مَیلی نہیں ہوتی دَہَن مَیلا نہیں ہوتا غلامانِ محمد کا کفن مَیلا نہیں ہوتا

(فیضانِ سُنَّت، باب غِیبت کی تباہ کاریاں، جلد ۲، ص۴۶۶)

د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# د تعزِيّت بيان

د تَعزِيَّت لُغَوي معنٰى ده صبر ورکول، دلاسه ورکول، او د دې نه مُراد مصيبت کښې اخته کس ته د صبر تلقِين کول دي، د دې نه علاوه د مړي وارثانو سره افسوس ښکاره کولو، همدردي کولو او دُعائيه الفاظو او د تسلئ ورکولو خبرو ته هُم تعزِيَّت وائي. (اُردو لُغَت، ۲۹۳/۵)

چه کله څوک وفات شي د هغه نزدے خپلوانو ته د تعزِيَّت د پاره تلل سُنَّت دي، دا د ثواب کار دے او د دې هُم فضائل دي چنانچه دے باره کښې دوه حديثونه اوګورئ!

## د يو قيراط همره ثواب

د حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ نه روايت دے چه خورِ نبي صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: چا ته چه د کومې جنازے خبر اوشي او هغه د

مړي اَهل [يعني د کور کسانو] ته ورځي او هغوئي ته تعزِيَّت اوکړي، **الله** تعالٰی به د هغه د پاره يو قِيراط ثواب اوليکي.

(عُمدۃ القاری، کتاب الایمان، باب اتباع الجنائز من الایمان، ۱/۴۰۰، تحت الحدیث ۴۷)

## جَنَّت کښې داخله

حضرتِ سَيِّدُنا **داؤد** عَلَيْهِ السَّلَام يو ځل د **الله** تَبَارَكَ وَتَعَالٰی په بارګاه کښې عرض اوکړو: يا **الله** عَزَّوَجَلَّ! څوك چه صرف ستا رضا غوښتلو د پاره غمژن ته تعزِيَّت اوکړي نو ستا له طرفه د هغه جزا څه ده؟ **الله** تعالٰی اِرشاد اُوفرمائيلو: زه به هغه ته د تقوىٰ لِباس وروا‌غوندم او هغه به د جَهنَّم نه بچ کړم او جَنَّت ته به ئې داخِل کړم. (جامع الاحادیث، حرف القاف، ۵/۳۳۵، حدیث ۱۵۱۸۷)

## د تعزِيَّت نِيَّتونه

❁ رضائے اِلٰهی حاصلولو او ثواب کټلو د پاره به **عاشِقانِ رَسُول** ته تعزِيَّت کووم ❁ سُنَّت باندې به عمل کووم ❁ مرحُوم د پاره به دُعا کووم ❁ د صبر فضائل به ورته بيانووم او د صبر تلقين [يعني ټينګتيا] به ورته کووم ❁ د ژړا او بے صبرئ په صورت کښې که کيدے شوه نو نرمئ سره به ئې پوهه کووم او د دې نه د منع کولو کوشش به کووم. ❁ د مرحوم د پاره به اِيصالِ ثواب کووم او کورنئ ته به ئې د ايصالِ ثواب د پاره د تقسِيمِ رَسائل او مَدَنی قَافِلِه کښې د سفر کولو ترغيب ورکووم. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

د شيخِ طريقت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د رسالے "د نيك جوړيدو نُسخه" د تعزِيَّت مَدَنی کُلونه (د څه ترمِيم سره) وړاندې کيږي، اوګورئ:

# ”تعزِيَت سُنَّتِ مبارکه دے“ د شپارسو حُروفو په نِسبَت د تعزِيَت ١٦ مَدَنـي ٹکلونه

۞ ٣ فرامِينِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: ﴿١﴾ څوك چه مصيبت كښې اخته [كس] ته تعزيت اوكړي [يعني هغه ته د صبر نصيحت اوكړي يا ئې تپوس اوكړي] د هغه د پاره د هغه مصيبت كښې اخته كس په شان ثواب دے. (تِرمِذِی، کتاب الجنائز، باب: ما جاء فی أجر من عزی مصاباً ج٢، ص٣٣٨ حدیث١٠٧٥) ﴿٢﴾ كوم بنده مومِن چه د خپل يو مصيبت كښې اخته ورور تعزِيَت اوكړي الله تعالٰى به د قيامت په ورځ هغه ته د گرامَت جوړه وركړي. (اِبنِ مَاجَه، کتاب الجنائز، باب: ما جاء فی ثواب من عزی مصاباً ج٢، ص٢٦٨ حدیث١٦٠١) ﴿٣﴾ څوك چه يو غمژن ته تعزِيَت اوكړي الله تعالٰى به هغه ته د تقوٰى لِباس وركړي او د رُوحونو په مينځ كښې به د هغه په رُوح باندې رَحمت اوفرمائي او څوك چه يو مصيبت كښې اخته [كس] ته تعزيت اوكړي الله تعالٰى به هغه ته د جَنَّت په جوړو كښې دوه داسې جوړې وركړي چه د هغے قِيمت (تولـه) دُنيا هُم نه شي كيدے (اَلْمُعْجَمُ الْاَوْسَط، باب الهاء من اسمه هاشم ج٦، ص٤٢٩ حدیث٩٢٩٢) ۞ حضرتِ سَيِّدُنا مُوسٰى كليمُ الله عَلٰى نَبِيِّنَا وَعَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام د اللهُ رَبُّ الْعِزَّت په بارگاه كښې عرض اوكړو: اے زما ربّ عَزَّوَجَلَّ! هغه څوك دے چه ستا د عرش په سوري كښې به وي چه په كومه ورځ به د هغے نه علاوه بل سورے نه وي؟ الله تعالٰى اُوفرمائيل: ”اے مُوسٰى (عَلَيْهِ السَّلَام)! هغه خلق څوك چه د مريضانو عيادت [يعني پوښتنه] كوي، د جنازے سره ځي او د يو وفات شوي ماشوم مور ته تعزيت كوي“ (تمهید الفرش للسیوطی ص٦٢) ۞ د تعزِيَت معنٰى ده: مصيبت كښې اخته كس ته د صبر تلقين [يعني نصيحت] كول.“

تعزِيَت مسنُون (يعني سُنَّت) دے" (بهارِشريعت ج١ ص٨٥٢) ❁ د [مړي د] خخولو نه مخکښې هُم تعزِيَت جائز دے، خو غوره دا دي چه د خخولو نه پس اوشي، دا هله ده چه د مړي د کور کسان جَزَع و فَزَع (يعني ژړا، غوغا) نه کوي، کَنې د هغوئي د تسلئ د پاره دِ ئې د خخولو نه مخکښې اوکړي (جوهرة نيرة، كتاب الصلوٰة، باب الجنائز ص١٤١) ❁ د تعزِيَت وخت د مرګ نه درې ورځو پورې دے، د هغے نه پس مکروه دے ځکه چه غم به تازه کيږي خو چه تعزِيَت کوونکے يا چا ته چه تعزِيَت کيږي هغه وخت هلته موجود نه وي يا موجود دے خو هغه ته عِلم نشته نو وروسته باك نشته (ايضاً، رَدُّالْمُحْتَار، كتاب الصلوٰة، باب صلوٰة الجنائز، مطلب فی كراهية الضيافة من اهل الميت ج٣ ص١٧٧) ❁ (تعزِيَت کوونکے دِ) عاجزي او اِنکساري او غم خفګان ښکاره کړي، خبرې دِ کمې کوي او د مُسکي کيدو نه دِ ځان ساتي ځکه چه (په داسې موقع باندې) مُسکي کيدل (په زړونو کښې) بُغض او کِينه پيدا کوي. (آدابِ دِين (مترجم) ص٣٥) ❁ **مُسْتَحَب** دا دي چه د مړي ټولو اَقارِبو [يعني نزدے خپلوانو] ته تعزِيَت اوکړي، غټو او وړو، سړو او ښځو ټولو ته، خو ښځو ته دِ صِرف د هغے محارِم تعزِيَت کوي. (بهارِ شريعت حصّه ٤، ج١، ص٨٥٢) په تعزِيَت کښې دِ دا وائي: **الله** تعالٰی دِ تاسو ته صبرِ جميل درکړي او په دې مصيبت دِ اجرِ عظيم درکړي او **الله** تعالٰی دِ د مرحُوم بخښنه اوکړي. نبـيِّ کريم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دې الفاظو کښې تعزِيَت فرمائيلے دے: **اِنَّ لِلّٰهِ مَا اَخَذَ وَ لَهُ مَا اَعْطٰى وَكُلٌّ عِنْدَهٗ بِاَجَلٍ مُّسَمًّى فَلْتَصْبِرُ** (ترجمه:) صرف د الله دي څه چه هغه واخستل او څه ئې ورکړل او د هغه په نزد هر څيز د يو مقرر وخت پورې دے، لِهٰذا صبر اوکړه او د ثواب اُمِيد ساته. (بُخارِی، كتاب الجنائز، باب قول النَّبِی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يعذب الميت ببعض بكاء...الخ، ج١ ص٤٣٤ حديث١٢٨٤) ❁ د مړي د اَعِزَّه (يعني عزيزانو) د دې د پاره په کور کښې کښيناستل چه خلق د تعزِيَت د پاره

راشي، په دې کښې باك نشته او د کور د دروازے مخې ته يا په عامه لار کښې دړئ وغيره خوړول او هلته کښيناستل بده خبره ده. (عالمگيری، کتاب الصلوٰة، الباب الحادی والعشرون فی الجنائز، الفصل السادس فی القبر و الدفن... الخ ومما یتصل بذلك مسائل ج۱، ص۱٦۷، و رَدُّالْمُحْتَار کتاب الصلوٰة، باب صلوٰة الجنائز مطلب: فی کراهة الضیافة من اهل المیت ۳/۱۷٦) ❁ د قبر خوا ته تعزِيَت کول مکروه (تنزيهي) دي. (دُرِّ مُختار معه رَدُّالْمُحْتَار کتاب الصلوٰة، باب صلوٰة الجنائز ج۳ ص۱۷۷) ❁ بعضو قومونو کښې د وفات نه پس راتلونکي ورځومبي شَبِ براءَت يا د ورځومبي اختر په موقع عزيزان او اَقرِباء د مړي والا کور ته د تعزِيَت د پاره راجمع کيږي دا رسم غلط دے، خو که چا په څه وجه تعزِيَت نه وو کړے او هغه د اختر په ورځ تعزِيَت اوکړي نو باك نشته، هُم دغسې په ورځومبي راتلونکي غټ اختر چه د مړي د کور کومو کسانو باندې قرباني واجِب وي هغوئي به قرباني کوي کنې ګنهګار به شي. دا هُم ياد ساتئ چه د غم [درې] ورځې تيريدلو نه باوجود د اختر په ورځ په مړي پسے غم کول يا د غم په وجه سپې جامے وغيره نه اغوستل ناجائزه او ګناه ده. البته که هسې څه سپه لِباس وغيره نه اغوندي نو ګناه نشته ❁ چا چه يو ځل تعزِيَت اوکړو د هغه د پاره بيا تعزِيَت له ورتلل مکروه دي (دُرِّ مُختار معه رَدُّالْمُحْتَار کتاب الصلوٰة، باب صلوٰة الجنائز ج۳ ص۱۷۷) ❁ که د تعزِيَت د پاره سپځې د دې د پاره راجمع شي چه نوحه اوکړي [يعني په اوچت آواز ژړا، يا خپل ويښته شوکول او کپړے شلول او خپل مخ په څپيړو وهل او د مړي د دروغو صفتونه يعني ستائنې کوي] نو هغوئي ته طعام مه ورکوئ ځکه چه دا په ګناه کښې مدد ورکول دي (بهارشریعت حصّه ٤، ج۱، ص ۸۵۳) ❁ **نوحه** يعني د مړي صفتونه په مبالغه (يعني په زياتوالي) سره بيانول او په آواز ژړل چه هغے ته "**نَيـن**" وائي بِالاِجماع حرام دي. هُم دغسې بد حال کول، هائے دا څنګه

مصيبت دے وئيل او چغې سُورې وهل (ایضاً ص۸۵٤، جوهرة نیرة، کتاب الصلوٰة، باب الجنائز ص۱۳۹) ❁ طبيبان وائي (چه څوك د خپل عزيز په مرګ باندې سخت خفه وي د هغه) په مړي پسے بالکل د نه ژړلو په وجه سخته بيماري پيدا کيږي، د اُوښکو بهيدلو سره د زړه کرمي اُوځي، ځکه د دې (نوحه نه بغير) ژړا نه هيڅ کله هُم منع کول نه دي پکار (مِراٰۃُ المناجیح، میت پر رونے کا بیان ج۲ ص۵۰۱) ❁ **مُفَسِّرِ شَهِير حَكِيمُ الْاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: د تعزِيَت داسې ښکلي الفاظ پکار دي چه د هغه غمژن تسلي پرې اوشي، د فقير تجربه ده چه که په داسې موقع د کربلا واقعات بيان کړے شي نو ډيره تسلي پرې کيږي. ټول تعزِيَتونه ښه دي خو د ماشوم په وفات کيدو باندې (د محارِمو له طرفه د ماشوم) مور ته تسلي ورکول ډير ثواب دے. (مِراٰۃُ المناجیح، میت پر رونے کا بیان ج۲، ص ۵۰۷ مُلَخَّصاً) ❁ که د مړي ګاونډيان يا د لرې خپلوان د مړي د کور والؤ د پاره د هغه ورځې او شپے د پاره طعام راوړي نو بهتره ده او په هغوئ دِ ئې په زارئ اُوخوري. (رَدُّالْمُحْتَار، کتاب الصلوٰۃ، باب صلوٰۃ الجنائز، مطلب فی الثواب علی المصیبۃ ج۳ ص۱۷۵)

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** په ټوله دُنيا کښې د نيکئ د دعوت عام کولو درد لرونکي مَدَنـي تَحريك د عاشِقانِ رسُول مَدَني تحريك دعوتِ اسلامي د سُنَّتو ډك مَدَنـي ماحول سره تړون اوکړئ او خپل ژوند د سُنَّتو مطابق د تيرولو کوشش کښې مصروف شئ. د امير اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په عطا کړو مَدَني انعاماتو عمل کوئ او **عاشِقانِ رَسُول** سره **مَدَني قَافِلو** کښې سفر خپل معمول جوړ کړئ. راځئ! چه د تعزِيَّت انداز زده کولو د پاره اُمَّت سره د خير ښيګڑي جذبه لرونکي، د غمژنو غمراز، امير اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه يو مکتوب اوګورئ.

## مکتوبِ تَعزِیَّت از امیرِ اَہلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ

بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ د سګې مدینه محمد اِلیاس عَطّار قادِرِي رَضَوِي عُفِيَ عَنْهُ له طرفه د مرحوم محمد شان عَطّاري رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه د لواحقِینو [یعني د کورنۍ د کسانو] په خدمت کښې د مدینے په خوږوالي خوږ شوے سلام،

اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ و رَحْمَةُ اللّٰهِ وَ بَرَكَاتُهٗ، اَلْحَمْدُ لِلّٰه رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ عَلٰى كُلِّ حَال.

خبر شوم چه محمد شان عَطّاري په حادِثه کښې وفات شوے دے. **اللّٰه** تعالٰی دِ مرحوم باندې رحمتونه نازِل کړي او د هغه په **قَبْر** دِ د رَحمت او رِضوان ګُلونه اُووروي، د هغه د قبر او د خوږ مَدَنـي آقا صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د روضې مُبارکې تر مینځه چه څومره پردے رُکاوټ دي **اللّٰه** پاك دِ هغه ټولې لرې کړي او مرحوم ته دِ د رَحمتِ عالَم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دیدار نصیب شي. **اللّٰه** تعالٰی دِ د مرحوم مغفِرت اوکړي او جَنَّتُ الفردوس کښې دِ د مَدَنـي حبیب صَلَّى اللّٰه تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاونډ ورنصیب کړي او د مرحوم اقربا ته دِ صبرِ جمیل او به صبرِ جمیل دِ اجرِ جزیل ورکړي. اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

عجب سرا ہے یہ دنیا یہاں پہ شام وسحر　　کسی کا کوچ کسی کا قیام ہوتا ہے

افسوس! سګ مدینه خپل ځان د نیکو نه لرې او ګناهونو نه ډك ویني. خو **اللّٰه** رَبُّ الْعِزَّت په دې اَمر باندې ضرور قادِر دے چه ګناه او قصور په نیکو کښې بدل کړي لـهذا د **اللّٰه** پاك نه دا اُمید لرم چه هغه به زما ګنهګار و بد کِردار ګناهونه د خپل خوږ حبیب صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خاطر ضرور په نیکو کښې بدل کړي او په هُم دې اُمّید زه د خپل ژوند ټولې نیکۍ د خوږ

مُصطَفیٰ صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دربار کښې نذر کووم او [د هغوئ صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په وسیله ئې] محمد شان عَطّاري ته بخښم.

عجیبه دُنیا ده یو طرف ته جنازه اوچتیږي او بل طرف ته څوك ناوك جوړوي. یو طرف ته د خوشحالئ سازونه غږیږي نو بل طرف ته څوك په مړي پسے ژړیږي.

نسیم صبح گلشن میں گلوں سے کھیلتی ہو گی　　کسی کی آخری ہچکی کسی کی دل لگی ہو گی

د مرحوم محمد شان عَطّاري د ایصالِ ثواب د پاره دِ د کور هر یو سړے (چه عُمر ئې د شلو کالو نه زیات وي) کم از کم یو ځل دِ د دعوتِ اسلامي د درې ورځو مَدَني قَافِلې سره ضرور سفر اوکړي. ستاسو ښار کښې د دعوتِ اسلامي کیدونکي هفته واره د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې د شرکت ټولو ته مَدَني عرض دے.

جہاں میں ہے عبرت کے ہر سو نمونے　　مگر تجھ کو اندھا کیا رنگ و بو نے
کبھی غور سے بھی یہ دیکھا ہے تو نے　　جو آباد تھے وہ مکاں اب ہیں سو نے
جگہ جی لگانے کی دنیا نہیں ہے　　یہ عبرت کی جا ہے تماشہ نہیں ہے

والسّلام مع الاکرم
۳۰ مُحَرَّمُ الْحَرَام ھ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　　صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

(جَنَّت کی تیاری ص۷۰)

# د نوحه بیان

د مړي صِفتونه په مُبالغه سره [یعني د دروغو صِفتونه] بیانولو او په آواز ویستلو سره ژړلو او چغې او سورې وهلو ته نوحه وائي. دې ته بَین هُم وائي. دا اَفعال [یعني کارونه] د جاهِلیَّت د زمانې دي او بِا لاِجماع حرام دي. داسې کولو والا ښځې او سړي د سخت شدید عذاب حقدار دي.

(جَوْهَرة نیرة کتاب الصلوٰة، باب الجنائز ص۱۳۹)

## نوحه سره مُتَعَلِّق پینځه پیرائے

﴿۱﴾ تَعزِیَّت د پاره اکثر خپلوانې ښځې راجمع شي او ژړاګانې او نوحه کوي، هغوئي داسې کولو نه منع کول پکار دي ځکه چه حدیث کښې د هغوئي د پاره سخت وَعِید دے چنانچه

## جَهنَّمیانو ته غپلو والا ښځې

د حضرتِ سَیِّدُنا اَبُو هُرَیره رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه روایت دے چه د **الله** تعالٰی خوږ نبي صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: بیشکه دا نوحه کوونکي [زنانه] به د قیامت په ورځ جَهنَّم کښې دوزخیانو نه ښي او ګڅ طرف ته دوه صفونو کښې ودرولے شي او دوزخیانو ته به داسې غاپي څنګه چه سپئ غاپي.

(اَلْمُعْجَمُ الْاَوْسَط للطبرانی، من اسمه احمد، ٦٦/٤، حدیث ٥٢٢٩)

﴿۲﴾ ګریوان شلول، مخ شوکول، ویښته خلاصول، په سر خاورې اچول، سینه وهل، خپل ورون په لاسو وهل، دا ټول د جاهِلِیَّت کارونه دي او حرام دي.

(عالمګیری کتاب الصلوٰة، الباب الحادی والعشرون فی الجنائز، الفصل السادس فی القبر و الدفن...الخ ومما یتصل بذلك مسائل، ١٦٧/١)

﴿۳﴾ درې ورځو نه زيات خفګان [ښکاره کول] جائز نه دي، خو ښځه دِ د خاوند په مرګ څلور مياشتې او لس ورځې خفګان کوي. (بُخارى كتاب الجنائز، باب احداد المرأة على غير زوجها، ۱/۴۳۲، حديث۱۲۸۰)

﴿۴﴾ په آواز ژړل منع دي او که آواز نه اوچتيږي [يعني نه اُوځي] نو د دې مُـمانَعت نشته، بلکه حُضُورِ اَقدَس صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د (خپل شهزاده) حضرتِ اِبراهِيم رَضِیَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ په وفات بُکا فرمائيلې وه (يعني اُوښکې ئې بهيدلې وې). (جَوْهَرة نيرة كتاب الصلوة، باب الجنائز ص۱۳۹)

﴿۵﴾ د حضرت عبدُالله اِبنِ عُمر رَضِیَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا نه روايت دے چه حُضُورِ اکرم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د سترګو د اوښکو او د زړه د غم په سبب **الله** تعالٰى عذاب نه فرمائي او ژبې ته ئې اشاره اوکړه او اوئې فرمائيل: خو د دې په سبب عذاب يا رَحم فرمائي او د کور د کسانو د ژړا په وجه مړي ته عذاب کيږي. (بُخارى، كتاب الجنائز، باب البكاء عند المريض، ۱/۴۴۱، حديث۱۳۰۴)

يعني که هغه [د ژړا کولو] وصِيَّت کړے وي يا هلته د ژړا رواج وي او منع کړي ئې نه وي وَاللهُ تَعَالٰى اَعْلَم يا دا مُراد دے چه د هغوئ په ژړا هغه ته تکليف رسيږي ځکه چه بل حديثِ پاك کښې راغلې دي: اے د **الله** (تعالٰى) بندګانو! خپلو مړو ته تکليف مه ورکوئ، چه کله تاسو په ژړا شئ هغه هم ژاړي. (بهار شريعت حصّه ۴، ۱/۸۵۶)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# زیارتِ قُبُور

د قبرونو زیارت کول [یعني لیدلو د پاره تلل] زمونږ د خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي لِـهذا مونږ ته په دې سُنَّت هُم عمل کول پکار دي. چنانچه

# د آخِرت یاد

د رَسُولِ اکرم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډك فرمان دے: ما تاسو د قبرونو د زیات نه منع کړي وئ، اوس تاسو د قبرونو زیات کوئ ځکه چه هغه د دُنیا نه د بے رَغبتئ سبب دي او د آخرت یاد ورکوي.

(سُنَنِ اِبنِ مَاجَه، کتاب الجنائز، باب ما جاء فی زیارة القبور، ۲/۲۵۲، حدیث ۱۵۷۱)

لِـهذا د عِبرت او مرګ یادولو د پاره مونږ ته موقع په موقع د خپلو عزیزانو او خپلوانو د قبرونو زیارت د پاره تلل پکار دي او د مور و پلار د قبرونو زیارت خو معمول جوړول پکار دي. راځئ چه د زیارتِ قُبُور مُتَعَلِّق د امیرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د رسالے "د قبرونو والؤ حِکایات" نه مَدَنـي ګُلونه (د څه بدلون سره) واورو.

# "زیارتِ قُبُور سُنَّت دي" د څوارلسو حُروفو په نِسـبت ۱٤ مَـدَنـي ګلـونـه

❁ د مسلمانانو د قبرونو زیارت سُنَّت او د اولیاءِ کِرام او شُهَداءِ عِظام رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰى مزاراتو ته حاضریدل د سعادت د پاسه سعادت [یعني ډیره زیاته نیك بختي] ده او هغوئي ته اِیصالِ ثواب مندوب (یعني خوښ شوے کار) دے.

(فَتَاوٰی رَضَوِیَّه مُخَرَّجَة، ج۹، ص۵۳۲)

## په ادیره کښې [قبرونو ته] د سلام کولو طریقه

❁ داسې اودریږئ چه قبلے طرف ته مو شا او قبرونو والؤ طرف ته مو مخ وي، د هغے نه پس په تِرمِذي شریف کښې بیان شوے دا سلام اووائې:

اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَا اَهْلَ الْقُبُوْرِ يَغْفِرُ اللّٰهُ لَنَا وَلَكُمْ اَنْتُمْ سَلَفُنَا وَنَحْنُ بِالْاَثَرِ.

**ترجمه:** اے قَبْر والؤ! په تاسو دِ سلام وي، الله تعالیٰ دِ زمونږه او ستاسو بخښنه وکړي، تاسو زمونږ نه مخکښې راغلي ئې او مونږه ستاسو نه پس درتلونکي یو. (سُنَنُ التِّرمِذِی، ج۲ ص۳۲۹ حدیث۱۰۵۵)

## اربونو مرحومانو نه د دُعائے مغفرت حاصلولو وظیفه

❁ څوك چه قبرِستان [یعني ادِیرې] ته داخل شي او دا دُعا اووائې:

اَللّٰهُمَّ رَبَّ الْاَجْسَادِ الْبَالِيَةِ وَالْعِظَامِ النَّخِرَةِ الَّتِيْ خَرَجَتْ مِنَ الدُّنْيَا وَهِيَ بِكَ مُؤْمِنَةٌ اَدْخِلْ عَلَيْهَا رَوْحًا مِّنْ عِنْدِكَ وَسَلَامًا مِّنِّيْ.

**ترجمه:** اے الله عَزَّوَجَلَّ! (اے) د دوړیدلو وجودونو او د وراستَو شوو هډوکو ربه! څوك چه د دُنیا نه د ایمان په حالت کښې تلي دي په هغوئي خپل رحمت وکړې او زما سلام ور اورسوې.“

نو د (حضرتِ سَیِّدُنا) آدم عَلَیْهِ السَّلَام نه واخله تر دغه وخته پورې چه څومره مسلمانان وفات شوي وي ټول به د هغه (یعني دُعا لوستونکي) د پاره د بخښنې دُعا کوي. (شَرْحُ الصُّدُور، بَاب زِيَارَةِ القبور و علم الموتى بزوارهم و رؤيتهم لهم، ص۲۲۶)

❁ که [څوك] د قَبْر خوا ته کښیناستل غواړي نو د صاحِبِ قَبْر د مرتبې په لحاظ دِ په ادب کښیني. (رَدُّالْمُحْتَار کتاب الصلوٰۃ باب الصلوٰۃ ج۳، ص۱۷۹)

## د قبرونو د زيارت کولو غوره وختونه

❁ د قبرونو د زيارت د پاره دا څلور ورځې بهترې دي: کُل، زيارت، جُمُعه، خيالي. (عالمگیری کتاب الکراهیة، الباب السّادِس عشر فی زیارة القبور...الخ، ج۵، ص۳۵۰) ❁ د جُمُعې په ورځ د سحر د لـمانځه نه پس د قبرونو زيارت کول افضل [يعني غوره] دي. (فَتَاوٰی رَضَوِیَّه، ج۹، ص۵۲۳) ❁ د شپے يواځې اديرې ته تلل نه دي پکار (فَتَاوٰی رَضَوِیَّه، ج۹، ص۵۲۳) ❁ په مُتَبَرَّکو (يعني مبارکو) شپو د قبرونو زيارت غوره دے خاص طور شَبِ براءَت. (عالمگیری کتاب الکراهیة، الباب السّادِس عشر فی زیارة القبور...الخ، ج۵، ص۳۵۰) هُم دغسې په مُتَبَرَّکو (يعني مبارکو) ورځو کښې هُم د قبرونو زيارت غوره دے مَثَلًا د اخترو (يعني د غټ اختر او واړه اختر) په ورځ، په لسم مُحَرَّمُ الْحَرَام او په عَشَرۂ ذِی الْحِجَّه کښې (يعني د ذِی الْحِجَّه په وړومبو لسو ورځو کښې)

(کتاب الکراهیة، الباب السّادِس عشر فی زیارة القبور...الخ، ج۵، ص۳۵۰)

## په قبر د پاسه اګربتئ بلوَل

❁ په قبر د پاسه اګربتئ بلول نه دي پکار، په دې کښې سوئے ادب (يعني بے ادبي) او بدفالي ده خو که (حاضرو خلقو ته) د خوشبو (کولو) د پاره (لګول غواړئ نو) د قبر په خوا کښې په خالي ځائے کښې ئې اولګوئ ځکه چه خوشبو کول محبوب (يعني خوښ عمل) دے. (فتاوٰی رَضَوِیَّه ج۹، ص۴۸۲، ۵۲۵ مُلَخَّصاً)

## په قبر د پاسه شمع [موم بتئ] اينبودل

❁ په قبر دِيوه يا شمع وغيره مه ګرځوي خو که د شپے په لاره تيرودونکو د پاره رنړا کول مقصد وي نو د قَبْر نه يو طرف ته خالي زمکه باندې شمع يا دِيوه اينبودلې شئ. ❁ اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه نقل کوي: په صحيح مُسلِم شريف

کښې د حضرتِ عمرو بِن عاص رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روايت دے چه هغوئي د [خپل] وفات په وخت کښې خپل فرزند ته اُوفرمائيل: "چه کله زه مړ شم نو زما سره دِ نه ځوك نوحه کوونکي ځي، نه دِ راسره اور ځي."

(مُسلِم کتاب الایمان، باب کون الاسلام یھدم...الخ ص۷۵ حدیث۱۹۲، فَتَاوٰی رَضَوِیَّہ ۹/۴۸۲)

## د کوم قبر معلومات چه نه وي چه دا د مسلمان دے که د کافِر

❁ د کوم قَبْر چه دا حال هُم معلوم نه وي چه دا د مسلمان دے که د کافِر نو د هغے زيارت کول، يا هغے ته فاتِـحه وئيل بالکل جائز نه دي ځکه چه د مسلمان د قَبْر زيارت کول سُنَّت دي او فاتِـحه وئيل مُسْتَحَب، او د کافِر د قبر زيارت کول حرام دي او هغے ته د اِيصالِ ثواب قَصد (يعني اِراده) کُفر دے. (فَتَاوٰی رَضَوِیَّہ، ج۹، ص۵۳۳)

❁ که [ځوك] ځان له کفن تيار ساتي نو باك نشته او [ځان له] قَبْر کنستې ساتل بے معنٰی دي، څه معلومه ده چه کوم ځائے به مري. (دُرِّ مُختار ج۳ص۱۸۳)

ہوں بارِ گنہ سے نہ خجل دوشِ عزیزاں
لِلّٰہ مری نعش کرائے جانِ چمن پھول (حَدائقِ بخشش شریف)

## مُتَفَرِّق مَدَنـي ګلونه

❁ قبرستان کښې د حاضريدو په موقع باندې د اخوا ديخوا خبرو کولو او د غفلت نه ډکو خيالونو په ځائے فِکرِ مدينه يعني خپله مُحاسَبه کوئ، خپل مرګ يادوئ او که کيدے شي نو اوښکې بهيوئ، خپل ګناهونه يادوئ او ځان د قبر د عذاب نه ډير يَروئ او توبه کوئ او داسې تصَوُّر جوړوئ چه څنګه دا مړي نن په خپلو خپلو قبرونو کښې يواځې پراته دي، نزدے ده چه

زه به هُم دغسې توره تِياره قبر کښې يواځې پروت يم او د حديثِ پاك دا الفاظ يادوئ: كَمَا تَدِيْنُ تُدَانُ يعني چه څه کوې هغسې بدله به درکوله شي.
(جامِعُ صغِير للسُّيوطی حرف الکاف، ص۳۹۹ حدیث ٦٤١١)

قبر میں میت اُترتی ہے ضرور  جیسی کرنی ویسی بھرنی ہے ضرور

❁ په شَبِ براءَت کښې يا د هرې حاضرئ په موقع بعضې خلق د خپلو عزيزانو په قبرونو باندې اوبه شيندي، دا اِسراف او ناجائزه دي او که دا ګنړي چه د دې سره به د مړي قبر [دننه] يخ شي نو د اِسراف سره سره صريح جَهالت هم دے، خو د مړي د خخولو په وخت کښې پرې اوبه اچولو کښې باك نشته بلکه بهتر دي. هُم دغسې که په قَبْر بوتې وغيره وي او د هغے د پاره اوبه اچوي نو بيا هُم باك نشته. خو دا ياد ساتئ! چه که اوبه اچولو له تللو د پاره په قبرونو باندې ښپو ايښودلو نه بغير نه شي تللے نو ګنهګار دے، بلکه په داسې صورت کښې دِ ئې په مزدورئ باندې به بل کس هُم نه اچوي.

❁ په قبر ګلونه اچول بهتر دي ځکه چه ترڅو تازه وي تسبيح به کوي او د مړي زړه به راحت کښې وي. (رَدُّالْمُحْتَار ج۳ ص۱۸٤)

❁ هُم دغسې په جنازه باندې د [تازه] ګلونو څادر اچولو کښې باك نشته
(بهارِشريعت ج۱، حصه ٤، ص ۸۵۲)

❁ د قبر نه شنه ګيا شوکول نه دي پکار ځکه چه د هغے د تسبيح سره رَحمت نازليږي او مړي ته اُنس [يعني راحت] حاصليږي. او شوکولو کښې د مړي حق ضائع کول دي. (رَدُّالْمُحْتَار، کتاب الصلوة باب الصلوة الجنازة، مطلب فی وضع الجريد...الخ ۱۸٤/۳)

❁ په **قَبْر** د پاسه ښپه اينبودلو يا اُوده کيدلو سره **قَبْر** والا ته تکليف رسي او بے د شَرعي اِجازته يو مسلمان ته تکليف ورکول حرام او جَهنَّم ته بوتلونکے کار دے. لِهٰذا د يو مسلمان په **قَبْر** دِ نه څوك ښپه کَږدي، نه دِ پرې ورخيژي، نه دِ پرې کښيني او نه دِ ورته ډډه لګوي ځکه چه د دې نه **نَبِيِّ کريم رَءُوْفٌ رَّحِيم** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم منع فرمائيلي دي: **دوه فَرامينِ مُصطَفٰى** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: (۱) ما ته د اور په سکروټه يا په تُوره د پاسه کَرځيدل، يا زما ښپه په څپلۍ کښې ګنډل زيات خوښ دي د دې نه چه زه د يو مسلمان په **قَبْر** اوکَرځم. (اِبنِ مَاجَه کتاب الجنائز، باب ماجاء فی النهی عن المشی علی القبور و الجلوس علیها ج۲ ص۲۵۰ حدیث۱۵۶۸) (۲) که يو کس په انګارونو د پاسه کښيني چه په هغے ئې جامے وسوزي او اور د هغه څرمنې ته اورسيږي، نو دا په **قَبْر** د پاسه ناستې نه بهتره ده. (صحیح مُسلِم، کتاب الجنائز، باب النهی عن الجلوس علی القبر ص۴۸۳ حدیث۱۹۷۱)

❁ اديرې ته په عامه لاره تلل پکار دي، کومه لار چه نوي جوړه شوي وي په هغے تلل نه دي پکار. رَدُّالْمُحْتَار کښې دي: (قبرستان کښې چه قبرونه وران کړے شوي وي او په هغے د پاسه) کومه نوي لار جوړه شوي وي په هغے تلل حرام دي. (رَدُّالْمُحْتَار کتابُ الطَّهارة، باب الانجاس، فصل الاستنجاء، مطلب: القول المرجع علی الفعل ج۱، ص۶۱۲) بلکه که د نوې لارې صرف ګُمان هُم وي نو بيا هُم په هغے تلل **ناجائزه او ګناه** ده. (دُرِّ مُختار معه رَدُّالْمُحْتَار کتاب الصلوة باب صلوة الجنازة ج۳ ص۱۸۳)

❁ ډيرو مزاراتِ اولياء سره ليدلې شوي دي چه د زيارت کوونکو د سهولت د پاره د مسلمانانو قبرونه وران کړے شي او د پاسه پرې فرش جوړ کړے شي. په داسې فرش څملاستل، ګرځيدل، اودريدل او د ذِکر و اَذکار او تِلاوت د پاره کښيناستل وغيره **حرام** دي، د لرې نه ورته فاتِحه لوَلئ.

❁ په قبر د پاسه د اوسيدو کور جوړول، يا په قبر کښيناستل، يا پرې اوده کيدل، يا پرې غټ يا واړه بول کول، دا ټول کارونه اَشَدّ (يعني ډير زيات سخت) مکروه او حرامو ته نزدے دي. (فَتَاوٰی رَضَوِيَّه، ج۹، ص۴۳۶) رَسُولِ اکرم، سيِّدِ عالم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مړي ته په قبر کښې هُم د هغه خبرې نه تکليف کيږي د کومې نه به چه په کور کښې هغه ته تکليف کيدلو. (فِرْدَوْس بِمَأْثُور الْخَطَاب، بَاب الالف، ج۱ ص۱۲۰ حديث۷۴۹)

❁ د اولیائے کرامو رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰى مُبارکو مزاراتو ته تلل جائز دي، هغوئي خپل زائر (يعني مزار ته حاضريدونکي) ته فائده رسوي. که هلته مُنکرِ شرعي وي مَثَلًا د ښځو [او سړو] يو ځائے جمع کيدل نو په دې وجه زيارت پريښودل نه دي پکار ځکه چه د داسې خبرو په وجه نيك کار نه پريښودلے کيږي بلکه هغه دِ بد ګڼړي او که کيدے شي نو بده خبره دِ زائل [يعني لرې] کړي. (رَدُّالْمُحْتَار کتاب الصلوة باب صلوة الجنائز مطلب فی زيارة القبور، ج۳، ص۱۷۸)

# د اِيصال ثواب بيان

د **اللّٰه** تعالٰی رَحمت ډير لوئ دے کوم مسلمانان چه د دُنيا نه رُخصت شي د هغوئي د پاره هُم هغه جَلَّ جَلَالُهٗ د خپل فضل و کرم دروازے برسيره ساتلي دي او څوك چه د هغوئي د پاره اِيصالِ ثواب او دُعائے مغفِرت کوي نو د هغے په بَرَکت هُم **اللّٰه** تعالٰی په هغوئي کرم کوي، راشئ! د **اللّٰه** تعالٰی د کرم مُتَعَلِّق يو حديثِ پاك واورئ، چنانچه

## د دُعائے مغفرت بَرَکت

حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه روايت دے، هغوئي وائي چه **نَبِيِّ کريم رَءُوْفٌ رَّحِيم** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي چه بيشکه **اللّٰه** تعالٰی به د يو

نيك بنده دَرَجه په جَنَّت كښې اوچتوي نو هغه به وائي چه اے زما ربّ عَزَّوَجَلَّ! د څه ځائے نه دا مرتبه ما ته راكړے شوه؟ نو **الله** تعالٰى به فرمائي چه ستا ځوئ ستا د پاره د بخښني دُعا غوښتي ده ځكه تا ته دا دَرَجه دركړے شوي ده. (مِشْكَاةُ المصابيح، كتاب الدعوات، باب الاستغفار و التوبة، ١/٤٤٠، حديث٢٣٤٥)

## حضرت محمد طوسي معلّم رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه

ابو بكر رشيدي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه وائي چه ما حضرت محمد طوسي معلّم رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه په خوب كښې اوليدو نو هغوئ اُوفرمائيل چه اَبُو سعيد صفّار رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه ته اُووايه زمونږه او ستاسو خو مُعاهَده وه چه مونږه به يو بل نه هيروو نو مونږ خو نه يو بدل شوي خو ته بدل شوې. زما سترګې اوغړيدلي او ما اَبُو سعيد صفّار رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه ته د دې خوب تذكِره اوكړه نو هغوئ اُووئيل چه څه درته اُووايم زه به هره جُـمُعه د هغوئ د **قَبْر** زيارت د پاره ورتلم او څه اِيصالِ ثواب به مې ورته كولو خو په دې جُـمُعه زه ورتلو ته ساز نه شوم د هُم دې خبرې هغوئ كِيله كړي ده. (اِحْيَاءُ عُلُومِ الدّين، كتاب ذكر الموت و ما بعده، الباب الثامِن، بيان منامات المشائخ ٥/٢٦٧)

## اِيصالِ ثواب

اِيصالِ ثواب يعني قُرآن مجيد يا دُرُود شريف يا كَلِمهٔ طَيِّبه يا د يو نيك عمل ثواب بل ته بخښل جائز دي. مالي عِبادت يا بدني فرض او نفل د ټولو ثواب نورو ته اِيصال كولے [يعني بخښلے] شئ، د ژوندو د ايصالِ ثواب [يعني ثواب بخښلو] مړو ته فائده رسي. (بهارِ شريعت، حصّه ١٦، ٣/٦٤٢)

شيخ مُحِـيُّ الدِّين اِبن عربي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي چه ما ته حديث رارسيدلے دے چه څوك اويا زره ځله كَلِمه شريفه اولولي، يا ئې څوك اُووائي او چا ته ئې اُوبخښي نو د هغه بخښنه كيږي ما دومره ځله دا كَلِمه وئيلي وه، يوه ورځ

زما سره په دعوت کښې يو صاحِبِ کَشف ځلمي حاضر وو، ناڅاپه په ژړا شو، چه د وجهې تپوس ترې اوشو نو اوئې وئيل چه زه خپله مور په دوزخ کښې وينم. ما هغه وئيلي ګلِمه په زړه کښې د هغه مور ته اُوبخښله. هغه هلك ناڅاپه په خندا شو او اوئې وئيل چه اوس ئې په جَنَّت کښې وِينم. ما د دې حديث صِحَّت د هغه وَلي د کَشف نه معلوم کړو او د هغه د کشف صِحَّت مې د دې حديث نه [معلوم کړو]. (مِرقاةُ الْمَفَاتِيح، کتاب الصلوة باب ما علی المأموم...الخ، الفصل الثانی ج۳ ص۲۲۲، تحت الحديث۱۱٤۲)

لِـهذا اويا زره ځله ګلِمۀ طَيِّبه اولولئ او خپل مرحوم عزيز ته ئې اِيصالِ ثواب کړئ [يعني اُوبخښئ]!

اوس د اميرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د رسالے "فاتِحه او د ثواب بخښلو طريقه" نه د اِيصالِ ثواب مَدَنـي کُلونه (د څه بدلون سره) وړاندې کيږي:

## "د اللّٰه د رَحمَت نه قربان شم!" د نُولَّس حروفو په نِسبَت د اِيصالِ ثواب ۱۹ مدَنی کُلونه

❁ د اِيصالِ ثواب لفظی معنٰی ده: "ثواب رَسَول"، دې ته "ثواب بخښل" هم وائي خو د بُزُرګانو د پاره "ثواب بخښل" مناسب نه دي، "ثواب نَذر کول" وئيل ادب ته زيات نزدے دي. اِمام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: حُضُورِ اقدس صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او بل نبـی يا ولی ته "ثواب بخښل" وئيل بے ادبی ده، بخښل د مشر له طرفه کشر ته کيږي. بلکه نَذر کول يا هديه کول دِ وائي. (فتاوٰی رضويه ج۲٦ ص٦۰۹)

❁ **فرض**، واجِب، سُنَّت، نفل لـمونځونه، روژه، زکوٰة، حج، تِلاوت، نعت شريف، ذِکرُالله، دُرُود شريف، بيان، درس، په مَدَنی قافِله کښې سفر، مَدَنی اِنعامات، مَدَني دوره، د دِيني کتاب مُطالَعه، د مَدَنی کارونو د پاره اِنفِرادي کوشش وغيره د هر نيك کار **اِيصالِ ثواب** کيدے شي.

❁ د **مَړي** دريمه، لسمه، څلويښتمه او برسي [يعني کِيزه] کول ډير ښه کارونه دي ځکه چه دا د اِيصالِ ثواب ذريعې دي. په شريعت کښې د دريمې وغيره کولو خِلاف (يعني د ناجائزه کيدو) هيڅ دليل نشته نو دا خبره پخپله [د دې کارونو] د جائز کيدو دليل دے او د مړي د پاره د ژوندو دُعا کول د قرآنِ کريم نه ثابت دي چه د "اِيصالِ ثواب" اصل دے. چنانچه په سيپاره سُوْرَةُ الْحَشْر آيت ۱۰ کښې اِرشادِ رَبُّ الْعِباد دے:

وَ الَّذِيْنَ جَآءُوْ مِنْۢ بَعْدِهِمْ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَ لِاِخْوَانِنَا الَّذِيْنَ سَبَقُوْنَا بِالْاِيْمَانِ

مَفهُوم ترجمۂ کَنْزُالْاِیمان : او هغه [خلق] چه د هغوئ نه وروستو راغلي دي عرض کوي: اے زمونږه ربه! مونږه اُوبخښې او زمونږه وروڼه [اُوبخښې] چا چه زمونږ نه مخکښې اِيمان راوړې دي.

❁ د دريمې وغيره طعام صِرف په دې صورت کښې د مړي د پرينښودي مال نه کولے شي چه ټول وارثان بالغ وي او ټول اِجازت هم ورکړي که يو وارِث هم نابالِغه وي نو سخت حرام دي.خو بالِغ د خپلې حِصّے نه [د دريمې ورځې خيرات] کولے شي. (فَتَاوٰی خانية، کتاب الحظر و الاباحة، ۳٦٦/٤ و فَتَاوٰی رَضَوِيَّه مُخَرَّج ۹/ ٦٦٤ و بهارِ شريعت حِصّه ٤، ۸۵۳/۱ مُلَخَّصاً)

❁ د دريمې طعام عام طور د دعوت په صورت کښې کيږي په دې وجه د مالدارانو د پاره [خوړل] جائز نه دي صِرف غريبان او مِسکينان دِ ئې خوري، د دې ورځو نه پس هم د مړي د طعام د خوړلو نه مالدارانو (يعني چه فقير نه وي هغوئ) ته ځان ساتل پکار دي. فتاوٰی رضويه جلد۹ صفحه ٦٦٧ نه د مړي

د طعام مُتعَلِّق يو فائده مند سُوال جواب واورئ: **سُوال**: مقوله. **طَعَامُ الْمَيِّتِ يُمِيْتُ الْقَلْب** (د مړي طعام زړه مړ کوي.) مُستند قول دے، که مُستَند دے نو د دې څه معنٰی ده؟ **جواب**: دا د تجربې خبره ده او د دې معنٰی دا ده چه څوك د مړي د طعام خواهش لري د هغوئ زړونه مړه کيږي، د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د ذِکر او اِطاعت د پاره ژوند او تُندي په دې خبره کښې نشته چه هغه د خپلې خيټې د نورئ د پاره د مُسلمانانو د مرګ په اِنتِظار کښې اوسي او د [خيرات] خوړلو په وخت کښې دِ د خپل مرګ نه غافِله او د هغے په خوند کښې مشغوله وي. وَاللّٰهُ تَعَالٰی اَعْلَمُ (فتاوٰی رضویه ج۹ص ٦٦٧)

❁ **د مړي** د کور خلق که د دريمې طعام پوخ کړي نو (مالداران دِ ئې نه خوري) صِرف په فقيرانو ئې اوخورئ. (بهارِشريعت حصّه٤، ١/٨٥٣ مُلَخَّصاً)

څنګه چه د **مَکْتَبَةُ الْمَدِيْنَه** چاپ شوي **بهارِشريعت** جلد اوّل صفحه ۸۵۳ کښې دي: که د مړي د کور کسان د **دريمې** وغيره په ورځ طعام خوړلو د پاره خلق را اوبلي نو دا ناجائزه او بدعتِ **قبيحه** دے ځکه چه دعوت خو د خوشحالئ په وخت مشروع (يعني د شرعي مطابق) وي، د غم په وخت کښې نه. او که فقيران ئې اوخوري نو بيا بهتره ده.

❁ اعلٰی حضرت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: "(بعضې خلق) د څلويښتمې يا کليزې يا د شپږمې مياشتې طعام د اِيصالِ ثواب د نِيَّت نه بغير صرف د رسم و رواج په وجه پخوي او د "واده د طعام" په شان ئې په خپلوانو کښې تقسيموي نو هغه هم بے اصل [يعني بے ثبوته] دي، د دې نه ځان ساتل پکار دي. (فتاوٰی رضویه ۹ / ٦٧١) البته که دا طعام د اِيصالِ ثواب او د نورو ښو ښو نِيَّتونو سره وي نو ډير ښه او د ثواب کار دے، او که څوك د اِيصالِ ثواب د پاره د طعام څه اهتِمام اونکړي نو بيا هم هيڅ باك نشته.

❁ د يوے ورځې ماشوم ته هم اِيصالِ ثواب کولے شئ، د هغه په دريمه کولو کښې هم څه باك نشته، او څوك چه ژوندي دي هغوئ ته هم اِيصالِ ثواب کيدے شي. (د فاتحے طريقه نه ماخوذاً)

❁ انبياء و مرسلين عَلَيْهِمُ الصَّلوٰةُ وَالسَّلَام او فرښتو او مُسلمانان پيريانو ته هم اِيصالِ ثواب کيدے شي. (د فاتحے طريقه)

❁ [په پيرانِ پير صاحب پسے] يوولسمه او رجَبِي شريف (يعني ۱۱ رَجَبُ المُرَجَّب باندې سَيِّدُنا امام جعفر صادِق رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه [ته نذر کولو د پاره] کونډے کول) وغيره جائز دي. په خلقو کِير خوړل په کونډو [يعني يو قِسم د خاورو لوښو] کښې ضروري نه دي په بل لوښي کښې ئې هم خوړے شئ، دا د کور نه بَهر هم وړلے شئ، په دې موقع چه کومې "قِصّے" وئيل کيږي هغه بے اصل [يعني بے ثبوته] دي، [په دې موقع] يٰسٓ شريف لولئ او د لس ځله قرآنِ کريم ختمولو ثواب کتئ او د کونډو سره سره د دې اِيصالِ ثواب هم کوئ.

❁ [د اُردو دا قِصّے] **داستانِ عجيب، شهزادے کا سر، دس بيبيوں کی کہانی** او **جنابِ سَيِّدہ کی کہانی** ټولې د دروغو قِصّے دي، دا بالکل مه لولئ. دغه شان خلق يوه پرچئ د "وَصِيَّت نامه" په نوم تقسيموي، په هغے کښې د "شيخ احمد" خوب ليکلے شوے دے دا هم جعلی (يعني نقلی) دي په هغے کښې لاندې په مخصوص شمير کښې د چاپ کولو او د تقسيمولو فضيلت او د نه تقسيمولو نُقصانونه وغيره هم ليك دي، په دې هم هيڅ اعتِبار مه کوئ. (د فاتحے طريقه)

❁ اولیائے کِرام رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰى ته د ثواب بخښلو د پاره شوي خيرات ته تعظيماً "نذر و نياز" وائي او دا تَبَرُّك دے، دا مالداران او غريبان ټول خوړلے شي. (فاتحه او د ثواب بخښلو طريقه ص۱۸)

❁ د [بزرګانو د] نياز [يعني خيرات] او [د عامو مسلمانانو د] اِيصالِ ثواب په طعام باندې د فاتحه لوستلو د پاره څوك رابلل يا د بَهر په ميلمه خوړل شرط نه

دے، د کور خلق که پخپله فاتحه اولولي او اوئې خوري نو بيا هم څه باك نشته. (فاتحه او د ثواب بخښلو طريقه ص ۱۹)

❁ **هره ورځ** چه څومره طعام د عادت مطابق د ښو ښو نِيَّتونو سره خورئ او په هغے کښې د يو نه يو بُزُرگ د **اِيصالِ ثواب** نِيَّت کوئ نو ډيره به ښه وي. مَثَلاً په ناشته [يعني د سحر چائے او ډوډئ وغيره] کښې نِيَّت اوکړئ: د نن ورځې د ناشتے ثواب دِ سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او د هغوئ په ذريعه ټولو انبيائے کرام عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام ته اورسي. غرمه دا نِيَّت اوکړئ: اوس چه کوم طعام خورو (يا مو خوړلے دے) د دې ثواب دِ غوثِ پاك [يعني پيرانِ پير صاحِب] رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه او ټولو اولیائے کِرام رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰى ته اورسي. ماښام دا نِيَّت اوکړئ: اوس چه کوم خوراك کوو د هغے ثواب دِ امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه ته او هر مُسلمان نارينه او زنانه ته اورسي يا هر ځل ټولو ته د اِيصالِ ثواب کولو نِيَّت کوئ او دا زيات مُناسِب دي. ياد ساتئ! اِيصالِ ثواب صِرف په هغه صورت کښې کيدے شي چه هغه طعام د يو ښه نِيَّت سره اوخوړے شي مَثَلاً په عِبادت باندې د قُوَّت حاصلولو په نِيَّت اوخوړے شي نو دا طعام خوړل د ثواب کار دے او د هغے اِيصالِ ثواب هم کيدے شي. که يو ښه نِيَّت هم پکښې نه وي نو طعام خوړل مُباح دي او په دې کښې نه ثواب شته نه ګناه، چه ثواب حاصِل نه شو نو اِيصالِ ثواب به څنګه اوشي! که په نورو ئې د ثواب په نِيَّت اوخوړو نو د هغے ثواب بخښلے شي. (فاتحه او د ثواب بخښلو طريقه ص ۱۹، ۲۰)

❁ د ښو ښو نِيَّتونو سره چه کوم طعام خوړل شي د هغے د **اِيصالِ ثواب** نِيَّت که د هغے د خوړلو نه مخکښې اوکړے شي او يا د خوړلو نه پس اوکړے شي، په دواړو طريقو صحيح دے. (فاتحه او د ثواب بخښلو طريقه ص ۲۰)

❁ که کیدے شي نو هره ورځ (د ګټې نه نه بلکه) د خپلې [دُکانداریځ] د یو فیصه څلورمه حِصَّه (یعني په څلورو سوو روپو کښې یوه روپیځ) او نوکر دِ د تنخواه نه هره میاشت یو فیصد د غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د نیاز [یعني خیرات] د پاره اوباسي، د اِیصالِ ثواب په نِیَّت په دې روپو باندې دِیني کتابونه اخلئ او تقسیموئ ئې یا ئې په بل نیك کار کښې خرچ کوئ. اِنْ شَآءَ اللّٰه تعالٰی د دې برکتونه به پخپله اووینئ. (فاتحه او د ثواب بخښلو طریقه ص۲۰)

❁ جُمات یا مدرسه جوړول د صَدَقۂ جاریه او د اِیصالِ ثواب بهترینه ذریعه ده. (فاتحه او د ثواب بخښلو طریقه ص۲۰)

❁ څومره خلقو ته چه اِیصالِ ثواب اوکړئ د اللّٰه تعالٰی د رَحمَت نه دا اُمّید دے چه ټولو ته به پوره پوره اورسیږي، داسې نه ده چه ثواب به تقسیم کړے شي او په ټکړو ټکړو به ورکړے شي. (رَدُّالْمُحْتَار کتاب الصلوٰة باب صلوٰة الجنائز. مطلب: فی القراة للمیت ۱۸۰/۳ بتغیر قلیل) د اِیصالِ ثواب کوونکي په ثواب کښې به هیڅ کمے نه راځي بلکه دا اُمّید دے چه هغه څومره خلقو ته ثواب بخښلے وي د هغوئ ټولو د شمیر هُمره ثواب به هغه (ثواب بخښلو والا) ته ورکړے شي. مَثَلاً یو نیك کار ئې اوکړو او په هغے هغه ته لس نیکئ حاصِلې شوې بیا هغه لسو مړو ته [د هغے] ثواب اُوبخښلو نو هر یو ته به لس لس نیکئ اورسي او ثواب بخښونکي ته به یو سل لس [نیکئ] حاصلې شي او که زرو کسانو ته ئې اِیصالِ ثواب کړو نو هغه ته به لس زره لس[نیکئ ورکړے شي]. وَعلٰی هٰذا الْقِیَاس. (او په هُم دې باندې قیاس اوکړئ) (فَتَاوٰی رَضَوِیَّه مُخرَّجة، ۶۲۳/۹، ۶۲۹ ماخوذاً و بهار شریعت، حصه ۱، ۸۵۰/۱ مُلَخَّصاً)

❁ اِیصالِ ثواب صِرف مُسلمانانو ته کولے شئ، کافِر یا مُرتد ته اِیصالِ ثواب کول یا هغه ته "مرحوم"، "جَنَّتی"، "په جَنَّت کښې اوسیدونکے"، بخښلے شوے، رحم کړے شوے وئیل کُفر دے. (فاتحه او د ثواب بخښلو طریقه ص۲۱)

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! خپلو عزيزانو او خپلوانو ته ايصالِ ثواب کولو د پاره ډيرې ډيرې نيکۍ اوکړئ. د نيکو کولو، پينځه وخته لـمونځ پابندئ سره سره د ډيرو ډيرو نفلونو او د قُرآن پاك د تِلاوت کولو عادت جوړولو د پاره د عاشِقانِ رسُول مَدَني تحريك دعوتِ اسلامي مَدَني ماحول کښې شامِل شئ. مَدَني انعاماتو باندې عمل او **مَدَني قَافِلو** کښې **عاشِقانِ رَسُول** سره سفر کوئ او بيشميره نيکۍ اوکټئ او خپلو عزيزانو ته ئې ايصالِ ثواب کړئ. راشئ د ترغيب د پاره يو سپرلے واورئ. چنانچه

## د اِيصالِ ثواب مَدَنـي سپرلے

د قادِر آباد (ضلع منډي بهاؤ الدّين، پنجاب) يو اِسلامي ورور مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي محمد جُنَيد عَطّاري په يوه حادِثه کښې وفات شوے وو. د هغوئ د خور بيان دے چه د ورور د وفات نه څه موده پس ما خوب اوليدو چه د خپل ورور جُنيد د **قَبْر** خوا ته ولاړه ووم، ناڅاپه **قَبْر** وشليدو، ما اوليدو چه زما ورور جُنيد قبر کښې ناست دے او د **الله** تعالٰی په ذِکر کښې مشغول دے، ما ورته غږ اوکړو چه جُنيده وروره! مونږ تاسو ته د تِلاوت، ذِکر و دُرُود او صدقه و خيرات په ذريعه اِيصالِ ثواب کوو، آيا تاسو ته هغه ثواب در رسي؟ هغوئ جواب راکړو: آؤ تاسو چه ما ته هر څه اِيصالِ ثواب کوئ هغه ما ته رارسيږي.

(خوشبودار قبر، ص۱۲)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# د شيخ طريقت، اميرِ اهلِسُنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه

# مَدَنـي و ـيّت نامه

## د دُرُود شريف فضيلت

د حُضُورِ اكرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: ”په ما باندې دُرُود شريف لولئ، اللّٰه تعالٰى به په تاسو رحمت راليږي.“

(الکامِل لِابنِ عدی ج۵ ص ۵۰۵)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلٰى اِحسانِهٖ دا وخت د سحر د لـمانځه نه پس په **مسجِدِ نَبَوی شريف** كښې ناست يم او د ”اَرْبَعِينَ وَصَايَا مِنَ الْمَدِينَةِ الْمُنَوَّرَة“ (يعني د مَدِينَهٔ مُنَوَّرَه نه څلويښت وصيتونه) د ليكلو سعادت حاصلووم، آه! آه! آه

**نن** زما په مَدِينَهٔ مُنَوَّرَه كښې د حاضرئ آخري سحر دے، نمر د **خورِ آقا** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په روضه مباركه باندې د سلام عرض كولو د پاره حاضريدو والا دے، آه! كه د نن شپے پورې مې په **جَنَّتُ الْبَقِيْع** كښې د خخيدو صورت جوړ نه شو نو د مدينے مُنوَّرے نه په جُدائي به مجبوره شم. د سترګو نه مې اوښكې بهيږي، او زړه مې بے قراره دے، هائے!

افسوس چند گھڑیاں طیبہ کی رَہ گئی ہیں دل میں جُدائی کا غم طوفاں مچا رہا ہے

آه! زړه مې د غم نه ډك دے، د مدينے د جُدا كيدو فِكر ډير غمګين كړے يم، د شونډو مُسكا مې ختمه شوې ده، آه! نزدے ده چه مدينه به رانه پاتې شي،

زړه به مې مات شي، آه! د مدينے نه وطن ته د روانيدو ساعتونه داسې خفه کوونکي وي لکه،

**يو د پئيو ماشوم چه چا د هغه د مور د غيږې نه په زور اغستے وي او هغه په ژړا ژړا په ډير زيات ارمان بيا بيا مخ ور اړوي او خپلې مور ته ګوري چه شايد مور به مې يو ځل بيا ځان ته اوبلي.... او په ډيره مينه به مې په غيږه کښې پټ کړي.....خپلې سينے ته به مې ټينګ کړي .....او په ټپولو ټپولو به مې د مينې نه ډکه غيږه کښې په خواږه خوب اوده کړي..... آه!**

میں شِکَستہ دِل لئے بَوجَھل قدم رکھتا ہوا
چل پڑا ہوں یا شَہَنْشاہِ مدینہ اَلوَداع

اوس په مات زړه "ځلويښت وصيتونه" عرض کووم، زما دا وصيتونه "دعوتِ اسلامي" سره تَعَلُّق لرونکو ټولو اسلامي وروڼړو او اسلامي خويندو ته [د چا د پاره چه کوم کوم قابِلِ عَمَل دي د هغوئ طرف ته] هُم دے. او زما اولاد او د کور نور کسان دِ هم په دې وصيتونو باندې ضرور توجه ساتي.

کاش چه! ما ګنهګار ته په مدينه منَوَّره کښې، او هغه هم د شين شين ګنبد په سوري کښې، او اے کاش چه! د سرکار صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دِيدار په نظارو کښې شهادت رانصيب شي او په **جَنَّتُ الْبَقِيْع** کښې راته دوه ګزه زمکه رانصيب شي که داسې اوشي نو [بيا خو] د دواړو جهانو خوش بختي او خوش نصيبي ده، ګنې [يعني که داسې اونشو نو] آه! بيا مې چه کوم ځائے په نصيب کښې وو .....

﴿۱﴾ چه د ځنکدن په حالت کښې مې اووِينئ نو د هغه وخت هر يو کار د سنّت مطابق اوکړئ، که هغه وخت کيدے شو نو په ښئ ډډه مې ځملوئ او

مخ مې قبلے ته کړئ. سُوْرَۂ یٰسٓ شریف هم را ته واوروئ او کلمۂ طَیِّبه را ته د ساه ختلو پورې مسلسل په اوچت آواز وائې.

﴿۲﴾ زما د رُوح وتلو نه پس هم په هره هره مُعامَله کښې د سُنّتو لحاظ اوساتئ، مثَلاً په لَـمبولو او خخولو وغیره کښې تعجیل (یعني تادي کول پکار دي) او د زیاتو خلقو جمع کولو په شوق کښې ناوخته کول سُنَّت نه دي. په **بهارِشریعت ج۱ حصه٤** کښې بیان شوي احکامو باندې دِ عمل اوکړے شي. خاص طور تاکید او سخت تاکید کووم چه نوحه [یعني په چغو چغو ژړا، خپل ځان وَهل او خپل وِینښته شوکول، او د مړي چه کوم د دروغو صِفَتونه کیږي هغه] دِ بالکل اُونکړے شي ځکه چه دا حرام او جَهَنَّم ته بوتلونکے کار دے.

﴿۳﴾ د قبر ناپ چه د سُنَّت مطابق وي او لَـحد جوړ کړئ ځکه چه سُنّت[1] دے.

﴿٤﴾ د قبر دننه دیوالونه وغیره چه د کچه خاورې وي، په اور پخې شوي خښتې مه استعمالوئ. که دننه پکښې د پخو خښتو دیوال لګول ضروري وي نو دننه حصه دِ په خټه باندې نښه لیو کړے شي.

﴿۵﴾ که کیدے شو نو سُوْرَۂ یٰسٓ شریف، سُوْرَۂ مُلْك او درودِ تاج دِ اولوستې شي او د قبر دننه طرف [او د کټو تختے یا سلیپونه وغیره] دِ پرې دم کړے شي.

---

[1] د قبر دوه قسمونه دي: (۱) **صندوق** [یعني شَقي] (۲) **لَـحَد**. د لَـحَد جوړولو طریقه دا ده چه د قبر کنستلو نه پس د مړي ایښودو د پاره قبلے طرف ته ځائ کنستل کیږي. لَـحَد سُنّت دے که زمکه د دې قابله وي نو دا جوړ کړئ او که زمکه نرمه وي نو په صندوق جوړولو کښې باك نشته. کیدے شي چه قبر کنستلو والا مشوره درکړي چه سلیپونه په دننه حصّه کښې په ډډه اولګوئ خو د هغه خبره مه منئ.

﴿٦﴾ کفنِ مَسنُون دِ د سګِ مدينه عُفِيَ عَنْهُ په خپلو روپو واخستے شي. د حالتِ فَقر په صورت کښې دِ د يو صحيحُ العَقيده سُنّي په حلال مال واخستے شي.

﴿٧﴾ غُسل دِ ګيرې والا، باعِمامه او پابندِ سُنّت اسلامي ورونړه د سنّت مطابق راکړي (ساداتِ کرام که ګنده بدن له غُسل راکړي نو سګِ مدينه دا د خپل ځان د پاره د هغوئي په شان کښې بے ادبي ګنړي)

﴿٨﴾ د غُسل په دوارن کښې دِ د سترِ عورت مکمل حِفاظت اوکړے شي که د نامه نه واخله د زنګونانو پورې د نسواري رنګ يا د بل رنګ دوه پيړې څادرې واچولے شي نو غالباً د ستر ځليدو خطره به ختمه شي. خو اوبه د ظاهري بدن په هره هره حِصّه بلکه د هر هر وِينښته د جړې نه واخله د څوکې پورې بهيدل لازمي دي.

﴿٩﴾ کفن که په آبِ زم زم او آبِ مدينه [يعني د مدينے مُنوَّرے په اوبو] بلکه په دواړو اوبو لوند کړے شوے وي نو د سعادت خبره ده. کاش! څوك سَيِّد صاحِب را ته شنه عِمامه شريف په سر کړي[1].

﴿١٠﴾ د غُسل نه پس، مخ په کفن کښې د پټولو نه مخکښې راته اوّل په تندی باندې د شهادت په ګوته بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم اوليکئ.

﴿١١﴾ هم دغسې په سينه باندې راته: لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوليکئ.

---

[1] صِرف عُلماء او مشائخ [يعني پير صاحِبان] پټکي سره خخولے شي، عام خلق عمامے سره خخول منع دي.

﴿۱۲﴾ د زړه په ځائے باندې راته: **یارَسُوْلَ اللّٰه** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اولیکئ.

﴿۱۳﴾ د کفن د نوم او د سینے د مینځه حصه باندې راته **یاغوثِ اعظم دستگیر** رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ **یا اِمام ابوحنیفه** رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ **یا امام احمد رضا** رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ **یا شیخ ضیاء الدین** رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د شهادت په ګوته اولیکئ.

﴿۱۴﴾ او د نامه د بره نه واخله د سره پورې راته په ټوله حِصّه باندې (د شا نه علاوه) مدینه مدینه اولیکئ. **یاد ساتئ!** دا هر څه په سیاهئ نه صرف د شهادت په ګوته لیکل دي او کاش چه څوك سَیِّد صاحِب ئې اولیکي.

﴿۱۵﴾ په دواړو سترګو راته د **مدینے مُنوَّرے** د کجورو هډوکي کیږدئ.

﴿۱۶﴾ د جنازے د وړلو په وخت کښې دِ هم د ټولو سُنَّتو خیال اوساتلے شي.

﴿۱۷﴾ د جنازے په جلوس کښې دِ ټول اسلامي ورونړه په شریکه د امامِ اهلِسُنّت رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ قصیدۀ دُرُود "*کعبے کے بدرالدجیٰ تم پہ کروڑوں درود*" لولي. (د دې نه علاوه دِ هم نعتونه وغیره وائي خو صرف او صرف د عُلمائے اهلِ سنّت کلامونه دِ وائي)

﴿۱۸﴾ د جنازے [اِمامت] دِ یو **صحیحُ العقیده** سُنّي عالِم باعمل یا د سُنَّتو پابند اسلامي ورور یا که اَهل وي نو زما په اولاد کښې دِ ئې څوك اوکړي خو خواهش مې دا دے چه ساداتو [یعني سیّدانو] ته دِ ترجِیح ورکړے شي.

﴿۱۹﴾ کاش چه! ساداتِ کرام مې په خپلو د رحمَت نه ډکو لاسونو قبر ته کوز کړي او اَرْحَمُ الرّٰحِمِین ته مې اوسپاري.

﴿۲۰﴾ مخې ته قبلے طرف ته دیوال کښې یو تاخ جوړ کړئ او په هغے کښې د یو پابندِ سُنّت اسلامي ورور د لاس لیکلي شوي عهدنامه، نقشِ نعلِ پاك

شريف، د شين ګنبد شريف نقشه، شجره شريف، نقشِ هركاره وغيره تبرُّكات كيږدئ.

﴿۲۱﴾ كه په جَنَّتُ الْبَقِيع كښې ځائے رانصيب شي نو خوش قسمتي به مې وي! ګنې د يو وَلِيُّ الله په خوا كښې، كه دا هم نه شي كيدے نو كوم ځائے چه اسلامي ورونړه اوغواړي هلته مې دِ خخ كړي خو د غصب [يعني د قبضے] په ځائے كښې مې مه خخوئ ځكه چه حرام دي.

﴿۲۲﴾ د قبر په خوا كښې مې اذان اوكړئ.

﴿۲۳﴾ كاش چه! يو سَيِّد صاحِب راته تلقين اوفرمائي[1].

---

[1] د **تلقين فضيلت**:

د سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: چه كله ستاسو يو مسلمان ورور مړ شي او په هغه خاوره واچولے شي نو په تاسو كښې دِ يو كس د قبر سر طرف ته اودريږي او اُو دِ وائي: يافُلان اِبنِ فلانة [يعني اے فلانيه د فلانئ ځويه] هغه به واوري او جواب به نه وركوي. بيا دِ اووائي: يافُلان اِبنِ فلانة [يعني اے فلانيه د فلانئ ځويه] هغه به سم كښيني. بيا دِ اووائي: يافُلان اِبنِ فلانة [يعني اے فلانيه د فلانئ ځويه] هغه به اووائي: "مونږ ته ارشاد اوكړه **الله** تعالٰى دِ په تا رحم وفرمائي." خو تاسو ته د هغه د وئيلو خبر نه كيږي. بيا دِ اووائي: اُذْكُرْ مَا خَرَجْتَ عَلَيْهِ مِنَ الدُّنْيَا: شَهَادَةَ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ، وَاَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ (صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) وَاَنَّكَ رَضِيْتَ بِاللّٰهِ رَبًّا وَّ بِالْاِسْلَامِ دِيْنًا وَّ بِمُحَمَّدٍ (صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) نَبِيًّا وَّ بِالْقُرْاٰنِ اِمَامًا۔ ترجَمه: "ته هغه ياد كړه په كومه چه ته د دُنيا نه اووتلې يعني دا گواهي چه د **الله** نه سِوا هيڅ څوك د عبادت لائق نشته او مُحَمَّد صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغه بنده او رسُول دے. او دا چه ته د **الله** تعالٰى په ربّ كيدو او د اسلام په دِين كيدو او د مُحَمَّد صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نبے كيدو او د قرآن په امام كيدو باندې راضي وې." مُنكَر نكِير [دا دوه فرښتے دي چه د مړي نه دري سوالونه كوي، دوئي] به د يوبل لاس اونيسي او وائي به راځئ چه څو مونږه د هغه خوا ته ولے كښينو چا ته چه خلقو د هغه حُجَّت [يعني د سوالونو جوابونه] زده كړي دي. په دې باندې چا د سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت كښې عرض اوكړو: كه د هغه د مور نوم معلوم نه وي؟ اوئې فرمائيل: د حَوَّا (رَضِیَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا) طرف ته دِ نسبت اوكړي. (طبرانی كبير ج ص ۰ حديث) **ياد ساتئ!** د فُلان اِبنِ فلانة [يعني فلانيه د فلانئ ځويه] په ځائ د مړي او د هغه د مور نوم اخلئ، مَثَلاً يا

﴿۲٤﴾ که کیدے شي نو زما سره مَحَبَّت کوونکي [اسلامي وروڼه] دِ زما د خخولو نه پس د دولسو ورځو پورې، که دا نه شي کیدے نو کم نه کم د دولسو ګینټو پورې زما د قبر نه ګیر چاپیره کښیني او په ذِکر و دُرُود او تِلاوت او نعت شریف [لوستلو] دِ زما زړه خوشحالوي، اِنْ شَآءَ اللّٰه تعالٰی په نوي ځائے کښې به مې زړه اولګي په دې دوران کښې هم او همیشه د جَمعې د لمُونځ اهتِمام کوئ.

﴿۲۵﴾ زما په ذِمَّه که [د چا] قرض وغیره وي نو زما د مال نه او که زما مال نه وي نو درخواست دے چه که زما په اولاد کښې څوك ژوندي وي نو هغه یا بل اسلامي ورور دِ ئې احساناً د خپل مال نه ادا کړي. اللّٰه تعالٰی به اجرِ عظیم درکړي. (په مختلفو اجتماعاتو کښې دِ اعلان اوکړے شي که [زما د لاسه] د چا هم زړه خفه شوے وي یا ئې حق ضائع شوے وي هغه دِ ما یعني محمد اِلیاس عطّار قادري مُعاف کړي، که قرض وغیره وي نو فوراً دِ وارثانو ته رجوع اوکړي یا دِ ئې مُعاف کړي)

﴿۲٦﴾ ما ته ډیر ډیر ایصالِ ثواب کوئ او د بخښنې دُعاګانې را ته کوئ، دا به ستاسو احسانِ عظیم وي.

﴿۲۷﴾ ټول په مسلكِ اعلٰی حضرت یعنی مذهبِ اهلِسُنَّت باندې د اِمامِ اَهلِسُنَّت مولانا شاه اِمام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د صحیح اسلامي تعلیماتو مطابق قائم اوسئ.

﴿۲۸﴾ د بدمذهبو د صُحبت نه په میلونو لرې اوسئ ځکه چه د هغوئ صحبت په خاتمه بِالخیر کښې غټ رکاوټ دے او د آخرت د بربادئ سبب دے.

---

محمد اِلیاس بن اَمِینه. که د مړي د مور نوم معلوم نه وي نو د مور د نوم په ځائے د حَوَّا (رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا) نوم اخلئ. تلقین صِرف په عربئ کښې لولئ.

﴿۲۹﴾ د خوږ خوږ نبـی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په مَحَبَّت او سُنّتو باندې کلك قائم اوسئ.

﴿۳۰﴾ د پينځه وخته لمُونځ ادا کولو، د رَمَضانُ المُبارك د روژو نيولو، د زکوٰة ادا کولو، د حج وغيره فرائِضو (او د نورو واجباتو او سُنّتو) په مُعامَله کښې هيڅ قِسمه کوتاهي مه کوئ.

﴿۳۱﴾ **وصِيَّت ضروری وصِيَّت**: د دعوتِ اسلامي د مرکزی مجلس شورٰی هر دم وفادار اوسئ، د دې هر رُکن او د خپل هر نګران د هر هٰغه حکم اطاعت کوئ کوم چه د شريعت مطابق وي، د شُورٰی يا د دعوتِ اسلامي د هر يو ذِمّه دار بے اجازَتِ شرعی مخالَفَت کوونکو نه زه سخت خفه يم، اګر که هغه زما ډير نزدے عزيز هم وي.

﴿۳۲﴾ هر اسلامي ورور دِ په هفته کښې کم نه کم يو ځل د نيکئ د دعوت په مَدَنـي دوره کښې د اوّل نه د آخِره پوري شريك کيږي او هره مياشت دِ کم نه کم د درې ورځو او په هرو دولسو مياشتو کښې د يوے مياشتې [مَدَنی قَافِله کښې سفر کوي] او په ژوند کښې دِ يَـکمُشت [يعنې په يوه مخه] کم نه کم د دولسو مياشتو د پاره په مَدَنی قافِله کښې سفر اوکړي. هر اسلامي ورور او اسلامي خور دِ په اِستِقامت سره د خپل کردار د اصلاح کولو د پاره هره ورځ **فِکرِمدينه** کوي او د "مدَنی انعاماتو" رساله دِ ډکوي او هره مياشت دِ ئې خپل ذِمَّه دار ته جمع کوي.

﴿۳۳﴾ د نبـی کريم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مَحَبَّت او سُنّت پيغام په دُنيا کښې مسلسل عاموئ.

﴿۳٤﴾ د بدعقيدګئ او بد عملئ او د دُنياوي مال د بے ځايه مَحَبّت، د مالِ حرام او د ناجائزه فيشن وغيره خلاف خپل کوشش جاري ساتئ. په ښو اخلاقو او مِينه محبَّت د نيکئ دعوت خوروئ.

﴿۳۵﴾ غُصّه او دَګل رټل بالکل مه کوئ ګڼې د دِين کار کول به ګران شي.

﴿۳٦﴾ زما د تالِيفاتو [يعني کتابونو، رسالو] او زما د بيان د کيسټو نه زما وارثانو ته د دُنيا د دولت ګټلو نه د بچ کيدو مدَنی عَرَض دے.

﴿۳۷﴾ زما د "ميراث" وغيره په مُعامَله کښې دِ د شريعت په حکم عمل اوکړے شي.

﴿۳۸﴾ ما ته چه څوك کنزلې اوکړي، ردې بدې اووائي، زخمي مې کړي يا مې په هره طريقه د زړه خفه کولو سبب جوړ شي ما هغه [ټول] د اللّٰه تعالیٰ د رضا د پاره د مخکښې نه مُعاف کړي دي.

﴿۳۹﴾ ما ته تکليف راکوونکو نه دِ هيڅ څوك بدله نه اخلي.

﴿٤۰﴾ فرض کړئ که څوك ما شهيد هم کړي نو زما د طرف نه هغه ته زما حقوق مُعاف دي. وارثانو ته هم زما درخواست دے چه هغه ته دِ خپل حق مُعاف کړي. که د سرکارِمدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د شفاعت په برَکت په محشر کښې خاص کرَم اوشو نو اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ خپل قاتِل يعني څوك چه ما شهيد کړي هغه به هم جَنَّت ته ځان سره بوځم شرط دا دے چه د هغه خاتِمه په ايمان باندې شوي وي. (که زه شهيد کړے شم نو د هغے په وجه هيڅ قِسمه هنګامے او هړتالونه مه کوئ. که "هړتال" د دې نوم وي چه په زور کاروبار بند کړے شي،

دُکانونه او ګاډي په کانړو اوويشتے شي وغيره نو يو مُفتِئ اسلام هم د بندګانو داسې حق تلفئ کولو ته جائِز نه شي وئيلے، داسې هڑتال حرام او جَهَنَّم ته بوتلونکے کار دے.)

کاش چه! د ګناهونو بخښونکے خدائے غفّار عَزَّوَجَلَّ! ما ګنهګار د خپل خوږ حبيب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خاطر مُعاف کړي. اے زما خوږه خوږه اللّٰه عَزَّوَجَلَّ! چه تر څو ژوندے يم په عشقِ رسول صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې مې ورك لرې، [او يا اللّٰه عَزَّوَجَلَّ چه تر څو ژوندے يم] چه مدينه يادووم، او د نيکئ د دعوت د پاره کوشش کووم، ستا د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شفاعت مې نصيب کړې او بے حسابه مې اوبخښې. او په جَنَّتُ الفردوس کښې د خوږ حبيب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاونډ رانصيب کړې. آه! کاش! چه هر وخت د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نظارو کښې ورك اوسم. اے اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په خپل حبيب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې بيشميره دُرُود و سلام اوليږې، او د خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټول اُمّت بخښنه اوکړې. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الاَمِين صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

يَاالٰہی! جب رضا خواب گراں سے سر اُٹھائے
دولتِ بَيدار عِشْقِ مصطفٰے کا ساتھ ہو

طالب غم مدينه
بقيع ومغفرت و
بے حساب
جنّت الفردوس

"مدَنی وصِيّت نامه" اوّل ځل مې په مُحَرَّمُ الحَرام ۱۴۱۱ھ مطابق ۱۹۹۰ء کښې د مدينهٔ مُنَوَّره نه جاري کړي وه بيا مې پکښې کله کله لږ ډير بدلون کړے دے، اوس مې څه د نور بدلون سره حاضره کړي ده.

10 جمادی الاُولٰی 1434ھ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# د فاتِحے او اِيصالِ ثواب مُرَوَّجه طريقه

نن صبا چه په مسلمانانو کښې خاص طور په طعام باندې د فاتِحے لوستلو کومه طريقه رائج ده هغه هم ډيره ښه ده. د کوم خوراکونو چه اِيصالِ ثواب کول غواړئ هغه ټول يا د ټولو نه لږ لږ طعام او يو ګِلاس [يا يو جام کښې] اوبه مخې ته کيږدئ.

بيا:

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

اولولئ او يو ځل:

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قُلْ يٰۤاَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ ۙ﴿۱﴾ لَاۤ اَعْبُدُ مَا تَعْبُدُوْنَ ۙ﴿۲﴾ وَ لَاۤ اَنْتُمْ عٰبِدُوْنَ مَاۤ اَعْبُدُ ۚ﴿۳﴾ وَ لَاۤ اَنَا عَابِدٌ مَّا عَبَدْتُّمْ ۙ﴿۴﴾ وَ لَاۤ اَنْتُمْ عٰبِدُوْنَ مَاۤ اَعْبُدُ ؕ﴿۵﴾ لَكُمْ دِيْنُكُمْ وَ لِيَ دِيْنِ ۧ﴿۶﴾

درې ځله:

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ۚ﴿۱﴾ اَللّٰهُ الصَّمَدُ ۚ﴿۲﴾ لَمْ يَلِدْ ۙ وَ لَمْ يُوْلَدْ ۙ﴿۳﴾ وَ لَمْ يَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ ۚ﴿۴﴾

يوځل:

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ۙ﴿۱﴾ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ ۙ﴿۲﴾ وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ اِذَا وَقَبَ ۙ﴿۳﴾
وَمِنْ شَرِّ النَّفّٰثٰتِ فِی الْعُقَدِ ۙ﴿۴﴾ وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ اِذَا حَسَدَ ۧ﴿۵﴾

يو ځل:

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ ۙ﴿۱﴾ مَلِكِ النَّاسِ ۙ﴿۲﴾ اِلٰهِ النَّاسِ ۙ﴿۳﴾ مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ ۙ
الْخَنَّاسِ ۪ۙ﴿۴﴾ الَّذِیْ یُوَسْوِسُ فِیْ صُدُوْرِ النَّاسِ ۙ﴿۵﴾ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ ۧ﴿۶﴾

يوځل:

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ۙ﴿۱﴾ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ۙ﴿۲﴾ مٰلِكِ یَوْمِ الدِّیْنِ ؕ﴿۳﴾ اِیَّاكَ نَعْبُدُ
وَ اِیَّاكَ نَسْتَعِیْنُ ؕ﴿۴﴾ اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِیْمَ ۙ﴿۵﴾ صِرَاطَ الَّذِیْنَ اَنْعَمْتَ عَلَیْهِمْ ۙ۬
غَیْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَیْهِمْ وَلَا الضَّآلِّیْنَ ۧ﴿۶﴾

يوځل:

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الٓمّٓ ﴿۱﴾ ذٰلِكَ الْكِتٰبُ لَارَيْبَ ۛ فِيْهِ ۛ هُدًى لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿۲﴾ الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِالْغَيْبِ وَيُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ﴿۳﴾ وَالَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ وَمَآ اُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ ۚ وَبِالْاٰخِرَةِ هُمْ يُوْقِنُوْنَ ﴿۴﴾ اُولٰٓئِكَ عَلٰى هُدًى مِّنْ رَّبِّهِمْ ۗ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۵﴾

لوستلو نه پس دا پينځه آيتونه اولولئ:

(1) وَاِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ ﴿۱۶۳﴾ (پ۲، البقرة: ۱۶۳)

(2) اِنَّ رَحْمَتَ اللّٰهِ قَرِيْبٌ مِّنَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۵۶﴾ (پ۸، الاعراف: ۵۶)

(3) وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا رَحْمَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۰۷﴾ (پ۱۷، الانبياء: ۱۰۷)

(4) مَا كَانَ مُحَمَّدٌ اَبَآ اَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِكُمْ وَلٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ وَخَاتَمَ النَّبِيّٖنَ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمًا ﴿۴۰﴾ (پ۲۲، الاحزاب: ۴۰)

(5) اِنَّ اللّٰهَ وَمَلٰٓئِكَتَهٗ يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِيِّ ۭ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا ﴿۵۶﴾ (پ۲۲، الاحزاب: ۵۶)

بيا دُرُود شريف اولولئ:

صَلَّى اللّٰهُ عَلَى النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ وَاٰلِهٖ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ط

صَلٰوةً وَّسَلَامًا عَلَيْكَ يَارَسُوْلَ اللّٰه

د هغے نه پس دا آيتونه اولولئ:

سُبْحٰنَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿۱۸۰﴾ وَ سَلٰمٌ عَلَى الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۱۸۱﴾ وَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۸۲﴾ (پ۲۳، الصّٰفّٰت: ۱۸۰ نه ۱۸۲)

بيا دِ فاتحه لوستونکے د دُعا د پاره لاس پورته کړي او په اوچت آواز دِ "اَلفاتِحه" اووائي. ټول خلق دِ په قلاره يعني په دومره آواز چه پخپله ئې اوري سُوْرَةُ الْفَاتِحه اولولي. بيا دِ فاتحه لوستلو والا داسې اِعلان اوکړي: "خوږو خوږو اسلامی وروڼرو! تاسو چه څه لوستلي دي د هغے ثواب ما ته راکړئ." ټول حاضِر خلق دِ اووائي: "تاسو ته مې درکړو." بيا دِ فاتحه لوستلو والا اِيصالِ ثواب اوکړي [يعني د دې هر څه ثواب دِ ور اوبخښي].

## د اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د فاتِحه طريقه

د اِيصالِ ثواب الفاظ ليکلو نه مخکښې هغه سورتونه وغيره ليکم چه اعلٰی حضرت شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه به د فاتحه نه مخکښې لوستل:

يوځل:

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱﴾ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ﴿۲﴾ مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ ﴿۳﴾ اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَ اِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ ﴿۴﴾ اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ ﴿۵﴾ صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ ۙ غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَ لَا الضَّآلِّيْنَ ﴿۶﴾

يوځل:

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَللّٰهُ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ اَلْحَیُّ الْقَیُّوْمُ ۚ لَا تَاْخُذُهٗ سِنَةٌ وَّ لَا نَوْمٌ ؕ لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَ مَا فِی الْاَرْضِ ؕ مَنْ ذَا الَّذِیْ یَشْفَعُ عِنْدَهٗۤ اِلَّا بِاِذْنِهٖ ؕ یَعْلَمُ مَا بَیْنَ اَیْدِیْهِمْ وَ مَا خَلْفَهُمْ ۚ وَ لَا یُحِیْطُوْنَ بِشَیْءٍ مِّنْ عِلْمِهٖۤ اِلَّا بِمَا شَآءَ ۚ وَسِعَ كُرْسِیُّهُ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضَ ۚ وَ لَا یَـُٔوْدُهٗ حِفْظُهُمَا ۚ وَ هُوَ الْعَلِیُّ الْعَظِیْمُ ﴿۲۵۵﴾

(پ ۳، البقرہ: ۲۵۵)

دري ځله:

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ﴿۱﴾ اَللّٰهُ الصَّمَدُ ﴿۲﴾ لَمْ یَلِدْ ۙ وَ لَمْ یُوْلَدْ ﴿۳﴾

وَ لَمْ یَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ ﴿۴﴾

## د اِيصالِ ثواب د پاره د دُعا کولو طريقه

يا اللّٰه عَزَّوَجَلَّ! څه چه مو اولوستل (که طعام وغيره وي نو داسې هم اووائې) او څه طعام وغيره چه پيش کړے شوے دے د هغے ثواب زمونږه د ناقِص عمل لائق نه بلکه د خپل کرم د شان لائِق راکړې. او دا زمونږه له طرفه د خپل خوږ حَبِيب صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې نذر اورسوې. د سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خاطر ټولو انبيائے کرام عَلَيْهِمُ السَّلَام ته، ټولو صحابۂ کِرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان ته، او ټولو اولیائے کِرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰى ته نذر اورسوې. د

سرکارِمدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خاطر د سَيِّدُنا آدم عَلَيْهِ السَّلَام نه واخله تر اوسه پورې چه څومره اِنسانان او پيريان مسلمانان پيدا شوي دي يا به د قِيامته پورې چه څومره مُسلمانان پيدا کيږي هغه ټولو ته اورسوي. په دې دوران کښې بِهتره دا ده چه کومو کومو بُزُرګانو ته خاص طور اِيصالِ ثواب کول وي د هغوئ نومونه هم واخلئ. خپل مور و پلار او نورو خپلوانو او خپل پير صاحِب ته هم په نوم اخستلو اِيصالِ ثواب اوکړئ. (په وفات شوو خلقو کښې چه د چا، چا نومونه واخلئ هغوئ خوشحاليږي او که د هيڅ چا نوم هم واخلي او صِرف دومره اووائي چه يَا اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د دې ثواب د نن ورځې پورې چه څومره اِيمان والا دُنيا ته راغلي دي [او راځي به] هغه ټولو ته اورسوې نو بيا هم هر يو ته ور رسي. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ)

بيا د معمول مطابق دُعا ختمه کړئ. (که لږ لږ طعام او اوبه مخې ته ايښودے شوي وي نو هغه په نور طعام او اوبو کښې ګډ کړئ)

## مرحوم مور و پلار سره احسان

## د دُرُود شريف فضيلت

اميرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په خپله رساله "**غفلت**" کښې د دُرُود شريف په فضيلت کښې ليکي چه خورِ مَدَنـي آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: اے خلقو! بيشکه په ورځ د قيامت به د هغے د ويرو او حساب کتاب نه زر نجات حاصلوونکے کس هغه وي چا چه تاسو کښې په ما باندې دُنيا کښې په کثرت سره دُرُود شريف لوستلي وي.

(فردوس الاخبار، ۲/۳۷۵، حديث ۸۲۱۰)

## د مرحومو مور و پلار د پاره دُعا او اِستِغفارکوئ

حضرتِ سَيِّدُنا ابو اُسيد ساعِدي رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ وائي: مونږه د رَسُولُ الله صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې حاضر وو چه د بني سَلمه يو کس حاضر شو او عرض ئې اوکړو: يا رَسُولَ الله! (صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) زما مور و پلار مړه شوي دي، آيا اوس هُم هغوئي سره د احسان څه طريقه باقي ده؟ خوږ نبي صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: آؤ! د هغوئي د پاره اِستِغفار کول او کوم چه هغوئي عهد کړے دے هغه پوره کول او د کوم خپلوان سره چه د هغوئي په وجه سُلوك کيدے شي هغه سره سُلوك کول او د هغوئي د دوستانو عِزَّت کول.

(اَبو داؤد، کتابُ الادب، باب فی بر الوالدین، ٤/٤٣٤، حدیث٥١٤٢)

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** معلومه شوه چه د مور و پلار د وفات نه پس هُم د هغوئي د پاره دُعا او اِستِغفار کيدے شي او [د دې په ذريعه د] هغوئي خوشحالول کيدے شي او هغوئي ته نيك اعمال ايصالِ ثواب کول هُم کيدے شي بلکه اولاد ته پکار دي چه صرف نيك اَعمال کوي ځکه چه د وفات کيدو نه پس مور و پلار ته د اولاد اعمال پيش کولے کيږي او هغه په نيکو اعمالو خوشحاليږي او بدو باندې خفه کيږي چنانچه

## مرحوم مور و پلار ته د اولاد اعمال پيش کيږي

چنانچه حضرت سَيِّدُنا صَدَقه بن سُلَيمَان جَعفَري رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: زما د ځوانئ د شروع شپے او ورځې وې او زه په بدو عادتونو او د دنيا په رنګينو کښې مشغول ووم، خو چه کله زما والِد صاحِب وفات شو نو زما زړه ګُزار اوخوړو، ما په خپلو تِيرو ګناهونو پښيماني راوړه او د **الله** تعالٰی په

بارګاه کښې مې توبه اوکړه او نیکو اعمالو ته مې مخه کړه. بدقسمتئ سره د نفس په شرارت یوه ورځ بیا په څه غلط کار کښې اخته شوم نو هُم په هغه شپه والِد مرحوم په خوب کښې راغلو او اوئې فرمائیل: "زما ځویه! ستا اعمال چه ما ته پیش کړے شي نو زه ډیر خوشحاله شم ځکه چه هغه د نیکو خلقو د اعمالو په شان وي خو دا پیره چه ستا اعمال ما ته پیش کړے شو نو زه ډیر شرمِنده شوم. د خُدائے د پاره ما د خپلو وفات شوو دوستانو په مخکښې مه رُسوا کوه." بس د دې خوب نه پس زما په ژوند کښې انقلاب راغې، زه وَیَریدم او په توبه باندې مې اِستِقامَت اختیار کړو. د دې حِکایت راوي وائي: د تَهَجُّد په لـمانځه کښې به مونږه د حضرت سَیِّدُنا صَدَقه بن سُلیمان جَعفَري رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه نه داسې مُناجات [یعني دُعاګاني] اوریدلي: اے د صالِحِینو اِصلاح کولو والا! اے بے لارې شوي په سَمه لار باندې روانولو والا! اے په ګنهګارو باندې رحم کولو والا! زه ستا نه د داسې توبې سوال کووم چه د هغے نه پس کله هم ګناه طرف ته لاړ نه شم، چه کله هُم بدئ او ظلم طرف ته اونه ګورَم، اے خالِق او مالکه ما ته د رښتینې توبې کولو توفیق راکړې. (عُیُونُ الْحِکایات ص۴۰۱)

لِـهذا پکار ده چه د ښو اَعمالو کولو په ذریعه مور و پلار خوشحاله کړے شي او د بدو اعمالو نه ځان بچ ساتلو باندې هغوئي په غم کښې اخته کیدو نه بچ اوساتلے شي. د مور و پلار د اِیصالِ ثواب مُتَعَلِّق دوه فرامینِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوګورئ.

## د مور و پلار له طرفه خيرات کوئ

چه کله په تاسو کښې څوك نفلی خيرات کوي نو پکار ده چه د خپل مور و پلار له طرفه ئې اوکړي ځکه چه د هغے ثواب به هغوئي ته حاصِليږي او د هغه (يعني خيرات کوونکي) په ثواب کښې به هيڅ کمے هم نه راځي.

(شُعَبُ الایمان باب فی بر الوالدین، فصل فی حفظ حق الوالدین بعد موتھما، ٦/٢٠٥ حدیث ٧٩١١)

## د لسو حجونو ثواب

څوك چه د خپلې مور يا پلار له طرفه حج اوکړي د هغوئي (يعني د مور يا پلار) له طرفه به حج ادا شي، هغه (يعني حج کوونکي) ته به نور د لسو حجونو ثواب حاصِل شي. (دار قُطنی ج٢ ص ٣٢٩ حدیث ٢٥٨٧)

سُبْحٰنَ اللّٰہِ عَزَّوَجَلَّ! چه کله د نفلی حج سعادت درنصيب شي نو د وفات شوي مور يا پلار نِيَّت اوکړئ چه هغوئي ته هم د حج ثواب حاصل شي، ستاسو به هم حج اوشي بلکه نور د لسو حجونو ثواب به اوکتئ. او که مور يا پلار په داسې حال کښې وفات شوي وو چه په هغوئي باندې حج فرض وو او هغوئي نه وو ادا کړے نو په داسې حال کښې اولاد ته د حَجِّ بدل کولو شرف حاصلول پکار دي. د "حَجِّ بدل" د تفصيلی احکامو د پاره د دعوتِ اِسلامي د اِشاعتی اداري مَکْتَبَةُ الْمَدِيْنَه چاپ شوے کِتاب "رَفِيقُ الحَرَمَين" صفحه ٠ نه پورې اولولئ.

او د هغوئي د خوشحالولو او د ربّ تعالٰی د رضا حاصلولو د پاره د هغوئي قبرونو ته هُم حاضريږئ. چنانچه

## د قبول شوي حج ثواب

د رَسُولِ اکرم، شافِعِ اُمَم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد مبارك دے: څوك چه د ثواب په نِيَّت د خپل مور و پلار دواړو يا د يو د **قَبْر** زيارت اوكړي، د قبول شوي حج هُمره ثواب به اوموي او څوك چه په كثرت سره د هغوئي د **قَبْر** زيارت كوي، (چه كله هغه كس وفات شي نو) فرښتے به د هغه د **قَبْر** زيارت له راځي. (نَوادِرُ الاُصول للحکیم الترمِذی ج۱ ص ۷۳ حدیث ۹۸)

## د جُمُعې په ورځ د قبر د زيارت فضيلت

خورِ مَدَنـي آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: كوم كس چه د جُمُعې په ورځ د خپل مور و پلار يا په هغوئي كښې د يو د **قَبْر** زيارت اوكړي او د هغے خوا ته **سُوْرَۂ يٰسٓ** اولولي هغه به وبخښلے شي. (الکامِل لِابنِ عدِی ج۶ ص ۲۶۰)

تابِعي بُزُرگ حضرت محمد بِن نُعمان نه روايت دے چه نبئ اكرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چه د خپل مور و پلار يا په هغوئي كښې د يو د **قَبْر** په هره جُـمُعه كښې زيارت كوي نو هغه به وبخښلے شي او هغه به ښيګړه كوونكو كښې ليكلے كيږي.

(شُعَبُ الْایمان باب فی بر الوالدین، فصل فی حفظ حق الوالدین بعد موتھما، ۶/۲۰۱)

د پاسني حديث نه لاندې مُفتي اَحمد يار خان نعيمي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائيلي دي چه دلته د **جُمُعې** نه مُراد يا خو د **جُمُعې** ورځ ده يا پوره هفته كښې. بهتره دا ده چه د هرې **جُمُعې** په ورځ د مور و پلار د قبرونو زيارت كوي، كه هلته حاضريدل نه شي كيدلے څنګه چه دا فقير اوس په پاكستان كښې دے او د مور و پلار قبرونه مې په هندوستان كښې دي نو هره جُـمُعه دِ ورته اِيصالِ

ثواب کوي. دا هُم معلومه شوه چه د مور و پلار د قبرونو زيارت کولو والا لکه چه اوس هُم د هغوئي خِدمت کوي. کوم ثواب چه د هغوئي په ژوند کښې د هغوئي د خِدمت کولو دے هُم هغه ثواب د وفات کيدو نه پس د هغوئي د قبرونو د زيارت کولو دے. عُلَماء فرمائي چه د مور و پلار د وفات کيدو نه پس دريې کارونه کوئ، يو دا چه هره جُـمُعه د هغوئي د قبرونو زيارت کوئ او د هغوئي د پاره دُعا او ختم وغيره کوئ، دويم دا چه د هغوئي قرض ادا کړئ او د هغوئي وعدے پوره کړئ. دريمه دا چه د پلار دوستان او د مور دوستانې خپل مور و پلار ګنړئ او د هغوئي خِدمت کوئ. (مِراٰۃُالمناجیح، قبروں کی زیارت کرو، ۲/۵۲۶)

## احتياط کوئ

ياد ساتئ! چه کله د قبرونو زيارت ته لاړ شئ نو چه په يو قبر هُم ښپه کيږ نه دئ. که قبرونو باندې ښپے ايښودلو نه بغير د مور و پلار قبرونو ته نه شئ تللے نو بيا به د لرې نه فاتِحه لولئ ځکه چه د بُزرګانو او مور و پلار قبرونو ته تلل **مُسْتَحَب** کار دے او د مسلمان په قبر باندې ښپه ايښودل ناجائزه او حرام دي او د **مُسْتَحَب** کار د پاره په شريعت کښې د حرام کار اجازت نشته. اعلیٰ حضرت اِمامِ اهلِسُنّت **مُجَدِّدِ** دِين و مِلّت مولانا شاه **اِمام اَحمد رضا خان** رَحْمَۃُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه اِرشاد فرمائي: د دې خبرې لحاظ لازمي دے چه د کوم **قَبْر** خوا ته بالخصوص ورتلل غواړي چه هغے پورې (داسې) قديمه (يعني زړه) لار وي، (چه د هغے د جوړولو د پاره ئې قبرونه نه وي وران کړي) که په قبرونو د پاسه تيريدل پيښيږي نو اجازت نشته، په لار کښې دِ لرې اودريږي او يو **قَبْر** ته دِ مُتَوَجِّه شي او اِيصالِ ثواب دِ ورته اوکړي. (فَتَاوٰی رَضَوِیَّه، ۹/۵۲۴)

# كه مور و پلار ترې خفه وفات شوي وي

د چا نه چه مور و پلار خفه وفات شوي وي، هغه دِ د هغوئي د پاره ډيرې زياتې د بخښنې دُعا کانې غواړي ځکه چه د مړي د پاره د ټولو نه غټه تُحفه د بخښنې دُعا ده او هغوئي ته دِ ډير ډير ايصالِ ثواب کوي. چه د اولاد له طرفه مسلسل د نيکو تُحفے ور رسي نو اُمّيد دے چه وفات شوي مور و پلار به راضي شي. د دعوتِ اسلامي د اشاعتي اداري مَکْتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوي د ۳۱ صفحو کتاب "بهارِ شريعت" حصه ۱۶ صفحه ۱۹۷ کښې دي: رسُولُ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: "که د چا مور و پلار دواړه يا يو وفات شو او ده د هغوئي نافرماني کوله، اوس د هغوئي د پاره هميشه اِستِغفار کوي [يعني د بخښنې دُعا غواړي]، تر دې چه **الله** تعالٰی هغه نيکوکار اوليکي."

(شُعَبُ الْاِيمان باب فی بر الوالدين، فصل فی حفظ حق الوالدين بعد موتهما، ۶/۲۰۱ حديث ۷۹۰۱)

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** ډير ډير نيك اعمال کوئ او مور و پلار ته ئې اِيصالِ ثواب کوئ او هغوئي ته راحت [و سکون] رسوئ او که وس لرئ نو مَدرَسةُ الْمَدينه يا جامِعَةُ الْمدِينه يا جُمات وغيره جوړ کړئ که نه وي نو خپله حصّه پکښې شامله کړئ او د هغوئي د پاره ئې ثوابِ جارِيه کړئ.

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** نيك اولاد هُم صَدَقهٔ جارِيه وي او د هغوئي د دُعاګانو په بَرَکت وفات شوو مور و پلار د پاره آسانئ پيدا کيږي لِـهذا نيك جوړيدو د پاره د دعوتِ اسلامي مَدَني ماحول کښې شامل شئ او مَدَني انعاماتو باندې عمل اوکړئ، مَدَني قَافِلو کښې ډير ډير سفر اوکړئ او مور و پلار ته ئې اِيصالِ ثواب کړئ. راشئ د دعوتِ اسلامي د مَدَني ماحول د بَرَکت يو مَدَنـي سپرلے اوګورئ. چنانچه

## والِد صاحِب نه عذاب لرې شو

د يو اسلامي ورور د بيان خُلاصه ده، ما د اختر په دويمه ورځ عاشقان رسول سره مَدَني قافِله کښې د سفر کولو سعادت حاصِل کړو، په هُم دې دوران کښې زما والِد مرحُوم چه دوه کاله مخکښې وفات شوے وو، ما په خوب کښې په ډير ښه حالت کښې اوليدو، تپوس مې ترې اوکړو چه پلاره د وفات نه پس څه اوشو؟ اوئې فرمائيل چه څه موده د ګناهونو سزا راکړے شوه خو اوس را نه عذاب لرې شوے دے، ته د دعوتِ اسلامي مَدَني ماحول مه پريږده ځکه چه د هُم دې په بَرَکت په ما کرم شوے دے.

(فيضانِ سُنَّت باب آدابِ طعام، جِلد اوّل)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

ہیں اسلامی بھائی سبھی بھائی بھائی ہے بے حد مَحَبَّت بھرا مَدَنی ماحول
یہاں سنّتیں سیکھنے کو ملیں گی دِلائے گا خوفِ خدا مَدَنی ماحول

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# د لـمانـه د فِديے بيان

## د دُرُود شريف فضيلت

اَميرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَة په خپله رساله "**د غُسل طريقه**" کښې د دُرُود شريف په فضيلت کښې ليکي چه خورِ مَدَنـي آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: "په ما باندې د دُرُود شريف کثرت کوئ بيشکه دا ستاسو د پاره طَهارت (يعني پاکي) ده." (اَبو يَعْلٰى، مُسند ابی هُريرة ما اسنده شهر بن حوشب عن ابی هريرة، ٥/٤٥٨، حديث ٦٣٨٣)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د فِديے تعريف

په عبادت کښې د کوتاهئ کَفّاره کومه چه د **الله** تعالى د رِضا د پاره ورکړے شي هغے ته فِديه وائي او د لـمانځه فِديه دا ده چه د هر لـمانځه په عِوَض کښې يوه صَدَقهٔ فِطر، شرعي فقير ته خيرات کړي. د لـمانځه د فِديے په باره کښې تفصيلي اَحکام اوګورئ:

### د چا که څوك خپل کس وفات شوے وي هغه ئې ضرور اولولئ

د مړي د عُمر نه نهه کاله د زنانه د عُمر نه او دولس کاله د نارينه د عُمر نه د نابالِغئ اُوباسئ. د باقي کلونو حساب اولګوئ چه څومره لـمونځونه د هغه په ذِمّه قضا پاتې دي. زيات نه زياته اندازه اولګوئ بلکه که غواړئ نو د نابالغئ د

عُمر نه پس ئې د باقي ټول عُمر حساب اولګوئ. بيا د يو يو لـمانځه په حساب يوه يوه صَدَقهٔ فِطر خيرات کړئ. د يوے صَدَقهٔ فِطر مِقدار تقريباً ۸۰ ګرامه کم دوه کلو (يعني ۱۹۰ ګرامه) غنم يا د هغے وړه يا د هغے رقم دے. او د يوے ورځې شپږ لـمونځونه دي، پينځه فرض [لـمونځونه] او يو وِتر واجِب. مَثَلًا که د ۸۰ ګرامه کم دوه کلو (يعني ۱۹۲۰ ګرامه) غنمو رقم روپئ وي نو د يوے ورځې د لـمونځونو روپئ شوې او د ديرش ورځو ۶۰ روپئ او دولسو مياشتو تقريباً ۹۰ روپئ شوې. [د دې حساب مطابق] که چرې د يو مړي د پنځوسو کالو لـمونځونه پاتې وي نو نو فِديه ادا کولو د پاره به ۹۶۰۰۰ روپئ خيرات کول وي.

ښکاره خبره ده چه هر سړے د دومره رقم ادا کولو طاقت نه لري، د دې د پاره عُلَماءِ کرامو رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی شرعي حِيله اِرشاد فرمائيلي ده. مَثَلًا هغه دِ د ديرشو ورځو د ټولو لـمونځونو د فِدئے په نِيَّت ۶۰ روپئ د يو فقير مِلك کړي [يعني د هغے مالِك دِ ئې جوړ کړي] (د فقير او مِسكِين تعريف صفحه نمبر 188 او 189 کښې اوګورئ)، دا د ديرشو ورځو فِديه ادا شوه، بيا دِ هغه فقير هغه رقم هُم هغه ورکوونکي ته هِبَّه کړي (يعني بيرته دِ ئې تُحفه کښې ورکړي) هغه دِ ئې د قبضه کولو نه پس فقير ته بيرته د ديرشو ورځو د لـمونځونو د فِديے په نِيَّت قبضه کښې ورکړي او د هغے مالِك دِ ئې جوړ کړي. هم دغسې اړول راړول دِ کوي نو داسې به د ټولو لـمونځونو فِديه ادا شي. د ديرشو ورځو د رقم په ذريعه حِيله کول شرط نه دے، هغه خو د پوهه کولو د پاره مِثال ورکړے شوے دے. فرض کړئ که د پنځوسو کالو د فِدئے رقم موجود وي نو په يو ځل ادا کولو به کار اوشي. ياد ساتئ! د فطرے د رقم حساب به د غنمو د موجوده قيمت په حساب لګولے کيږي. (د لـمانځه اَحکام، د قضا لـمونځونو طريقه)

## د روژو فِديه

هُم دغسې في روژه [يعني د يوے روژے] هُم يوه صَدَقهٔ فِطر ده. د لـمونځونو فِديه ادا کولو نه پس د روژو فِديه هُم په دې طريقه ادا کولے شئ. غريب او مالدار ټول د فِديے حيله کولے شي. که وارثان د خپلو مرحومانو د پاره دا عمل اوکړي نو دا به د مړي زبردست اِمداد وي، دغسې به وفات شوے کس هُم اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی د فرضو د پيټي نه خلاص شي او وارثان به هُم د ثواب حقداران شي. بعضې خلق جُمات وغيره ته د قُرآن شريف يوه نُسخه ورکړي او مُطمَئِن شي چه مونږه د مړي د ټولو لـمونځونو فِديه ادا کړه، دا د هغوئ غلط فهمي ده. (تفصيل د پاره اُوګورئ فَتَاوٰی رَضَوِيَّه ، ۸/۱۶۷) ياد ساتئ! د مرحوم د لـمونځونو فِديه د اولاد او نورو وارثانو نه علاوه يو عام مسلمان هُم ورکولے شي. (د لـمانځه اَحکام، د قضا لـمونځونو طريقه، و منحة الخالق، ۲/۱۶۰ مُلَخَّصاً)

## د مرحومې د فِديے يوه مسئله

د زنانه د حيض عادت که معلوم وي نو د هرې مياشتې [د شمير] نه هغه همره ورځې او که نه وي معلومې نو د هرې مياشتې نه درې ورځې د نهه کاله د عُمر نه [واخله باقي ټول عُمر نه] اوباسئ. خو چه څومره ځله ئې حمل شوے وو نو د حمل د مودے د مياشتو نه ئې د حيض ورځې مه اُوباسئ. د زنانه د نِفاس [د ورځو د شمير] عادت که معلوم وي نو د هر حمل نه پس ترې هغه همره ورځې اُوباسئ او که نه وي معلوم نو هيڅ نه، ځکه چه د نِفاس د پاره د کم نه کم طرف ته شرعاً هيڅ ميعاد نشته، کيدے شي چه صرف يو مِنَټ راشي او فوراً پاک شي. (فَتَاوٰی رَضَوِيَّه ۸/۱۵۴ ماخوذاً)

## ساداتِ کرامو ته د لـمانځه فِديه نه شئ ورکولے

اعلیٰ حضرت اِمامِ اهلِسُنّت مُجَدِّدِ دِين و مِلّت مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه نه سيّدانو او غير مُسلِمو ته د لـمانځه د فديے ورکولو په باره کښې تپوس اوکړے شو نو هغوئ اُوفرمائيل: دا صَدَقه (يعني د لـمانځه فِديه) د ساداتِ کرامو [يعني سيّدانو] لائقه نه ده او هندوان وغيره کافِران د دې صَدَقے لائق نه دي. دے دواړو ته د ورکولو اصلًا [يعني بالکل] اِجازت نشته، او نه به دوئ ته ورکولو باندې ادا شي. مُسلِمين، مَساکِين، ذَوِي القُربٰى غير هاشمِي (يعني مسلمانانو خپلوانو او غيرِ هاشميانو) ته ورکول دوه همره ثواب دے. (فَتَاوٰى رَضَوِيَّه ٨/١٦٦)

## د سلو کوړو حِيله

د شرعي حِيلے جواز په قُرآن و حديث او د فِقه حَنَفي په مُعتبرو کتابونو کښې موجود دے چنانچه د حضرتِ سَيِّدُنا اَيُّوب عَلَيْهِ السَّلَام د بيمارئ په زمانه کښې د هغوئ عَلَيْهِ السَّلَام زَوجهٔ محترمه رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا يو ځل د هغوئ عَلَيْهِ السَّلَام په خِدمت کښې ناوخته حاضره شوه نو هغوئ عَلَيْهِ السَّلَام قَسَم اوخوړلو چه "که زه جوړ شوم نو سل کوړے به دِ وهم" د صِحت ياب کيدو نه پس **اللّٰه** تعالٰى هغوئ عَلَيْهِ السَّلَام ته حُکم اوکړو چه د سلو تِيلو په جارو ئې اُووهه. (نور العرفان، ص٧٢٨ مُلَخَّصاً) **اللّٰه** تَبَارَكَ وَتَعَالٰى پاره ٣ سُوْرَهٔ ص آيت نمبر ٤٤ کښې اِرشاد فرمائي:

وَ خُذْ بِيَدِكَ ضِغْثًا فَاضْرِبْ بِّهٖ وَ لَا تَحْنَثْ ؕ

[مَفهُوم] ترجمهٔ کَنْزُالْاِيمان : او اُوئې فرمائيل چه خپل لاس کښې يوه جارو واخله او په هغے ئې اُووهه او قسم مه ماتوه. (پ ٢٣، آيت ٤٤)

"عالمګيري" کښې د "کتاب الْحِيل" په نوم د حِيلو يو مستقل باب دے، چنانچه عالمګيري "کتابُ الْحِيل" کښې دي: "کومه حِيله چه د چا حق وهلو يا په هغے کښې شُبه پيدا کولو يا په باطِله باندې دوکه ورکولو د پاره اوکړے شي هغه مکروه ده او کومه حيله چه د دې د پاره اوکړے شي چه سړے د حرامو نه بچ شي يا حلال حاصل کړي هغه ښه ده. د داسې قِسم حِيلو د جائز کيدلو دليل د **الله** تعالٰی دا فرمان دے:

وَ خُذْ بِيَدِكَ ضِغْثًا فَاضْرِبْ بِّهٖ وَ لَا تَحْنَثْؕ

[مَفهُوم] ترجمۂ کَنْزُالْاِیمان : او اُوئې فرمائيل چه خپل لاس کښې يوه جارو واخله او په هغے ئې اُووهه او قسم مه ماتوه. (پ ٢٣، آیت ٤٤) (عالمگیری، کتاب الحِیَل، الفصل الاول فی بیان جوازِ الحِیَل...الخ،ج٦،ص٣٩٠)

## د غوږونو سُورو کولو رواج کله شروع شو؟

د حِيلے په جَواز يو بل دَلِيل اوګورئ چنانچه د حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عبّاس رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا نه رِوايت دے چه يو ځل د حضرتِ سَيِّدَتُنا ساره رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا او حضرتِ سَيِّدَتُنا هاجِره رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا په مينځ کښې څه زړه بدے پيدا شو. حضرتِ سَيِّدَتُنا ساره رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا قَسم اُوخوړلو چه که ما موقع اُوموندله نو زه به د هاجِره رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا يو اندام پريک کووم. **الله** تعالٰی حضرتِ سَيِّدُنا جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَام د حضرتِ سَيِّدُنا اِبراهيم خليلُ الله عَلَيْهِ السَّلَام دربار ته اوليږلو چه په هغوئ کښې صُلح اوکړئ. حضرتِ سَيِّدَتُنا ساره رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا عرض اوکړو "مَا حِيْلَةُ يَمِيْنِي؟" يعني زما د قَسَم به څه حِيله وي؟ حضرتِ سَيِّدُنا اِبراهيم خليلُ الله عَلَيْهِ السَّلَام باندې وحي نازله شوه چه ساره (رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا) ته حُکم اوکړئ

چه هغه د هاجره (رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا) غوږ سُورے کړي. د هم هغه وخت نه د سبځو د غوږونو سُورو کولو رواج جوړ شو. (شرح الاشباہ و النظائر للحَمَوی، الفن الخامس، ۳/۲۹۵)

## د غوا د غوښې تُحفه

اُمُّ المُؤمِنِین حضرتِ سَیِّدَتُنا عائشه صِدِّیقه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا نه رِوایت دے چه د سردارِ دوجهان صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې د غوا غوښه پیش کړے شوه، چا عرض اوکړو چه دا غوښه په حضرتِ سَیِّدَتُنا بَرِیره رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا باندې صَدَقه کړے شوي وه. خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اُوفرمائیل: هُوَ لَهَا صَدَقَةٌ وَّ لَنَا هَدِیَّةٌ یعني دا د بَرِیره د پاره صَدَقه وه، زمونږ د پاره هَدِیَّه ده.

(مُسلِم، کتاب الزکاۃ، باب اباحۃ الهدیۃ للنبی و لبنی هاشم و بنی مُطَّلِب، و ان کان... الخ، ص۵۴۱، حدیث۱۰۷۵)

## د زکوٰة شرعي حِیله

د دې حدیثِ پاك نه صفا ظاهره ده چه حضرتِ سَیِّدَتُنا بَرِیره رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا چه هغه د صَدَقے [یعني زکوٰة] حقداره وه، هغے ته د صَدَقے په طور ورکړي شوي غوښه اګرچه د هغے په حق کښې صَدَقه وه خو د هغے د قبضه کولو نه پس چه کله په بارګاهِ رِسالت کښې پیش کړے شوه نو د هغے حُکم بدل شوے وو او بیا هغه صَدَقه نه وه. هُم دغسې یو حقدار کس زکوٰة خپله قبضه کښې اخستو نه پس هر چا ته په تُحفه کښې ورکولے شي یا د جُمات وغیره د پاره ئې پیش کولے شي ځکه چه د هغه حقدار کس پیش کول اوس زکوٰة ورکول نه دي بلکه تُحفه یا عطِیَّه شوه. فُقَهائے کرام رَحِمَهُمُ اللّٰہُ تَعَالٰی د زکوٰة د شرعي حِیله کولو طریقه داسې بیانوي: د زکوٰة رقم د مړي په کَفَن دَفَن یا د جُمات په

تعمير کښې نه شئ لګولے ځکه چه تَمليكِ فقير (يعني فقير مالِك کول) نه دي شوي. که په دې کارونو کښې ئې لګول غواړئ نو د دې طريقه دا ده چه فقير (د زکوٰة د مال) مالِك کړئ او هغه دِ ئې (د جُمات وغيره په تعمير کښې) اولګوي، دغسې به ثواب د دواړو اوشي. (بهارِ شريعت حصّه ۵، ۱/۸۹۰)

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** تاسو اوليده! په کَفَن دَفَن او جُمات کښې هُم د شرعي حِيلے په ذريعه زکوٰة استعماليدے شي ځکه چه زکوٰة خو د فقير په حق کښې وو، چه فقير قبضه اوکړه نو اوس هغه مالِك شو، د هغه خوښه ده چه څه پرې کوي. د شرعي حِيلے په بَرَکت د ورکوونکي زکوٰة هُم ادا شو او فقير ئې هُم چه جُمات کښې ورکړي نو د ثواب حقدار شو. شرعي فقير دِ بيشکه د حيلے په مسئله پوهه کړے شي.

## د فقير تعريف

فقير هغه دے چا سره چه څه نه څه وي خو دومره نه چه نصاب ته اورسي، يا د نصاب همره خو وي خو د هغه په حاجتِ اَصلِيه (يعني د ژوند ضرورتونو) کښې مُستغرَق (يعني ګير) وي، مَثَلًا د اوسيدلو کور، د کور سامان، د سورلئ څاروي (يا سکوټر يا موټر)، د کاريګرو اوزار، د اغوستلو جامے، د خِدمت د پاره وينزه، غُلام، عِلمي کار کوونکي د پاره اسلامي کتابونه کوم چه د هغه د ضرورت نه زيات نه وي هُم دغسې که مقروض (يعني قرضدار) دے او دَين (يعني قرضه) ويستلو نه پس صاحِبِ نصاب پاتې نه شي نو فقير دے اګر چه هغه سره يو نه بلکه ډير نصابونه وي. (بهارِ شريعت حِصّه ۵، ۱/۹۲۴ و رَدُّالْمُحْتَار، کتاب الزکوٰة، باب المصرف، ۳/۳۳۳)

# د مِسکِين تعريف

مِسکِين هغه دے چا سره چه هيڅ هُم نه وي تر دې چه د خوراك او بدن پټولو د پاره د دې مُحتاجه دے چه خلقو نه سوال اوکړي او د هغه د پاره سوال کول حلال دي. فقير (يعني چا سره چه کم از کم د يوے ورځې خوراك او اغوستلو د پاره څه موجود وي هغه) له بغير د ضرورت او مجبورئ نه سوال کول حرام دي.

(عالمگيری، کتاب الزکوٰة، الباب السابع فی المصارف، ۱/۱۸۷ و بهار شريعت، حصّه ۵، ۱/۹۲٤)

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** معلومه شوه چه کوم سوالګر د څه کټلو قدرت لرلو باوجود بے ضرورته او بے مجبورئ د پيشے په طور سوال کوي، هغه ګنهګار او د اور د عذاب حقدار دے او څوك چه د داسې خلقو د حال نه خبر وي هغه ته هغوئ له ورکول جائز نه دي.

د **الله** تعالٰی نه دا دُعا کوو چه مونږ ته د مرحومينو سره د ښيګړې د پاره د هغوئ د لـمونځونو او روژو د فِديے ادا کولو او د شريعت په اَحکامو باندې پابندئ سره د عمل کولو توفيق راکړي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# د عِدّت او خفګان بيان

## د دُرُود شريف فضيلت

اميرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَة رِساله "سيِّدي قُطبِ مدينه" کښې د دُرُود شريف فضيلت کښې ليکي:

### سل حاجتونه به ئې پوره کيږي

خورِ مَدَنـي آقا صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: څوك چه په ما باندې د **جُمُعے** په ورځ او شپه ۱۰۰ ځله دُرُود شريف اولولي **اللّٰه** تعالٰى به د هغه ۱۰۰ حاجتونه پوره کوي، ۷۰ د آخرت او ۳۰ د دُنيا او **اللّٰه** تعالٰى به يوه فرښته مُقرره کړي چه هغه به هغه دُرُود شريف زما قبر کښې داسې را رسوي څنګه چه تاسو ته تُحفے پيش کيږي، بيشکه زما عِلم به زما د وِصال نه پس دغسې وي څنګه چه زما په [ظاهري] ژوند کښې دے. (جمع الجوامع، ۷/۱۹۹، حديث ۲۲۳۵۵)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

### د عِدَّت تعريف

لُغت کښې عِدَّت د "شمير" په معنٰى کښې دے، او په شريعت کښې هغه انتظار ته عِدَّت وائي کوم چه (د طلاق يا د خاوند د وفات په سبب) د نکاح يا شِبهِ نکاح د ختميدو نه پس اوکړے شي. په دغه زمانه کښې بله نکاح کول منع وي. (مِراٰةُ المناجيح، عِدَّت کا بيان ۵/۱۴۶)

# د وفات عِدَّت

د وفات عِدَّت څلور میاشتې او لس ورځې دے. (جَوْهَرة نیرة کتاب العدة الجزء الثانی ص۹۷، وغیرها، و بهارِ شریعت حصّه ۸، ۲/۲۳۷) او کله چه د ښځې اُمید (یعني حمل) وي نو د عِدَّت میعاد د ماشوم کیدو پورې دے اګر که د خاوند د وفات نه فوراً پس ماشوم پیدا شي. که دوه درې ماشومان په یو حمل کښې پیدا شي نو د وړومبي ماشوم د پیدا کیدو سره به عِدَّت پوره شي. (جَوْهَرة نیرة کتاب العدة الجزء الثانی، ص۹٦ و بهار شریعت، حصّه ۸، ۲/۲۳۸)

# عِدَّت به چرته تیروي

عِدَّت به د خاوند په کور کښې تیروي. که کور په راپریوتو وي یا ئې د راپریوتلو خطره وي یا د غلو [ویره وي] یا د مال تباه کیدو ویره وي نو په دې صورتونو کښې کور بدلولے شي. (عالمګیری، کتاب الطلاق، الباب الرابع عشر فی الحداد، ۱/۵۳۵ و بهار شریعت، حصّه ۸، ۲/۲٤۵)

# د عِدَّت په دوران کښې د کوره وتل څنګه دي؟

د عِدَّت په دوران کښې ښځه د کوره نه شي وتلے البته ضرورتاً د کور نه بهر وتلو اجازت شته دے خو په ورځ ورځ کښې دِ لاړه شي او د لـمر پریوتو نه مخکښې دِ بیرته راشي. (مَثَلًا بیماره شوه او ډاکټره کور ته نه شي راتلے نو بهر تلے شي خو چه کله هُم د یو حاجت د پاره د وتلو ضرورت وي نو د مَحرم په ذریعه دِ د دارُ الاِفتاء اَهلِسُنَّت نه شرعي رهنمائي اخلي نو هله دِ اُوځي)

# د عِدَّت په دوران کښې نکاح کول څنګه دي؟

د عِدَّت په دوران کښې هیڅ چا سره نکاح نه شي کولے، نه هغے ته څوك د نکاح پیغام ورکولے شي، اِمامِ اَهلِسُنَّت اعلیٰ حضرت مولانا شاه اِمام اَحمد

رضا خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه ليکي:

”تر څو چه عِدَّت نه وي تير شوے نو نکاح څه چه د نکاح پيغام ورکول هُم حرام قطعي دي.“ (فَتَاوٰی رَضَوِيَّه ۳۱۹/۱۳) يو بل مُقام کښې ليکي چه ”د عِدَّت په دوران کښې (شوي) نکاح باطِله او حرامه ده.“ (فَتَاوٰی رَضَوِيَّه ۲٦٦/۱۱)

## عِدَّت کښې د نکاح د پيغام حُکم

کومه ښځه چه په عِدَّت کښې وي هغے ته صَراحَةً [يعني واضحه] د نکاح پيغام ورکول حرام دي او که د مرګ عِدَّت وي نو اِشارةً وئيل ورته کيدے شي او د طلاقِ رَجَعي يا بائن يا فَسخ په عِدَّت کښې ورته اشارةً هم نه شي وئيلے. د اِشارةً وئيلو صورت دا دے چه ورته اُووائي چه زه نکاح کول غواړم خو دا دِ نه وائي چه تا سره کُنې صراحَت به شي يا دِ اُووائي زه داسې ښځې سره نکاح کول غواړم چه په هغے کښې دا دا صفتونه وي او هغه صِفَتونه بيان کړي کوم چه په دې ښځه کښې دي يا [ چه داسې] اُووائي، زه به ستا په شان چرته پيدا کړم. (عالمگيری کتاب الطلاق الباب الرابع عشر فی الحداد، ۵۳٤/۱ و بهارِ شريعت حصّه ۸، ۲٤٤/۲) خو د پردے او نور احتياطونه ضروري دي.

## د عِدَّت په دوران کښې د پردے حُکم

د عِدَّت نه مخکښې چه د کومو خلقو نه پرده کول فرض وو نو د عِدَّت په دوران کښې به هُم د هغوئ نه پرده کول ضروري وي او د طلاقِ مُغَلَّظه، طلاقِ بائنه او خُلع والا ښځه به د عِدَّت په دوران کښې د خاوند نه هُم پرده کوي.

## د خفګان کولو [يعني غمژن اوسيدلو] بيان

د حضرتِ سَيِّدَتُنا اُمِّ عَطِيَّه رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا نه رِوايت دے چه رَسُولُ اللهِ صَلَّی اللهُ تَعَالٰی

عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: يوه ښځه دِ هُم په يو مړي باندې د درې ورځو نه زيات خفګان نه کوي، خو په خاوند دِ څلور مياشتې او لس ورځې خفګان کوي. (مُسلِم، کتاب الطلاق، باب وجوب الاحداد فی عِدَّةِ الوفاۃ...الخ، ص۷۹۹، حدیث۱۴۹۱)

او اُمُّ المُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدَتُنا اُمِّ سَلَمه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهَا نه رِوايت دے چه حُضُورِ اَقدس صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د کومې ښځې خاوند چه مړ شوے دے هغه دِ نه په کُسُم[1] رنګ کړي جامه اغوندي او نه په کِيرُو[2] رنګ کړي او نه دِ کالے اچوي او نه دِ نکريزي لکوي او نه رانجه. (اَبو داؤد کتاب الطلاق، باب فیما تجتنبه...الخ، ۲/۴۲۵، حدیث۲۳۰۴ و بهارِ شریعت، حصّه ۸، ۲/۲۴۱)

## د خفګان کولو تعريف

د خفګان کولو [يعني غمژن اوسيدلو] معنٰي دا ده چه زِينت [يعني ښکُلا حاصلول] دِ پريږدي. (الدر المُختار معه رَدُّالْمُحتَار کتاب الطلاق، فصل فی الحداد، ۵/۲۲۱ و بهارِ شریعت، حصّه ۸، ۲/۲۴۲)

## د خفګان کولو مُتَعَلِّق ضروري اَحکام

خفګان د هغے لپاره دے چه عاقِله، بالِغه مسلمانه وي او د [خاوند] د مرګ يا د طلاقِ بائن عِدَّت ئې وي. (الدر المُختار معه رَدُّالْمُحتَار کتاب الطلاق، فصل فی الحداد، ۵/۲۲۰ و بهارِ شریعت، حصّه ۸، ۲/۲۴۳)

داسې اسلامي خور له خپل عِدَّت پوره کيدو پورې خفګان کول شرعاً واجِب او د دې پرينښودل حرام دي. تر دې چه که طلاق ورکوونکے ئې د خفګان [يعني غمژن اوسيدلو] نه منع کوي يا ورته خاوند د مرګ نه مخکښې وئيلي وو چه خفګان به نه کوے نو بيا هم خفګان واجب دي. (الدر المُختار معه رَدُّالْمُحتَار کتاب الطلاق، فصل فی الحداد، ۵/۲۲۰ و بهارِ شریعت، حصّه ۸، ۲/۲۲۱)

---

[1] **کُسُم** يو قِسم کُل وي، د هغے نه د جامو رنګ جوړوي.

[2] **کِيرو** يو قِسم پوست کانړے وي، د هغے پوډرو باندې جامے رنګ کيږي

## خفګان کښې کوم کارونه منع دي؟

❁ هر قِسم کالے تر دې چه ګوتئ، څلے او د شيشے بنګړي وغيره دِ هُم نه اچوي.

❁ د ريښمنو د هر قِسَم رنګ جامے دِ نه اغوندي.

❁ رانجه دِ نه پورې کوي.

❁ سر دِ نه ګمنزوي. (که مجبوري وي نو د غټو غاښو په طرف دِ ئې ګمنزوي)

❁ د هر قِسم سِنګار، اميل، ګُل، نکريزې، او خوشبو وغيره لګول دِ پريږدي.

❁ ضروري نه ده چه په خفګان کښې دِ صرف سپينې جامے اغوندي بلکه ساده او که کيدے شي نو زړے جامے دِ اِستعمالوي.

❁ د کوره دِ د سختې مجبورئ نه بغير نه اُوځي تر دې چه په اِجتِماع، د ذِکر و ميلاد محفلونو، د قُرآن شريف ختم وغيره له هم [د کوره بهر] نه شي وتلے.

❁ که يو عزيز ئې وفات شي نو د عِدَّت په دوران کښې د هغه کور ته هُم نه شي ورتلے.

❁ غرض دا چه د هر قِسمه سِنګار د عِدَّت ختميدو پورې منع دے. (فَتَاوٰی رَضَوِيَّه ۱۳/۳۳۱ مُلَخَّصاً)

❁ د عِدَّت په دوران کښې جَشنِ وِلادت باندې په زړه کښې خوشحاليدلو کښې باك نشته. البته د دې خوشحالئ په موقع هُم ښه لباس او کالے وغيره نه شي اچولے خو په کور کښې جنډے او رنړاکانې وغيره لګول او [د ميلاد شريف] خيرات کول منع نه دي.

## په خفګان کښې د دې کارونو اجازت دے

❁ په کټ کښې اُوده کيدل، بستره خورول، که د اُوده کيدو د پاره وي او که د ناستې د پاره وي منع نه دي. (فَتَاوٰی رَضَوِيَّه ۱۳/۳۳۱ مُلَخَّصاً)

❁ لامبل، صفا سُتره ساده لباس اغوستل.

❁ د سر د دردِ په وجه سر کښې تيل اِستعمالول. کوشش دِ کوي چه د تيلو اِستعمال د شپے کوي او د زينت په نِيَّت دِ ئې نه کوي.

❁ د سترګو د درد په وجه رانجه لګولے شي. که کيدے شي نو سپين رانجه دِ لګوي. (دا دِ هُم د شپے لګوي او د زِينت په نِيَّت دِ ئې نه لګوي)

❁ د ويښته جاخه کيدو يا د سر درد په سبب ګمنز کولے شي خو د ګمنزې غټو غاښو طرف باندې دِ ګمنز کوي چه په هغے صرف ويښته سم شي، چه د زينت نِيَّت ئې نه وي. (فَتَاوٰی رَضَوِيَّه، ۳۳۱/۱۳ مُلَخَّصاً)

❁ د کوم مرض علاج چه کور کښې نه شي کيدلے د هغے د پاره بهر تلے شي خو د شپے اکثره حصّه دِ د خاوند کور کښې تيروي او که په هم هغه کور کښې علاج کيدے شي نو بيا بهر وتل حرام دي.

❁ ضرورتاً په فون خبرې کولے شي.

❁ د عِدَّت ورځې ختميدو باندې د ښځې جُمات ته تلل يا جُمات ليدل، د يو خپلوان وغيره په بللو [د کوره] وتل، [د شُکرانے] نفل ادا کول، سحر يا مابنام په يو مخصوص وخت عِدَّت ختمول يا په هغه ورځ د کوره ضرور وتل [د دې خبرو بعضو خلقو کښې رواج دے نو] د دې ټولو خبرو شرعاً هيڅ اصل نشته. خو د عِدَّت د ختميدو په ورځ د يو خپلوان کره تللو د پاره د کوره وتلو کښې څه باك هُم نشته او نه د شُکرانے نفل کولو کښې څه باك شته. البته د عِدَّت ختمولو د پاره دا ټول کارونه ضروري نه دي. (دارُالْاِفتاء اَهلِسُنَّت)

❁ د خاوند قَبْر له دِ نه ځي بلکه کور کښې دِ فاتِحه لولي او هغه دِ وربځنبي. .

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# متفرِّق بیانات

## بيان نمبر: ۱

# د مړي د غُسل نه مخکښې بيان

[يعني که موقع وي نو دغه وخت چه کوم خلق راجمع شوي انتظار کښې ناست وي هغوئ ته بيان]

## د دُرُود شريف فضيلت

حُضُور نَبِيِّ کريم رَءُوْفٌ رَّحِيم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د لـمانځه نه پس حمد و ثنا او دُرود شريف لوستونکي ته اوفرمائيل: دُعا اوکړه، قبوله به شي، سوال اوکړه، در به کړے شي. (نسائی کتاب السهو، باب التمجيد و الصلاة علی النبی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فی الصلاة، ص ۲۲۰، حديث۱۲۸۱)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## بے بَها مَلغَلرِي

شيخِ طريقت، امِيرِ اَهلِسُنَّت، دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په رِساله "بے بها ملغلرِي" کښې يو مثال بيانوي: چنانچه وائي چه يو بادشاه د خپلو ملګرو سره د يو باغ په خوا تيريدلو څه ګوري چه د باغ نه څوك واړه واړه کانړي را اُولي، يو وړوکے کانړے راغے او بادشاه پرې اولګيدو. هغه خپلو خادِمانو ته اُووئيل چه په منډه ورشئ، او دا کانړي وِيشتونکے اونيسئ او ما ته ئې حاضِرکړئ، چنانچه خادمانو يو اَعرابي [يعنی د کلي اوسيدونکے يو بے تعليمه سړے] راحاضِرکړو. بادشاه ورته اُووئيل: دا واړه کا نړي تا چرته موندلي وو؟ هغه په ويره ويره اُووئيل: ما په شړو کښې سيل کولو ناڅاپه مې په دې ښکلو کانړو نظر پريوتو، ما دا په ځولئ کښې راواچول او بيا راتلم راتلم

دے باغ ته را اورسيدم او د ميوو راخنډلو د پاره مې دا کانړي استعمال کړل. بادشاه ورته اُووئيل: ته د دې کانړو د قِيمت نه خبر ئې؟ هغه عرض وکړو: نه. بادشاه اُووئيل: دا کانړي په اصل کښې بے بَها ملغلرې وې کومې چه تا د نادانئ په وجه ضائِع کړے. په دې خبره هغه کس ډير افسوس وکړو خو اوس د هغه افسوس کول بيکاره وو ځکه چه هغه بے بها ملغلرې د هغه د لاسه وتلې وې.

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** هم دغسې زمونږ د ژوند ساعتونه هم بے بَها ملغلرې دي که دا مونږه بےکاره ضائع کړے نو د افسوس او پښيمانئ نه سِوا به هيڅ هم په لاس رانه شي.

## د ''ورځ'' اِعلان

حضرت سيِّدُنا امام **بَيْهَقِي** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه په ''**شُعَبُ الْاِيمان**'' کښې نقل کوي: د تاجدارِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عبرت نِشان دے: هره ورځ چه کله د لـمر سترګه راخيژي نو هغه وخت ''**ورځ**'' دا اِعلان کوي: که نن څه ښه کار کوئ نو وکړئ ځکه چه د نن نه پس به زه کله هم بيرته را نه شم.

(شعب الايمان الباب الثالث و العشرون فی الصيام، ۳/۳۸٦ حديث۳۸٤۰)

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** د ژوند چه کومه ورځ نصيب شي هغه غنيمت ګڼړل پکار دي او په هغے کښې چه څومره کيدے شي ښه ښه کارونه وکړے شي نو بهتره ده ځکه چه د مرګ نه پس به هيڅ عمل نه شو کولے. دا دُنيا دارُ الْعمل او آخرت دارُ الْجزا دے څوك چه دلته څنګه عمل کوي آخرت کښې به هُم هغسې بدله ورکولے کيږي، خوش نصيبه دي هغه خلق څوك چه په خپل ژوند کښې د **قَبْر** و آخرت په تيارئ کښې مشغول

اوسيږي. **الله** تعالٰی دِ مونږ ته هم د مرګ او د **قَبْر** و آخرت د تيارئ کولو توفيق راکړي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** د مرګ نه پس د آخرت د ټولو نه وړومبے منزِل قبر دے، د قيامت په ورځ راپاڅيدو پورې به په هُم هغے کښې زرګاؤ کلونه اوسيدل وي دا د چا د پاره د جَنَّت باغ او د چا د پاره د دوزخ کنده وي، معلومه نه ده چه زمونږ سره به څه کيږي، **الله** تعالٰی دِ زمونږ په حال رحم اوفرمائي او زمونږه قبرونه دِ د خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نظارو روښانه کړي. راځئ چه د **قَبْر** مُتَعَلِّق څه رِوايات اوګورو. چنانچه

## د قَبر په ليدلو ژړا فرياد

اَمِيرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدُنا عُثمانِ غَنی رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ به چه کله د چا د قَبر خوا ته تشريف يوړو نو دومره به ئې اوژړل چه ګيره مبارَکه به ئې لـمده شوه. چا ورته عرض اوکړو چه د جَنَّت او دوزخ تذکِره کولو وخت کښې تاسو نه ژاړئ خو د قَبر خوا ته ډير ژاړئ د دې څه وجه ده؟ هغوئي اُو فرمائيل: ما د سرکارِ نامدار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه اوريدلي دي: چه د آخِرت د ټولو نه وړومبے منزل قَبر دے، که قَبر والا د دې نه خلاصے وموندلو نو وروسته مُعامَله د دې نه آسانه ده او که د دې نه ئې خلاصے اونه موندو نو وروسته مُعامَله زياته سخته ده. (اِبنِ ماجه کتاب الزهد، باب ذکر القبر و البلی ٤/٥٠٠ حديث ٤٢٦٧)

## خوفِ عُثماني

**الله! الله!** د جامِعُ الْقُرآن حضرتِ سَيِّدُنا عُثمان ابنِ عفّان رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ خوفِ

خُدا عَزَّوَجَلَّ! د هغوئي لقب ذُو النُّورَين [يعني دوه نُورونه والا] وو ځکه چه د هغوئي رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ په نکاح کښې د حُضُورِ انور صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پرله پسې دوه شهزادياني وې، هغوئي ته په دې دُنيا کښې د قَطعي جَنَّتي کيدو زيرے اورولے شوے وو او د هغوئي رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه معصومو فرښتو حيا کوله خو د هغے باوجود به د قَبْر د عذابونو او تِيارو نه ډير زيات ويريدلو، د خوفِ خُدا عَزَّوَجَلَّ د غَلَبے په موقع ئې يو ځل اِرشاد اُوفرمائيلو: که ما د جَنَّت او جَهنَّم د مينځه راولي او دا راته نه وي معلومه چه د دې دواړو نه به کوم يو ته ځم نو زه به هُم هغلته اِيرے کيدل خوښووم.

(حِلْيَةُ الْاَوْلِيَاء، ذکر الصحابه من المهاجرين، عُثمان بن عفان، ۱/۹۹، حديث ۱۸۳)

## ټولو نه مخکښې قبر کښې راتلونکے

حضرتِ سَيِّدُنا عطا بِن يَسار رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه نه روايت دے: کله چه مړے قَبْر کښې کيښودے شي نو د ټولو نه مخکښې د هغه عمل [راشي او] د هغه ځخ طرف ته ورون وخوزوي او وائي: زه ستا عمل يم. هغه مړے تپوس کوي: زما بال بچي چرته دي! زما نِعمتونه، زما دولتونه چرته دي؟ نو عمل وائي: هغه ټول ستا نه وروستو پاتې شو او زما نه سِوا ستا سره قَبْر ته هيڅ څوك نه دے راغلے. (شَرْحُ الصُّدُور، باب ضمة القبر لكل احد، ص۱۱۱)

افسوس! افسوس! زمونږه زړونه د ګناهونو په وجه سخت شوي دي حالانکه يقيني طور پوهيږو چه مرګ به ضرور راځي، دا هُم کيدے شي چه نن راشي او مونږه هُم قَبْر ته کوز کړے شو، په دې هُم پوهيږو چه د شپے بجلي لاړه شي نو په تِياره کښې ويره محسوسوو او د دې باوجود د قبر د سختې

تِيارے هيڅ احساس نه لرو، افسوس! مونږه د سخت خفه کوونکي مرګ د تيارئ نه بالکل غافِله يو.

ياد ساتئ! هر هغه څيز چه انسان ورسره دُنيوي مَحَبَّت لري د مرګ نه پس ورپسے انسان خفه وي او دا خفګان ناقابِلِ برداشت وي، په دې خبره ځان داسې پوهه کړئ چه د چا د ګُل په شان صرف يو بچے وي او هغه ورك شي نو هغه څومره خفه وي او که ورسره ورسره د هغه کاروبار وغيره هُم تباه شي نو د خفګان نه به د هغه څه حالت وي. او که هغه افسر هُم وي او د مصيبت د پاسه پرې دا مُصيبت راشي چه د هغه نه هغه عُهده هُم لاړه شي نو په هغه چه به د غمونو کوم غر پروت وي په هغے به صرف هغه پوهيږي، لِـهذا مړے هُم د مور و پلار، بال بچو، خويندو وروڼړو او دوستانو په جُدائي کښې، د دې نه علاوه د ګاډي، لباس، کور، دُکان، فيکټرئ، ښکلي پالنګ، فرنيچر، د خوراك څښاك د څيزونو په ذخيره، په ډيره خوارئ ګټلي مال، عُهده وغيره هر هر هغه څيز چه ده به ورسره صرف د دُنيا د پاره مينه لرله هغه ټولو پسے به غمژن وي او څوك چه د دُنيا څومره زياتو خوندونو کښې ژوند تيروي د مرګ نه پس د هغه څيزونو په پاتې کيدو باندې هغه همره زيات غمژن وي، چا سره چه مال و دولت کم وي د هغے په پاتې کيدو د هغه غم هُم کم وي او چا سره چه زيات وي د هغے د پاتې کيدو غم هُم زيات وي. ياد ساتئ دا کم يا زيات غم به صرف په هغه صُورت کښې وي چه هغه د دې مال و دولت سره صرف د دُنيا د پاره مَحَبَّت کړے وي. حُجَّةُ الاِسلام اِمام ابو حامِد محمّد بِن محمّد غزالي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: دا خبره [په مړي] د ساه ختلو سره سمدستي د خخولو نه مخکښې مخکښې ښکاره شي او هغه چه په دې فاني دُنيا

کښې په کومو کومو څيزونو مُطمئن وو د هغه په زړه د هغے د جُدائي اور بل شي. (اِحْيَاءُ الْعُلُوم، کتاب ذکر الموت وما بعده، الباب السابع فی حقیقة الموت...الخ، ٥/٢٤٨)

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** کوم خلق چه د **الله** تعالیٰ نيك بندګان وي، چا چه د دُنيا د مال و اسباب سره **مَحَبَّت** نه وي کړے هغوئ به مال پاتې کيدو باندې غمژن هُم نه وي او **قَبْر** کښې به ئې ډيرې مزے وي څنګه چه په حديثِ پاك کښې دي:

## د مومن قبر اويا لاسه فراخه کړے شي

سرکارِ نامدار، د مدينے تاجدار صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: مومن په خپل **قَبْر** کښې په يو شين باغ کښې وي او د هغه **قَبْر** اويا لاسه فراخه کړے شي او د هغه **قَبْر** د څوارلسمي سپوږمئ په شان روښانه کړے شي.

(اَبو يَعْلٰی مُسند ابی هُريرة، ما اسنده، شهر بن حوشب عن ابی هُريرة، ٥/٥٠٨، حديث ٦٦١٣)

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** هر يو غواړي چه د هغه **قَبْر** روښانه او د جَنَّت باغ وي. راشئ! خپل **قَبْر** روښانه کولو، آخرت ښه کولو او په نيکو باندې اِستِقامت حاصلولو د پاره د دعوتِ اسلامي مَدَني ماحول سره هر وخت خپل تَعَلُّق مضبوط ساتئ، د سُنَّتو د تربيَّت په **مَدَني قَافِلو** کښې **عاشِقانِ رَسُول** سره د سُنَّتو ډك سفر جاري ساتئ او کامياب ژوند تيرولو د پاره د مَدَني انعاماتو مطابق عمل کوئ او هره ورځ د فِکرِ مدينه په ذريعه د مَدَني انعاماتو رِساله کښې خانے ډکوئ او د هري مَدَني مياشتې په يکم تاريخ ئې خپل ذِمَّه دار ته جمع کوئ. ستاسو د ترغيب د پاره يو مَدَنـي سپرلے ورباندې کيږي. چنانچه

# د زړه درد مې ختم شو

د پـکّا قلعه (زم زم نگر، حيدر آباد، بابُ الاسلام سندھ) د يو اسلامي ورور څه داسې بيان دے چه ناڅاپه مې په زړه درد شو، چه په دوايانو مې فائده ونشوه نو بابُ الْمَدينه (کراچئ) ته راغلم او د زړه آپريشن مې اوکړو، خو تکليف مې د ښه کيدو په ځائے نور زيات شو، د درد بيشميره دواياني مې اِستعمال کړے خو څه فائده مې ونشوه. آخِر دا چه د يو اسلامي ورور د اِنفرادي کوشش په نتيجه کښې عاشِقانِ رَسُول سره د دعوتِ اسلامي د سُنَّتو د تربِيَّت مَدَني قَافِله کښې د سُنَّتو ډك سفر باندې لاړم. اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ مَدَني قَافِله کښې د سفر په بَرَکت الله تعالٰی زما مرض ښه کړو.

دل میں گر درد ہو یا کہ سر درد ہو
آپریشن ٹلیں اور شفائیں ملیں

پاؤ گے صحتیں قافلے میں چلو
کر کے ہمت چلیں قافلے میں چلو

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**بيان نمبر: ۲**

# د جنازے په ګاډي کښې بيان

[يعني که موقع وي نو دغه وخت چه کوم خلق راجمع شوي انتظار کښې ناست وي هغوئ ته بيان]

## د دُرُود شريف فضيلت

حُضُور نَبِيِّ کريم رَءُوْفٌ رَّحِيم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: بيشکه ستاسو نومونه سره د شناخته ما ته پيش کيږي، لِـهذا ما باندې اَحسن (يعني ښکُلو الفاظو) کښې دُرُود لوَلئ. (مُصَنَّف عبدُ الرَّزَّاق کتاب الصلوٰة، باب الصلوٰة علی النبی، ۲/۱۴۰ حدیث ۳۱۱۶)

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د اَدِيرے حاضري

د حضرتِ سَيِّدُنا اِمام سُفيان بِن عُيَيْنه رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه بيان دے چه کله زما والِد صاحِب وفات شو نو ما ډير اوژړل او د هغوئ قَبْر ته به هره ورځ حاضريدم بيا په قلاره قلاره [په حاضرئ کښې] څه کمے راغے. يوه ورځ مې په خوب کښې والِد مرحوم تشريف راوړو او اُوئې فرمائيل: اے ځويه! تا ولے ناوخته کړو؟ ما ترې تپوس اوکړو: آيا تاسو ته زما د راتلو عِلم کيږي؟ هغوئ اُوفرمائيل: ”ولے نه، ما ته به ستا د هرې حاضرئ خبر کيدلو او ما به چه ته اوليدلـي نو خوشحاله به شوم او زما ګاونډيان مړي به هُم ستا په دُعا راضي کيدل.“ چنانچه د دې خوب نه پس مې په پابندئ سره د والِد صاحِب قَبْر له تلل شروع کړل. (شَرْحُ الصُّدُور باب زيارة القبور و علم الموتی...الخ، ص۲۲۷)

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! معلومه شوه چه قَبْر والا د تلو راتلو والا خپلوانو او دوستانو په راتلو او د هغوئ په دُعا او اِيصالِ ثواب باندې خوشحاليږي او کوم خپلوان چه نه ځي د هغوئ په انتظار کښې اوسي. لِـهذا مونږ ته ادیرے تلل او د مسلمانانو د قبرونو زيارت کول پکار دي ځکه چه دا سُنَّت هُم دي او د آخرت د ياد او مغفرت او د قبرونو والؤ د پاره د فائدے باعث هُم دي. په دې باره کښې درې فرامين مُصطَفٰی صَلَّی اللہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اُوکورئ:

## درې فرامين مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَسَلَّم

﴿۱﴾ ما تاسو د قبرونو د زيارت نه منع کړي وئ، اوس تاسو د قبرونو زيارت کوئ ځکه چه هغه په دُنيا کښې د بے رَغبتئ سبب دي او د آخرت ياد ورکوي. (اِبنِ مَاجَه، کتاب الجنائز، باب ماجاء فی زیارت القبور ج۲ ص۲۵۲ حدیث۱۵۷۱)

﴿۲﴾ چه کله څوك په داسې قبر تيريږي چه هغه ئې په دُنيا کښې پيژندلو او هغه ته سلام اوکړي نو هغه مړے هغه پيژني او د هغه د سلام جواب ورکوي. (تَارِیخِ بَغداد حرف العین من آبائہ الابراھیمین ج۶، ص۱۳۵ حدیث۳۱۷۵)

﴿۳﴾ څوك چه د خپل مور او پلار دواړو يا د يو د قَبْر د هرې جُمُعے په ورځ زيارت کوي، د هغه بخښنه به اوشي او نيکو کار به ليکلے کيږي. (شُعَبُ الْاِیْمَان، باب فی بر الوالدین، فصل فی حفظ حق الوالدین بعد موتھما ج۶، ص۲۰۱ حدیث۷۹۰۱)

## د ادیرے مړي په خوب کښې راغلل

د يو صاحِب معمول وو چه هغه به لاړو او اَدِيره [قبرستان] کښې به کښيناستلو، او چه کله به هُم جنازه راغله د هغے لـمونځ به ئې کولو او

ماښام به د ادیرے په دروازه کښې اودریدلو او داسې دُعاګانې به ئې کولـي: "(اے قبر والؤ!) **الله** پاك دِ تاسو ته اُنس [يعني راحت] درکړي، ستاسو په غريبئ دِ رحم اوکړي، ستاسو ګناهونه دِ مُعاف کړي او ستاسو نيکئ دِ قبولي کړي. هُم هغه صاحِب فرمائي چه يو ماښام ما (د رخصتيدو په وخت کښې) خپل معمول پوره نه کړے شو يعني هغوئي ته دُعاګانو کولو نه بغير کور ته راغلم. په خوب کښې يو ګنږ مخلوق راغـے! ما ترې تپوس اوکړو چه تاسو څوك ئې او ولـے راغلي ئې؟ هغوئي اُووئيل چه مونږه قبرستان والا يو، تا عادت جوړ کړے وو چه کور ته تللو وخت کښې به دِ مونږ ته هَدِيه [يعني تُحفه] راکوله او نن دِ رانکړه. ما ورته اُووئيل چه هغه هديه څه وه؟ نو هغوئي اُووئيل چه هغه هديه د دُعاګانو وه. ما اُووئيل: ښه، اوس به دا هـديه بيا تاسو ته درکول شروع کړم. د هغـے نه پس ما خپل دا معمول کله هُم نه دے پريښودے. (شَرْحُ الصُّدُور، بابُ زيارة القبور و علم الموتى... الخ، ص٢٢٦)

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** معلومه شوه چه مړي خپلو قبرونو ته راتلونکي پيژني او هغوئي ته د ژوندو د دُعا فائده رسي، چه کله د ژوندو خلقو له طرفه د اِيصالِ ثواب تُحفـے راتلل بند شي، نو هغوئي خبر شي او الله تعالٰی هغوئي ته اجازت ورکړي نو کورونو ته لاړ شي او د ايصالِ ثواب مطالبه هُم کوي. اعلٰی حضرت، اِمامِ اهلِسُنّت، مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه په فَتَاوٰی رَضَوِيَّه (مُخَرَّجه) جِلد ٩ صفحه ٦٥٠ کښې نقل کوي: په غرائب او خزانه کښې منقول دي چه د مُؤمِنانو روحونه د هرې **جُمُعے** په شپه، د اختر په ورځ، د عاشورے په ورځ او شَبِ براءَت [يعني د شعبان پينځلَّسمه شپه] باندې خپلو کورونو ته راشي او بهر ولاړ وي او هر رُوح غمناك اوچت آواز کښې دا غږ

کوي چه اے زما د کور کسانو! اے زما اولاده! اے زما قَرابَت دارو! (زمونږه د ايصالِ ثواب په نِيَّت) د صَدَقه (خيرات) کولو په ذريعه په مونږه مهرباني اوکړئ.

ہے کون کہ گریہ کرے یا فاتحہ کو آئے
بے کس کے اٹھائے تری رحمت کے بھرن پھول (حَدائقِ بخشش)

د سرکارِ نامدار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مُبارَک دے: د مړي حال په قَبْر کښې د ډوبيدونکي انسان په شان دے ځکه چه هغه ډير زيات اِنتِظار کوي چه د پلار يا مور يا ورور يا د يو دوست دُعا هغه ته را اورسي او چه کله د چا دُعا هغه ته را اورسي نو د هغه په نِزد هٰغه [دُعا] د دُنيا وَمَا فِيْهَا (يعني دُنيا او څه چه په دې دُنيا کښې دي د هغه ټولو) نه بهتره وي. اللّٰه تعالٰی قَبْر والؤ ته د هغوئ د ژوندو مُتَعَلِّقينو [يعني تَعَلُّق لرونکو] له طرفه هديه [يعني تُحفه] کړے شوے ثواب د غرونو په شان ورکوي، د ژوندو هديه [يعني تُحفه] د مړو د پاره د بخښنې دُعا کول دي. (شُعَبُ الايمان باب فی برِّ الوالدين فصل فی حفظ حق الوالدين بعد موتهما ج٦ ص ٢٠٣ حديث ٧٩٠٥)

## نورانی لِباس

يو بُزُرگ خپل مرحوم ورور په خوب کښې اوليدو تپوس ئې ترې اوکړو: آيا د ژوندو [خلقو] دُعا تاسو ته در رسي؟ مرحوم جواب ورکړو: ”آو قَسم په خدائے عَزَّوَجَلَّ! هغه د نورانی لِباس په صورت کښې راځي، مونږه هغه اغوندو.“ (شَرحُ الصُّدور باب ما ينفع الميت فی قبره. ص ٣٠٥)

جلوۂ یار سے ہو قبر آباد وَحشتِ قبر سے بچا یا رب!
صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! معلومه شوه چه وفات شوو مسلمانانو ته د ژوندو د دُعاګانو بيحده فائده رسي، چنانچه د دعوتِ اسلامي د اِشاعتي اِدارے مَکْتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوي د ٤١٩ صفحو کتاب "مَدَنـي پنج سُوره [اُردو]" صفحه ٣٩٧ کښې دي چه د مَدَنـي تاجدار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مُبارك دے: زما اُمَّت به د ګناهونو سره قَبْر ته داخليږي او چه کله را اُوځي نو بے ګناه به وي ځکه چه هغوئي د مومِنانو په دُعاګانو بخښلے کيږي. (المُعجَمُ الاوسط باب الالف، من اسمه احمد، ١/٥٠٩ حديث ١٨٧٩)

مجھ کو ثواب بھیجو دعائیں ہزار دو　　گو قبر میں اُتارا نہ دل سے اُتار دو

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د اِدِيرے مدَني ګلونه

﴿١﴾ په اَدِيره کښې داسې اودريږئ چه قبلے طرف ته مو شا او قبرونو طرف ته مو مخ وي، د هغے نه پس په تِرمِذي شريف کښې بيان شوے دا سلام اووائې اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَا اَهْلَ الْقُبُوْرِ يَغْفِرُاللّٰهُ لَنَا وَلَكُمْ اَنْتُمْ سَلَفُنَا وَنَحْنُ بِالْاَثَرِ. ترجمه: اے قبروالؤ! په تاسو دِ سلام وي، الله تعالٰی دِ زمونږه او ستاسو بخښنه اوکړي، تاسو زمونږ نه مخکښې راغلي ئې او مونږه ستاسو نه پس راتلونکي يو.

(تِرمِذِی، کتاب الجنائز باب مایقول الرجل اذا دخل المقابر، ٢/٣٢٩، حديث ١٠٥٥)

﴿٢﴾ د اِدِيرے د حاضرئ په موقع د اخوا ديخوا خبرو او غفلتونو ډکو سوچونو په ځائے فِکرِ مدينه يعني خپله مُحاسَبه کول او په دې حديث شريف غور کول پکار دي: کَمَا تَدِيْنُ تُدَان يعني څنګه چه کوے هغسې بدله به درکولے کيږي.

(اَلجامِعُ الصَّغِير للسيوطی، حرف الکاف ص٣٩٩ حديث ٦٤١١)

قبر میں میت اترنی ہے ضرور　　جیسی کرنی ویسی بھرنی ہے ضرور

﴿۳﴾ قَبْر باندې ګُلونه اچول ښه خبره ده چه تر څو پورې شنه وي تَسْبِيْح به وائي او د مړي زړه ته به اُنس [يعني راحت] رسيږي. (رَدُّالْمُحْتَار كتاب الصلوٰة باب صلوٰة الجنازه، مطلب فی وضع الجريد...الخ، ۱۸٤/۳)

﴿٤﴾ هُم دغسې په جنازه باندې د ګُلونو څادر اچولو کښې باك نشته.
(بهارِ شریعت حِصّه ٤، ٦٥٢/١)

﴿٥﴾ قَبْر نه شنه ګيا شوکول نه دي پکار ځکه چه د هغے د تَسْبِيْح وئيلو په وجه رحمت نازليږي او مړي ته راحت حاصليږي او د هغے شوکول د مړي حق ضائع کول دي. (رَدُّالْمُحْتَار كتاب الصلوٰة باب صلوٰة الجنازه، مطلب فی وضع الجريد...الخ، ۱۸٤/۳)

﴿٦﴾ په قبر د پاسه بله کړے شوي اګربتئ لکول نه دي پکار، په دې کښې سُوءِ ادب (يعني بے ادبي) او بدفالي ده. (فَتَاوٰی رَضَوِيَّه ٤٨٢/٩، ٥٢٥ مُلَخَّصاً)

﴿۷﴾ په قبر ډيوه يا شمع وغيره مه ګرځوي خو که د شپے په لاره تيرودونکو د پاره رنړا کول مقصد وي نو د قَبْر نه يو طرف ته خالي زمکه باندې شمع يا ډيوه ايښودلې شئ.

﴿۸﴾ په قَبْر د پاسه ښپه ايښودلو يا اُوده کيدلو سره قَبْر والا ته تکليف رسي او بے د شَرعي اِجازته يو مسلمان ته تکليف ورکول حرام او جَهنَّم ته بوتلونکے کار دے. لِهٰذا د يو مسلمان په قَبْر دِ نه څوك ښپه ګرځوي، نه دِ پرې ورخيژي، نه دِ پرې کښيني او نه دِ ورته ډډه لګوي ځکه چه د دې نه نَبِيِّ کريم رَءُوْفٌ رَّحِيم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم منع فرمائيلې دي: دوه فَرامينِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اولولئ:

﴿۱﴾ما ته د اور په سکروټه يا په تُوره د پاسه ګرځيدل، يا زما ښپه په څپلئ کښې ګنډل زيات خوښ دي د دې نه چه زه د يو مسلمان په **قَبْر** اوګرځم. (اِبنِ مَاجَه، کتاب الجنائز، باب ماجاء فی النهی عن المشی علی القبور والجلوس علیها، ج۲ ص۲۵۰ حدیث ۱۵۶۸)

﴿۲﴾ که يو کس په انګار [يعني سکروټو] کښيني چه په هغے د هغه جامے وسوزي او اور د هغه څرمنې ته اورسيږي، نو دا په **قَبْر** باندې ناستې نه بهتره ده. (مُسلِم کتاب الجنائز باب النهی عن الجلوس علی القبر و الصلاة علیه ص۴۸۳ حدیث۱۹۷۱)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## دِاجتِماعِ ذِکر و نعت برائے اِیصال ثواب بیانونه

**بیان نمبر: ۱**

# د اِیمان حفاظت

## د دُرُود شریف فضیلت

حُضُور نَبِيِّ کريم رَءُوْفٌ رَّحِيم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: جِبرائيلِ امين (عَلَيْهِ السَّلَام) ما ته عرض وکړ چه **ربّ** تعالٰى فرمائي: اے محمد! (صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) آيا ته په دې خبره راضي نه ئې چه ستا اُمَّتي په تا باندې يو ځل دُرُود شريف اولولي، زه په هغه لس رحمتونه نازل کړم او ستا په اُمَّت کښې چه څوك [په تا] يو سلام اوليږي، زه په هغه لس سلامونه اوليږم. (مِشْكَاةُ المصابيح، كتاب الصلوٰة، بَاب الصلوٰة على النَّبِي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم و فضلها، الفصل الثانی، ۱/۱۸۹، حدیث ۹۲۸)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د بَلعَم بِن باعُوراء انجام

حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله بِن عبّاس رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا فرمائي چه کله حضرتِ سَيِّدُنا مُوسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام د بَلعَم بِن باعُوراء د قوم "جَبّارِين" سره د جنګ اِراده اوکړه او د شام په زمکه کوز شولو نو بَلعَم بِن باعُوراء ته خپل قوم راغلو او هغه ته ئې اُووئيل چه حضرتِ مُوسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام ځان سره ډير غټ او طاقتور لښکر راوستے دے چه مونږ سره جنګ اوکړي او مونږه د خپلو ښارونو نه اُوباسي او زمونږ په ځائے په دې زمکه بني اِسرائيل آباد کړي، تا سره اِسمِ

اعظم دے او ستا هره دُعا قبلیږي، ته اُوځه او **الله** تعالیٰ نه سوال اوکړه چه **الله** تعالیٰ هغوئي د دې ځائے نه اوتښتوي. د قوم خبره اوریدو نه پس بَلعَم اُووئیل: په تاسو افسوس دے، حضرتِ مُوسیٰ عَلَیْهِ السَّلَام د **الله** تعالیٰ نبي دے، هغوئي سره فرښتے او ایماندار خلق دے، ځکه زه د هغوئي خلاف څنګه ښیرے کولے شم، ما ته چه **الله** تعالیٰ کوم علم راکړے دے د هغے تقاضه دا ده چه که ما د حضرتِ مُوسیٰ عَلَیْهِ السَّلَام خلاف داسې اوکړل نو زما دُنیا او آخرت به تباه شي. قوم چه کله په ډیره ژړا او زارئ ډیره ټینګتیا اوکړه نو بَلعَم اُووئیل: ښه چه زه مخکښې د خپل **ربّ** عَزَّوَجَلَّ رضا معلومه کړم.

د بَلعَم هُم دا طریقه وه چه هغه به کله هُم دُعا کوله نو مخکښې به ئې د **الله** تعالیٰ رضا معلومولے او په خوب کښې به د هغے جواب ورکړے شو، چنانچه دا پیره دا جواب ورکړے شو چه د حضرتِ مُوسیٰ عَلَیْهِ السَّلَام او د هغوئي د ملګرو خلاف دُعا مه کوه. چنانچه هغه قوم ته دا اُووئیل چه ما د خپل **ربّ** عَزَّوَجَلَّ نه اجازت غوښتے وو خو زما **ربّ** عَزَّوَجَلَّ د هغوئي خلاف ښیرو کولو نه منع کړم. بیا د هغه قوم هغه ته تُحفے او نذرانے ورکړې او هغه قبولې کړې. د هغے نه پس قوم هغه ته دوباره د ښیرو کولو درخواست اوکړو نو بَلعَم دویم ځل د **الله** تَبَارَكَ وَتَعَالیٰ نه اِجازت وغوښتو خو دا ځل هغه ته هیڅ جواب ورنکړے شو نو هغه قوم ته اُووئیل چه دا ځل ما ته هیڅ جواب رانکړے شو. هغوئي ورته اُووئیل چه که **الله** تعالیٰ ته منظوره نه وے نو د مخکښې په شان به ئې صفا منع کړے وے، بیا قوم نوره هُم زیاته ټینګتیا اوکړه تر دې چه هغه د هغوئي خبرې منلو ته تیار شو. چنانچه بَلعَم بِن باعُوراء په خپله خره سور شو او یو غر طرف ته روان شو. خرے هغه

ډير ځله ښکته غوزار کړو خو هغه به پرې بيا سور شو تر دې چه د **الله** تعالٰی په حُکم ورسره خرے خبرې اوکړې او ورته ئې اُووئيل چه افسوس! اے بَلعَم! ته چرته روان ئې؟ آيا ته نه ګورے چه فرښتے ما د تللو نه منع کوي. (شرم اوکړه) آيا ته د **الله** تعالٰی د نبي او فرښتو خِلاف ښيرو کولو له روان ئې؟ بَلعَم بيا هُم منع نه شو او آخر دا چه ښيرے کولو د پاره خپل قوم سره غر ته وختو.

بيا به بلعم ښيره کوله او **الله** تعالٰی به د هغه ژبه د هغه د قوم په طرف تاؤ کړه او د خپل قوم د پاره به ئې چه کومه د خير دُعا کوله نو د خپل قوم په ځائے به ئې د بني اِسرائيل نوم په خُله راتلو. قوم ورته اُووئيل: بَلعَمه دا ته څه کوے، بنی اِسرائيل ته دُعا او مونږ ته ښيرے ولے کوے؟ بَلعَم اُووئيل: دا زما په اختيار کښې نه ده، زما ژبه زما په قبضه کښې نه ده، د **الله** تعالٰی قُدرت په ما غالب شوے دے. دا ئې چه اُووئيل نو ژبه ئې په سينه رازورِنده شوه. خپل قوم ته ئې اُووئيل چه زما دُنيا او آخرت خو دواړه تباه شو، اوس زه تاسو ته د هغوئ خلاف يو تدبِير ښايم، تاسو ښکلې ښځې سينګار کړئ او د هغوئ لښکر ته ئې اوليږئ، که په هغوئ کښې يو کس هُم بدکاري اوکړه نو ستاسو کار به سم شي ځکه چه کوم قوم زِنا اوکړي **الله** تعالٰی د هغوئ نه سخت ناراضه کيږي او هغه نه کاميابوي، چنانچه د بَلعَم قوم هُم داسې اوکړل، چه ښځو سينګار اوکړو او لښکر ته اورسيدلي نو يوه کِنعاني ښځه د بني اِسرائيلو د يو سردار په خوا تيريدله نو هغه د خپل حُسن و جمال په وجه د هغه خوښه شوه او هغه سردار د حضرتِ مُوسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام د منع کولو باوجود د هغے سره بدکاري اوکړله، د هغے په

سزا کښې په هغه ساعت بني اسرائيل باندې طاعُون [مرض] مُسَلَّط کړے شو. د حضرتِ مُوسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام مُشِير هغه وخت هلته موجود نه وو چه هغه راغلو او د بدکارئ د قِصے نه خبر شو نو هغه ښځه او سړے ئې دواړه قتل کړل، نو هله د طاعُون عذاب د هغوئ نه لرې کړے شو خو په دغه دوران کښې اويا زره اسرائيليان د طاعُون نه هلاك شوي وو. (تفسير صِراطُ الْجِنان، پ۹ الاَعراف تحت الآية ۱۷۵، ۳/۴۷۲ و تفسير بغوی الاَعراف تحت الآية ۱۷۵، ۲/۱۷۹)

رِوايت دے چه بعضې انبيائے کرامو عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام د **الله** تعالیٰ نه تپوس اوکړو چه تا بَلعَم بِن باعُوره ته دومره نِعمتونه ورکړي وو بيا دِ ولے هغه د ذِلَّت کندې ته غوزار کړو؟ نو **الله** تعالیٰ اُوفرمائيل چه هغه کله هُم زما د نِعمتونو شُکر نه وو ادا کړے، که هغه شُکر گُزار وے نو ما به د هغه نه بيرته کرامتونه نه اغستے او هغه به مې دغسې نه ذليله او خوار او خائب و خاسِر [يعني ناکامه او نقصاني] کولے. (تَفْسِير رُوحُ البَيَان ۳/۱۳۹، الاعراف، تحت الآية ۱۰)

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** تاسو وليده چه د قومِ جَبّارِين يو داسې کس چه هغه په هغوئ کښې ډير زيات عِزّتمند وو او هغه ته **الله** تعالیٰ د اِسمِ اَعظَم عِلم ورکړے وو او هغه داسې مُستَجابُ الدَّعْوات وو چه څه دُعا به ئې کوله هغه به قبليدله خو د هغه انجام څومره عِبرتناك اوشو چه د هغه ايمان هُم سلامت پاتې نه شو او په کُفر مړ شو. بارگاهِ اِلٰهی نه داسې مَردُود و مطرُود شو چه ټول عُمر ئې ژبه د سپي په شان زوړنده وه او په آخرت کښې د جَهنَّم د لـمبے وهونکي اور حقدار شو. اَلْعِيَاذُ بِاللّٰهِ تعالیٰ

د دې واقعے نه مونږ ته عِبرت حاصلول او د **الله** تعالیٰ د پټ تدبِير نه هر وخت ويريدل پکار دي چه چرې د ګناهونو سپيره والے مو د ايمان د

بربادئ سبب جوړ نه شي، ځکه چه په دې خبره کښې خو هيڅ شك نشته چه مونږه مسلمانان يو خو په مونږ کښې هيڅ چا سره د دې خبرې هيڅ ضمانت نشته چه هغه به د مرګ د ساعته پورې مسلمان وي. څنګه چه بيشميره کُفّار خوش قِسمتئ سره مسلمانان کيږي هُم دغسې د ګنړ شمير بدنصيبه مسلمانانو هُم مَعَاذَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د ايمان نه ګرځيدل ثابِت دي او څوك چه د ايمان نه اوګرځي يعني مُرتد شي او په دغه حال کښې مړ شي هغه به هميشه هميشه د پاره دوزخ کښې اوسي. چنانچه پاره سُوْرَةُ البَقَرَه آيت نمبر ۱۷ کښې اللّٰه تَبَارَكَ وَتَعَالٰى اِرشاد فرمائي:

وَ مَنْ يَّرْتَدِدْ مِنْكُمْ عَنْ دِيْنِهٖ فَيَمُتْ وَ هُوَ كَافِرٌ فَاُولٰٓىِٕكَ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَ الْاٰخِرَةِۚ وَ اُولٰٓىِٕكَ اَصْحٰبُ النَّارِۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۲۱۷﴾

[مَفهُوم] ترجمه كَنْزُ الْاِيمان: او تاسو کښې چه څوك د خپل دِين نه اوګرځي، بيا کافر شوے مړ شي نو د هغه خلقو کړه [يعني اعمال] برباد شو په دُنيا کښې او آخرت کښې او هغوئ دوزخ والا دي هغوئ به په هغے کښې هميشه اوسيږي.

## معلومه نه ده چه زمونږه خاتِمه به څنګه کيږي

په يو اوګرځِد حديثِ پاك کښې خوږ نبـی صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: د آدم عَلَيْهِ السَّلَام اولاد په مختلفو طبقاتو پيدا کړے شو، په دوئي کښې بعضې مومنان پيدا شو، د ايمان په حالت ژوندي اوسيدل او مومنان [يعني د اِيمان په حالت کښې] به مري، بعضې کافِر پيدا شو د کُفر په حالت ژوندي اوسيدل او په کُفر به مري. او بعضې مومنان پيدا شو، مومنانه ژوند ئې تير کړو او د کُفر په حالت مړه شو، بعضې کافِر پيدا

شو، کافِر [يعني د کُفر په حالت] ژوندي اوسيدل او مومنان [يعني د ايمان په حالت کښې] به مري. (ترمذی کتاب الفتن، باب ما اخبر النبی اصحابه بما هو کائن الی یوم القیامة، ٤/٨١، حدیث ٢١٩٨)

## شيطان د عزيزانو په شکل کښې

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** دُنيا ته خو مونږ راغلو خو اوس د دُنيا نه ايمان سلامت وړلو د پاره په ډيرو سختو کنډوونو تيريدل راپيښ دي او بيا هُم هيڅ معلومه نه ده چه خاتِمه به مو څنګه کيږي! آه! آه! آه! د مرګ په وخت کښې به شيطان د ايمان بربادولو د پاره قِسما قِسم چلونه استعمالوي تر دې چه د مور و پلار په شکل کښې به هُم راځي او د ايمان بربادولو کوشش به کوي او د يهود او نصارىٰ د صحيح ثابتولو غلط کوششونه به کوي. يقيناً هغه به داسې نازکه موقع وي چه بس په چا باندې د **اللّٰهُ رحمٰن** ﷻ خاص کرم او احسان وي هُم هغه به کاميابيږي او د هغه ايمان به سلامت پاتې کيږي. اعلىٰ حضرت اِمامِ اهلِسُنّت مُجَدِّدِ دِين و مِلّت مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فَتَاوىٰ رَضَوِيَّه جِلد٩ صفحه ٨٣ کښې فرمائي چه اِمام اِبنُ الحاج مکّـی رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه په "مَدخَل" کښې فرمائي چه د څنکدن په وخت کښې دوه شيطانان راشي او د بنده نبي او ګڅ طرف ته کښيني. يو د هغه د پلار په شکل او بل د هغه د مور په شکل، يو ورته وائي: هغه کس يهودي شوے مړ شوے وو ته (هُم) يهودي شه ځکه چه يهوديان هلته ډير سکون کښې دي، بل ورته وائي هغه کس نَصراني (يعني کرسچين شوے دُنيا نه) لاړو ته (هُم) نَصراني شه ځکه چه نصارىٰ هلته ډير سکون کښې دي. (المدخل لابن الحاج، ٣/١٨١)

## نه پيدا کيدونکے قابِلِ رشك دے

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** واقعي معامَله ډيره نازکه ده، د ايمان د بربادئ د

ويري د [الله تعالٰی] ويره لرونکو زړونه ټُکړے ټُکړے شي. دُنياوي ژوند کښې مومِن کيدل يقيناً د سعادت باعِث دي خو دا سعادت په حقيقت کښې هله سعادت دے چه دُنيا نه رُخصتيدو وخت کښې [د بنده] ايمان سلامت وي. قَسَم په خُدائے! د رخې [يعني د رَشك] قابِل هُم هغه دے څوك چه قبر کښې هُم مومن دے، بالکل چه څوك د دُنيا نه ايمان سلامت ورلو کښې کامياب شو نو هُم هغه حقيقي معنو کښې کامياب دے او څوك چه جَنَّت ته داخل کړے شو هُم هغه مُراد ته اورسيدل. چنانچه قُرآنِ مجيد کښې **الله** تَبَارَكَ وَتَعَالٰی اِرشاد فرمائي:

فَمَنْ زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَ اُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ ؕ

وَ مَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَاۤ اِلَّا مَتَاعُ الْغُرُوْرِ ﴿۱۸۵﴾

[مَفهُوم] ترجمه کَنْزُ الْاِيمان: څوك چه د اوره اوساتلے شو او جَنَّت ته داخل کړے شو هغه مُراد ته اورسيدو او د دُنيا ژوند خو هُم دا د دوکے مال دے. (پ٤، آلِ عِمران: آيت ١٨٥)

## بد صُحبت د ايمان د پاره خطرناك دے

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** د بدې خاتمے کيدو يا په ايمان باندې د خاتِمه نه کيدو څه اَسباب دي چه په هغے کښې يو ډير غټ سبب بد صُحبَت دے، ياد ساتئ! بد صُحبت د ايمان د پاره ډير خطرناك دے. ډيره د افسوس خبره ده چه مونږه بيا هُم د بدو دوستانو د صُحبت نه ډډه نه کوو، د کپ شپ د محفلونو نه ځان نه ساتو، ټوقو ټقالو او مسخرو او د غير سنجيده حرکتونو د عادتونو نه ځان نه خلاصوو. آه! د بد صُحبت سپيره والے داسې خور شوے دے چه لږ ساعت هُم د چا په تنهائي [يعني يواځې ځائے] کښې **الله** يادولو ته زړه نه کيږي. د ژبې د بے حفاظتئ دَوَر دَوره ده. زمونږه د اکثريت حال دا دے چه څه په خُله راشي هغه وائيو. افسوس! د

**الله** تعالٰی د رضا کیدو او خفه کیدو احساس کم شو. د خُلے نه د وتلو الفاظو د اَهَمِّيَّت مُتَعَلِّق یو عبرتناك حدیث اوګورئ. چنانچه د خوږ مَدَني سردار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډك اِرشاد دے: بنده کله د **الله** تعالٰی د رضا څه خبره کوي او د هغے طرف ته تَوجُّه هُم نه کوي (یعني بعضې خبرې د انسان په نزد بالکل معمولي وي) **الله** د هغے (خبرې) په وجه د هغه ډیرې درجے اوچتوي او کله د **الله** د ناراضئ خبره کوي او هغے ته خیال هُم نه کوي، د هغه خبرې په وجه جَهنَّم ته غورزیږي.

(بُخاری، کتاب الرقاق، باب حفظ اللسان، ٤/٢٤١، حدیث٦٤٧٨)

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** ماحول ورځ په ورځ نور خرابیږي، د خُلو واګے اکثر سستي شوي دي، د عُلَماءِ اَهلِسُنَّت د صُحبتونو نه **محروم، مَدَني ماحول** نه لرې، د غیر سنجیده ځلمو بلکه د هُم دغسې بےهُوده بکواس کوونکو بوډاګانو د فُضُولو محفلونو نه حسَّاس [یعني زیات احساس لرونکے کس] ویریږي، ځکه چه داسې ځایونو کښې ژبې د قینچئ په شان چلیږي او **مَعَاذَ الله** عَزَّوَجَلَّ بعضې وخت کُفریه خبرې هُم اوکړي. داسې محفلونو کښې د ایمان د بربادئ سخته خطره وي. د نیکئ دعوت ورکولو د پاره یا که څه سخت حاجت پیښ شي او د ورتللو شرعي اجازت وي نو د ضرورت مطابق ورتللو نه علاوه داسې محفلونو نه لرې اوسیدل بیحده ضروري دي.

تشویش د سخت تشویش خبره ده چه د ضروریاتِ دِین نه د یو ضرورتِ دِیني اِنکار کول، هُم دغسې کوم کار چه د ایمان منافي (یعني د ایمان ضد) دے مَثَلًا بُت یا سپورمئ یا د لـمر سترګې ته سَجده کول داسې قطعي کُفر دے چه په د دې د پاره جَهالت هُم عُذر نه دے یعني که چا ته د دې کُفر کیدل معلوم وي او که نه، په دواړو صورتونو کښې کُفر دے. چنانچه عَلَّامه بدرُ الدِّین

عَيني حَنَفي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه په عُمدَةُ القاری کښې اِرشاد فرمائي: ”د هر هغه انسان تکفِير به کيږي (يعني هغه به کافِر قرار کيږي) څوك چه صَرِيح [يعني ښکاره] کَلِمۀ کُفر د خُلے نه اُوباسي يا داسې کار اوکړي چه هغه د کُفر باعِث وي اګر که هغه ته دا نه وي معلومه چه دا کَلِمۀ کُفر [يعني کُفريه خبره] يا فِعلِ کُفر [يعني د کُفر کار] دے. (عُمدةُ القاری کتاب الايمان، باب خوف المومن من ان يحبط عمله وهو لايشعر، ۱/۴۰۳)

## افسوس! د کُفرِيَّاتو معلومات نشته

افسوس! زمونږه غالِب اکثريت د کُفرِيه کَلِماتو په باره کښې کَمَا حَقُّهٗ معلومات هُم نه لري، هر يو کس ته خپله باره کښې دا ويره لرل پکار دي چه چرې داسې اونشي چه زما نه داسې قول يا فِعل [يعني وينا يا کار] اوشي چه د هغے په سبب مې مَعَاذَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ ايمان برباد شي او کړي اعمال مې ټول برباد شي او مَعَاذَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ کافِر د دُنيا نه لاړ شم او بيا مې هميشه هميشه د پاره جَهنَّم مُقَدَّر شي.

## د کُفرِيه کلماتو عام کيدلو بعضي اسباب

افسوس! افسوس! نن صبا د فلمونو ډرامو، فلمي سندرو، اخباري مضمونونو، جِنسي او روماني ناوَلو ، عِشقِيه او فِسقِيه افسانو، د ماشومانو بيهوده قيصو، قِسما قِسم بے فائدے هفت روزو، د بے حيائي نه ډکو ماهنامو او اخلاق بربادوونکو ډائجسټو او د ټوقو ټقالو او لطيفو د کيسټو وغيره په ذريعه مسلسل کُفرِيه کَلِمات عاميږي.

## د کُفرِيه کَلِماتو مُتَعَلِّق عِلم حاصلول فرض دي

ياد ساتئ! د کُفرِيه کَلِماتو مُتَعَلِّق عِلم حاصلول فرض دي، چنانچه اعلٰی حضرت اِمامِ اهلِسُنّت، مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فَتَاوٰی

رَضَوِيَّه جِلد صفحه ٤ کښې اِرشاد فرمائي: د مُحَرَّماتِ باطِنِيَّه (يعني باطِني ممنوعاتو مَثَلًا د) تَـکَبُّر و رِيا و عُجَب (يعني خپل ځان ښه ګڼل) و حَسَد وغيرها او د دې مُعالَجات (يعني علاج) ځکه چه د دې عِلم هُم په هر مسلمان باندې اهمو فرائضو [کښې شامل] دے. نور په صفحه ٦ کښې د فَتَاوٰی شامي په حواله فرمائي: د حرامو الفاظو او کُفرِيه کَلِماتو مُتَعَلِّق عِلم حاصلول فرض دي، په دې زمانه کښې دا د ټولو نه ضروري اُمُور دي.

(رَدُّالْمُحْتَار، مطلب: فی فرض الکفایة و فرض العین، ١/١٠٧)

خو افسوس! نن صبا مسلمان د عِلمِ دِين نه لرې وتے دے او شايد هُم دا وجه ده چه د هدايت لار ئې خطا کړي ده او نه صرف د ګناهونو په دلدل کښې نښتے دے بلکه د ټوقو ټقالو او غم ښادئ په موقعو په ډيره بے باکئ کُفريه خبرې کوي، ياد ساتئ! ځنګه چه تِياره کښې د سفر کولو د پاره رنړا ضروري وي هُم دغسې د ايمان د حفاظت د پاره او د ژوند په دې سفر کښې د کاميابئ حاصلولو د پاره عقل ته د عِلمِ دِين د رنړا ضرورت وي. که د عِلمِ دِين رنړا نه وي نو عقل به د بے واګے اَس په شان د جَهالت په تِيارو کښې د ګُمراهئ ټوکرے خوري. نن که مونږه د ګير چاپيره موجودو ګناهونو د وجوهاتو جائزه واخلو نو د دې يوه غټه وجه جَهالت هُم دے ځکه چه خلق د بے عِلمئ په وجه په دې بدو او ګناهونو کښې اخته دي او دا خو ښکاره خبره ده چه څوك د جَهالت په نشه کښې مست وي هغه څه پوهيږي چه ښه څه دي او بد څه دي؟ چنانچه د حضرتِ سَيِّدُنا مُعاذ بِن جَبَل رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوايت دے چه د **الله** تعالٰی خوږ رسُول صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: بيشکه تاسو د خپل **ربّ** له طرفه په دليل (يعني په هِدايت) ئې تر څو چه تاسو کښې دوه نشے ښکاره نه شي، يوه د جَهالت نشه او بله دُنياوي ژوند سره د مَحَبَّت نشه.

پس تاسو (اوس خو) د نيکئ حُکم ورکوئ او د بدو نه منع کوئ او د **الله** تعالٰی په لار کښې جِهاد کوئ (خو) چه کله تاسو کښې د دُنيا مَحبَّت پيدا شي نو تاسو به نه خو د نيکئ حُکم ورکوئ او نه به د بدو نه منع کوئ او نه به د **الله** په لار کښې جِهاد کوئ. پس هغه وخت به د قُرآن و سُنَّت خبره کوونکے په مُهاجِرينو او اَنصارو کښې د ټولو نه مخکښې ايمان راوړونکو په شان وي. (مَجْمَعُ الزَّوائِد، کتاب الفتن، باب النهی عن المنکر...الخ ۷/۵۳۳، حدیث ۱۲۱۵۹)

افسوس چه دے زمانه کښې دا دواړه نشے عامې دي، د جَهالت په نشه کښې نن زمونږه غالِب اکثريت بدمسته دے. که څوك دا وائي چه تعليم خو ښه عام شوے دے او ځائے په ځائے سکولونه او کالجونه موجود دي اوس جَهالت کوم دے؟ نو بخښنه غواړم صرف عَصري تعليم د جَهالت علاج نه دے. صحيح خبره هُم دا ده چه په اسلامي اَحکامو مُشتملو فرضو عُلومو حاصلولو جَهالت لرې کيدے شي. دے زمانه کښې د مسلمانانو اکثريت کښې د ضروري دِيني معلوماتو بيحده کمي ده. نن چه دُنيا کومو خلقو ته تعليم يافته وائي د هغوئ اکثريت په صحيح مَخارجو قُرآن شريف هُم نه شي وئيلے! که دا جَهالت نه دے نو څه دي؟ [د دې دُنياوي] تعليم يافته خلقو نه که د اوداسه او غُسل د صحيح طريقے يا د لـمانځه د اَرکانو تپوس اوکړئ نو شايد که بيان ئې کړي، دوئي نه د جنازے د دُعا اورولو فرمائش اوکړئ نو شايد چه سر به ښکته کړي! جَهالت او بے دِينئ دې حد ته رسيدلي ده چه د عُلَمائے دِين د ادب و احترام کولو په ځائے **مَعَاذَ الله** عَزَّوَجَلَّ د عُلَماء توهِين [يعني بے ادبي] کيږي، د ټوقو ټقالو او غم ښادئ په موقعو کُفريه خبرې کيږي، د بد اخلاقئ، بد سُلوکئ، په ښځو ظلم، د ټکئ،

وعده خِلافئ، د شراب څښلو او نورو ګناهونو بازار ګرم دے، د دې ټولو ګُناهونو سبب د عِلمِ دِين نه لرې والے، د فکرِ آخرت نه غفلت او د ايمان د حفاظت فکر نه کول دي. افسوس! نن صبا د اکثرو مسلمانانو تَوجُّه صرف او صرف عصري عُلومو ته ده، هُم دې ته هر ځائے ترقي ورکولے کيږي او ټول دولت او طاقت په هُم دې لګولے کيږي او حال دا دے چه د ايمان د حفاظت فکر لرونکي او د عِلمِ دين حاصلولو سعادت مند نسبتاً کم دي. يقيناً دا ټوله بربادي د دُنياوي ژوند د نشے ده.

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د ايمان د حفاظت او د عِلمِ دين حاصلولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي هفته واره د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې شرکت کول هُم دي، اِجتِماع کښې د شريك کيدو معمول جوړ کړئ اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی د دې په بَرَکت به مو د ايمان حفاظت هُم کيږي، دعِلمِ دِين رنړا به هُم حاصله کړئ او د جَهالت د تِيارو نه به خلاصے هُم حاصل کړئ او ژوند به مو د عِلم و عمل په رنړا ګانو ښکلے شي. راشئ! د دعوتِ اسلامي هفته واره د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې د شرکت مَدَنـي سپرلے واورئ. چنانچه

## د سخت زړه خاوند هُم په ژړا شو

د بابُ المَدينه کراچئ د يو اِسلامي ورورو د بيان خُلاصه ده، مستے ځوانئ او ښه صِحت زه په تکبُّر کښې اخته کړے ووم، نوي نوي فيشني جامے کول، کالِج ته په تلو راتلو کښې د بس ټِکټ هيرول، د کلينډر په غوښتو د هغه سره بدمعاشي کول، د نيمې شپے پورې په لوفرئ کښې خپل وخت بربادول، په جُوَارئ کښې پيسے تباه کول وغيره هر قِسم ګناهونو

کښې ننښتے ووم. مور و پلار مې په پوهه کولو پوهه کولو سترې شوي وو، زما بدکاره د اِصلاح د پاره په دُعا دُعا کولو به زما د مور سترګې لـمدے شوې. زمونږ د علاقے یو اسلامي ورور به کله کله د دعوتِ اِسلامي په هفته واره اجتِماع کښې د شرکت کولو سرسري غوندي دعوت راکړو، ما به هم ځان ناغَرَضه کړو. یو ځل د اِجتِماع په مابنام هُم هغه اسلامي ورور د محبَّت په انداز کښې زما سره ډیر زور اولګولو چه نن خو به تاسو ضرور ضرور اِجتِماع له ځئ، ما اِنکار کولو خو هغه نه منله او ناڅاپه ئې رِکشه ودروله او په ډیره زارئ ئې راته څه په داسې انداز کښې د تللو درخواست اوکړو چه ما اِنکار اونکړے شو او په رِکشه کښې ورسره کښیناستم او د **دعوتِ اِسلامي** وړومبني مَدَني مرکز جامِع مسجد **گلزارِ حبیب** ته اورسیدو. چه کله د دُعا د پاره رنړاګانې مړې کړے شوې نو ما دا اوګنړل چه اِجتِماع ختمه شوه او پاڅیدم، زه څه خبر ووم چه په راتلونکي ساعت کښې زما په ژوند کښې مَدَني اِنقِلاب راتلو والا دے. خیر زما هغه **مُحسِن** [یعني اِحسان کوونکي] اسلامي ورور د محبَّت په انداز کښې زه پوهه کړم او د تللو نه ئې حِصار کړم، زه بیرته کښیناستم. په تِیاره کښې په اوچت آواز د ذِکْرُ اللہ عَزَّوَجَلَّ جذبے زما زړه اورڅولو! قَسم په خُدائے ما په ټول ژوند کښې داسې روحانِیَّت نه لیدلے وو او نه مې اوریدلے وو. بیا چه کله رِقَّت انګیزه [یعني زړه نرموونکي] دُعا شروع شوه نو په اِجتِماع کښې د شریکو خلقو د سلګو اوازونه پورته شو، تر دې چه زه د کانړي په شان زړه لرونکے هم په زوره زوره په ژړا شوم، ما د خپلو ګناهونو نه توبه اوکړه او د **دعوتِ اسلامي** مَدَني ماحول کښې پوخ شامِل شوم.

تمہیں لُطف آ جائے گا زندگی کا　　قریب آکے دیکھو ذرا مَدَنی ماحول
تَرَنُّل کے گہرے گڑھے میں تھے اُن کی　　ترقّی کا باعِث بنا مَدَنی ماحول
یقینا مقدّر کا وہ ہے سکندر　　جِسے خیر سے مل گیا مَدَنی ماحول

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب!　　صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** تاسو اولیده! چه د عاشِقانِ رسُول مَدَني تحريك دعوتِ اسلامي د سُنَّتو ډکې هفته وارے اِجتِماع په بَرَکت د معاشرے یو وران کاري ځلمي د خپلې اصلاح د پاره او د سُنَّتو مطابق ژوند تیرولو د پاره ملا اوترله لِـهذا تاسو هُم د خپلې دُنیا او آخرت د بهترئ د پاره د دعوتِ اسلامي مَدَني ماحول سره تړون اوکړئ او اِستِقامت حاصلولو د پاره کم از کم د سُنَّتو ډکو دولسو هفته وارو اِجتِماعاتو کښې د شرکت نِیَّت اوکړئ. او هُم دې میاشت کښې د دعوتِ اسلامي د سُنَّتو د تربِیَّت د دري ورځو مَدَني قَافِله کښې عاشِقانِ رَسُول سره سفر اوکړئ. اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی د نیکو خلقو د صُحبت په بَرَکت به مو د ایمان د حفاظت، د نیك او لـمونځ ګُزاره جوړیدو او د سُنَّتو ډك ژوند تیرولو جذبه بیداره شي. **اللّٰه** تعالٰی نه دُعا ده چه زمونږه د ایمان حفاظت اوکړي، زمونږه خاتِمه بالـخیر اوکړي او د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په قدمونو کښې ځائے راکړي.

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب!　　صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**بيان نمبر: ۲**

# د صُحبت اثر

## د دُرُود شريف فضيلت

د حُضُور نَبِيِّ كريم رَءُوْفٌ رَّحِيم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دے [مفهوم]: تاسو خپل مجلسونه په ما دُرُود شريف لوستلو باندې ښائسته کړئ ځکه چه ستاسو په ما باندې دُرُود لوستل به ستاسو د پاره د قيامت په ورځ نُور وي. (جَامِعُ الصَّغِير للسيوطی، ص۲۸۰، حديث ٤٥٨٠)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د حضرتِ سَيِّدُنا حاتِم اَصم د دُعا برکت

مشهور بُزرګ حضرتِ سَيِّدُنا حاتِم اَصم رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه يو ځل بَلخ ښار کښې بيان کولو، د دُعا په دوران کښې ئې ګنهګارو سره د ښيګڑې د جذبے په وجه داسې دُعا اوکړه: اے پروردګار عَزَّوَجَلَّ په دې اِجتِماع کښې چه څوك د ټولو نه غټ ګنهګار دے، په خپل رَحمت د هغه بخښنه اوکړې. يو د کفنونو غل هُم هلته موجود وو، چه کله شپه شوه نو هغه د کفن غلا کولو په نِيَّت اَدِيرے ته لاړو، خو چه څنګه ئې قَبْر اوکنستو نو يو غيبي آواز راغے: اے د کفنونو غله: ته نن د ورځې د حاتِم اَصم رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه په اِجتِماع کښې بخښلے شوے ئې،

نن شپه بيا ولے دا ګناه کوے؟ هغه چه واوريدل نو په ژړا شو او د زړه په صِدق ئې توبه اوکړه. (تذکرۃُ الْاَوْلِیاء ذکر حاتم اصم ص۲۲۲ مُلَخَّصاً)

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** تاسو وليده چه واقعي د نيکو بندګانو صُحبت او د **عاشِقانِ رَسُول** په اِجتِماعاتو کښې شِرکت د دواړو جهانو لپاره د سعادت باعِث دے ځکه چه نيك بندګان د نورو د پاره هُم د بَرَکت باعِث وي او کوم اسلامي ورور چه څومره د خپلو نورو اِسلامي وروڼړو د پاره د فائدے باعِث وي هغه همره به د هغه مرتبه او درجات مسلسل اوچتيږي. حديثِ پاك کښې راغلي دي: خلقو کښې بهتر هغه دے څوك چه خلقو ته ګټه [يعني فائده] ورکړي او په خلقو کښې بدتر هغه دے څوك چه خلقو ته تکليف ورکړي.

(کشف الخفاء، ۱/۳٤۸ حدیث۱۲۵۲)

لِـهذا مونږ ته کوشش کول پکار دي چه مسلمانانو ته تکليف ورکولو نه ځان اوساتو او ښيګړه ورسره اوکړو او په خيرُ النَّاس يعني بهترو او خير حاصلوونکو خلقو کښې شامل شو.

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د ذِکر کوونکو مجلِس اختيار کړئ

حضرتِ سَيِّدُنا ابُو رَزِين رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوايت دے چه هغوئي ته رَسُولُ الله صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل چه آيا زه تا ته د هغه څيز په اصل رهبري اونکړم چه د هغے نه ته د دُنيا او آخرت ښيګړه حاصله کړے (پس هغه اصل څيز دا دے چه) ته د ذِکر کوونکو مجلِس اختيار کړه.

(شُعَبُ الْاِیْمان، باب فی مقاربة...الخ، فصل فی مصافحة...الخ ٦/٤٩٢، حدیث ٩٠٢٤)

د دې حديثِ پاك نه لاندې مشهور مُفَسِّر حَكِيمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي چه مجلِس نه مُراد د عُلَمائے دِين و اولياءِ كامِلِين، د صالِـحِينو او واصِلِينو مجلسونه دي، ځكه چه دا مجلسونه د جَنَّت باغونه دي. څنګه چه بل حديث شريف كښې دي. نو دا مجلسونه اګر كه مدرسے وي يا د دَرسِ قُرآن و حديث مجلسونه يا د حَضَراتِ صُوفيائے كرام محفلونه وي، دا فرمان ډير جامع دے. كوم مجلِس كښې چه د **الله** ويره د حُضُور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عِشق او د اِطاعتِ رَسُول صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شوق پيدا شي هغه مجلِس اِكسير دے. (مِراٰةُ الْمَنَاجِيح، الله كيلئے محبت كا بيان، ٦/٦٠٣)

## د ذِكْرُ الله په مجلِس كښې شِركت

د **الله** تعالٰى څه فرښتے ګرځي راګرځي او د ذِكر مجلسونه لټوي چه كله هغوئي داسې مجلِس اوويني چه په هغے كښې د **الله** تعالٰى ذِكر كيږي نو ورشي او هغوئي سره كښيني او يو بل په وزرو پټ كړي تر دې چه د آسمانه پورې خَلا ډكه شي، چه كله هغه مجلِس مُتَفَرِّق شي (يعني اخوا ديخوا خواره) شي، نو فرښتے د آسمان په طرف والوَځي، بيا **الله** تَبَارَكَ وَتَعَالٰى د هغوئي نه تپوس كوي، حالانكه پخپله زيات عِلم لري، تاسو كوم ځائے نه راغلي ئې؟ نو هغوئي عرض كوي: مونږه زمكې نه ستا د بندګانو د خوا نه راغلو هغوئي ستا پاكي او لوئي بيانوله، ستا ګلمه ئې وئيله او ستا صِفَت ئې كولو او تا نه ئې سوال كولو. **ربّ** تعالٰى فرمائي: هغوئي څه غوښتل؟ فرښتے عرض كوي تا نه ئې ستا جَنَّت غوښتلو. **الله** تعالٰى فرمائي: آيا هغوئي زما جَنَّت ليدلے دے؟ فرښتے عرض كوي: نه. **الله** تعالٰى اِرشاد فرمائي: كه هغوئي هغه ليدلے وے نو څه به ئې كولے؟ بيا فرښتے عرض كوي: او هغوئي ستا پناه غوښتله. **الله** تعالٰى فرمائي: د

څه څيز نه ئې پناه غوښتله؟ [فرښتے] عرض کوي: يا **الله** عَزَّوَجَلَّ! د جَهنَّم نه. **الله** تعالٰی فرمائي: آيا هغوئي جَهنَّم ليدلے دے؟ فرښتے عرض کوي: نه. **الله** تعالٰی اِرشاد فرمائي: که هغوئي هغه ليدلے وے نو څه به ئې کولے؟ بيا فرښتے عرض کوي: هغوئي تا نه مغفرت غوښتلو. **ربّ** تعالٰی اِرشاد فرمائي: ما د هغوئي مغفرت اوکړو او د هغوئي مُراد مې هغوئي ته ورکړو او د څه نه چه هغوئي پناه غوښتله هغوئي ته مې د هغے نه پناه ورکړه. هغوئي عرض کوي: يا **الله** عَزَّوَجَلَّ! په هغوئي کښې فلانکے کس هُم دے چه هغه ډير ګنهګار دے هغه په هغه ځائے تيريدو او د هغوئي سره کښيناستو. **الله** تعالٰی اِرشاد فرمائي: ما هغه هُم وبخښلو ځکه چه دا داسې قوم دے چه د دوئي هم نشين (يعني صُحبت اختياروونکے) هُم محرومه نه پاتې کيږي. (مُسلِم کتاب الذکر...الخ، باب فضل مجالس الذکر، ص١٤٤٤ حدیث٢٦٨٩)

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** دلته دا معلومه شوه چه د **الله** تعالٰی رحمت لامحدود [يعني بيحده] دے او د هغه د رَحمت نه يو نفر هُم خارج نه دے بلکه هر يو د هغه رحمت احاطه [يعني کير] کړے دے او هُم دا عقيده اسلام مسلمانانو ته ورکړي ده لِـهذا مونږ ته پکار دي چه هر حال کښې د رحمتِ خُداوندي طلبګار اوسيږو او د نيکو خلقو صُحبت اختيار کړو چه د **الله** تعالٰی نيکو بندګانو باندې د وريدونکو رحمتونو څاڅکي په مونږه هُم پريوځي او زمونږه هُم بيړئ پوريوځي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د ښه او بد ملګري مثال

حضرتِ سَيِّدُنا ابُو موسیٰ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوايت دے چه رَسُولُ اللهُ صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: د ښه او بد ملګري مثال د مُشك راخستي [کس] او بټئ تَودوونکي [کس] په شان دے، مُشك (چه يوه بهترينه خوشبو ده د هغے) راخستونکے خو به يا تا ته هسې درکړي يا به ئې ته د هغه نه په بيعه واخلے يا به تا ته د هغه نه ښه خوشبو راځي او بټئ تَودوونکے به يا ستا جامے اوسيزي يا به تا ته د هغه نه بدبوئي راځي.

(مُسلِم، کتاب البر و الصلة، باب استحباب مجالسة...الخ، ص١٤١٤حدیث٢٦٢٨)

## د الله د پاره د دوستئ فضيلت

تاجدارِ رِسالت، شَهَنشاهِ نُبُوَّت صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: بيشکه جَنَّت کښې د ياقوتو ستنې دي چه په هغے د زَبَرجَد بالاخانے [يعني اوچت محلونه] دي، د هغے دروازے خلاصې دي هغه داسې ځليږي څنګه چه ډير روښانه ستورے ځليږي، صحابۂ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان عرض اوکړو: يارَسُولَ الله صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! په هغه بالاخانو کښې به څوك (خوش نصيبه) اُوسيږي؟ هغوئي صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد اُوفرمائيلو: څوك چه صرف د **الله** تعالیٰ د پاره خپل مينځ کښې مَحَبَّت ساتي او څوك چه صرف د **الله** تعالیٰ د پاره خپلو کښې يو ځائے کښيني او څوك چه صرف د **الله** تعالیٰ د پاره خپل مينځ کښې ملاقات کوي. (شُعَبُ الْاِيْمان، باب فی مقاربة...الخ، فصل فی المصافحة...الخ، ٦/٤٨٧حدیث ٩٠٠٢)

## د الله تعالیٰ د ياد د پاره يو ځائے کيدونکي

رحمتِ عالَم نُورِ مُجَسَّم صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: د قيامت په ورځ به د اللهُ رَحمٰن عَزَّوَجَلَّ ښې طرف ته (دلته ښې طرف نه مُراد د فضيلت طرف دے ځکه چه الله تعالیٰ د طرف نه پاك دے) څه داسې خلق وي چه هغه به

نه انبياء وي نه شُهَداء، د هغوئي د مخونو نُور به د ليدونکو سترګې بريښوي. انبياء و شُهَداء به د هغوئي مقام او **الله** تعالٰی ته نزديکت ليدلو باندې خوشحالي ښکاره کوي. صحابۂ کرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان کښې يو صحابي رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ عرض اوکړو: يَارَسُولَ اللّٰه صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! دا به څوك (خوش نصيبه) وي؟ خوږ نبي صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد اُوفرمائيلو: دا به د مختلفو قبيلو او استوګنو خلق وي (کوم به چه دُنيا کښې) د **الله** تعالٰی د ياد د پاره يو ځائے کيدل او پاکيزه خبرې به ئې داسې مُنتَخَب کولـي څنګه چه کجوري خوړلو والا کجوري مُنتخب کوي. (اَلتَّرغِيْب وَ التَّرهِيْب، کتاب الذکر و الدعاء، الترغيب فی حضور مجالس الذکر... الخ، ۲/۲۵۲، حديث۲۳۳٤)

## چرته دي هغه خلق

حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوايت دے چه رَسُولُ الله صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي چه **الله** تعالٰی به د قيامت په ورځ فرمائي: چرته دي هغه خلق چا به چه زما د جلال په وجه خپل مينځ کښې مَحَبَّت ساتلو، نن به زه هغوئي ته خپل سوري (يعني د رحمت سوري) کښې ځائے ورکووم او حال دا دے چه زما د سوري نه علاوه نن بل سورے نشته.

(مُسلِم، کتاب البر... الخ، باب فی فضل الحب فی الله، ص۱۳۸۸، حديث۲۵٦٦)

د عاشِقانِ رسُول مَدَني تحريك دعوتِ اسلامي د اِشاعتي اِدارے مَكْتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوي د ٥٦ صفحو رِساله "اچھے ماحول کی برکتیں" صفحه کښې دي:

يو ښه او پاکيزه ماحول کوم ځائے چه د ذِكرِ اِلٰهی عَزَّوَجَلَّ و ذِكرِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم موقعے پيدا کوي، او د الله و رَسُول عَزَّوَجَلَّ و صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د فرموداتو اوريدلو ليکلو او لوستلو ذريعه هُم جوړيږي او د ماحول د

بَرَکتونو په سبب په هغے باندې د عمل کولو یو جوش او جذبه پیدا کیږي. څوك دا حقیقت نه شي دروغ کولے چه د عمل کولو هغه اوچته جذبه کومه چه د یو پاکیزه ماحول د صُحبت په وجه پیدا کیږي، هغه که بل شان نامُمکِنه نه وي نو مُشکله ضرور ده. که په اِحْیَاءُ الْعُلُوم کښې د شرح و بَسط [یعني تفصیل] سره د بیان شوي فَنِ تَصَوُّف خُلاصه په یو څو الفاظو کښې بیانول وي نو مونږ دا وئیلے شو چه د دې فَن اِنتِها مَحَبَّتِ اِلٰهی عَزَّوَجَلَّ او د دې اِبتِدا ښه صُحبت دے ځکه چه ښه صُحبت سره نیك خیالات پیدا کیږي او انسان ته د خپل پیدائش په مقصد، د دُنیاوي ژوند په عارضي کیدلو، د اُخروي ژوند په دوام [یعني همیشګئ] او حساب و کتاب باندې د غور کولو موقع حاصلیږي او دے سره زړه کښې ویره او اُمِید پیدا کیږي او دا [ویره او اُمِید] د انسان په زړه کښې د آخرت د پاره د عمل کولو خواهش پیدا کوي، چنانچه آخرت ته ئې تَوجُّه شي او نفساني خواهشات ئې مسلسل کمیږي، زړه کښې ئې د عِشقِ رَسُول صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم او د معرفتِ الٰهی عَزَّوَجَلَّ حاصلولو خواهش بیدار شي او په نیکو اعمالو اِستِقامت اختیار کړي او زړه ئې د غیرُ الله د یاد نه اوزګار شي او د دې په نتیجه کښې ئې زړه د ذِکْرُ الله سره اولګي او بیا په قلاره قلاره دا اُنس [یعني زړه لګیدل] په معرِفَت کښې او دا معرِفَت په مَحَبَّت کښې بدل شي کوم چه عین مقصود دے البته د دې د پاره د تَوفِیقِ اِلٰهي عَزَّوَجَلَّ مُتَوَجِّه کیدل بُنیادي اَمر دے.

معلومه شوه چه صُحبت د اُخروي سعادت حاصلولو وړومبئ پوړئ ده او چه کله څوك د خوږ خوږ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خوږو خوږو سُنَّتو او تعلیماتو نه خپله لـمن ډکه کړي او په صِدق سره پرې عمل کوي نو د

هغه د ظاهِر او باطِن پاکيزه او خوشبوداره کيدل د حيرانئ خبره نه ده بلکه د هغه عَظَمت او شان خو دومره اوچت شي چه د مرګ نه پس د هغه د قَبْر خاوره هُم خوشبوداره شي. چنانچه

## د قَبْر خاوره ئې خوشبوداره شوه

حضرتِ ابُو عبدُالله محمد بِن اِسماعِيل بُخاري (سنِ پيدائش ۱۹٤ هـ، سنِ وفات ٥٦هـ،) رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه چه کله قَبْر ته کُوز کړے شو نو فوراً ئې د قَبْر شريف نه د مُشکو خوشبو راتلل شروع شوه او د قَبْر ذرّه ذرّه مُشك جوړه شوه، خلق به زيارت د پاره راتلل او د قَبْر خاوره به ئې د تَبَرُّك په طور وړله، تر دې چه قبر کښې غټ قوندړ [ډوغالي] جوړ شو، (نو د دې ويرې په سبب چه که خلقو هُم دغسې خاوره وړله نو لږه موده کښې به قَبْر ختم شي) د قَبْر نه چاپيره د لرګي جنګله اولګولے شوه خو زيارت کوونکو به د جنګلے د بهر نه خاوره وړله نو په هغے کښې به هُم خوشبو وه. د ډيرې اُوګډے مودے پورې به دا خوشبو راتلله.

(سير اعلام النبلاء، الطبقة الرابعة عشر، ۲۱۳٦، ابو عبد الله البخاری، ۱۰/۳۱۹)

هُم دغسې د [دُرُود شريف په فضائلو ليکلي شوي کتاب] دَلائِلُ الْخَيْرات شريف مُصَنِّف حضرتِ عَلَّامه محمد بِن سُليمان جَزُولي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه (الـمتوفٰى ۸۷۰هـ) چه [د وفات نه] ۷۷ کاله پس د "سوس" د زمکې نه ويستلے شو او د "مراکش" په زمکه کښې دفن کړے شو نو خلقو په خپلو سترګو اوليدو چه د هغوئ رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه کفن سلامت او بدن تر و تازه وو، او چه کله هغوئ د وړومبي قَبْر نه راويستلے شو نو فضا خوشبوداره شوه او اوس هُم د هغوئ د قَبْر نه د مشکو خوشبو راځي. (مطالع المسرات، ص٤)

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د ښه دوست صُحبت

حضرتِ سَيِّدُنا مُجاهِد رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه روايت کوي چه کله څوك مړ کيږي نو د هغه هم نشين (يعني د چا په صُحبت کښې به چه کښيناستلو، هغه) هغه ته پيش کړے شي که هغه (مړ کيدونکے) د اَهلِ ذِکر نه وي نو ذِکر کوونکي او د لوبو [ټوقو ټقالو] والؤ نه وي نو لوبو ټوقو والا ورته وړاندې کړے شي.

(حِلْيَةُ الْاَوْلِيَاء مجاهد بن جبر، ۳/۳۲٤، حديث ٤١١٥)

د ښه هم نشين مُتَعَلِّق دري فرامين مُصطَفٰى اوګورئ:

## دري فرامين مُصطَفٰى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم

﴿۱﴾ ښه هم نشين (يعني هم صُحبت) هغه دے چه د هغه په ليدلو تا ته **الله** درياد شي، د هغه په خبرو ستا په عمل کښې زياتے اوشي او د هغه عمل تا ته آخرت درياد کړي. (جَامِعُ الصَّغِير، حرف الخاء، ص۲٤۷ حديث ٤٠٦٣)

﴿۲﴾ د غټو په صُحبت کښې کښينئ او عُلَماء نه د خبرو تپوسونه کوئ او حُکَما [يعني د حکومتي خلقو] سره ناسته ولاړه مه کوئ. (مُعجَم کَبِير، ۲۲/۱۲۵، حديث ۳۲٤)

﴿۳﴾ ښه ملګرے هغه دے چه کله ته **الله** ياد کړے نو هغه ستا مدد اوکړي او چه کله ستا نه هير شي نو درياد ئې کړي. (جَامِعُ الصَّغِير، باب حرف الخاء، ص۲٤٤ حديث ۳۹۹۹)

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** د نيك صُحبت بَرَکتونو باره کښې تاسو واوريدل. اوس د بد صُحبت د سپيړه والي په باره کښې هُم څه واورئ. چنانچه د عاشِقانِ رسُول مَدَني تحريك دعوتِ اسلامي د اِشاعتي اِدارے **مَکْتَبَةُ الْمَدِينه** چاپ شوي د ٥٦ صفحو رِساله "**اچھے ماحول کی برکتیں**" صفحه کښې دي:

د صُحبت اثر مُسَلَّمه [يعني منلے شوے] دے، انسان د خپل هم نشين [يعني چا سره چه ناسته ولاړه ساتي د هغه] د عادتونو، اخلاق و عقائد نه ضرور مُتأَثِّره کيږي ځکه **الله** تَبَارَكَ وَتَعَالٰى مسلمانان د هغه خلقو سره ناستې نه سختئ سره منع کړي دي د چا چه د شپے او ورځې مشغله په اسلام، پيغمبرِ اسلام او قُرآنِ کريم پورې تړوقې او بد رد وئيل دي لِـهذا د داسې خطرناك او خوفناك قِسم قبيحه او بد ناسُور کښې اخته مريضانو د صُحبت نه ځان ساته ځکه چرې داسې اونشي چه ته هُم په دې ناپاکه مرض کښې اخته شے.

## د بَد دوست صُحبت

حضرتِ سَيِّدُنا اَنَـس بن مالِك رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوايت دے چه رسولِ انور، شاهِ بَـحر و بَر صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي چه بد مُصاحِب (يعني بد ملګري) نه ځان ساته ځکه چه ته به هُم په هغه پيژندلے کيږے يعني څنګه خلقو سره چه سړے کښيني پاڅي، خلق هغه هُم هغسې ګڼري.

(کَنْزُ الْعُمَّال، کتاب الصحبة، قسم الاقوال، الباب الثالث فی الترهیب عن صحبة السوء، ۱۹/۹ حدیث ۲۴۸۳۹)

## هغوئي سره ورور ولي مه کوه

اَمِيرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدُنا عَلِيُّ الْمُرْتَضٰى کَرَّمَ اللّٰہُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْکَرِیْم فرمائيلي دي چه فاجِر سره ورورولي مه کوه ځکه چه هغه به خپل فِعل تا ته ښکلے کوي او دا به غواړي چه ته هُم د هغه په شان شے او خپل بد ترين خصلت به تا ته ښه ښکاره کوي ستا خوا ته د هغه تلل راتلل عيب او پيغور دے او بے وقوفه سره هم ورورولي مه کوه ځکه چه هغه به ځان مشقت کښې واچوي او تا ته به کله هُم فائده نه رسوي او کله به دا وي چه تا ته به فائده رسَوَل غواړي خو کيږي به داسې چه نُقصان به در اورسوي، د هغه خاموشي د خبرو کولو نه بهتره ده او د هغه لرې والے د نزدے کيدو نه بهتر دے او

كَذَّاب (يعني دروغژن) سره هُم ورورولي مه كوه ځكه چه هغه سره معاشرت كول به تا ته فائده نه دركوي، ستا خبره به نورو ته رسَوي او د نورو خبرې به تا له راوړي او كه ته ربنتيا وائې نو هغه به بيا هُم ربنتيا نه وائي.

(كَنْزُ الْعُمَّال، كتاب الصحبة، قسم الافعال، باب فی آداب الصحبة، ۹/۷۵ حدیث۲۵۵۷۱)

## د هغه د صُحبت نه ځان ساته

حضرتِ سَيِّدُنا مالِك بِن دِينار رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه خپل زوم حضرتِ سَيِّدُنا مُغِيره بِن حبيب رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه ته وفرمائيل: اے مُغِيره! د كوم ورور يا ملګري صُحبت چه تا ته دِيني فائده نه در رسوي ته د هغه د صُحبت نه ځان ساته چه ته محفوظه او سلامت پاتې شي. (كشف المحجوب، باب الصحبة وما يتعلق بها، ص۳۷٤ و حِلْيَةُ الْاَوْلِيَاء، المغيرة بن حبيب، ٦/٢٦٧، حديث ٨٥٥٥)

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د بد صُحبت په وجه دين او دُنيا دواړه تباه كيږي، بد ماحول كښې د انسان عادتونه او طور طريقے خرابے شي او هغه د **الله** تعالٰى په نافرمانئ كولو كولو كښې د فِسق و فُجُور نمونه جوړ شي، خدانخواسته كه تاسو بدو دوستانو يا كوم بد ماحول كښې كښينئ پاځئ نو فوراً تر ې جُدا شئ او بنه ماحول اختيار كړئ او د هغے بَرَكتونه حاصل كړئ. راشئ او د رضائے اِلٰهى عَزَّوَجَلَّ حاصلولو، زړه كښې خوفِ خُدا پيدا كولو، د ايمان د حفاظت جذبه زياتولو، د مرګ تصوَّر پيدا كولو، ځان د عذابِ قبر و عذابِ جَهنَّم نه ويرولو د پاره، د ګناهونو عادت ختمولو، خپل ځان د سُنَّتو پابند جوړولو، زړه كښې د عِشقِ رَسُول شمع روښانه كولو او جَنَّتُ الفِردَوس كښې د خوږ مكّـى مَدَنـى مُصطَفٰى صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خوا كښې د ځائے حاصلولو شوق زياتولو د پاره د عاشِقانِ رسُول مَدَني تحريك دعوتِ اسلامي مَدَني ماحول سره هر دم خپل تَعَلُّق مضبوط ساتئ، هره مياشت كم از كم

درې ورځو د پاره عاشِقانِ رَسُول سره مَدَني قَافِله کښې د سُنَّتو ډك سفر کوئ او د فِکرِ مدينه په ذريعه هره ورځ د مَدَني انعاماتو رساله کښې خانے ډکوئ او د هرې مَدَني مياشتې په يـکـم تاريخ ئې خپل ذِمَّه دار ته جمع کوئ. ستاسو د ترغِيب و تحرِيص د پاره يو مَدَنـي سپرلے وړاندې کيږي، چنانچه

## اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ زه بدل شوم

د شالیمار ټاؤن (مرکزُ الاولیاء لاهور، پاکستان) د یو اسلامي ورور څه داسې بیان دے چه: زه بیحده وران کارے انسان ووم، د فِلمونو او ډرامو ډیر زیات شوق لرلو سره سره د پیغلو جینکو سره چیرې چارِ کول، د لوفرانو هلکانو سره دوستانے، د نیمې شپے پورې د هغوئ سره بے فائدے ګرځیدل وغیره زما په معمولاتو کښې شامل وو. زما د بدو حرکتونو په وجه به زما خاندان والؤ هُم زما نه ډډه کوله، خپلو کورونو ته به ئې زما ورتلل نه خوښول او خپل اولاد به ئې زما د صُحبت نه ساتلو. زما د ګناهونو ډك ژوند کښې د نیکو د سپرلـي د راتلو سبب داسې اوشو چه په ما باندې د دعوتِ اسلامي والا یو عاشِقِ رَسُول خوږ نظر پریوتو، هغه په ډیر زیات شَفقت په ما باندې اِنفرادي کوشش اوکړو او ما ته ئې مَدَني قَافِله کښې د سفر کولو ترغیب راکړو، خبره زما زړه ته کوزه شوه او ما مَدَني قَافِله کښې د سفر کولو سعادت حاصل کړو، اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ مَدَني قَافِله کښې د عاشِقانِ رَسُول صُحبت زمـا ګنهګار په زړه کښې مَدَنـي اِنقِلاب راوستو، ګناهونو نه د توبه کولو توفیق رانصیب شو او په زړه کښې مې د سُنَّتو ډك مَدَنـي لِباس اغوستلو جذبه پیدا شوه، د شنے عِمامے تاج مې په سر کړو او زما په شان ګنهګار کس د سُنَّتو مَدَنـي ګُلونه عام کولو کښې مشغول شو او کومو خپلو خپلوانو چه به رانه ډډه کوله، اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ اوس هغوئ غاړه راکوي،

مخکښې زه په خاندان کښې د ټولو نه بد ووم، اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د دعوتِ اسلامي د مَدَني قَافِلے په بَرَکت اوس ما سره د ټولو نه زيات مَحَبَّت کوي. ؎

جب تک بکا نہ تھا کوئی پوچھتا نہ تھا  تم نے خرید کر مجھے انمول کردیا

## بے بها ملغلرې

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** د صُحبت او مجلِس مُتَعَلِّق دلته څه نور رِوايات جمع کړے شوي دي، په غور ئې واورئ:

﴿۱﴾ بيشکه **الله** تعالٰی د يو صالِح (يعني نيك) مسلمان په بَرَکت د هغه د کاونډ د سلو کورونو بلا لرې کوي. (اَلْمُعْجَمُ الْاَوْسَط ۳/۱۲۹، حديث۴۰۸۰)

﴿۲﴾ رضائے اِلٰهی د پاره ملاقات کوئ ځکه چه چا د **الله** تعالٰی د پاره ملاقات اوکړو نو اويا زره فرښتے هغه منزِل ته رَسَوَلو د پاره د هغه سره ځي. (کشف الخفاء، حرف الزائ، ۱/۳۸۷، حديث ۱۴۱۱)

﴿۳﴾ چه کله ته خپلو وروڼو کښې درې خصلتونه اووِينې نو هغه نه اُمِيد ساته. (هغه درې ځيزونه دا دي) حيا، امانت، رښتيا او کله چه ته دا (درې ځيزونه) اُو نه وِينې نو هغه نه اُمِيد مه ساته. (الکامل فی ضعفاء الرجال، رشدين بن کريب، ۴/۶۵، کنز العمال، کتاب الصحبة، قسم الاقوال، الباب الثانی فی آداب الصحبة...الخ ۹/۱۳، حديث۲۴۵)

﴿۴﴾ ستاسو مُصاحِب و ملګرے دِ صرف مومن وي او ستاسو طعام دِ صرف مُتَّقي او پرهيزګار خوري. (سنن ابی داؤد، کتاب الادب، باب من يؤمر ان يجالس، ۴/۳۴۱، حديث۴۸۳۲)

﴿۵﴾ تنهائي [يعني يواځې کيدل] بهتر دي د بد ملګري نه او ښه ملګرے بهتر دے د تنهائي نه او ښه خبره کول بهتر دي د خاموشئ نه او خاموشي بهتره ده

بده خبره وئيلو نه. (شُعَبُ الْاِيْمان، باب فی حفظ اللسان، فصل فی السکوت عما لایعنیه، ٤/٢٥٦، ٢٥٧، حدیث٢٤٨٣٩)

﴿٦﴾ ته بد ملګري نه بچ اوسه ځکه چه ته به په هغه پيژندلے کيږے. (کَنْزُ الْعُمَّال، کتاب الصحبة، قسم الاقوال، الباب الثالث، فی الترهیب عن صحبة السوء، ٩/١٩ حدیث٢٤٨٣٩)

﴿٧﴾ ته بد ملګري نه بچ اوسه ځکه چه هغه د جَهنَّم يوه ټُکړه ده، د هغه مَحبَّت به تا ته فائده نه رسوي او هغه به خپل عهد تا سره نه وفا کوي [يعني تا سره به وعده نه پوره کوي] (فردوس الاخبار، ١/٢٢٤، حدیث١٥٧٣)

﴿٨﴾ خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: تاسو عُلَماء سره ناسته او د دانا [يعني هوښيارو] خلقو خبرې په غور سره اوريدل لازم اونيسئ ځکه چه **الله** تعالٰی د دانائي او حِکمت د نُور په ذريعه مړه زړونه ژوندي کوي، څنګه چه مړه شړه زمکه د باران په اوبو ژوندئ کوي. (منبهات ابنِ حجر عسقلانی، باب الثنائی، ص٣)

﴿٩﴾ يو دانا [يعني عقلمند] کس نه رِوايت دے چه درې څيزونه غم او پريشانئ لرې کوي: (١) د **الله** تعالٰی ذِکر (٢) د **الله** تعالٰی د دوستانو مَحبَّت (٣) د دانا خلقو خبرې.

﴿١٠﴾ حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله بِن مسعود رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائيلي دي: څلور څيزونه د زړه د تِيارے نه دي: (١) خيټه ښه ډکه کيدل د لاپرواهئ په وجه (٢) د ظُلم کوونکو صُحبت اختيارول (٣) تير ګناهونه هيرول (٤) اوګرِده اوګرِده اُميدونه

او څلور څيزونه د زړه د رنړا نه دي:

(١) د لوَبِے نه تشه خيټه کيدل د تقویٰ او [د الله د] ويرې په وجه (٢) د نيکو خلقو صُحبت اختيارول (٣) تير ګناهونه ياد ساتل (٤) وړوکي اُميدونه. (منبهات ابنِ حجر عسقلانی، باب الرباعی، ص٣)

﴿۱۱﴾ اَبُو نُعَيم نه حضرتِ سَيِّدُنا عطا خُراساني رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه روايت کړے دے چه کوم بنده د زمکې په ټُکړو کښې په يوه ټُکړه سَجده کوي نو هغه ټُکړه (يعني حِصّه) به د قيامت په ورځ ګواهي ورکوي او هغه په هغه پسے ژاړي په کومه ورځ چه هغه (مومن بنده) مړ شي. (حِلْيَةُ الْاَوْلِيَاء، عطاءِ بن ميسرة، ٥/٢٢٤، حديث٦٩٠٩)

﴿۱۲﴾ د ښه مُصاحِب (يعني ناستې ولاړې ملګري) مِثال د مُشك والا په شان دے که تا ته د هغه نه هيڅ حاصل نه شي نو بيا به هُم خوشبو در رسي او د بد مُصاحِب مِثال د بټۍ والا په شان دے که تا ته (د هغه د بټۍ) تور والے نه در رسي نو بيا به هُم د هغے لُوګے خو در رسي.

(اَبو داؤد، كتاب الادب، باب من يؤمر ان يجالس، ٤/٣٤٠، حديث٤٨٢٩)

﴿۱۳﴾ حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِیَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ نه رِوايت دے چه رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: تاسو خپل مړي د نيکو خلقو مينځ کښې خښ کړئ ځکه چه مړے د بد ګاونډي په وجه تکليف اوچتوي څنګه چه ژوندے د بد ګاونډي په وجه تکليف اوچتوي. (حِلْيَةُ الْاَوْلِيَاء، مالك بن انس، ٦/٣٩٠، حديث٩٠٤٢)

﴿۱۴﴾ درې څيزونه ستا د پاره ستا د ورور د خالص مَحَبَّت ذريعه دي:

(۱)..... چه کله ستا هغه سره ملاقات اوشي نو هغه ته سلام اوکړه.

(۲)..... ته د هغه د پاره مجلِس کښې ځائے فراخه کړه او

(۳)..... ته هغه په هُغه نوم بله کوم چه د هغه خوښ وي.

(اَلْمُسْتَدْرَك لِلْحَاكم، كتاب معرفة الصحابة، باب ثلاث...الخ، ٤/٥٣٣، حديث٥٨٧)

﴿۱۵﴾ کوم خلق چه مجلِس نه پاڅي او په هغے کښې د اللہ تعالٰی ذِکر اونکړي، نو هغه داسې پاڅيدل لکه د مړ خر [د خوا نه] او هغه (مجلِس) به په هغوئ (په ورځ د قيامت د) حسرت [يعني د ارمان باعث] وي.

(اَبو داؤد، كتاب الادب، باب كراهية ان يقوم الرجل من مجلسه ولا يذكر الله، ٤/٣٤٧، حديث٤٨٥٥)

﴿۱۶﴾ يو کس د يو قوم څنګ ته راشي او د هغه د خوشحالولو د پاره هغه خلق په ځائے کښې فراخي اوکړي نو په **الله** تعالیٰ حق دې چه هغوئي راضي کړي. (کَنْزُ الْعُمَّال، کتاب الصحبة، قسم الاقوال، حق المجالس و الجلوس، ۹/۵۸، حدیث۲۵۳۷)

﴿۱۷﴾ څوك دِ د دوو کسانو تر مينځه نه کښيني خو د هغوئي په اجازت او بل روايت کښې دي چه د هيڅ چا د پاره حلال نه دي چه هغه د دوو انسانانو تر مينځه بغير د هغوئي د اجازته جُدائي اوکړي يعني د هغوئي تر مينځه کښيني.

(اَبو داؤد کتاب الادب، باب فی الرجل یجلس بین الرجلین بغیر اذنهما، ۳/۳۴۴ حدیث۴۸۴۴، ۴۸۴۵)

﴿۱۸﴾ چه کله تاسو کښينئ نو خپلې څپلئ اُوباسئ ستاسو ښپے به په آرام شي. (کَنْزُ الْعُمَّال، کتاب الصحبة، قسم الاقوال، حق المجالس و الجلوس، ۹/۵۹، حدیث ۲۵۳۹۰)

﴿۱۹﴾ چه کله څوك د خپل ځائے نه پاڅي بيا بيرته راشي (هله چه زر بيرته راشي) نو د خپل ځائے هُم هغه زيات حقدار دے. (اَبی داؤد باب اذا قام الرجل من مجلس ثم رجع، ۴/۳۴۶، حدیث۴۸۵۳)

﴿۲۰﴾ زيات شرف لرونکے مجلِس هغه دے کوم چه مخ په قبله وي.

(اَلْمُسْتَدْرَك لِلْحَاكم، کتاب الادب، باب اشرف المجالس...الخ، ۵/۳۸۳، حدیث۷۷۷۸)

﴿۲۱﴾ بهترينه نيکي د هَم نشينو [يعني د ناستې شريکو خلقو] تعظيم [يعني ادب کول] دي. (فردوس الاخبار، ذکر فصول اخر فی عبارات شتی، ۱/۲۰۷، حدیث۱۴۳۸)

﴿۲۲﴾ بدترينه مجلسونه د لارې بازارونه دي او بهترين مجلس جُماتونه دي پس که ته جُمات کښې نه کښيني نو خپل کور لازِم کړه. (کَنْزُ الْعُمَّال، کتاب الصحبة، قسم الاقوال، حق المجالس و الجلوس، ۹/۶۰، حدیث ۲۵۴۱۱)

﴿۲۳﴾ [کوم] خلق چه په يو داسې مجلِس کښې کښيني چه په هغے کښې په رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُرُود شريف نه لوَلي نو هغه به د هغوئي د پاره د

حسرت [يعني ارمان] باعث وي اګر چه جَنَّت ته داخل شي (خو د دُرُود نه وئيلو ارمان به کوي) کوم وخت چه به هغوئ (د دُرُود وئيلو) جزا اوويني.

(شُعَبُ الْاِيْمان، باب فی تعظیم النبی و اجلاله و توقیره، ۲/۲۱۵، حدیث۱۵۷۱)

﴿۲۴﴾ دوه کسان دِ خپل مينځ کښې داسې پتې خبرې نه کوي چه خپل دريم ملګرے پريږدي ځکه چه دا خبره به هغه ته تکليف رَسَوي.

(اَبو داؤد، کتاب الادب، باب فی التناجی، ۴/۳۴۶، حدیث۴۸۵۱)

﴿۲۵﴾ حضرتِ سَيِّدُنا جابِر بِن سَمُره رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي چه کله به مونږ د نَبِـيِّ کريم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دربار کښې حاضريدلو نو مونږ کښې به چه څوک راتللو هغه به آخره کښې کښيناستلو.

(اَبو داؤد، کتاب الادب، باب فی التحلق، ۴/۳۳۹، حدیث۴۸۲۵)

﴿۲۶﴾ د مسلمان په مسلمان باندې دا حق دے چه هغه اوويني نو د هغه د پاره د خپل ځائے نه وخوزيږي (يعني مجلِس ته راتلونکي اسلامي ورور د پاره څه اخوا ديخوا وخوزيږي او د هغه د ناستې د پاره څه ځائے جوړ کړي) (شُعَبُ الْاِيْمان باب فی مقاربة...الخ، فصل فی قیام المرء لصاحبه، ۶/۴۶۸، حدیث۸۹۳۳)

﴿۲۷﴾ حضرتِ سَيِّدُنا اِبنِ عُمَر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا د نَبِـيِّ کريم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه روايت کوي چه هغوئ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم (د دې خبرې نه) منع فرمائيلې دي چه يو کس د هغه د ځائے نه پاڅولے شي او په هغه ځائے کښې بل کښينې البته تاسو د خپل ځائے نه خوزيږئ او ځائے فراخه کوئ (يعني ناستو خلقو ته پکار ده چه د راتلونکي اسلامي ورور د پاره وخوزيږي او ځائے ورکړي چه هغه هُم کښيني) او حضرتِ سَيِّدُنا اِبنِ عُمَر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا به (دا خبره) مکروه ګڼرله چه څوک د خپل ځائے نه پاڅي او دوئ د هغه په ځائے کښيني. (د حضرتِ سَيِّدُنا

اِبنِ عُمَر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا دا فِعل د کمال درجه پرهیزګارئ په وجه وو چه چرې داسې نه وي چه د هغه زړه خو پاڅیدو ته نه کیدو خو صرف د هغوئ د پاره ئې ځائے پریښودے وي) (بُخاری، کتاب الاستئذان، باب اذا قیل لکم...الخ، ۱۷۹/٤، حدیث٦٢٧٠)

## بیان نمبر: ۳

# د دُنیا غندنه

## د دُرُود شریف فضیلت

د حُضُور نَبِیِّ کریم رَءُوْفٌ رَّحِیم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عالیشان دے: د الله تعالٰی د پاره خپل مینځ کښې مَحبَّت لرونکي چه کله خپل مینځ کښې ملاقات اوکړي او مصافَحه اوکړي [یعني لاسونه ملاو کړي] او نبـي (صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) باندې دُرُود اولیږي نو د هغوئ د جُدا کیدو نه مخکښې د دواړو تیر شوي او راروان ګناهونه وبخښلے شي. (اَبو یَعْلٰی، ۹۵/۳ حدیث۲۹۵۱)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د جنتي محل سودا

حضرتِ سَیِّدُنا مالِك بِن دِینار رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ یو ځل د بَصرے په یوه محلّه کښې یو زیرِ تعمیر عالیشان محل ته ور داخل شو، څه ګوري چه یو سړکلے ځلمے مزدورانو، ګیلکارانو او کار کوونکو ته په ډیره زیاته تَوجُّه د هر هر کار هدایت ورکوي. حضرتِ سَیِّدُنا مالِك بِن دِینار رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ خپل رفیق [یعني ملګري] حضرتِ سَیِّدُنا جعفر بِن سُلیمان رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ ته وفرمائیل: دا ځلمے د محل په

تعميرولو او ښائسته کولو کښې څومره د زړه شوق لري، ما ته د ده په حال رحم راځي، زه غواړم چه د **الله** تعالیٰ نه سوال اوکړم چه ده ته د دې حال نه خلاصے ورکړي، هيڅ عجبه نه ده چه دے د جَنَّت د ځلمو نه شي، دا وئيلو نه پس حضرتِ سَيِّدُنا مالِك بِن دِينار رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د حضرتِ سَيِّدُنا جعفر بِن سُليمان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه سره د هغه خوا ته تشريف يورلو او سلام ئې ورته اوکړو. هغه دوئي اونه پيژندل. چه کله تعارُف اوشو نو د دوئي ډير عِزَّت او احترام ئې اوکړو او د تشريف راوړلو د مقصد تپوس ئې ترې اوکړو. حضرتِ سَيِّدُنا مالِك بِن دِينار رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه (په هغه ځلمي انفرادي کوشش شروع کړو او ورته ئې) اوفرمائيل: تاسو په دې عاليشان محل باندې د څومره رقم لګولو اراده لرئ؟ هغه ځلمي عرض اوکړو: يو لاك دِرهمه. حضرتِ سَيِّدُنا مالِك بِن دِينار رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه ورته اوفرمائيل: که دا رقم تاسو ما ته راکړئ نو زه ستاسو د پاره د يو داسې عاليشان محل ضمانت اخلم، کوم چه د دې نه زيات ښکلے او پائيدار دے. د هغے خاوره به د مشکو او زعفرانو وي، هغه به کله هم نه ورانيږي، او صرف محل نه بلکه هغے سره به خادمان او خادمې او د سرو ياقوتو اعلیٰ محرابونه او نهايتې ښکُلي خيمے وغيره هُم وي او هغه محل ګيلکارانو نه دے جوړ کړے بلکه هغه صرف د **الله** تعالیٰ په **كُنْ** (يعني اوشه) وئيلو جوړ شوے دے. هغه ځلمي په جواب کښې اُووئيل چه ما ته دے باره کښې د يوے شپے سوچ کولو مُهلت راکړئ. حضرتِ سَيِّدُنا مالِك بِن دِينار رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه اوفرمائيل: ډيره ښه ده.

د دې خبرو اترو نه پس دا دواړه حَضَرات د هغه ځائے نه لاړل، حضرتِ سَيِّدُنا مالِك بِن دِينار رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه ته د شپے ډير ځله د هغه ځلمي خيال راغے او هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د هغه په حق کښې دُعاګاني کولے. سحر ئې چه بيا هغه

طرف ته تشريف يوړلو نو ځلمے ئې اوليدلو چه دروازه کښې په انتظار دے. ځلمي ئې ډير په کرم جوشئ سره اِستِقبال اوکړو او عرض ئې اوکړو: آيا تاسو ته پرونئ خبره ياده ده؟ حضرتِ سَيِّدُنا مالِك بِن دِينار رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه اِرشاد وفرمائيلو: ولے نه؟ ځلمي د زرو دِرهمو ډکې خلتے حضرتِ سَيِّدُنا مالِك بِن دِينار رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه ته حواله کړے او عرض ئې اوکړو چه دا واخلئ زما ټوله سرمايه، او دا دي قلم، دوات او کاغذ حاضر دي.

حضرتِ سَيِّدُنا مالِك بِن دِينار رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه کاغذ او قلم لاس کښې اونيول او د دې مضمون بيع نامه ئې اوليکله: بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ دا لِيك د دې غرض د پاره دے چه مالِك بِن دِينار د فلانکي بِن فلانکي د پاره د دې دُنياوي کور په عِوض کښې د **اللّٰه** تعالٰى له طرفه د يو دغسې شاندار محل ورکولو ضامِن دے او که په هغه محل کښې نور څه هُم وي نو د **اللّٰه** تعالٰى فضل دے. ما د دې يو لاکو دِرهَمو په عِوض کښې د فلانکي بِن فلانکي سره د يو جنتي محل سودا اوکړه کوم چه د ده د دُنياوي مکان نه زيات فراخه او شاندار دے او هغه جَنَّتي محل د قُربِ اِلٰهي عَزَّوَجَلَّ په سوري کښې دے.

حضرتِ سَيِّدُنا مالِك بِن دِينار رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه دا تحرير اوليکلو او هغه بيع نامه [يعني کاغذ] ئې هغه هلك ته حواله کړو او هغه يو لاك دِرهَمه ئې د مانبام نه مخکښې مخکښې فقيرانو او مِسکينانو باندې تقسيم کړل. د دې عظيمي عهد نامے د ليکلو لا څلويښت ورځې نه وي تيرې شوي چه د سحر د لـمانځه نه پس جُمات نه راوتلو وخت کښې د حضرتِ سَيِّدُنا مالِك بِن دِينار رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه نظر د جُمات په محراب پريوتلو، څه ګوري چه د هغه ځلمي د پاره ليکلے شوے هُم هغه کاغذ هلته پروت دے او د هغے په شا د سياهئ نه بغير داسې ليك ځليږي: د اَللّٰهُ عَزِيزٌ حَكِيْم له طرفه د مالِك بِن دِينار د پاره براءَت نامه ده [يعني د

هغه ضمانت نه خلاصے دي] چه تا د کوم محل د پاره زمونږه په نوم ضمانت اخستے وو هغه مونږه هغه ځلمي ته ورکړو بلکه د هغے نه مو اويا چنده زيات ورکړو.

حضرتِ سَيِّدُنا مالِك بِن دِينار رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه هغه لِيك ځان سره واخستلو او فوراً د هغه ځلمي کور ته ورغلو، د هغه ځائے نه د ژړا آوازونه راتلل، هغوئي تپوس اوکړو نو چا ورته اُووئيل چه هغه ځلمے پرون په حق رسيدلے دے، غَسّال [يعني غُسل ورکوونکي] اُووئيل چه هغه ځلمي زه خوا ته وغوښتم او ما ته ئې وصِيَّت اوکړو چه زه مړ شم نو ما ته به غُسل ته راکوے او په کفن کښې د يو کاغذ ايښودلو وصِيَّت ئې را ته اوکړو. چنانچه د وَصِيَّت مطابق د هغه کَفَن دَفَن اوکړے شو. حضرتِ سَيِّدُنا مالِك بِن دِينار رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د جُمات مِحراب کښې موندلے شوے کاغذ غُسل ورکوونکي ته ښکاره کړو نو هغه بے اختياره اُووئيل چه وَاللهِ الْعَظِيْم دا خو هُم هغه کاغذ دے کوم چه ما کفن کښې ايښودے وو. دا واقعه ئې چه اوليدله نو يو کس د حضرتِ سَيِّدُنا مالِك بِن دِينار رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه په خِدمت کښې د دوه لاکو دِرهَمو په عِوَض کښې د ضمانت نامه ليکلو عرض اوکړو، نو هغوئي اُوفرمائيل: څه چه کيدل هغه اوشو، **الله** تعالٰى چه چا سره څه غواړي هغه کوي. حضرتِ سَيِّدُنا مالِك بِن دِينار رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه به [کله کله] هغه مرحوم ځلمے يادولو او ژړل به ئې. (رَوْضُ الرَّيَاحِين ص۵۸)

جس کو خدائے پاک نے دی خوش نصیب ہے
کتنی عظیم چیز ہے دولت یقین کی

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# شانِ اَولياء

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** حضرتِ سَيِّدُنا مالِك بِن دِينار رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د حضرتِ سَيِّدُنا حَسَن بَصري رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه هم عَصر [يعني د هغوئ د زمانے] وو. تاسو اوليده چه **اللّٰه** تَبَارَكَ وَتَعَالٰى هغوئ رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه ته څومره اختيار ورکړے وو چه هغوئ د دُنياوي محل په عِوض کښې د جَنَّتي محل سودا اوکړه. واقعي د **اللّٰهُ رَحْمٰن** عَزَّوَجَلَّ د وليانو ډير لوئ شان وي. د اولیائے کرامو شان باندې پوهيدلو د پاره دا حديثِ پاك اولولئ: چنانچه د خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: لږه شان رِيا هُم شِرك دے او څوك چه د **اللّٰه** تعالٰى د ولـي سره دُښمني اوکړي هغه **اللّٰه** تعالٰى سره جنګ کوي. **اللّٰه** تعالٰى نيکان، پرهيزګاران [او] ځان پټ ساتونکي [خلق] دوستان ساتي چه که غائب وي نو څوك ئې لټوي نه، که حاضر وي نو بللے نه شي او څوك هغوئ نزدے کوي نه، د هغوئ زړونه د هدايت ډيوے وي، د هرې تِيارے کرد وهلي نه اُوځي. (مِشْكَاةُ المصابيح، كتاب الرقاق، باب الرياء والسمعة، الفصل الثالث، ۲/۲۶۹ حديث ۵۳۲۸)

## د هر نيك بنده احترام کوئ

د دې ذِکر کړے شوي حديث نه معلومه شوه چه د **اللّٰه** تعالٰى په بارګاه کښې د مقبوليت معيار شُهرت او ناموري بالکل نه ده بلکه د **اللّٰه** تَبَارَكَ وَتَعَالٰى په بارګاه کښې خو صرف مُخلِص بندګان مقبول وي او دا هُم ضروري نه ده چه هر ولي دِ مشهور او معروف وي. دا حَضَرات د معاشرے په هره طبقه کښې وي. غټ غټ اولیائے کرام کله د مزدور په جامه کښې، کله د سبزئ او ميوو خرڅوونکي په صورت کښې، کله د تاجِر او مُلازِم په صورت کښې، کله د څوکيدار يا ګيلکار په شکل کښې وي، هر يو هغوئ نه شي پيژندلے، لِـهذا

مونږ ته يو مسلمان هُم سپك كنټرل نه دي پكار. بلكه بعضې اولياء باقاعده روحاني حاكِمان وي او هغوئ "روحاني نظام" سره مربوط (يعني رابطه) كښې وي. د دې الله والؤ په نظر كښې د دُنيا د رنګينئ هيڅ اَهَمِّيَّت نه وي. دا نُفُوسِ قُدسِيَّه [يعني پاك خلق] د دُنيا په مقابله كښې آخرت ته ترجيح وركوي. تر دې چه د هغوئ په نزد د دُنيا هيڅ اَهَمِّيَّت نه وي ځكه چه هغوئ د دُنيا په ناپائيدارئ ډير ښه پوهيږي او د دُنيا د غندنې په باره كښې بيان شوي حديثونه د هغوئ په نظر كښې وي. دے باره كښې د دُنيا په غندنه مُشتمِل يو څو احاديثِ مباركه واورئ: چنانچه

## ﴿۱﴾ د آخرت مقابله كښې د دُنيا حيثيت

حضرتِ سَيِّدُنا مُستَورِد بِن شَدَّاد رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوايت دے چه د **الله** تعالٰی خورِ محبوب صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: قَسم په خُدائے تعالٰی! د آخرت په مقابَله كښې دُنيا دومره شان ده څنګه چه څوك خپله دا ګوته سمندر كښې كيږدي نو هغه دِ اوګوري چه په دې ګوته څومره اوبه راغلې.

(مُسلِم، كتاب الجنة و صِفَة نعيمها و اهلها، باب فناء الدنيا و بيان الحشر يوم القيامة، ص۱۵۲۹، حديث۲۸۵۸)

**مشهور مُفَسِّر حَكِيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: دا هُم فقط پوهه كولو د پاره دي كُنې فاني او مُتناهي (يعني انتها ته رسيدلے څيز) د باقي او غيرِ مُتناهي سره (دومره) وجۂ نسبت هم نه لري څومره چه لـمده ګوته سمندر سره لري. ياد لرئ چه دُنيا هغه ده كومه چه د **الله** تعالٰی نه غافِله كول كوي، د عاقِل عارِف دُنيا خو د آخرت پتے دے، د هغه دُنيا ډيره عظيمه ده، د غافِل لـمونځ هُم دُنيا ده كوم چه هغه دُنيا ته ښودنې د پاره ادا كوي، د عاقِل خوراك، څښاك، اُوده كيدل، بيداريدل بلكه مرګ او ژوند هُم

دين دے ځکه چه د حُضُور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سُنَّتو مطابق وي، مسلمان دِ ځکه خوراك څښاك اُوده کيدل بيداريدل کوي چه دا د حُضُور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي. حَيَاةُ الدُّنْيَا بل څيز دے، حَيَاةٌ فِى الدُّنْيَا بل څيز دے او حياةٌ لِلدُّنْيَا بل څيز دے. يعني د دُنيا ژوند، دُنيا کښې ژوند او دُنيا د پاره ژوند. کوم ژوند چه دُنيا کښې وي خو د آخرت د پاره وي د دُنيا د پاره نه وي، هغه مبارك دے. مولانا فرمائي:

آبِ دَر کشتی ھلاکِ کشتی اَست
آب اَندر زیرِ کشتی پشتی است

يعني کشتئ چه درياب کښې وي نو نجات دے او که درياب کشتئ کښې راشي نو هلاکت دے.
(مِرآۃ المناجیح، نرمئ دل کي باتيں، ۳/۷)

## ﴿۲﴾ د کڼې مړ بچے

حضرتِ سَيِّدُنا جابِر رَضِیَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ نه رِوايت دے چه رَحمتِ عالَم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کڼې مړ بچي په خوا تيريدلو، اِرشاد ئې وفرمائيلو: تاسو کښې به څوك دا خوښوي چه دا هغه ته د يو دِرهَم په عِوَض ورکړے شي؟ هغوئي عرض اوکړو: مونږه نه غواړو چه دا مونږ ته د يو څيز په عِوَض راکړے شي. نو اِرشاد ئې وفرمائيلو: قَسم په خُدائے تعالٰى! دُنيا د **اللّٰه** تعالٰى په نزد د دې نه هُم زياته ذليله ده څنګه چه دا ستاسو په نزد. (مِشْكَاةُ المصابيح، كتاب الرقاق، الفصل الاول، ۲/۲۴۲، حديث ۵۱۵۷)

**مشهور مُفَسِّر حَكِيمُ الْاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: يعني د کڼې مُردار بچے څوك په څلور آنے هُم نه اخلي ځکه چه د هغے څرمن بيکاره او غوښه وغيره حرامه ده، هغه به څوك واخلي! صوفيائے کرام فرمائي چه دُنيا دار ته د ټول جهان مُرشِد [يعني پيران] هدايت نه شي

ورکولے، تَارِكُ الدُّنيا دیندار ټول شیطانان په شریکه هُم نه شي ګُمراه کولے، دُنیادار که دیني کار هُم کوي نو دُنیا د پاره [ئې کوي] او دیندار که دُنیاوي کار هُم کوي نو د دین د پاره [ئې کوي]. (مِرآۃ المناجیح، نرمئ دل کي باتیں، ۳/۷)

## ﴿۳﴾ دُنیا د ماشي د وزر نه هُم زیاته ذلیله ده

حضرتِ سَیِّدُنا **سَهْل** بِن سَعْد رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ رِوایت کوي چه د **اللّٰہ** تعالٰی خوږ **محبوب** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائیلے دے: که د **اللّٰہ** تعالٰی په نزد د دُنیا حیثیت د ماشي د وزر همره هم وے نو هغه به د دې دُنیا نه یو کافِر ته هُم یو ګُوټ اوبه هُم څښلو ته نه وے ورکړے. (تِرمِذِی، کتاب الذھد، باب ماجاء فی ھوان الدنیا علی اللہ، ۴/۱۴۳، حدیث ۲۳۲۷)

## ﴿۴﴾ دُنیا ملعُون ده

حضرتِ سَیِّدُنا اَبُو هُرَیره رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوایت دے چه د حُضُورِ پاك، صاحِبِ لَولاك صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عالیشان دے: هوښیار اوسئ دُنیا لعنتي څیز دے او څه چه په دُنیا کښې دي هغه هُم لعنتي دي سِوا د **اللّٰہ** تعالٰی د ذِکر نه، او [سِوا] د هغے نه څه چه **ربّ** تعالٰی ته نزدے کول کوي او [سِوا] د عالِم نه او [سِوا] د طالِبِ عِلم نه. (مِشْکَاۃُ المصابیح، کتاب الرقاق، الفصل الاول، ۲/۲۴۵ حدیث ۵۱۷۶)

## ﴿۵﴾ اللّٰہ تعالٰی بنده ته د دُنیا نه پرهیز ورکوي

حضرتِ سَیِّدُنا **مَحمود** بِن لَبِید رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روایت دے چه د خوږ مَدَنـي آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: **اللّٰہ** تعالٰی خپل بنده ته د دُنیا نه داسې پرهیز ورکوي څنګه چه تاسو خپل مریض ته د خوراك څښاك د څیزونو نه پرهیز ورکوئ. (شُعَبُ الْاِیْمان، باب فی الزھد و قصر الامل، ج۷ ص۳۲۱ حدیث ۱۰۴۵)

## ﴿٦﴾ د دِرهَم بنده لعنتي دے

حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روايت دے چه خوږ مَدَنـي آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: لعنتي دے د دِرهم و دِينار بنده.

(ترمِذِی، کتاب الزهد، ٤/١٦٦، حدیث٢٣٨٢)

## ﴿٧﴾ د حُبِّ مال و جاه تباه کارئ

حضرتِ سَيِّدُنا **کَعْب** بن مالِك رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ وائي چه سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: دوه اوږي شرمنبان چه هغه چيلو [يعني د بزو په رمه] کښې پرينبودے شي، هغوئ دومره نقصان نه رسوي څومره چه د مال او عِزَّت لالچ د انسان دين ته نقصان رسوي. (تِرمِذِی، کتاب الزهد ٤/١٦٦ حدیث٢٣٨٣)

## ﴿٨﴾ دُنيا د مومن د پاره قيد خانه ده

حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوايت دے چه سرکارِ نامدار، د مدينے تاجدار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: دُنيا د مومن د پاره قيد خانه او د کافِر د پاره جَنَّت دے. (مُسلِم، کتاب الزهد و الرقاق، ص١٥٨٢ حدیث٢٩٥٦)

## ﴿٩﴾ فُضول تعمير کښې خير نشته

حضرتِ سَيِّدُنا اَنَـس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روايت دے: د **الله** تعالٰی خوږ نبي، رَسُولِ عربي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: ټول خرچونه [يعني مال لګول] د **الله** تعالٰی په لار کښې دي سِوا د عمارتونو د تعمير نه، چه په دې کښې خير نشته.

(ترمِذِی، کتاب صفة القیامة، ٤/٢١٨ حدیث٢٤٩٠)

## ﴿١٠﴾ د غير ضروري تعميراتو غندنه

حضرتِ سَيِّدُنا خَبّاب رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوايت دے چه د **الله** تعالٰی خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: مسلمان ته د هر خرچ په عِوَض اجر

ورکولے کیږي سِوا د دې خاورې نه. (مِشْكَاةُ المصابيح، كتاب الرقاق، الفصل الثانی، ۲/۲٤٦، حدیث۵۱۸۲)

**مشهور مُفَسِّر حَكِيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د دې حديث په شرح کښې فرمائي: (په ښه نيت د شريعت مطابق) په خوراك، څښاك، لِباس وغيره باندې خرچ کولو کښې ثواب دے ځکه چه دا خيزونه د عبادتونو ذريعه دي، خو بے ضرورته مکانونو جوړولو کښې هيڅ ثواب نشته، لِـهذا د عمارت جوړلو شوق مه کوئ ځکه چه په دې کښې د وخت او مال دواړو بربادي ده. ياد ساتئ! دلته دُنياوي عمارتونه او هغه هُم بے ضرورته جوړول مُراد دي، جُمات، مدرسه، خانقاه، مسافرخانے جوړول خو عبادت دے چه دا خو صَدَقاتِ جارِيه دي. هُم دغسې (په ښه نِيَّت) په قدر د ضرورت کور جوړول هُم ثواب دے چه په هغے کښې سکون سره اوسيږي او د **الله** تعالٰی عبادت کوي.

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** عقلمند ته پکار دي چه هغه د خپل تير شوي ژوند جائزه واخلي، په خپلو ګناهونو پښيمانه شي او د هغے نه ربښتيني توبه اوکړي، د زيات وخته پورې د ژوندي اوسيدو په دوکه کښې اخته نه شي بلکه د قَبْر و آخرت د تيارئ د پاره فوراً نيك اعمال شروع کړي، د دولت و مال جمع کولو او د بال بچو په مَحَبَّت کښې د نيکو په ځائے ګناهونو کښې اخته نه شي ځکه چه دا هر څه خو به ورسره لږې مودے پورې وي او نيکئ به ئې په قَبْر و آخرت کښې بلکه دے دُنيا کښې هم پکار راځي.

**اَمِيرُ الْمُؤمِنِين** حضرتِ سَيِّدُنا عُثمانِ غني رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ چه د ټولو نه آخرئ کومه خُطبه وفرمائيله په هغے کښې دا هُم دي: **الله** تعالٰی تاسو ته دُنيا صرف دے د پاره درکړي ده چه تاسو د دې په ذريعه د آخرت تياري اوکړئ، او د دې د پاره ئې نه ده درکړي چه تاسو صرف د دې دُنيا شئ، بيشکه دُنيا صرف فاني

او آخرت باقي دے. تاسو فاني (دُنيا) چرې ګُمراه نه کړي (او د آخرت نه مو) غافل نه کړي. فنا کيدونکي دُنيا ته باقي پاتې کيدونکي آخرت باندې ترجيح مه ورکوئ ځکه چه دُنيا ختميدونکي ده.

ہے یہ دنیا بے وفا آخر فنا　　نہ رہا اس میں گدا نہ بادشہ

## عبرتناکه واقعه

د مدينةُ الاولياء (مُلتان) يو ځلمے د مال ګټلو په شوق کښې د خپل وطن، ښار، خاندان وغيره نه لرې يو بل ملك کښې اوسيدو. ښه ډير مال به ئې ګټلو او کور ته به ئې راليږو، د هغه او د کور د نورو کسانو په مينځ کښې د يو عاليشان مکان جوړولو مشوره طے شوه. هغه ځلمي ډيرو کلونو پورې رقم راليږلو او د کور نورو کسانو ئې ښائسته بنګله جوړوله تر دې چه د هغے تعمير پوره شو. هغه ځلمے چه کله وطن ته راغے نو هغه مکان ته د تللو تيارئ په زور او شور رواني وې خو آه! د تقدير کارونو ته اوګورئ چه هغه نوي مکان ته د تللو نه تقريباً يوه هفته مخکښې هغه ځلمے په حق اورسيدو او د خپل عاليشان مکان په ځائے قبر ته لاړو.

جب اس بزم سے اٹھ گئے دوست اکثر　　اور اٹھتے چلے جارہے ہیں برابر
یہ ہر وقت پیشِ نظر جب ہے منظر　　یہاں پر ترا دل بہلتا ہے کیونکر
جگہ جی لگانے کی دنیا نہیں ہے
یہ عبرت کی جا ہے تماشا نہیں ہے

جہاں میں ہے عبرت کے ہر سو نمونے　　مگر تجھ کو اندھا کیا رنگ و بو نے
کبھی غور سے بھی یہ دیکھا ہے تو نے　　جو آباد تھے وہ مکاں اب ہیں سُو نے
جگہ جی لگانے کی دنیا نہیں ہے
یہ عبرت کی جا ہے تماشا نہیں ہے

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** تر څو پورې به دے دُنيا کښې د غفلت ژوند تيروو. ياد ساتئ! دے دُنيا نه تلل ناڅاپه دي. شنه شنه باغونه، ښکلي ښکلي کورونه، اوچت اوچت محلونه، مال و دولت او قيمتي ملغلرې، د سرو او سپينو زرو کالي، منصب و شُهرت او دُنياوي تعلقات به مو بالکل په کار رانشي. لِـهذا عقلمند هُم هغه دے څوك چه حسبِ ضرورت کسبِ حلال او دُنياوي ضرورتونه پوره کولو د پاره منډه ترڅه وهلو سره سره د خپل قَبْر و آخرت بهترولو سوچ او فِکر هُم کوي.

## د ٦٠ کاله د عبادت نه بهتر

د تاجدارِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: (د آخرت په معامله کښې) د لږ ساعت د پاره سوچ او فِکر کول د شپيتو کالو د عبادت نه بهتر دے.

(اَلجامِعُ الصَّغِير للسيوطی، حرف الفاء ص٣٦٥، حديث ٥٨٩٧)

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** مونږ ته هم ښه سوچ او فِکر کول پکار دي چه مونږه دے دُنيا ته ولے راليږلي شوي يو؟ زمونږه د ژوند مقصد څه دے؟ تر اوسه پورې مونږه خپل ژوند څنګه تير کړے دے؟ آه! د ځنکدن په وخت کښې او قَبْر و حشر او ميزان او پُل صِراط باندې به زمونږ سره څه کيږي؟ زمونږه هغه دوستان او خپلوان کوم چه زمونږ نه مخکښې د دې دُنيا نه تلي دي، معلومه نه ده چه قَبْر کښې به د هغوئ سره څه کيږي؟ اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی داسې سوچ او فِکر کولو سره به د دُنيا د خوندونو [د سوچونو] او د اوګرِدو اُميدونو نه خلاصے حاصل کړو او د مرګ يادولو په بَرَکت به مو نيکو سره رغبت پيدا شي او ورسره ورسره به ډير ډير ثوابونه هُم حاصل کړو. داسې مَدَنـي سوچ حاصلولو د پاره به د دعوتِ اسلامي **مَدَني ماحول** سره تَعَلُّق

مضبوط ساتل هم ډير زيات ښه اقدام ثابتيږي ځکه چه د دعوتِ اسلامي **مَدَني ماحول** کښې په کثرت سره سُنَّتونه زده کيږي او ښودلے کيږي. د **قَبْر** و حشر د تيارئ فکر ورکولے کيږي او ورسره ورسره د دُنياوي و اُخروي معاملاتو په بهترينه طريقه د کولو پوهه حاصليږي، د **مَدَني ماحول** د دې بَرَکتونو په وجه د زرګاؤ بلکه د لکونو خلقو ژوند بهتر شوے دے او بعضې وخت د دغه خوش نصيبو مومنانو د آخرت د بهترئ نظارے هُم ښکاره شوي دي چه د هغے په ليدلو هر سليمُ الفِطرت کس [يعني نيك كس] دا خواهش لري چه کاش داسې ايمان تازه کوونکي معامله زما سره هُم اوشي. چنانچه

## د ۷۰ ورځو مړے

پينځم رَمَضَانُ الْمُبَارَك هـ بمطابق 2005-10-08ء د پاکستان په مشرقي حِصّه کښې خوفناکه زلزله راغله او په هغے کښې لکونه کسان وفات شو، په هغوئي کښې د مظفر آباد (کشمير) د علاقے ميراتسوليان اوسيدونکي د ۱۹ کالو نسرين عطّاريه بِنتِ غلام مُرسلِين چه هغه به د دعوتِ اسلامي په هفته واره د سُنَّتو ډکه اِجتماع کښې شريکه کيدله، هغه وفات شوي وه، د مرحومې والِد او د کور نورو کسانو په ۸ ذُوالْقَعدَةُالْحَرام هـ (2005-12-10ء) د کُل په شپه تقريباً لس بجے په څه وجه **قَبْر** وسپړدو، يو دم د خوشبو داسې وَکمے راغلې چه دِماغ ورسره تازه کيدل! د شهادت د اوياؤ ورځو تيريدو باوُجود د نَسرين عطّاريه کفن سلامت او بدن بالکل تروتازه وو!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** د دعوتِ اسلامي د مَدَني ماحول هُم څه ښکلي ښکلي سپرلي دي، راشئ او د دُنيا د مَحبَّت نه ځان خلاصولو، آخرت ښه کولو، سُنَّتو باندې عمل کولو او د نيکو د ثواب جذبه حاصلولو د پاره د عاشِقانِ رسُول مَدَني تحريك دعوتِ اسلامي مَدَني ماحول سره خپل تړون هر وخت مضبوط ساتئ او اِستقامت حاصلولو د پاره کم از کم هفته وارو د سُنَّتو ډکو اجتماعاتو کښې د وخت د پابندئ سره د شرکت کولو نِيَّت اوکړئ. د دې نه علاوه د خپل مرحوم د ايصالِ ثواب د پاره دے روانه مياشت کښې د دعوتِ اسلامي د سُنَّتو د تربِيَّت د دري ورځو مَدَني قَافِله کښې **عاشِقانِ رَسُول** سره سفر اوکړئ. اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی د نيکو خلقو د صُحبت په بَرَکت به مو د ايمان د حفاظت، د نيك او لـمونځ ګُزاره جوړيدو او د سُنَّتو ډك ژوند تيرولو جذبه بيداره شي. **اللّٰه** تعالٰی نه دُعا ده چه زمونږه د ايمان حفاظت اوفرمائي، زمونږه خاتمه بِالـخير کړي او د خوږ خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په قدمونو کښې ځائے راکړي.

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**بيان نمبر: ۱**

# د ايصالِ ثواب د ترغيب بيانات

# د تقسيمِ رَسائل ترغيب

## د دُرُود شريف فضيلت

شيخِ طريقت، امِيرِ اَهلِسُنَّت، حضرتِ علّامه مولانا اَبُو بِلال **محمد اِلياس عطّار قادِري رَضَوِي** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه رِساله ”کربلا کا خونیں منظر“ کښې د دُرُود شريف فضيلت د ”اَلْقَوْلُ الْبَدِيْع“ په حواله نقل کوي:

## خوفناکه بلا

يو کس په خوب کښې خوفناکه بلا اوليدله، په ويره ويره ئې ترې تپوس اوکړو: ته څوك ئې؟ بلا جواب ورکړو: زه ستا بد اعمال يم، هغه ترې تپوس اوکړو چه ستا نه د خلاصي څه صورت دے؟ هغے جواب ورکړو: د دُرُود شريف کثرت. (اَلْقَوْلُ الْبَدِيع، الباب الثانی فی ثواب الصلاة و السلام علی رسول الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ص۲۵۵)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

حضرتِ سَيِّدُنا سَعْد بِن عُباده رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ چه د قبيلۀ خزرج سردار وو، د حُضُورِ انور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دربار کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو: يا رَسُولَ اللّٰہ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! زما مور وفات شوي ده (زه د هغوئ له طرفه صَدَقه (يعني خيرات) کول غواړم) کومه صَدَقه به غوره وي؟ خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: ”اُوبه“ حضرتِ سَيِّدُنا سَعْد رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ يو کوهے اوکنستلو او اُوئې وئيل: هٰذِهٖ لِاُمِّ سَعْدٍ يعني دا د اُمِّ سَعْد د پاره دے۔“ (ابوداؤد کتاب الزکاۃ باب فی فضل سقی الماء ج۲ ص ۱۸۰ حدیث ۱۶۸۱)

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** د ژوندو له طرفه د وفات شوو خلقو د ايصالِ ثواب د پاره نيك اعمال او د **اللّٰہ** تعالٰی په لار کښې خرچ کول **مُسْتَحَب** و مسنُون دي. مونږ ته پکار دي چه مونږه هُم د خپلو مرحومينو د اِيصالِ ثواب د پاره په نيکو کارونو کښې ډيره ډيره حصّه واخلو ځکه چه وفات شوے کس د اِيصالِ ثواب ډير زيات انتظار کوي چنانچه

## د اِيصالِ ثواب انتظار

د سرکارِ نامدار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مُبارَك دے: د مړي حال په قَبْر کښې د ډوبيدونکي انسان په شان دے ځکه چه هغه ډير زيات اِنتِظار کوي چه د پلار يا مور يا ورور يا د يو دوست دُعا هغه ته را اورسي او چه کله د چا دُعا هغه ته را اورسي نو د هغه په نِزد هغه د دُنيا وَمَا فِيْهَا (يعني دُنيا او څه چه په دې دُنيا کښې دي د هغه ټولو) نه بهتره وي. **اللّٰہ** تعالٰی قَبْر والؤ ته د هغوئ د ژوندو مُتَعَلِّقينو [يعني تَعَلُّق لرونکو] له طرفه هَدِيَّه کړے شوے ثواب د غرونو په شان ورکوي، د ژوندو هَدِيَّه (يعني تُحفه) د مړو د پاره د بخښنې دُعا کول دي.

(شُعَبُ الایمان، باب فی بر الوالدین، فصل فی حق الوالدین...الخ، ۲۰۳/۶ حدیث ۷۹۰۵)

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! د اِيصالِ ثواب ډيرې طريقے دي مَثَلًا په خلقو طعام خوړل، ختمِ قُرآن کول، د اِجتِماعِ ذِکر و نعت اِهتمام کول، د جماتونو او مدرسو په تعمير کښې حصّه اخستل او د مَکْتَبَةُ الْمَدِينه مَدَنـي رسالے تقسيمول وغيره، لِـهذا څه کښې چه تاسو ته آساني او سهولت وي د اِيصالِ ثواب د پاره هُم هغه صورت اختيار کړئ خو ورسره ورسره مَدَنـي رسالے ضرور تقسيموئ ځکه چه دا د عِلمِ دِين او د نيکئ د دعوت عامولو آسانه او مؤثره ذريعه ده. د دې رسالو په لوستلو او اوريدلو د ډيرو خلقو تقديرونه بدل شو او هغوئ د خپلو ګناهونه نه توبه اوکړه او د صلوٰة و سُنَّت په لار روان شو. راځئ چه په دې باره کښې يو مَدَنـي سپرلے واورو: چنانچه

## د مَدَنـي رِسالے بَرَکت

[زه د ګناهونو په تِيارو کښې ورک ووم]

[د يو اسلامي ورور بيان دے چه] د عاشِقانِ رسُول مَدَني تحريك "دعوتِ اسلامي" مَدَني ماحول سره تړون نه مخکښې زه د ګناهونو په تِيارو کښې ورک ووم. د غفلت تِيارو زه د دِين نه عملي طور دومره لرې کړے ووم چه ما د لـمانځه، روژے هيڅ پرواه نه لرله. يوه ورځ د معمول مطابِق زما قاري صاحِب زمونږ کور ته ما ته قُرآن پاك وئيلو د پاره راغلو نو هغه وخت زه په T.V باندې ډرامه کتلو کښې مصروف ووم، ما اُووئيل: "قاري صاحِب! تاسو کښينئ زه ډرامه ګورم، بس اوس راځم لږه شان پاتې ده." قاري صاحِب هم د کمال نه ډکه حوصله لره، د رټلو دګلو په ځائے ئې په ډير شفقت او مهربانئ په ما اِنفِرادي کوشش اوکړو او د دعوتِ اسلامي د اِشاعتي ادارے مَکتَبَةُ المَدينه چاپ شوي رِساله "**ٹی وی کی تباہ کاریاں**" ئې راته واوروله. رساله مې چه واوريدله نو ډير سخت پښيمانه او شرمِنده شوم او د **الله** تعالٰی د ويرې نه په لړزان شوم!

د قاري صاحِب د نصيحت مطابِق چه ما د خپل تير شوي ژوند حساب شروع کړو نو زه سخت خفه شوم چه آه! ما د ژوند دومره لويه حصَّه په فضولياتو او بے فائِده کارونو کښې تيره کړه او ما ته د دې څه احساس هم نه دے شوے! اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ ما په ربنتيني توبه وِيستله او پخه اراده مې اوکړه چه بيا د پاره به اِنْ شَآءَ اللّٰه تعالٰی د ګناهونو نه ځان ساتم، او ټول عُمر به د لـمانځه د پابندئ سره سره په سُنَّتو د عمل کولو کوشش کووم او د الله و رَسُول عَزَّوَجَلَّ و صَلَّی اللّٰه تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نافرمانئ، دروغو، غِيبَت، چُغلئ او وعده خلافئ وغيره وغيره نه به ځان ساتَم. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د دعوتِ اسلامي خوشبودار مَدَني ماحول زما د ژوند حال بدل کړو او زما په شان وران کاري انسان هم د خپلې اِصلاح د پاره ملا اوترِله، الله تعالٰی دِ مونږ ته په مَدَني ماحول کښې اِستِقامَت راکړې.

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّی اللّٰه تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

(فيضانِ سُنَّت، باب د نيکئ دعوت، جِلد ۲، ص ٤٤٢، ٤٤٣)

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** په دې مَدَني سپرلي کښې د اِنفِرادي کوشش او د دَعوتِ اسلامي د اشاعتي ادارے مَکتَبَةُ المَدينه د چاپ شوي رسالے **"ٹی وی کی تباہ کاریاں"** د اوررولو د بَرَکت بيان دے چه قاري صاحب خپل شاګرد ته دا رساله واوررولە نو هغه ته د توبه کولو سعادت نصيب شو، لـمونځ ګُزاره شو او د دعوتِ اسلامي مَدَني ماحول کښې شامل شو. د دې نه دا معلومه شوه چه د مَکْتَبَةُ الْمَدِينه نه جاري شوي مَدَنـي رسالے اوريدل او اورول بيحده فائده مند دي. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ ډير خوش نصيبه اسلامي ورونړه او اسلامي خويندې هره ورځ کم از کم د يوے مَدَنـي رسالے لوستلو يا اوريدلو سعادت حاصلوي او څوك چه [مالي] حيثيت لري هغوئي ئې تقسيموي هُم. تاسو هُم موقع په موقع

د دې مَدَنـي رسالو د لوستلو اوريدلو يا اورولو ترکيب کوئ او د خپلو مرحومو عزيزانو د اِيصالِ ثواب د پاره ئې مختلفو وختونو کښې تقسيموئ هُم.

بانٹ کر مدنی رسائل دین کو پھیلایئے　　کر کے راضی حق کو حقدارِ جناں بن جایئے

## د اميرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه ترغيب

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** اميرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د رسالو تقسيمولو په ترغيب کښې څه داسې فرمائي: کومو اسلامي ورونړو او اسلامي خويندو نه چه کيدے شي نو يو "مَدَني بيګ" دِ واخلي او په هغے کښې دِ د خپل وَس مُناسِب د مَكتَبَةُ المَدينه چاپ شوي رسالے، د سُنَّتو ډکو بيانونو وِيډيو وغيره کيږدي. خير ټوله ورځ نه، صرف د موقعے په مناسبت دِ هغه بيګ ځان سره موجود ساتي او رسالے وغيره دِ خلقو ته په تحفه کښې ورکوي. د موقعے د مُناسَبَت په لِحاظ داسې هم کيدے شي چه بعضې خلقو ته ئې صرف د لوستلو د پاره ورکوي، چه کله ئې هغوئ اولولي او بيرته ئې ورکړي نو بله رساله دِ ورکوي هم دغسې د سيډيانو او غټو کتابونو ترکيب هم کيدے شي. په داسې کولو تاسو بيشميره ثوابونه ګټلے شئ. او د دې عمل په ذريعه ګټلې بے حسابه نيکئ خپلو مرحومو عزيزانو ته اِيصالِ ثواب کولے هُم شئ، خو چه دا هر څه خاص ستاسو د خپل جيب نه وي د دې د پاره چنده مه کوئ.

## د تقسيم رسائل د پاره رسيد

ما ..... بِن ..... د مَكتَبَةُ المَدِينه د مَدَنـي رِسالو او کتابونو تقسيمولو د پاره خپل با اختياره نائب او وکيلِ مُطلق جوړ کړو، چه هغه کتابونه او رِسالے پخپله تقسيم کړي، يا ئې ما ته يا بل چا ته د

تقسیمولو د پاره ورکړي یا که غواړي نو بل څوك دِ د تقسیمولو د پاره خپل با اختیاره نائب او وکیلِ مُطلق جوړ کړي. که زما د آړپر کتابونه او رِسالے په څه وجه وانخستې شي یا ترې رقم چا په زور واخستو یا ترې چرته پریوتو یا ترې ورك شو یا د خریدارئ نه پس ترې رسالے او کتابونه ضائع شو نو ما ته دِ د دې خبر راکړے شي او د آئنده معاملات دِ زما په اجازت طے کړے شي. زما رقم او کتابونه او رسالے تاسو سره امانت دي. که دا په څه سبب ضائع شو او په هغے کښې ستاسو کوتاهي، غفلت یا بے پروائي نه وه نو د دې تاوان به ستاسو په ذِمَّه نه وي او نه به زه د تاوان مطالبه کووم.

د آړپر بُك کوونکي نوم او ولدیت:.....

داسې درك چه آسانئ سره پرې رابطه کیدے شي:.....

.....

فون نمبر..... دستخط.....

## بيان نمبر: ۲

# د جُمات، مَدرَسةُ الْمَدينه او جامِعَةُ الْمدِينه تعمير

## د دُرُود شريف فضيلت

اميرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَة رِساله ”اِحتِرامِ مُسلِم“ کښې د دُرُود شريف په فضيلت کښې ليکلي چه د حُضُورِ اکرم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: ”د قيامت په ورځ به په خلقو کښې ما ته زيات نزدے هغه وي چا چه په ما زيات دُرُود شريف وئيلي وي.“ (ترمِذِی، کتاب الوتر، باب ماجاء فی فضل الصلاة علی النّبی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ۲/۲۷، حدیث ٤٨٤)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د بيت الـمقدس تعمير

په شام کښې چه کوم ځائے کښې د حضرتِ سَيِّدُنا مُوسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام خيمه لګولے شوي وه، رسا په هُم هغه ځائے حضرتِ سَيِّدُنا داؤد عَلَيْهِ السَّلَام د بيت الـمقدس (يعني مسجِدِ اَقصٰی) بُنياد کيښودو. خو د عِمارت پوره کيدو نه مخکښې د حضرتِ سَيِّدُنا داؤد عَلَيْهِ السَّلَام د وفات وخت راغے او هغوئي خپل فرزند حضرتِ سَيِّدُنا سُليمان عَلَيْهِ السَّلَام ته د دې عِمارت د پوره کولو وَصِيَّت اوکړو. چنانچه حضرتِ سَيِّدُنا سُليمان عَلَيْهِ السَّلَام د پيريانو يوه ډله په دې کار اولګوله او د عمارت تعمير روان وو تر دې چه د هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام د وفات وخت هُم رانزدے شو او عِمارت نه وو پوره شوے نو هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام دا دُعا اوکړه چه اِلٰهی عَزَّوَجَلَّ! زما مرګ د پيريانو ډلے ته مه ظاهروے چه هغوئي

مسلسل عمارت پوره کولو کښې مصروفِ عمل اوسي او دا ټول چه د عِلمِ غيب دعویٰ کوي هغه هُم باطله شي. دا دُعا ئې چه اوکړه نو هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام محراب ته داخل شو او د خپل عادت مطابق د خپلې عصا [يعني کونټۍ] په زور اودريدلو او عبادت کښې مصروف شو او هُم دې حالت کښې وفات شو خو پيريانو مزدورانو دا ګنړله چه هغوئي ژوندے ولاړ دے ځکه هغوئي مسلسل کار کښې مصروفه وو او د ډيرې مودے پورې د هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام په هُم دې حالت اوسيدل د پيريانو د ډلے د پاره څه د حيرانتيا خبره هُم نه وه ځکه چه هغوئي ډير ځله ليدلي وو چه هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام به يوه يوه مياشت بلکه کله کله دوه دوه مياشتې هُم مسلسل په عبادت ولاړ وو. غرض دا چه د وفات نه پس يو کال پورې د خپلې کونټۍ په زور ولاړ وو تر دې چه په حُکمِ اِلٰهی عَزَّوَجَلَّ وَينو د هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام کونټۍ اوخوړله او د کونټۍ د غورزيدو سره د هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام بدن مبارك زمکې ته لاړو. هغه وخت د پيريانو ډله او ټول انسانان پوهه شو چه هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام وفات شوے دے.

(عجائب القُرآن مع غرائب القُرآن، ص۱۹۰)

حضرتِ عَلَّامه عبد المُصطَفیٰ اعظمي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه دا واقعه نقل کولو نه پس فرمائي: ”دے قُرآني واقعے نه دا هدايت حاصليږي چه د حَضَراتِ انبيائے کرام عَلَيْهِمُ السَّلَام مُقَدَّس وجودونه د وفات نه پس نه سخا کيږي او نه رژيږي.“ او دا هُم معلومه شوه چه پيريان عِلمِ غيب نه لري، نور دا هُم معلومه شوه چه جُماتونه جوړول د انبيائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام طريقه ده، ځکه چه د بيت الـمقدس بُنياد حضرتِ سَيِّدُنا **داؤد** عَلَيْهِ السَّلَام کيښودلو او حضرتِ سَيِّدُنا سُليمان عَلَيْهِ السَّلَام د پيريانو په ذريعه مکمل کړو. هُم دغسې د مسجد

الـحرام تعمير حضرتِ سَيِّدُنا ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام اوکړو او د مسجدِ نَبَوِي شريف تعمير زمونږه خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوکړو.

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** بيشکه جُمات جوړول، هغه آبادول او هغے سره اُلفت او مَحَبَّت ساتل ډير لوئ سعادت دے او دا صرف د بختورو خلقو حصّه ده. **الله** تَبَارَكَ وَتَعَالٰى دِ مونږه هُم په دې خوش نصيبو کښې شامل کړي. راشئ د جُمات په فضائيلو مشتمل اَته فرامين مُصطَفٰى واورئ:

## جُماتونه د الله تعالٰى کورونه دي

﴿۱﴾ بيشکه جُماتونه زمکه باندې د **الله** تعالٰى کورونه دي او **الله** تعالٰى باندې حق دے چه هغه (د خپل کور) د زيارت کوونکي اِکرام (يعني عِزَّت) اوکړي.

(مُعجَم کَبِير طبرانی، ۱۰/۱۶۱، حديث۱۰۳۲٤)

## د الله تعالٰى کورونه آبادوونکي

﴿۲﴾ بيشکه هُم د **الله** تعالٰى کورونه آبادوونکي **الله** والا دي.

(مُعجَم اوسط طبرانی، من اسمه ابراهيم، ۲/۵۸، حديث۲۵۰۲)

## جَنَّت کښې کور

﴿۳﴾ څوك چه د **الله** تعالٰى د رضا حاصلولو د پاره جُمات جوړ کړي نو **الله** تعالٰى به د هغه د پاره په جنت کښې کور جوړ کړي.

(بُخاری، کتاب الصلوٰة، باب من بنی مسجدا، ۱/۱۷۱ حديث ٤٥٠)

﴿٤﴾ څوك چه د رياکارئ او خلقو ته د اورولو اراده کولو نه بغير جُمات جوړ کړي نو **الله** تعالٰى به د هغه د پاره په جَنَّت کښې کور جوړ کړي.

(طَبَرانِیْ اَوْسَط، ٥/۱۸٤ حديث۷۰۰۵)

## د غمو او ياقوتو جَنَّتي محل

﴿۵﴾ څوك چه په حلال مال جُمات جوړ كړي **الله** تعالٰی به د هغه د پاره جَنَّت كښې د غمو او ياقوتو محل جوړ كړي. (طَبَرانِیْ اَوْسَط ۱۷/٤ حدیث۵۰۵۹)

﴿٦﴾ څوك چه جُمات جوړ كړي كه هغه وړوكے وي او كه غټ، **الله** تعالٰی به د هغه د پاره جَنَّت كښې يو محل جوړ كړي. (ترمِذِی، ابواب الصلوٰة، باب ماجاء فی فضل بنیان المسجد، ۱/۳٤۳، حدیث۳۱۹)

## د رحمت نظر

﴿۷﴾ كله چه يو بنده د ذِكر يا لـمانځه د پاره جُمات خپل ځائے جوړ كړي نو **الله** تعالٰی هغه ته د رحمت نظر فرمائي لكه څنګه چه كله څوك ورك شوے [كس] راشي نو د هغه د كور كسان چه هغه ته خوشحاليږي.

(اِبنِ مَاجَه، كتاب المساجد و الجماعت، باب لزوم المساجِد و انتظار الصلاة، ۱/٤۳۸، حدیث۸۰۰)

## د الله تعالٰی محبوب بندګان

﴿۸﴾ څوك چه جُمات سره اُلفت لري **الله** تعالٰی هغه سره مَحَبَّت لري.

(مُعْجَمُ اَوْسَط طَبَرانِیْ، من اسمه محمد، ٤/٤۰۰، حدیث٦۳۸۳)

حضرت عَلَّامه عبد الرَّؤف مَناوي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د دې په شرح كښې ليكي: جُمات سره اُلفت دا دے چه د رضائے اِلٰهی عَزَّوَجَلَّ د پاره په هغے كښې اِعتِكاف، لـمانځه، ذِكْرُ الله او شرعي مسائلو زده كولو او ښودلو د پاره ناست اوسيدل خپل عادت جوړول دي او د **الله** تعالٰی د هغه بنده سره مَحَبَّت كول داسې دي چه **الله** تعالٰی هغه ته د خپل رحمت سوري كښې ځائے وركوي او هغه خپل حفاظت كښې داخل كړي. (فیض القدیر، حرف المیم، ٦/۱۱۲، تحت الحدیث ۸۵۲٤)

# د ثوابِ جاريه کارونه

حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوايت دے چه د مدينے تاجدار آقائے نامدار صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي چه بيشکه د مومن د مرګ نه پس هُم چه د هغه د اعمالو او نيکو نه څه هغه ته مسلسل ور رسيږي، د هغے نه يو خو هغه عِلم دے کوم چه هغه خلقو ته ښودلے او خور کړے دے، هغه نيك اولاد دے کوم چه هغه پريښودے دے يا هغه مصحَف [يعني د قُرآن شريف نُسخه] چه ترکه کښې ئې پريښودي وي يا ئې جُمات جوړ کړے وي يا ئې نهر جاري کړے وي يا ئې په صحت او ژوند کښې د خپل مال نه داسې صَدَقه ورکړي وي چه د هغے ثواب د مرګ نه پس هُم مسلسل هغه ته حاصليږي. (اِبنِ مَاجَه، کتاب السنة، باب ثواب معلم الناس الخير، ۱/۱۵۷، حديث ۲۴۲)

د ذِکر کړے شوي حديثِ پاك مطابق جُماتونه جوړول هُم د ثوابِ جارِيه کارونه دي يعني داسې نيك کار چه د مرګ نه پس هم د هغے ثواب مسلسل حاصليږي. لِـهذا که څوك جُمات جوړ کړي يا د هغے په تعمير کښې حصّه واچوي نو دا د اعلٰی درجے نيك کار دے چه د دې ثواب به ورته هميشه ور رسيږي، هُم دغسې د تعليمِ عِلمِ دين د پاره مَدرَسةُ الْمَدينه او جامِعَةُ الْمدِينه وغيره جوړول يا د هغے په تعمير کښې حِصّه اخستل يا د جُمات وغيره د پاره زمکه يا جائداد وقف کول هُم د ډير غټ ثوابِ جارِيه کارونه دي، څوك چه وس لري هغوئي دِ د خپل ځان او د خپلو مرحومو عزيزانو د پاره ضرور جُمات او مدرسه جوړه کړي يا دِ ئې په جوړلو کښې حِصّه واچوي، اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی د مرګ نه پس به دا د هغوئي د پاره د راحت ذريعه وي.

ټوله دُنيا کښې د سُنَّتو عاملو درد لرونکي مَدَنـي تَحرِيك يعني د عاشِقانِ رسُول مَدَني تحريك دعوتِ اسلامي زيرِ اهتمام کښې شمير شُعبه جات او مجالِس قائم دي دغسې مجلِس جامِعَةُ الْمدِينه او مجلِس مَدرَسةُ الْمَدينه هُم قائم دي چه هغه د جامِعَاتُ الْمدِينه او مَدارسُ الْمَدينه معاملات کوري. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ په مُلك او بيرونِ مُلك کښې د دې ليك د وخته (١٤٣٧ھ) پورې جامِعات د "جامِعَةُ الْمدِينه" په نوم قائمې دي او د دې په ذريعه د ٥٠٠٠ نه زياتو طَلَبه و طالِباتو ته د "درسِ نِظامي" (يعني عالِم کورس) فِيْ سَبِيْلِ الله تعليم ورکولے کيږي. هُم دغسې تقريباً زيات و کم ٩١ مدرسے په نوم د "مَدرَسةُ الْمَدينه" قائمې دي چه په هغے کښې ١١٣٤٥ (يو لاك ديارلس زره، څلور سوه او پينځه ويشت) طلبه و طالِبات فِيْ سَبِيْلِ الله د حِفظ و ناظِره سعادت حاصلوي او د دې لِيك د وخته (2015ء) پورې ٦٤٦١٥ (څلور شپيته زره، شپږ سوه او پينځلس) طلبه و طالِباتو حفظ او ١٧٩٠٥٠ (يو لاك يو کم نوي زره او پنځوسو) طلبه و طالباتو قُرآنِ پاك په ناظره ختم کړے دے. هُم دغسې د جُماتونو جوړلو د پاره د مجلِس خُدّامُ الْمَساجِد په نوم يو مجلس قائم دے او هغه اوسطاً هره ورځ يو جُمات جوړوي او تر اوسه پورې ئې سوونه جُماتونه جوړ کړي دي، تاسو هُم دې مجالِسو سره رابطه اوکړئ او د خپل مور و پلار او نورو عزيزانو د اِيصالِ ثواب د پاره د جُمات، جامِعَةُ الْمدِينه او مَدرَسةُ الْمَدينه د تعمير کار کښې ملګرتيا اوکړئ. اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ دعوتِ اسلامي مدرسے او جامِعات او جُماتونه جوړوي هُم او آبادوي ئې هُم، تاسو هُم د دعوتِ اسلامي مَدَني ماحول کښې شامل اوسيږئ، مَدَني قَافِلو کښې ډير ډير سفر کوئ او د فِکرِ مدينه په ذريعه هره ورځ د مَدَني انعاماتو رساله کښې خانے ډکوئ او د هرې مَدَني مياشتې په يکم تاريخ ئې د خپل ځائے د دعوتِ اسلامي ذِمَّه دار ته جمع کوئ، راشئ د ترغيب و تَحريص د پاره يو مَدَنـي سپرلے واورئ: چنانچه

# د اِنفرادي کوشش بَرَکت

د بابُ الْمَدينه (کراچۍ) اوسيدونکي يو اسلامي ورور د بيان خُلاصه ده چه: زه د ګناهونو په درياب کښې ډوب ووم او د خپل ژوند "قيمتي ملغلرې" مې د غفلت په وجه بربادَوَلـي، د نيمې نيمې شپے پورې د دوستانو سره په ګپ شپ کښې مصروفه اوسيدل زما معمول وو. په ۱۸ رَمَضَانُ الْمُبَارَك هـ بمطابق ۱۹ ستمبر ۰۰ء د خپل معمول مطابق مونږه ټول دوستان راجمع شوي وو او په ټوقو ټقالو کښې مشغول وو، په دې وجه زمونږ په مجلِس کښې د ټق ټق خندا جاري وه، په دې کښې د دعوتِ اسلامي سره تعلُّق لرونکي يو عاشِقِ رسُول زمونږ خوا ته تشريف راوړو، هغوئي سلام اوکړو او کښيناستلو ، د هغوئي د راتګ سره زمونږه په محفِل کښې لږه سنجِيدګي راغله، هغوئي مونږ ته ډير ښکلي مَدَني ګلونه واورَوَل، د هغوئي د ښکلي آواز او مَدَني انداز په وجه مونږه د هغوئي په خوږو خبرو کښې ورک شو. لږ ساعت پس هغوئي د بيرته تلَلو د پاره پاخيدلو نو مونږه ورته عرض اوکړو: وروره! لږ ساعت نور کښينئ! او مونږ ته ښے ښے خبرې اوښائې، د نيکئ د دعوت جذبه لرونکي اسلامي ورور زمونږه درخواست قبول کړو. د خبرو په دوران کښې د فِکرِ آخرت او د اِصلاحِ اُمَّت په موضوع هم خبرې اوشوې، د هغه عاشِقِ رسُول د تاثِير نه ډك اِنفِرادي کوشش زمونږه په زړونو ډير اثر اوکړو. بله شپه مونږه بيا هم په هغه ځائے محفِل جوړ کړے وو او د هغه اسلامي ورور په اِنتِظار وو، زمونږ د اُمّيد مطابق هغوئي تشريف راوړو او مونږ ته ئې د دعوتِ اسلامي عالَمي مَدَني مرکز فيضانِ مدينه ته د تلَلو دعوت راکړو، د هغوئي د کِردار او ښکُلو خبرو په وجه کم از کم ما خو انکار اونکړے شو او د هغوئي سره د فيضانِ مدينه پاکې فَضا ته اورسيدم. د خوفِ

خُدا عَزَّوَجَلَّ او عِشقِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم جذبه په زړه کښې رابیدارَوَلو والا او رُوح تازه کوونکي مَدَني ماحول زما په زړه کښې مَدَني اِنقِلاب راپورته کړو او دغسې د هغه عاشِقِ رسُول د "اِنفِرادي کوشش" په بَرَکت ما ته د دعوتِ اِسلامي مَدَني ماحول را نصیب شو.

(فیضانِ سُنَّت، باب د نیکئ دعوت، جِلد ۲ ، ص ۵۲۲، ۵۲۳)

ہیں اسلامی بھائی سب ہی بھائی بھائی　　بے حد ہے محبت بھرا مدنی ماحول
تنزل کے گہرے گڑھے میں تھے ان کی　　ترقی کا باعث بنا مدنی ماحول

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　　صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د مَدَنـي عطياتو مَدَنـي کلونه

د مړي د اِيصالِ ثواب د پاره مَدَنـي عطيات (يعني چنده) اخستلو وخت کښې کوم جُمات يا مدرسه چه تعميرول دي د هغے پوره وضاحت کول ضروري دي لِـهذا په دې الفاظو عطيات وصولوئ.

### جُمات د پاره مَدَنـي عطيات (چنده)

د دعوتِ اسلامي د شُعبۀ خُدّامُ الْمَساجِد زير انتظام ټوله دُنيا کښې جُماتونه تعمير کيږي تاسو د خپل مرحُوم يا مرحومې د اِيصالِ ثواب د پاره د جُمات د تعمير او د هغے د جُمله اخراجاتو د پاره رقم راکړئ. (چا نه چه دا رقم اخلئ هغه به په دې پوهه کوئ)

### مَدرَسۃُ الْمَدينه/جامِعَۃُ الْمدِينه د پاره مَدَنـي عطيات (چنده)

د دعوتِ اسلامي د مجلس جامِعَۃُ الْمدِينه و مَدرَسۃُ الْمَدينه يا خُدّامُ الْمَساجِد زيرِ انتظام ټوله دُنيا کښې د نوو جامِعَاتُ الْمدِينه د پاره ځايونه اخستل او د

جامِعَةُ الْمدِينه تعميرات کيږي لِـهذا تاسو د خپل مرحوم يا مرحومې د اِيصالِ ثواب د پاره د جامِعَةُ الْمدِينه/مَدرَسةُ الْمَدينه د ځائے اخستلو د پاره چه هغه هره جامِعَةُ الْمدِينه/مَدرَسةُ الْمَدينه وي، د هغے د تعمير او د هغے د جُمله اخراجاتو د پاره رقم راکړئ.

## مَدَني مرکز فيضانِ مدينه د پاره مَدَنـي عطيات (چنده)

د دعوتِ اسلامي زيرِ انتظام ټوله دُنيا کښې د مَدَني مرکز فيضانِ مدينه د پاره ځايونه اخستل او د هغے تعميرات کيږي چه په هغے کښې جُمات، دِيني کارونو د پاره دفترے او مدرسه وغيره تعمير کيږي لِـهذا تاسو مونږ ته د مَدَني مرکز فيضانِ مدينه د ځائے اخستلو او د هغے د تعميراتو او د هغے د جُمله اخراجاتو د پاره د خپل مرحوم يا مرحومې د اِيصالِ ثواب د پاره رقم راکړئ. چا نه چه چنده اخلئ هغه ته دا خبره واضحه کړئ چه فيضانِ مدينه څه ته وائي، [يعني] په هغے کښې جُمات، دِيني کارونو د پاره کوټے او مدرسه وغيره تعمير کيږي.

## د مجلِس ايصالِ ثواب مَدرَسةُ الْمَدينه مَدَنـي ګلونه

﴿۱﴾ کوم ذِمَّه دار چه د يو مرحوم د پاره [د هغه مرحوم د خپلوانو په ذريعه] اِيصالِ ثواب کوي نو مُتَعَلِّقه ناظِم ته دِ د sms [يعني ميسيج] په ذريعه (بيرونِ مُلك والا ورکړي شوي اِي ميل ايډريس باندې) نوم ور اوليږي.

﴿۲﴾ د هر ګُل په ورځ به دُعائے مدينه کښې [د هغه د پاره] اِيصالِ ثواب کيږي.

﴿۳﴾ د اِيصالِ ثواب طريقه:

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ اللّٰه
اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ اللّٰه

## اعلان

تول مَدَنـي ماشومان تَوجُّه اوکړئ! مونږه چه دے هفته کښې څه لوستلي دي د هغے اِيصالِ ثواب کوو. بيا په دې الفاظو دُعا اوکړئ.

## دُعـا

دے هفته کښې چه مونږه څه لوستلي دي په هغے باندې د **اللّٰه** تَبَارَكَ وَتَعَالٰى په رَحمت راکړے شوے ثواب په وسيله د رَحْمَةٌ لِّلْعٰلَمِيْن برائے رِسالت مآب صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم و انبياء و مُرسلين و خُلفائے راشِدِين و اُمَّهاتُ الـمُؤمِنِين و شهيدان و اسِيرانِ کربلا و تمامو صحابه و تابِعِينو، ائمهٔ مُجتَهِدِين، خُصوصاً څلور واړو اِمامانو او د هغوئي مُقَلِّـدِينو او د څلور واړو سلسلو پيرانو صاحبانو او د هغوئي مُريدانو، خُصوصاً اعلیٰ حضرت او اميرِ اَهلِسُنَّت، د **مَدَني قَافِلو** مسافرو او د مَدَني انعاماتو عاملاتو او عامِلِينو او ټولو مومنات او مومنِينو، مُسلِمات او مُسلِمِينو، مرحُومِينِ دعوتِ اسلامي او د کومو مرحومِينو نومونه چه راکړے شوي دي، دے ټولو ته اِيصالِ ثواب کوو، يا **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ! د مرحومينو مغفرت اوکړې. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

﴿٤﴾ اِيصالِ ثواب کولو نه پس چا چه تاسو ته sms وغيره کړے وو هغوئي ته reply [يعني جوابي ميسيج] اوکړئ چه زمونږه په مَدرَسَةُ الْمَدينه کښې به د يوے اندازے مطابق په هفته کښې زيات و کم د ..... دومره سيپارو وئيلو سلسله کيږي، مونږه هغه ستاسو راليږلو شوو نومونو ته ايصالِ ثواب کړو.

## د کَفَن دَفَن مُتَعَلِّق سوال جواب

(از دارُ الْاِفتاء اَهلِسُنَّت)

**سوال:** که د مړي بدن کښې د څه حادثے په وجه سُوري شوے وي نو هغه ګنډل څنګه دي؟

**جواب:** د وفات کيدو نه پس د ګنډلو اجازت نشته ځکه چه دا مړي ته بے وجهي تکليف ورکول دي، خو هغه سورو کښې دِ مالوچ وغيره کيښودلے شي څنګه چه د پوزې او غوږونو وغيره سورو کښې د کيښودلو حُکم دے.

**سوال:** که اسپتال نه مړے داسې حال کښې راشي چه پټئ پرې ترلي شوي وي نو آيا پټئ خلاصول او [په هغه ځايونو] اوبه بهيول به ضروري وي؟

**جواب:** بعضې پټئ بدن پورې داسې نښتي وي چه که هغه راخلاصوئ نو د بدن يا ويښتو راښکلو په وجه به مړي ته تکليف رسيږي لِـهذا داسې پټئ که ترمو اوبو اچولو سره په آسانئ لرې کيدے شي نو لرې ئې کړئ ګنې پريږ ئې دئ او بعضې پټئ بدن پورې نه وي نښتي، داسې پټئ دِ مړي ته تکليف ورکولو نه بغير لرې کړے شي.

**سوال:** د پوسټ مارټم والا مړي د سينے نه نامه پورې ټکونو د پاسه پلاسټک شيټ لګيدلے وي آيا هغه لرې کول ضروري دي؟

**جواب:** دا پلاسټك شِيټ عام طور بدن پورې نښتے وي او د دې لرې کول د مړي د پاره د تکليف باعِث وي لِـهذا داسې شِيټ هم که ترمو اوبو اچولو سره په آسانئ لرې کيدے شي نو لرې ئې کړئ ګنې پريږئ دئ.

**سوال:** د مړي که وينه بهيږي نو آيا زياتې پټئ پرې لګولے شي يا د پلاسټك پيکِنګ اجازت شته دے؟

**جواب:** د پلاسټك پيکِنګ په ځائے پټئ کول پکار دي.

**سوال:** مړي له استنجا کولو وخت کښې د پلاسټك وغيره دستانے استعمالول څنګه دي؟

**جواب:** استعمالولے ئې شي.

**سوال:** که غُسل نه پس هُم د مړي خُله وازه پاتې کيږي نو آيا زنې ورله ترلے شي؟

**جواب:** ترلے ئې شي.

**سوال:** که سوزيدلو يا ډوبيدلو په وجه د مړي بدن دومره وروست شوے وي چه لاس لګولو سره ترې د څرمنې ولاړيدو يا غوښې لرې کيدو يقين وي نو آيا داسې صورت کښې به هُم غُسل ورکول ضروري وي؟

**جواب:** که د مړي بدن وروست شوے وي چه لاس لګولو سره به ترې څرمن ولاړيږي يا به ترې غوښې لرې کيږي نو هُم غُسل به ورکوي او [داسې مړي ته] د غُسل ورکولو طريقه دا ده چه د لاس مږلو نه بغير پرې اوبه تيرې کړے شي.

**سوال:** د شُوکر د مریض په زخم کښې چه کوم چینجي دننه پورې تلي وي، آیا هغه صفا کول ضروري دي؟

**جواب:** مړي ته تکلیف ورکولو نه بغیر څومره چه کیدے شي ترې صفا دِ کړے شي.

**سوال:** که جنازه ناوخته کیږي نو غسل کله ورکول پکار دي د وفات نه فوراً پس یا د جنازے د لـمانځه نه لږ مخکښې؟

**جواب:** د وفات نه فوراً پس.

**سوال:** د قبر په دیوالونو د کُوتې په اشاره لیکل څنګه دي؟

**جواب:** لیکلے شئ.

**سوال:** که خخولو وخت کښې د مابنام اذان اوشي یا د نورو لـمونځونو د جَمعے وخت شي نو خخول اوکړے شي که جَمعے سره لـمونځ اوکړے شي؟

**جواب:** د څومره کسانو چه خخولو کښې حاجت وي هغوئي دِ پاتې شي او نور دِ د جَمعے سره لـمونځ ادا کړي.

**سوال:** د مړي ښپو باندې که ډیر خیري وي نو صفا کول ضروري دي یا اوبه بهیول کافي دي.

**جواب:** د غُسل فرض ادا کولو د پاره اوبه بهیول کافي دي البته خیري لرې کول د پاره صابُن استعمالول جائز دي.

**سوال:** جُمات نه د جنازے اعلان کول څنګه دي؟

**جواب:** جائز دي.

**سوال:** زمونږ ځائے کښې چه څوك وفات شي نو د جنازے د لـمانځه نه پس حِيله کوله شي او د هغے طريقه دا ده چه اِمام صاحب د جنازے د لـمانځه نه پس مُقتديانو سره په ولاړه دائره جوړه کړي او د قُرآن شريف نه لاندې څه روپۍ کيږدي او د يو بل مِلك کوي ئې او چه دوباره اِمام صاحب ته راوسيږي نو اِمام صاحب دُعا کوي، يو بل ته د مِلك کولو عمل يو څو پيرے کوي او هره پيره امام صاحب دُعا کوي. آيا دا حِيله کول صحيح دي که نه؟ او د داسې حِيله کولو په وجه به مړي ته څه فائده هُم کيږي، که نه؟ حالانکه د مړي د لـمونځونو او روژو هيڅ حساب نه کوي. وضاحت اوکړئ؟

**جواب:** د حيلۀ اِسقاط دا طريقه صحيح نه ده البته دے کښې چه کوم رقم فُقَراؤ ته ورکولے کيږي د هغے مطابق به [د في فطرے د رقم په حساب] د مړي د [هغه همره] روژو او لـمونځونو فِديه ادا شي، د حِيلۀ اِسقاط صحيح طريقه دا ده چه د مړي د ټول ژوند د پاتې شوو [يعني قضا شوو] لـمونځونو او روژو حساب اولګولے شي بيا که مړي وصيت کړے وي نو د هغه د ټول مال د دريمې حِصّے نه، او که وَصِيَّت ئې نه وي کړے نو د خپل طرف نه دِ څه مال ورکړے شي يا دِ قرض راواخستے شي او فِديه دِ ورکړے شي او که مال کم وي او فِديه زياته وي نو يو بل ته د اړولو راړولو طريقه دِ اوکړے شي دا هُم جائز دي. فُقَهائے کرامو د دې د جواز [يعني جائز کيدو] تصريح کړي ده البته د دې خبرې خيال ضروري دے چه دائره کښې ولاړ [يا ناست] کسان شرعي فقيران وي، څوك غني دِ په هغے کښې نه اودريږي، که څوك غني پکښې ولاړ وي نو هغه ته د رارسيدونکي رقم په قدر به فِديه ادا نه شي. هر شرعي فقير دِ هغه رقم باندې قبضه کولو نه پس د خپل طرف نه د مړي د لـمونځونو او

روژو د فِديه په نِيَّت بل ته ورکوي، دغسې اړول راړول کوئ تر دې چه د مړي د ټولو پاتې شوو [يعني قضا شوو] لـمونځونو او روژو فِديه اوشي. رقم سره که قُرآنِ پاك هُم وي نو د قُرآن مجيد په بدل کښې به صرف دومره فِديه ادا کيږي څومره چه د قُرآنِ پاك قِيمت دے، دا ګنړل چه قُرآنِ پاك سره به ټوله فِديه ادا شي دا بے اصل ده.[1]

**سوال:** د بَم وغيره چاودنې په وجه بعضې وخت مړي اوشيندل شي او بدنونه ئې ټُکړے ټُکړے شي د هغوئ باره کښې څه حُکم دے.

**جواب:** که د يو انسان [د سر نه بغير] نيم نه زيات بدن وموندلے شي نو غُسل او کفن به ورکوي او د جنازے لـمونځ به ئې هُم کيږي او که د جنازے د لـمانځه نه پس هغه باقي ټکړه هم پيدا شوه نو په هغے به دوباره لـمونځ نه کيږي او که نيم بدن ئې وموندلے شو او هغے سره سَر هُم وو نو بيا هُم دا حُکم دے او که سَر ورسره نه وي [يعني هغه نيم بدن سره]، يا په اوګړدوالي د سَر نه واخله ښپو پورې د ښي طرف يا ګڼ طرف يوه حصّه وموندلے شوه نو په دې دواړو صورتونو کښې نه غُسل شته او نه کفن او نه [د جنازے] لـمونځ بلکه يوه ټوټه کښې ئې تاؤ کړئ او خخ ئې کړئ. (الدر المُختار معه رَدُّالمُحتَار کتاب الصلوٰة، باب صلوٰة الجنازة، ۳/۱۰۷)

**سوال:** غسل ورکولو د پاره د مړي بالکل بربنډول شرعاً جائز دي که نه؟

**جواب:** ناجائزه دي ځکه چه د مسلمان تعظيم د ژوند او مرګ حالت کښې يو شان دے.

---

[1] ..... د فِدئے متعلق د نور تفصيل د پاره صفحه نمبر 182، 183 اوګورئ.

**سوال:** که د مړي خپلوان بل مُلك کښې وي نو آيا د هغوئ په انتظار کښې خخولو کښې تاخير [يعني ناوخته کول، ليټ کول] کيدے شي؟

**جواب:** حديث کښې دي چه کله تاسو کښې څوك مړ شي نو هغه حصار مه ساتئ او هغه **قَبْر** طرف ته زر يوسئ. (مِشْكَاةُ المصابيح، كتاب الجنائز، باب دفن الميت، الفصل الثالث ۲/۳۲۵ حديث ۱۷۱۷) د کومو خپلوانو په راتلو کښې به چه ډير زيات وخت لکي نو هلته د هغوئ په انتظار کښې د مړي په خخولو کښې د ناوخته کولو بالکل اجازت نشته.

**سوال:** **قَبْر** څخول څنګه دي؟

**جواب:** **قَبْر** د پاس نه څخول جائز دي خو بهتره دا ده چه د پاس طرف نه پوخ نه کړے شي او دننه طرف نه بے ضرورته څخول ممنوع و مکروه دي، ياد ساتئ حقيقت کښې **قَبْر** د زمکې هٰغه حِصَّه ده کومې سره چه مړے مُتَّصِل (يعني لګيدلے) وي نو د هغے نه ګيرچاپيره کومه ډډه بے ضرورته څخول ممنوع و مکروه دي البته ضرورتاً دننه حِصَّه د څخولو اجازت شته دے.

**سوال:** بعضې علاقے داسې دي چه کله هلته **قَبْر** کنستلے کيږي نو د اوبو سطح اوچته کيدو په وجه پکښې لږې ډيرې اوبه راشي، دومره اوبه وي چه د مړي شا پرې لـمديدے شي. آيا هغه علاقو کښې د زمکې د پاسه چار ديواري جوړول او په هغے کښې مړے خخول کولے شي؟

**جواب:** مړے په زمکه د پاسه ايښودل او د هغه نه ګيرچاپيره چاردیواري قائمول شرعاً جائز نه دي حتَّى الاِمكان مړے زمکه کښې دننه خخول فرضِ

کِفایه دي. لِـهذا باقاعده دِ قبر اوکنستے شي او مړے دِ د لرګي یا اوسپنې وغیره تابوت کښې بند کړے شي او **قَبْر** کښې دِ کیښودے شي.

**سوال:** عامو قبرونو باندې د نوم والا تختئ لګولو څه حُکم دے؟

**جواب:** د **قَبْر** پیژندګلو د پاره د نوم تختئ لګول جائز دي خو په هغے د قُرآنِ کریم آیتونه او اسمائے مُقَدَّسه مه لیکئ ځکه چه عام طور ادیرو کښې د هغے بے ادبي کیږي.

**سوال:** زمونږه علاقه کښې دا رواج دے چه کله څوك وفات شي نو د خخولو نه پس څه ورځو پورې د هغه په **قَبْر** ګُلونه ګرځدي هُم دغسې په شبِ بَراءَت او د اختر په موقع هُم په قبرونو ګُلونه او د هغے [یعني د ګُلونو] پانړې اینبودلے کیږي. آیا قبرونو باندې ګُلونه اینبودل جائز دي؟ او د دې څه فائده هُم شته دے که نه؟

**جواب:** **قَبْر** باندې ګلونه اینبودل جائز و **مُسْتَحَب** دي، تر څو چه ګلونو کښې لـمدوالے وي نو مړي ته راحت حاصلیږي، دا خبره حدیث مبارك نه ثابته ده.

چنانچه حضرتِ سَیِّدُنا عبدُالله اِبنِ عَبَّاس رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا فرمائي: حُضُورِ انور صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مکے یا مدینے باغونو نه یو باغ کښې تیریدلو نو د دوو کسانو آواز ئې واوریدلو چه په هغوئ عذابِ قبر کیږي، خوږ نبي صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائیل چه په دې دواړو باندې عذاب کیږي او په څه غټه خبره عذاب نه کیږي چه د هغے نه بچ کیدل مشکل وو بیا ئې اوفرمائیل: په دوئ کښې یو کس خو به د خپلو متیازو نه ځان نه ساتلو او بل به **چُغلي** کوله، بیا ئې د کجورې یو شین خاخ را وغوښتلو، هغه ئې دوه ټکړے کړلو او په هر قبر

ئې يوه ټُکړه کښودله صحابۂ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان عرض اوکړو: يا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم داسې مو ولے اوکړو؟ خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: د دې د پاره چه تر څو دا دواړه خاخونه وچ نه شي د دې دواړو په عذاب کښې به تَخفِيف (يعني کمے) کيږي.

(بُخارى، كتاب الوضو، باب من الكبائر ان لا يستتر من بوله، ۹۵/۱، حديث ۲۱۶)

مرقاة کښې دي: خلقو کښې چه کوم رواج دے چه خوشبوداره ګلونه او د کجورې څانګه په قبر باندې ګرځوي هغه د دې حديث په رُو سُنَّت دي.

(مِرقاةُ الْمَفَاتِيح، ۵۳/۲)

**سوال:** که ښځه مړے وي نو هغے ته کفن کښې پرتوګ اغوستل صحيح دي که نه؟

**جواب:** د ښځې سُنَّت کفن کښې پينځه کپړے وي،

غټ څادر، اِزار [يعني لَنګ]، قميص، سينه بند او لوپټه. ښځې ته کفن کښې پرتوګ اغوستل سُنَّت نه دي او د دې څه حاجت هُم نشته.

**سوال:** د مړي والا کور ته چه کوم خپلوان د لرې نه راغلي وي د هغوئ د پاره د طعام او د شپے د اوسيدو انتظام کول شرعاً څنګه دي، که د طعام انتظام اونکړے شي نو اکثر کلي کښې هوټل وغيره هُم نه وي چه ميلمانه ئې ترې ځان ته واخلي او اُوئې خوري او نه پخپله څه بندوبست کولے شي نو داسې صورت کښې څه کول پکار دي؟

**جواب:** د خپلوانو يا ګاونډيانو له طرفه د مړي کورنئ ته په وړومبئ ورځ دومره طعام رالېږل چه د دوه وخته خوراك ئې اوشي سُنَّت دي بلکه هغوئ

باندې په زارئ خوړل پکار دي. هُم دغسې لرې راتلونکو کښې چه څوك د مړي د کورنئ دي هغوئي هُم دا طعام خوړلے شي. د هغوئي نه علاوه نورو کومو چه میله لګولي وي او پراته وي د هغوئي د پاره د مړي د کورنئ والؤ د خوراك څښاك په اهتمام کښې مشغولیدل د مړي [د کورنئ له طرفه] د دعوت په زُمره کښې داخل بد رسم دے. که د مړي د کورنئ نه ئې څوك خاص د خپل جیب نه اوکړي بیا هُم منع دي او که د مالِ متروکه [یعني د تَرکے د مال] نه ئې اوکړي بیا هُم [منع دي] ترکه کښې که نابالغه هُم وي او د هغوئي د حِصّو نه ئې اوکړه نو سخت اَشَد حرام دي. (فَتَاوٰی رَضَوِیَّه ۹/۶۶۶ مُلَخَّصاً)

**سوال:** که دوه کسان د څه دُنیوي خُصومت (یعني جګړے) په وجه خفه وي، دے دوران کښې په هغوئي کښې یو وفات شي نو د دُنیوي جګړے په وجه ژوندي کس د پاره د هغه مړ شوي کس د جنازے لـمونځ نه کولو څه حُکم وي؟

**جواب:** څوك چه بغیر د شرعي عُذره درې ورځو نه زیات د مسلمان ورور نه خفه اوسي هغه فاسِق دے. حدیث مبارك کښې چه د یو مسلمان په بل مسلمان باندې کوم حقونه بیان شوي دي په هغے کښې یو د هغه د جنازے لـمونځ کول هُم دي لِـهذا څوك چه د خپل مسلمان ورور د جنازے په لـمانځه کښې شریك کیدے شي هغه دِ بے عُذره نه پریږدي او د دُنیاوي جګړے په وجه خو د مسلمان ورور د جنازے لـمونځ پریښودل بالکل نه دي پکار.

**سوال:** غُسل ورکولو وخت کښې که د مړي خُله کښې نقلي جامنې يا د سرو زرو غاښ يا نقلي سترګه يا لينس وغيره د نظر لګيدلي وي نو د هغے څه حُکم دے؟

**جواب:** دے کښې قاعِده دا ده چه که داسې مصنوعي څيزونه په آسانئ لرې کولے شئ چه مړي ته تکليف نه رسي نو بيا د لرې کولو اجازت دے او که مړي ته تکليف کيږي نو ويستل نه دي پکار.

**سوال:** بعضې وخت چه نوے قبر کنستلے کيږي نو هډوکي پکښې را اُوځي، داسې صورت کښې څه کول پکار دي؟

**جواب:** کوم ځائے کښې چه د مړي خخيدل معلوم وي اګر که کلونه تير شي هغه ځائے کنستل او بل مړے پکښې خخول ناجائزه او حرام دي او که معلوم نه وو او د کنستلو وخت کښې هډوکي را اُووتل نو هغه دِ بيرته خخ کړي او بل ځائے کښې دِ نوے **قَبْر** اوکنستے شي.

**سوال:** کله داسې اوشي چه د باران په وجه **قَبْر** کښې سورے اوشي نو خلق ورته [سُوري کښې] ګوري، داسې کول څنګه دي؟

**جواب:** دلته غور کول پکار دي چه کله مړے قبر کښې بند کړے شي او **الله** تَبَارَكَ وَتَعَالٰى ته حواله کړے شي نو بيا د عالَمِ بَرزَخ سلسله شروع شي او بيا دا د **الله** تَبَارَكَ وَتَعَالٰى او مړي تر مينځه رازونه وي لِـهذا هيڅ چا ته هُم د دې نه د خبريدو د کوشش کولو يا **قَبْر** ته [سوري وغيره کښې] د کتلو اجازت نشته.

**سوال:** کوم ماشوم چه ژوندے پيدا شي او بيا مړ شي او د هغه نوم نه وي ايښودے شوے نو آيا وروسته د هغه نوم ايښودل ضروري دي که نه؟ دے باره کښې ارشاد اوفرمائې.

**جواب:** کوم ماشوم چه ژوندے پيدا شي او وفات شي د هغه جنازه به هم کيږي او کَفَن دَفَن به ئې هُم کيږي او د هغه نوم به هُم ايښودے شي که هغه وخت تادئ کښې يا د خفګان په وجه ئې نوم ايښودل هير شو او خخ ئې کړو نو وروسته ئې هُم نوم کيښودے شئ.

**سوال:** آيا مړي ته غُسل ورکولو کښې د استنجاء د پاره خلته استعمالوے شي؟

**جواب:** عام طور مړي ته غُسل ورکولو کښې استنجاء د پاره استعماليدو والا کپړه د خلتے په شان وي او هغه استعمالولو د پاره لاس ته اچولے شئ.

**سوال:** بعضو علاقو کښې نن صبا اکثر و بيشتر قبرونو کښې دننه د سيمنټو بلاکونه لګولے کيږي او پاس نه بندولو د پاره هُم د سيمنټو جوړ شوي سليپونه لګولے کيږي، نو آيا داسې خخول صحيح دي؟

**جواب:** ولے چه سيمنټ په اور جوړيږي لِـهذا د سيمنټو بلاکونه يا په اور پخې شوي خښتې **قَبْر** کښې مه لګوئ او که د **قَبْر** د خاورو د غورزيدو اندينه وي نو هغه خښتو يا بلاکونو لګولو نه پس هغے له د خټے ليو ورکړئ هُم دغسې د سيمنټو د سليپونو دننه طرف هُم په خټه ليو کړئ چه د مړي هر طرف ته خاوره وي، که چا داسې اونکړل نو هم ګنهګار نه دے.

**سوال:** آيا مکروه وخت کښې هُم د جنازے لـمونځ کيدے شي؟

**جواب:** که مکروه وخت کښې جنازه راوړے شي نو داسې صورت کښې د جنازے لـمونځ مکروه وخت کښې هُم ادا کيدے شي او که جنازه د مخکښې نه تياره وي او مکروه وخت داخل شي نو بيا مکروه وخت کښې د جنازے کولو اجازت نشته.

**سوال:** چه مړي ته غُسل ورکړے شوے وي او کفن ئې نه وي ور اغوستے، بيا خپلوانو کښې څوك خواهش اوکړي چه زه هُم غُسل کښې شاملېږم نو آيا هغه غُسل کښې شاملېدے شي؟ دے باره کښې اِرشاد اوفرمائې.

**جواب:** د مړي د غُسل وخت کښې دِ نيك کسان شامِلېږي او د څومره کسانو چه حاجت وي صرف هُم هغه حضرات دِ مړي سره وي او چه غسل ورکړے شو نو بيا چا ته د شريك کيدو (يا [مړي باندې] د اوبو بهيولو) اجازت نشته.

**سوال:** که د مړي د ستر په مقام باندې زخم وي نو آيا د ستر هغه مقام د کتلو اجازت شته د دې د پاره چه په احتياط غسل ورکړے شي؟

**جواب:** غُسل ورکولو د پاره داسې زخم ته د کتلو اجازت نشته، خو اوبه اچولو کښې احتياط کوئ او لاس وغيره پرې مه رابنکاړئ.

**سوال:** چه کله د قَبْر خوا ته اذان کوي نو خلقو ته وائي چه تاسو لاړ شئ. اوس دلته هيڅ چا ته د حصاريدو اجازت نشته. دے باره کښې شرعي رهنمائي اوکړئ چه شرعي اعتبار سره داسې کول څنګه دي؟

**جواب:** د قَبْر خوا ته د اذان کولو مقصد شيطان لرې کول دي او رِوايتونو کښې دي چه کله مړے خخ کړي او خلق ترې څلويښت قدمه لرې لاړ شي

نو بيا مُنكَر نَكِير راځي. باقي خلقو ته ځكه د تللو وائي چه هغوئي لا ړ شي نو اذان اوكړي خو كه هلته څوك ولا ړ وي او هغه وخت اذان اوكړي شي نو دے كښې شرعاً څه قَباحَت نشته.

**سوال:** بعضې اسلامي ورونړه [د مړي كوزولو نه مخكښې] **قَبْر** ته كوز شي او د سُوْرَۂ مُلْك تِلاوت كوي داسې كول څنګه دي؟

**جواب:** كه **قَبْر** ته كوز شي او د مړي د آسانئ د پاره د قُرآنِ پاك تِلاوت كوي نو دا جائز دي په دې كښې باك نشته، البته د دې خبرې خيال ساتئ چه كه مړے خخولو د پاره را اورسيدو نو هغه وخت د مړي حصارولو او د تلاوت د پاره كوزيدلو په ځائے د مړي د راتلو نه مخكښې تلاوت كوئ.

**سوال:** بعضې وخت د زيات باران او اوبو جمع كيدو په وجه د بعضو قبرونو يوه ډډه ښكته شي بلكه د ډيرو قبرونو د لويدلو اندېښنه هُم وي د هغے د دوباره صحيح كولو باره كښې مَدَنـي ګُلونه بيان كړئ؟

**جواب:** په دې صورت كښې د **قَبْر** سپړدلو اجازت نشته بلكه بهر نه دِ په څه طريقه د **قَبْر** صحيح كولو كوشش اوكړے شي. هُم دغسې كه څه سلِپ وغيره غورزيدلے وي نو په دې صورت كښې پرې څه كپړه وغيره واچوئ
او يو نيك صالِح مُتَّقي كس ته اُووائې چه هغه دِ **قَبْر** كښې دننه كتلو نه بغير صرف لاس ورښكته كړي او سلِپ دِ صحيح كړي بيا دِ پرې بل سلِپ فوراً كيږدي. دے دوارن كښې **قَبْر** ته دننه كتل جائز نه دي.

**سوال:** د ښځو ادیرے [يعني قبرستان] ته تلل څنګه دي؟

**جواب:** د ښځو ادیرے ته تلل منع دي، بلکه مزاراتو ته حاضریدل ئې هُم منع دي، صرف او صرف د پاك نبـی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم روضے مبارکې ته د ښځو د حاضریدو اجازت شته دے، (بلکه سُنَّتِ مؤکَّده واجِب ته نزدے دي) د دې نه علاوه یو مزار یا ادیرے ته د فاتِحه وئیلو [وغیره] د پاره د ښځو تلل منع دي، اجازت نشته، په کور کښې دِ فاتِحه [یعني تِلاوت او دُعا وغیره] لولي او ورته اِیصالِ ثواب کوي دِ ئې.

**سوال:** بعضې وخت مړے د مجبورئ په حالت کښې د امانت په طور خخ کړے شي نو د دې به څه حُکم وي؟

**جواب:** امانتاً خخول چه وروسته به ئې بل ځائے کښې خخ کړو، اسلام کښې د دې اجازت نشته، کوم ځائے چه خخ کړے شو هُم هلته ئې پریږدئ. د هغه ځائے نه ویستل او بل ځائے ته منتقل کول دا حرام دي.

## د مُسْتَعْمَلو اوبو متعَلِّق مَدَني ګلونه

﴿۱﴾ کومې اوبه چه په اودس کولو یا غُسل کولو کښې د بدن نه توئ شوې هغه پاکې دي خو ولے چه اوس **مُسْتَعْمَل** (یعني استعمال) شوې ځکه په دې باندې اودس او غُسل کول جائِز نه دي ﴿۲﴾ هم دغسې که د بے اودسه کس لاس یا ګوته یا د ګوتې سر یا نُوك یا د بدن یوه حِصّه چه هغه په اوداسه کښې وینځله شي قصداً یا بے اِرادے (یعني په بے خیالئ کښې) د دَه دَردَه (225 سکوائر فُٹ) نه کمو اوبو کښې ناوِینځلے پریوتو نو هٰغه اوبه د اوداسه او غُسل لائِق پاتې نه شوې ﴿۳﴾ هم دغسې په کوم کس چه لامبل فرض وي او د هغه د بدن یوه ناوینځلې حِصّه د دَه دَردَه نه کمو اوبو کښې اولګي نو هغه اوبه د اوداسه او د غُسل د کار پاتې نه شوې ﴿٤﴾ که وینځلے شوے لاس یا د بدن کومه [وِینځلې شوې] حِصّه پکښې اولګي نو هیڅ باك

نشته ﴿۵﴾ که حائِضه (يعني حيض والا) د حيض نه او نِفاس والا د نِفاس نه پاکه شوي وي خو لا تر اوسه ئې غُسل نه وي کړے نو که د هغے د بدن يو اندام يا يوه حِصّه د وِينځلو نه مخکښې د دَه درده (225 سکوائر فُټ) نه کمو اوبو کښې اولګي نو هٰغه اوبه به **مُسْتَعْمَل** (يعني استعمال شُده) شي ﴿۶﴾ کومې اوبه چه کم از کم دَه دَردَه وي هغه د روانو اوبو او کومې چه د دَه دَردَه نه کمې وي هغه د ولاړو اوبو په حُکم کښې وي ﴿۷﴾ عام طور د حَمام ټَب [يعني د لامبلو غټ ارتے خُلے والا لوښے]، د کور د استعمال بوقے، بالټي، پتيلے، لوټے وغيره د دَه دَردَه نه کم وي، په هغو کښې موجودي اوبه د ولاړو اوبو په حُکم کښې وي ﴿۸﴾ که د اوداسه په اندامونو کښې ئې يو اندام وِينځلے وو او د هغے نه پس د اودس ماتولو والا يو عمل نه وو شوے نو هٰغه وِينځلي شوي حِصّه په ولاړو اوبو کښې د لګيدو په وجه اوبه نه **مُسْتَعْمَل** کيږی ﴿۹﴾ په چا چه غُسل فرض نه وي هغه که د څنګلې سره پوره لاس اووينځلو نو پوره لاس تر دې چه د څنګلې نه پاس حِصّه هم په اوبو کښې ډوبه کړي نو اوبه به نه **مُسْتَعْمَل** کيږي ﴿۱۰﴾ اودس لرونکي يا د چا لاس چه وِينځلے شوے وي هغه که پکښې بيا د وِينځلو په نِيَّت اووهلو او دا وِينځل د ثواب کار وي مَثَلًا د طعام خوړلو د پاره يا ئې د اوداسه په نِيَّت په ولاړو اوبو کښې لاس اووهلو نو **مُسْتَعْمَل** به شي ﴿۱۱﴾ د حيض يا نِفاس والا چه تر څو حيض يا نِفاس باقي وي [يعني ختم نه وي نو هغه] که په ولاړو اوبو کښې د بدن يوه حِصّه اولګوي نو اوبه به نه **مُسْتَعْمَله** کيږي، خو که دا هم پکښې د ثواب په نِيَّت اووهي نو **مُسْتَعْمَل** به شي. مَثَلًا د هغے د پاره مُستَحب دي چه د پينځه واړو لمونځونو په وخت کښې او که د اِشراق، څاښت او تَهَجُّد عادت لري نو په هٰغه وختونو کښې دِ په اوداسه کښې لږ ساعت ذِکر و دُرُود وائي، لپاره د دې چه د عِبادت

عادت ئې باقي پاتې شي نو اوس که هغه په نِيّت د اوداسه ناوِينځلے لاس په اوبو کښې اووهي نو اوبه به **مُسْتَعْمَلي** شي ﴿۱۲﴾ د اوبو ګِلاس، لوټه يا بالټے وغيره د اوچتولو په وخت کښې احتياط ضروري دے چه چرې ناوِينځلي ګوتې په اوبو کښې اونه لګي ﴿۱۳﴾ د اوداسه په وخت کښې څه حَدَث پيښ شو يعني اودس ماتولو والا کوم يو عمل واقع شو نو کوم اندامونه ئې چه مخکښې وِينځلي وو هغه ټول ناوِينځلي شو، تر دې که په **جُونګ** کښې ئې اوبه راخستي وي هغه هم **مُسْتَعْمَلي** شوې ﴿۱۴﴾ که د غُسل په دوران کښې حدث پيښ شو يعني د اودس ماتولو والا کوم يو عمل واقع شو نو صرف د اوداسه اندامونه ناوِينځلي شو، د غُسل کوم کوم اندامونه چه وِينځلي شوي وو هغه ناوِينځلي نه شو ﴿۱۵﴾ د نابالِغه [هلك يا جينئ] پاك بدن اګر که په ولاړو اوبو مَثَلًا د اوبو په بالټي يا تَب وغيره کښې پوره ډُوب شي نو بيا هم اوبه **مُسْتَعْمَلي** نه شوې ﴿۱۶﴾ پوهه ماشوم يا پوهه ماشومه که د ثواب په نِيَّت مَثَلًا د اوداسه په نِيَّت په ولاړو اوبو کښې د لاس ګوته يا د هغے نُوك هم پکښې اووهي نو **مُسْتَعْمَله** به شي ﴿۱۷﴾ د مړي د غُسل اوبه **مُسْتَعْمَلي** دي هله چه په هغے کښې څه نَجاست نه وي [او چه نَجاسَت پکښې وي نو بيا ناپاکه دي] ﴿۱۸﴾ که د ضرورت د پاره ئې په ولاړو اوبو کښې لاس اُووهلو نو اوبه **مُسْتَعْمَلي** نه شوې. مَثَلًا که په ديګ يا چاټئ يا ډرام کښې اوبه وي او هغه راکښَولے نه شي چه اوبه ترې راواړوي او نه څه وړوکے لوښے شته چه په هغے ئې ترې را اوباسي نو د داسې مجبورئ په وخت کښې په قدر د حاجت ناوِينځلے لاس د اوبو راوِيستلو د پاره په اوبو کښې وهلے شي ﴿۱۹﴾ که په ښو [يعني د اوداسه او د غُسل قابلو] اوبو کښې **مُسْتَعْمَلي** اوبه ګډې شوې او ښے اوبه ډيرې وي نو ټولے ښے [يعني د اوداسه او د غُسل قابلې] شوې مَثَلًا که د اوداسه يا غُسل په دوران کښې په لوټه يا منګي

[بالتي وغيره] کښې څاڅکي پريوتل نو که ښے اوبه زياتې وي نو دا د اوداسه او د غُسل قابلي دي ګڼې [يعني که ښے اوبه د **مُسْتَعْمَلو** نه کمې وي نو] ټولے بيکاره شوې ﴿۲۰﴾ په اوبو کښې ناوِينځلے لاس اولګيدو يا په څه وجه **مُسْتَعْمَله** شوې او غواړئ چه دا د کار قابلي شي نو څومره چه **مُسْتَعْمَله** اوبه دي د هغے نه په زيات مِقدار کښې په هغے کښې ښے اوبه ګډې کړئ ټولے به د کار قابلي شي او ﴿۲۱﴾ بله طريقه دا ده چه په هغے کښې د يو طرف نه اوبه ور اچوئ چه بل طرف ته وبهيږي نو ټولے اوبه به د کار قابلې شي ﴿۲۲﴾ **مُسْتَعْمَلې** اوبه پاکې وي، که په دې باندې ناپاکه بدن يا جامے وغيره اووينځلے شي نو پاکې به شي ﴿۲۳﴾ **مُسْتَعْمَلې** اوبه پاکې دي، د دې څښل يا په دې کښې د خوراك د ډوډئ د پاره وړه اښکل مکروهِ تنزِيهي دي ﴿۲٤﴾ د شونډو هٰغه حِصّه چه هغه عادتاً د شونډو بندولو نه پس ښکاري، په اوداسه کښې د هغے وِينځل فرض دي، لِهٰذا په جام يا ګلاس باندې د اوبو څښلو په وخت کښې دِ احتياط اوکړے شي ځکه چه که د شونډو دا ذِکر شوي حِصّه لږه شان هم په اوبو کښې اولګيده نو اوبه به **مُسْتَعْمَلې** شي ﴿۲۵﴾ که اودس ئې وي، يا ئې خُله وِينځلي وي او يا ئې د شونډو هٰغه حِصّه وِينځلي وي او د هغے نه پس د اودس ماتولو والا کوم يو عمل نه وي واقع شوے نو بيا که پکښې اولګي نو نه به **مُسْتَعْمَله** کيږي ﴿۲٦﴾ په شودو، کافي، چائے او د ميوو رَس وغيره د څښلو څيزونو کښې که ناوينځلے لاس پريوځي نو دا نه **مُسْتَعْمَله** کيږي او په دې څيزونو خو هسې هم اودس او غُسل نه کيږي ﴿۲۷﴾ د اوبو څښلو وخت کښې که د بريتو ناوِينځلي وِيښته په اوبو کښې اولګيدل نو اوبه **مُسْتَعْمَلې** شوې، د دې څښل مکروه دي. که اودس ئې وو يا ئې بريت وِينځلي وو نو شرعاً باك نشته. (د **مُسْتَعْمَلو** اوبو د تفصيلي معلوماتو د پاره **فَتَاوىٰ رَضَوِيّه** جِلد د صفحه ۳۷ نه پورې او **بَهارِ شرِيعَت** حِصّه د صفحه ۵۵ نه د ٥٦ پورې او **فَتَاوىٰ اَمجَدِيَّه** جِلد ۱ صفحه ١٤ نه ١٥ پورې اولولئ)

## اِسراف نه بچ کيدو د پاره مَدَنـي ګلونه

د شيخِ طريقت، امِيرِ اَهلِسُنَّت، حضرتِ علّامه مولانا اَبُو بِلال **محمد اِلياس عطّار قادِري رَضَوِي** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په رِساله "د اودس طريقه" کښې د ورکړو شوو مَدَنـي ګُلونو په رنړا کښې اِسراف نه بچ کيدو د پاره يو څو مَدَنـي ګُلونه اوګورئ او ځان د اِسراف نه اوساتئ.

❁ اِسراف شيطاني کار دے، حضرتِ سَيِّدُنا اَنَـس رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوايت دے: اوداسه کښې ډير شے اوبو اړولو کښې هيڅ خير نشته او هغه کار د شيطان له طرفه دے. (کَنْزُ الْعُمَّال، کتاب الطهارة، الباب الثانی، الفصل الثالث، ۹/۱٤٤ حدیث ۲٦۲٥٥)

❁ تر اوسه پورې مو چه څومره ناجائزه اِسراف کړے دے، د هغے نه توبه اوکړئ او آئنده [د اِسراف نه] د ځان ساتلو مضبوط کوشش شروع کړئ ❁ جامِع قول دا دے چه سليقے [يعني ښے طريقے] نه کار واخستے شي. د اِمام شافِعِي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه ډير ښکلے فرمان دے: "که په سليقه [يعني ښه طريقه] ئې راواخلے نو لږ هُم کافي شي او په بده سليقه [يعني غلطه طريقه] باندې خو ډير هُم کِفايت نه کوي." (فَتَاوٰی رَضَوِيَّه مُخرَّجة، ۱/۱۰٤۲)

## اوداسه کښې د اِسراف نه د بچ کيدو مَدَنـي ګلونه

بهارِ شريعت کښې دي: "غُسل ورکوونکے چه باطهارت وي." لِـهذا مړي ته غُسل ورکوونکي ته پکار دي چه مخکښې هغه پخپله اودس اوکړي. اوداسه کښې د اِسراف نه بچ کيدو د پاره دے مَدَنـي ګُلونو باندې د عمل کولو کوشش اوکړئ. ❁ د اَودَس په وخت کښې نَل په احتياط سره چالو کوئ، که کيدے شي نو د اَودَس په وخت کښې يو لاس د نل د پاسه ساتئ او د ضرورت په پوره کيدو سره زر زر نل بندوئ. ❁ نل د داسې صحيح بندولو

عادت جوړ کړئ چه د مسواک کولو، د خُلے وِينځلو، د غړغړے کولو، د پوزې پاك کولو، د ګِيړې او د ګوتو د خِلال او د مسح کولو په وخت کښې ترې يو څاڅکے هم نه څڅيږي. ❁ بعضې خلق چونګ کښې اوبه داسې [تيزې] را اچوي چه څه اوبه ترې د چونګ نه اخوا ديخوا واوړي حالانکه څه چه توئ شوي هغه خو بيکاره لاړې، دے باره کښې احتياط کوئ. ❁ هر چونګ ډك کيدل ضروري نه دے بلکه د څه کار د پاره چه اوبه راخلئ د هغے اندازه ساتئ مَثَلًا پوزه کښې د نرم هډوکي پورې اوبو خيژولو د پاره د پوره چونګ څه ضرورت، نيم چونګ هُم کافي وي بلکه پوره ډك چونګ خو د خُلے وينځلو د پاره هُم پکار نه وي. ❁ د نل په مُقابَله کښې په لوټه اَودَس کولو کښې اوبه کمې خرچ کيږي. که د چا نه کيدے شي نو هغه دِ په لوټه اَودَس کوي، که د نل نه بغير ګزاره نه شي کيدے نو دا هم کيدے شي چه د کومو اندامونو په وِينځلو کښې آساني وي هغه په لوټه اووينځئ. په نل اَودَس کول جائِز دي، بس په څه شان د اسراف نه د بچ کيدو طريقے اختيارول پکار دے.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## مړي ته غُسل ورکولو کښې د اِسراف نه د بچ کيدلو او لږې اوبه خرچ کولو د پاره مَدَنـي ګلونه

❁ مړي ته غُسل ورکولو کښې هُم اوبه استعمالولو کښې ډير زيات احتياط کوئ او د اِسراف نه د بچ کيدو هر ممکن کوشش کوئ ګنې بے خيالئ کښې به ډيرې اوبه ضائع کيږي. ❁ مړي ته غُسل ورکولو د پاره لوټه استعمالوئ، که فواره يا پائپ باندې غُسل ورکول پيښ شي نو د اوبو داره مناسب ساتئ او اوس [يعني داسې صورت کښې] د درې ځله وينځلو هُم ضرورت نشته ځکه چه

روانو اوبو کښې د اندام وينځلو وخت کښې لږ شان تَوقُّف (يعني لږ ساعت اوبه بهيولو سره) د تَثلِيث (يعني درې ځله وينځلو) سُنَّت ادا شي ❁ د مړي په غُسل کښې کِيتو پورې لاس وينځل، خُله وينځل او پوزه کښې اوبه اچول نشته لِـهذا دا مه کوئ ❁ د مړي غاښونه، وړئ او سپيږمے [يعني د پوزې سُوري] وغيره صفا کولو د پاره لوتې کښې لږې شان اوبه واخلئ او حسبِ ضرورت پرې مالُوچ لامده کړئ او په کار ئې راولئ (که په ورغوي کښې مالوچ اونيسئ او د پاسه پرې اوبه را اړوئ نو ډيرې اوبه به خرچ شي) ❁ په يو لوښي (بالتي، تپ وغيره) کښې محتاطه اندازه باندې دومره اوبه راواخلئ چه د سُنَّت مطابق پرې غُسل اوشي ❁ [د مړي] استنجاء کولو کښې د نَجاسَت نه کيدو په صورت کښې لږې شان اوبه کفايت کوي ❁ هُم دغسې آخره کښې د کافُورو ګډې کړي اوبه بهيولو د پاره هُم يوه يانيمه لوتې کافي ده.

اَميرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه فرمائي:

❁ غور و فِکر اوکړئ چه داسې صورت مُتَعَيَّن (يعني مقرر) شي چه اودس او غُسل هُم د سُنَّتو مطابق اوشي او اوبه هُم کمې خرچ شي. دے خبرې نه وَيَريږئ چه د قيامت په ورځ به د يوے يوے ذرّے او يو يو څاڅکي حساب کيږي.

نورو معلوماتو حاصلولو د پاره د شيخِ طريقت، اميرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه رِساله "**د اودس طريقه**" اولولئ.

## د مُخَنَّث د غُسل او کفن تفصيل

**سوال:** آيا هيجړا (يعني مُخَنَّث، خُنثیٰ) ته به هُم غُسل او کفن ورکولے کيږي؟

**جواب:** [آو] مسلمان هيجړا (يعني مُخَنَّث، خُنثیٰ) ته به هُم غُسل او کفن ورکولے کيږي.

**سوال:** دا نارينه وي که زنانه؟

**جواب:** دوئي کښې بعضو کښې د نارينه او بعضو کښې د زنانه علامتونه [يعني نښې] وي د هغے په ذريعه په هغوئي د نارينه يا زنانه حکم لګي. بعضې داسې هُم وي چه په هغوئي کښې د نارينه او زنانه دواړو نښې وي يا پکښې د دې [دواړو] نه يوه نښه هُم نه وي هغوئي ته خُنثیٰ مُشکِل وائي.

**سوال:** خُنثیٰ که د سړي په حُکم کښې وي نو د هغه د غُسل او کفن څه تفصيل دے؟

**جواب:** د دې دوه صورتونه دي يا خو به هغه بالِغ وي يا نابالغ، دواړو صورتونو کښې هُم هغه حکم دے کوم چه د هلك او سړي دے يعني نابالغه هلك يا سړي ته چه څنګه غسل او کفن ورکولے کيږي، دوئي ته به هُم هغسې ورکولے کيږي. د دوئي پيژندګلو دا ده چه که ماشوم کښې د نارينه او زنانه دواړو شرمګاهونه وي او نارينه والا شرمګاه باندې متيازې کوي يا ئې په دواړو ځايونو کوي خو مخکښې ئې نارينه والا شرمګاه باندې کوي نو په هغه به د هلك حکم لګي او بالِغ کيدو نه پس که پکښې د سړو والا علامتونه مَثَلًا ګِيره وغيره ښکاره شو نو د سړي په حُکم کښې دے.

**سوال:** خُنثیٰ که د زنانه په حُکم کښې وي نو د هغه د غُسل او کفن څه تفصيل دے؟

**جواب:** د دې هُم دوه صورتونه دي يا خو به هغه بالِغه وي يا نابالغه، دواړو صورتو کښې هُم هغه حکم دے کوم چه د [نابالِغه] جينئ او ښځې دے يعني نابالِغه جينئ او ښځې ته چه څنګه غُسل او کفن ورکولے کيږي. دوئي ته به هُم هغسې ورکولے کيږي. د دوئي پيژندګلو دا ده چه که ماشوم کښې د نارينه او زنانه دواړو شرمګاهونه وي او هغه زنانه والا شرمګاه باندې متيازې کوي يا ئې په دواړو ځايونو کوي خو مخکښې ئې زنانه والا شرمګاه باندې کوي نو په هغه به د جينئ حکم لګي او بالِغ کيدو نه پس که پکښې ښځو والا علامتونه مَثَلًا د ښځو په شان سينه بهر ته راوتل، حيض راتلل وغيره ښکاره شو نو د زنانه په حُکم کښې دے.

**سوال:** او د خُنثیٰ مُشکِل د غُسل او کفن څه تفصيل دے؟

**جواب:** دلته هُم دوه صورتونه دي که وړوکے وي او د شهوت حد ته نه وي رسيدلے نو ښځه او سړے دواړه غُسل ورکولے شي او کفن دِ د جينکو په شان ورکړے شي خو د وريښمنو وغيره کپړے کومې چه نارينه د پاره منع وي په هغے کښې دِ کفن نه ورکوي او که د شَهوت حد ته رسيدلے وي يا بالِغ وي نو هغه ته به غُسل نه ورکولے کيږي بلکه تَيَمُّم به ورله وهلے کيږي. او څوك چه ورله تَيَمُّم کوي هغه دِ خپل لاس نه کپړه راتاو کړي او تَيَمُّم دِ ورله اوکړي. که ذِي رحم وي لکه مور، پلار، خور، ورور نو هغه ورله د کپړے تاوولو نه بغير هُم تَيَمُّم کولے شي. د دې پيژندګلو دا ده چه که ماشوم کښې د نارينه او زنانه دواړو شرمګاهونه وي او هغه دواړو ځايونو نه په يو وخت متيازې کوي يا د دواړو په ځائے د تشو او ډکو بَولو د پاره يو چاود وي او بالغ کيدو نه پس د

ښځو او سړو والا علامتونه مَثَلًا کِيره، د ښځو په شان سينه بهر ته راوتل وغيره پکښې ښکاره شي نو هغه باندې د خُنثیٰ مُشکل حکم دے.

**سوال:** د دوئ د جنازے د لـمانځه په باره کښې بيان کړئ.

**جواب:** د خُنثیٰ مشکل نابالِغه د جنازے په لـمانځه کښې به د نابالِغه هلك دُعا وائي او باقي ټولو کښې چه په چا کوم حکم لګي د هغے مطابق [دُعا به پکښې وائي].

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د کتاب خلا ه

### چه کله پکښې د مرګ نښې اووينئ نو دا څلور کارونه اوکړئ

﴿۱﴾ چه کله د مرګ وخت نزدے شي نو مړ کيدونکے په ښئ ډډه څملوئ او مخ ئې قِبلے ته کړئ، يا ❁ ئې سِيده څملوئ (يعني شا ئې اولګوئ) او قِبلے ته ئې ښپے کړئ او سر ته ئې بالښت وغيره کيږدئ چه سر ئې را اوچت شي او قبلے ته ئې مخه شي. او ❁ که قبلے ته مخ کول ئې مشکل وي او تکليف ورته کيږي نو په څه حالت چه دے په هُم هغه حالت ئې پريږدئ.

﴿۲﴾ [د ځنکدن په وخت کښې د مړ کيدونکي خوا ته] خوشبو د پاره سپيلني يا اګربتئ لُوګے کړئ.

﴿۳﴾ د يٰسين شريف تِلاوت کوئ (څوك چه هلته موجود وي هغوئ ته پکار دي چه سر ښکته کړي او خاموشئ سره تِلاوت اوري).

﴿٤﴾تلقين ورته اوکړئ يعني خوا ته ئې اوچت آواز باندې کَلِمه لوَلئ اَشْهَدُ اَنْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَ اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰه چه مړ کيدونکي ته کلمه شريفه ورياده شي او آخري کلام ئې کَلِمه شريف شي.

## غُسل او کفن د پاره رابطه کوونکي ته دا مَدَنـي ګلونه وړاندې کړئ

مړي والؤ ته تَعزِيَّت اوکړئ مَثَلًا داسې اُووائې: **الله** تعالٰی دِ تاسو ته صبرِ جميل درکړي، په دې مصيبت دِ اجرِ عظيم درکړي او د مرحوم بخښنه دِ اوکړي. (بيا ورته دا مَدَنـي ګُلونه پيش کړئ) [يعني د مجلِس تجهِيز و تَکفِين ذِمَّه دار سره چه د مړي خاوند د غُسل او کفن د پاره رابطه اوکړي نو ذِمَّه دار دِ هغه رابطه کوونکي ته داسې اُووائي]

- د مړي سترګې که غړيدلي وي نو بندې ئې کړئ.
- يوه پلنه [د کپړے] پټئ ورله زنې نه راتاو کړئ او سر ته ئې اورسوئ او غُوټه ئې کړئ چه خُله ئې وازه پاتې نه شي.
- مخ ئې قِبلے ته کړئ.
- د مړي ګوتې او ښپے او لاسونه نيغ کړئ.
- د دواړو ښپو غټې ګوتې ئې را يو ځائے کړئ او نرمئ سره ئې اوتړئ.
- د مړي خيټه باندې د مناسب وزن څه څيز (مَثَلًا بړستن يا کمبل وغيره حسبِ ضرورت راټوله) کيږدئ چه خيټه ئې اونه پړسيږي.
- د اوبو تودلو انتظام ساتئ او نور د دې څيزونو انتظام اوکړئ!

﴿۱﴾ د غُسل تخته ﴿۲﴾ اګربتئ ﴿۳﴾ د تِيلو ډبے [يعني ماچس] ﴿٤﴾ دوه پيړې څادرې (که د نسواري رنګ وي نو بهتره ده) ﴿٥﴾مالوچ ﴿٦﴾د غټ رومال په شان د کپړے دوه ټوټے (استنجا وغيره د پاره) ﴿۷﴾دوه بالټي ﴿۸﴾دوه مګونه [يعني د ارتې خُلے لاستي والا بغير ټوټئ والا د لـمبولو لوټے] ﴿۹﴾صابُن ﴿۱۰﴾د بيړې پانړې ﴿۱۱﴾دوه تولياګاني ﴿۱۲﴾ د کفن ناګندلي د غټ عرض [يعني پلنه] کپړه ﴿۱۳﴾ قينچي ﴿۱٤﴾ ستن او تار ﴿۱٥﴾ کافُور ﴿۱٦﴾ خوشبو. (د خپلو ور رسيدو اندازاً وخت هُم ورته اوښائې)

## د مړي د غُسل نه مخکښې ٤ کارونه

﴿۱﴾ تختے ته لُوګے اوکړئ يعني اګربتئ يا سپيلني لوګے کړئ او دړې پينځه يا ووه ځله ئې د غُسل د تختے نه تاو کړئ.

﴿۲﴾مړے تخته باندې څملوئ.

﴿۳﴾ نرمئ سره تړې جامے [کپړے] اوباسئ يا ئې ضرورتاً پريك کړئ خو چه بے سَتري ئې اونه شي.

﴿٤﴾ نامه نه واخله زنګونانو نه لاندې پورې ئې د پوخ رنګ پيړه ټوټه باندې بدن پټ کړئ.

## د مړي د غُسل ووه مرحلے

﴿۱﴾ استنجاء ورله کول. (څوك چه ورله استنجاء کوي هغه دِ خپل لاس نه کپړه راتاو کړي.)

﴿۲﴾ اودس ورله کول (په دې کښې خُله وينځل او پوزه کښې اوبه اچول نشته لِـهذا مالوچ لامده کړئ او غاښونو، ورو، شونډو او سپيرمو پورې ئې ورته راښکاړئ بيا ورله دړې

ځله مخ، درې ځله د څنګلو سره دواړه لاسونه اووينځئ، يوځل ورله د پوره سر مسح اوکړئ بيا ورله درې ځله دواړه ښپے اووينځئ)

﴿٣﴾د ګيرې او سر ويښته وينځل.

﴿٤﴾مړے په ګڅه ډډه څملول او ښئ ډډه ئې وينځل.

﴿٥﴾مړے په ښئ ډډه څملول او ګڅه ډډه ئې وينځل.

﴿٦﴾ شا طرف [يعني اُوګو] نه لاسونو وغيره باندې ټينګ کړے کښينول او په نرمئ سره ئې د خيټے لاندې طرف باندې لاس راښکل (د ستر ځائے ته ئې نه کتلے شئ او نه بغير د کپړے نه لاس وروړے شئ).

﴿٧﴾سر نه ښپو پورې د کافورو اوبه بهيول (د کافورو ګډ کړو شوو اوبو يو مګ کافي دے)

## د کفن پريك كولو ۷ مرحلے

﴿١﴾کفن د پاره تقريباً پاو کم دوه ګزه پلنه، ۷ ميټره کپړه واخلئ.

﴿٢﴾يوه کپړه د مړي د ونې [يعني قد] نه دومره زياته کټ کړئ چه د راتاوولو نه پس سر او ښپو طرف نه اوترلے شي (يعني غټ ځادر).

﴿٣﴾دويمه ټوټه د مړي د ونې همره کټ کړئ (هغے ته اِزار يا لنګ وائي).

﴿٤﴾قميص د پاره ټوټه [يعني کپړه] د مړي د څټ نه واخله زنګونانو نه لاندې پورې ناپ کړئ او بيا هغه غبرګه کړئ چه د مخې او شا نه ئې اوګړدوالے يو شان وي او پلن والے ئې د دواړو اُوګو برابر ساتئ، په دې کښې ساقونه او لستونړي نه وي.

﴿۵﴾ د سړي قميص کښې غاړه جوړولو د پاره د مينځ نه اُوګو طرف ته او د زنانه قميص د پاره سينے طرف ته دومره اوخيرئ چه قميص ئې وراغوستلو کښې په سر باندې آسانئ سره تير شي. (نارينه د پاره سُنَّت کفن کښې هُم دا درې ټوټے دي او د زنانه د پاره دوه ټوټے نورې دي، سينه بند او لوپټه)

﴿۶﴾ سينه بند د پاره د کپړے اُوګرځدوالے سينے نه ورون پورې ساتئ.

﴿۷﴾ لوپټے د پاره اُوګرځدوالي کښې کپړه دومره پريك کړئ چه د شا د نيمې نه واخله سر او مخ باندې سينے پورې راشي او پلن والے ئې د يو غوږ نه واخله بل غوږه پورې وي (دا عام طور يو نيم ګز وي. د قميص د پلن والي نه چه کومه کپړه پاتې شي دا د هغے نه جوړيدے شي).

## د کفن ور اغوستلو ۹ مرحلے

﴿۱﴾ کفن ته [اګربتئ يا سپيلني] لُوګے کول.

﴿۲﴾ کفن ترلو د پاره چيرړئ [رينجئ] لرل.

﴿۳﴾ کفن خورَوَل ( ټولو نه مخکښې غټ څادر بيا لنګ (يعني وړوکے څادر) بيا قميص خورَوَل، د ښځې کفن کښې ټولو نه مخکښې سِينه بند، بيا غټ څادر بيا وړوکے څادر بيا لوپټه او بيا قميص خورَوَل)

﴿۴﴾ مړے د کفن د پاسه څملول. (نرمئ سره کيږدئ [او خيال کوئ] چه اوس ئې هُم بے سترې اونشي)

﴿۵﴾ د شهادت په ګوته ورته په سينه اوله ګلِمه، زړه باندې يارَسُولَ الله (صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) ليکل، ياد ساتئ چه دا ليکل په سياهي نه دي پکار.

﴿۶﴾ قميص وراغوستل او په تندي ورته د شهادت په ګوته بِسْمِ الله ليکل

﴿۷﴾ د کفن د نامه او سينے مينځنۍ حِصّه باندې د مشائخو [يعني بزرګانو] نومونه ليکل (کفن ور اغوستلو نه پس د ښځې ويښته دوه حِصّے کول او په سينه د پاسه خورَوَل، بيا لوپټه ور په سر کول)

﴿۸﴾ د سجدے په اندامونو ورله کافور لګول.

﴿۹﴾ مخکښې لنګ (يعني وړوکے څادر) بيا غټ څادر، اول د کڅ طرف نه او بيا د ښي طرف نه را تاوول

(د ښځې کفن کښې غټ څادر نه پس سينه بند اول کڅ طرف نه او بيا ښي طرف نه راتاوول)

## د جنازے ٦ مَدَنـي ګلونه

﴿۱﴾ نِيَّت کول (داسې چه نِيَّت کووم د دې جنازے د لـمانځه، [ثناء لپاره د الله، دُرُود لپاره د رسول الله] دُعا د دې مړي د پاره، په دې حاضر اِمام پسے خاص الله تا لره [مخ مې د کعبے شريفې په لور]").

﴿۲﴾ بيا "اَللّٰهُ اَکْبَر" وئيلو سره فوراً د معمول مطابق د نامه نه لاندې لاسونه اوتړئ او ثناء (يعني سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ... آخرے پورې) اولولئ. (د جنازے په لـمانځه کښې د "وَتَعَالٰى جَدُّكَ" نه پس "وَجَلَّ ثَنَاءُكَ وَلَآ اِلٰهَ غَيْرُكَ" لوستل دي).

﴿۳﴾ بيا لاس پورته کولو نه بغير "اَللّٰهُ اَکْبَر" اولولئ او بيا دُرُودِ اِبراهِيم اولولئ.

﴿٤﴾ بيا لاس پورته کولو نه بغير "اَللّٰهُ اَکْبَر" اولولئ او د جنازے د لـمانځه دُعا اولولئ (د بالغانو د جنازے صرف يوه دُعا ده او د نابالغه هلك او نابالِغے جينئ جُدا جُدا دُعا ده. که دُعا چا ته نه وي ياده هغه دِ يوه قُرآني دُعا اولولي)

﴿۵﴾ بيا لاس پورته کولو نه بغير "اَللّٰهُ اَکْبَر" اولولئ او دواړه لاسونه زوړند کړئ.

﴿٦﴾ بيا دواړه طرفه ته سلام اوکړځوئ.

## جنازے ته د اُوګے ورکولو ٦ مَدَنـي ګلونه

﴿١﴾ جنازه وړلو کښې بر سر مخکښې کول پکار دي او پرله پسے څلورو واړو ښپو ته داسې اُوګه ورکړئ چه

﴿٢﴾ مخکښې د بر سر ښي طرف ته اُوګه ورکړئ (داسې چه د مړي ښئ اُوګه ستاسو په ښئ اُوګه وي) او لس قدمه لاړ شئ.

﴿٣﴾ بيا د ښي طرف نه اُوګه ورکړئ او لس قدمه لاړ شئ، هم دغسې

﴿٤﴾ د بر سر ګڅ طرف ته اُوګه ورکړئ او لس قدمه لاړ شئ

﴿٥﴾ بيا د ګڅې ښپے طرف نه اُوګه ورکړئ او لس قدمه لاړ شئ

﴿٦﴾ که غواړئ نو داسې اعلان اوکړئ: ”د جنازے هرې ښپے ته اُوګه ورکوئ او لس لس قدمه ځئ.“

## د خخولو ١٧ مرحلے

﴿١﴾ اديره کښې خخولو د پاره داسې ځائے اخستل [يا خوښول] پکار دي کوم ځائے چه مخکښې قَبْر نه وي.

﴿٢﴾ د قَبْر اُوګړدوالے د مړي د ونې [يعني قَد] نه لږ زيات، پلن والے د نيمې ونې او جوَروالے کم از کم د نيمې ونې همره پکار وي او بهتره دا ده چه جَوَروالے هم د هغه د پوره ونې همره اوکړے شي.

﴿٣﴾ قبر کښې که د خښتو ديوال جوړ شوے وي نو د مړي د راوړلو نه مخکښې د قَبْر او د [سيمنټو د] سليپونو دننه طرف په خټه ليو کول.

﴿٤﴾ مخې ته قبلے طرف ته ديوال کښې تاخ جوړول او په هغے کښې عهدنامه، شجره شريف، وغيره تَبَرُّکات ايښودل.

﴿٥﴾ دننه طرف ته تختے په سُوْرَۂ يٰسٓ ، سُوْرَۂ مُلْك او دُرُودِ تاج باندې دمول.

﴿٦﴾ مړے د قبلے د طرفه قَبْر ته کوزول.

﴿٧﴾ زنانه مړے د کوزولو د وخت نه واخله تختے لګولو پورې په يوه کپړه پټول.

﴿٨﴾ قَبْر ته کوزولو وخت کښې دا دُعا لولئ: بِسْمِ اللّٰهِ وَعَلٰى مِلَّةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ

﴿٩﴾ مړے په ښئ ډډه څملوئ يا ئې مخ قبلے ته کړئ او د کفن غوټې خلاصې کړئ.

(د مړي د راتلو نه مخکښې په قبر کښې د پستے خاورې يا نرئ شګې بالنسبت شان جوړ کړئ او هغے ته د مړي ډډه اولګوئ او ښئ ډډه باندې ئې څملوئ که دا نه شي کيدے نو مخ ئې په آسانئ چه څومره کيدے شي قبلے ته کړئ)

﴿١٠﴾ خخولو نه پس د قَبْر د بر سر طرف نه پرې درې ځله خاوره واچوئ، په وړومبي ځل مِنْهَا خَلَقْنٰكُمْ (مونږه ته د زمکې نه جوړ کړې) په دويم ځل وَفِيْهَا نُعِيْدُكُمْ (او هُم دې ته به تا بيا بوځو) او په دريم ځل وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً اُخْرٰى (او د هُم دې نه به تا بيا را اُوباسو) اُووائې.

﴿١١﴾ قَبْر د اوښ د کوپان په شان پورته وتلے جوړوئ او اوچتوالے ئې د يوے لويشتې نه لږ زيات ساتئ.

﴿١٢﴾ خخولو نه پس په قَبْر اوبه واچوئ.

﴿۱۳﴾ په قبر ګلونه اچول چه تر څو شنه وي تَسْبِيْح کوي او د مړي زړه ورسره په راحت [يعني سکون] وي.

﴿۱٤﴾ خخولو نه پس ورته بر سر ته د سُوْرَةُ البَقَرَه د شروع آيتونه د الٓمّٓ نه مُفْلِحُوْن پورې او د ښپو د طرف نه د آخرئ رُکوع آيتونه د اٰمَنَ الرَّسُوْلُ نه د سورة د آخرے پورې لوستل.

﴿۱٥﴾ تلقين کول:

يو کس د قبر سر طرف ته اودريږئ او اُووائي: يافُلان اِبنِ فلانة [يعني اے فلانيه د فلانئ ځويه] مَثَلًا فاروق بِن آمِنه] هغه به واوري او جواب به نه ورکوي. بيا دِ اُووائي: يافُلان اِبنِ فلانة [ يعني اے فلانيه د فلانئ ځويه] هغه به سم کښيني. بيا دِ اُووائي: يافُلان اِبنِ فلانة [يعني اے فلانيه د فلانئ ځويه] هغه به اُووائي: "مونږ ته ارشاد اوکړه الله تعالٰی دِ په تا رحم اوفرمائي." خو تاسو ته د هغه د وئيلو خبر نه کيږي. بيا دِ اُووائي: اُذْكُرْ مَا خَرَجْتَ عَلَيْهِ مِنَ الدُّنْيَا: شَهَادَةَ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ، وَاَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ (صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) وَاَنَّكَ رَضِيْتَ بِاللّٰهِ رَبًّا وَّ بِالْاِسْلَامِ دِيْنًا وَّ بِمُحَمَّدٍ (صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) نَبِيًّا وَّ بِالْقُرْاٰنِ اِمَامًا۔

﴿۱٦﴾ دُعا و اِيصالِ ثواب کول.

﴿۱۷﴾ د قَبْر سر ته اذان کول، ځکه چه د اذان په بَرَکت مړے د شيطان د شر نه بچ کيږي، اذان سره رحمت نازليږي، د مړي غم ورسره ختميږي، ويره ئې ختميږي، د اور عذاب که راتلو والا وو نو پرې نه به راځي او د قَبْر د عذاب نه خلاصے مومي او د مُنکَر نکِير د سوالا تو جوابات وريادېږي.

# د مړي د غسل او د کَفَن دَفَن شرعي مَدَنـي ګلونه

اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ دعوتِ اسلامي د دِينِ متِين د خِدمت د پاره (2017ء پورې) ۱۰۰ نه زياتو شُعبه جاتو کښې "د نيکئ د دعوت" کارونه کوي، په دغه شُعبه جاتو کښې يو شُعبه "مجلِس تَجهِيز و تَکفِين" هُم ده، د دې شُعبے د مَدَني کارونو مُتَعَلِّق يو څو "شرعي مَدَنـي ګُلونه" اُوګورئ.

[دا مَدَنـي ګُلونه د "مجلِس تجهِيز و تَکفِين" د ذِمَّه دارانو د پاره دي]

﴿۱﴾ چه کله تاسو سره د مړي د کور کسان رابطه اوکړي نو اول د هغوئ نه دا معلومه کړئ چه د وفات کيدو ئې څومره ساعت شوے دے؟ معلوماتو نه پس د مړي خاوندانو ته د مړي مُتَعَلِّق د ضروري خبرو هدايات ورکړئ. لکه د مړي سترګې بندول، ګوتې او ښپے او لاسونه سمول، زنې تړل، او دا ټول کارونه دِ په ډيره زياته نرمئ سره اوکړے شي.

﴿۲﴾ د جنازے لـمونځ بعضې وخت ډير وخت پس کيږي، که آسانئ سره ئې پوهه کولے شئ نو د مړي د کور کسان په نرمئ او حِکمتِ عملئ سره پوهه کړئ چه د جنازے لـمونځ زر کول پکار دي، که هغوئ ناوخته کوي هم نو تاسو په غُسل ورکولو او کفن کښې مه ناوخته کوئ، دا فوراً اوکړئ، او که هغوئ ئې سرد خانه (cold storage) [يعني يخچال] کښې ايښودل غواړي نو حِکمَتِ عملئ سره ئې پوهه کړئ، که نه ئې مني نو تاسو ورته پخپله دا مه وائې چه مړے سرد خانه (cold storage) کښې کيږدئ.

عام طور په سرد خانه (cold storage) کښې ايښودل غير شرعي وي، بعضې وخت ئې پکښې د چا په انتظار کښې کيږدي، اول خو بغير د شرعي اجازت

نه ناوخته کول خِلافِ سُنَّت دي، بله دا چه مړي ته سرد خانه (cold storage) کښې سخت تکليف رسي ځکه چه د هغه بدن کنګل [يعني واوره] شي، ياد ساتئ! د څه نه چه ژوندي ته تکليف رسي د هغے نه مړي ته هُم تکليف رسي. څنګه چه حديث مبارك کښې دي: اُمُّ المُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدَتُنا عائشه صِدِّيقه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا نه رِوايت دے چه رَسُولُ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: اِنَّ كَسْرَ عَظْمِ الْمَيِّتِ كَكَسْرِهٖ حَيًّا. يعني بيشكه د مړي هډوکے ماتول هُم دغسې دي څنګه چه د ژوندي هډوکے ماتول. (سنن ابی داؤد، کتاب الجنائز، باب فی الحفار یجد العظم فی اللحد، ۳/۲۵۶، حدیث۳۲۰۷)

لِـهذا اول خو په دې خبره پوهه کول پکار دي چه زر ئې د خخولو ترکيب اوکړي، که نه ئې مني نو د موسم په اعتبار مشوره ورکړئ چه د AC [يعني ائير کنډيشنډ] په کوټه کښې ئې کيږدئ يا د پکي مخې ته د واوري ګټ کيږدئ چه يخه هوا پرې راځي او بهتره دا ده چه د دار الافتاء اَهلِسُنَّت د مُفتي صاحب نه رهنمائي واخلي بيا [د هغے مطابق] مشوره ورکړي.

﴿۳﴾ د مړي اطلاع چه کله درکړے شي نو که څه مجبوري نه وي نو حتَّی الاِمکان کوشش کوئ چه پخپله د غُسل د پاره ورشئ. په دې کښې د غريب او مالدار او د شخصِيَّت او غيرِ شخصِيَّت فرق کول نه دي پکار.

﴿٤﴾ مړي ته غُسل ورکول فرضِ کِفايه دي لِـهذا کوم اِسلامي ورور چه غُسل ورکوي د هغه د پاره ضروري دي چه د غُسل طريقه ئې پوره زده کړي وي. مړي سره د ډيرې زياتې نرمئ حکم دے لِـهذا پکار ده چه غُسل ورکوونکي ته آداب هُم معلوم وي او دا چه غُسل ورکوونکے مُعتَمِد (يعني قابِلِ اِعتِماد) وي چه که هغه په مړي کښې څه عيب اووينې نو چه د هغه پرده

اوساتي او پخپله هُم مړي سره ښه ګُمان ساتي، غُسل ورکولو وخت کښې د خَوفِ خُدا لحاظ ساتل ضروري دي، د مړي د غسل نه عِبرت حاصلوئ.

﴿۵﴾ غُسل کښې دِ صرف دومره کسان شاملیږي څومره چه ضرورت وي، چه زیات کسان نه وي، غُسل کښې مدد کولو د پاره که د کور هغه کسان شاملیږي څوك چه څه مدد کولے شي نو ښه ده ګنې هغه دِ هُم هلته موجود نه اُوسي، بعضو مقاماتو کښې د کور کسانو ته مړي باندې د یوے لوتے اړولو یا د کافورو د اوبو اړولو وئیلے کیږي، که دا [د کافورو نه علاوه] اوبه پرې د غسل پوره کیدو نه پس بے ضرورته اړولے کیږي نو اِسراف دے د دې اجازت نشته او که د غُسل حِصَّه وي او بے ستري ئې نه کیږي نو پرې اړولے ئې شي. بے د حاجته د مړي غُسل کښې د [مړي د] کورنئ کسان شاملول نه دي پکار، اګر که دا نِیَّت مو وي چه داسې به دوئ عِبرت حاصل کړي او دوئ ته به د نیکئ دعوت ورکول آسان شي. دے کښې شك نشته چه **اَمْرٌ بِالْمَعْرُوف و نَهْیٌ عَنِ الْمُنْکَر** (یعني د نیکئ حکم ورکول او بدئ نه منع کول) یو عظیم کار دے خو د دې د آدابو لحاظ ساتل هُم ضروري دي، د نیکئ دعوت د غُسل او کفن نه فارغیدو نه پس ورکول پکار دي. او د کفن کټ کولو وخت کښې د نیکئ دعوت ورکولو کښې باك نشته بلکه ښه خبره ده.

﴿۶﴾ اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د دعوتِ اسلامي **مَدَني ماحول** کښې شامل اِسلامي ورونړه **فِیْ سَبِیْلِ الله** غُسل ورکوي، دا مدني ګُل هم یاد ساتئ چه د مړي د غُسل معاوضه اخستل اګرچه جائز دي خو بعضو صورتونو کښې اغستل ناجائزه دي مَثَلًا که هلته بل څوك غُسل ورکونکے نه وي نو په هغه به غُسل ورکول ضروري شي او د هغه د پاره په هغے اُجرت [یعني مزدوري] اخستل ناجائزه دي. بعضو

مقاماتو لکه بلوچستان (پاکستان) کښې خلق د مړي جامے [يعني کپړے] وغيره په زور غُسل ورکونکي ته ورکوي، که هغه ئې وانخلي نو کور ته ئې ور رسوي، دا په ظاهره د اُجرت [يعني مزدورئ] صورت دے لِـهذا که د هغه نه سوا بل څوك غُسل ورکوونکے نه وي نو د هغه د پاره به د هغه څيزونو اخستل جائز نه وي، د مړي د کور کسان پوهه کړئ او هغه څيزونه بيرته اوکړځوئ او هغوئي ته دومره اُووائې چه د مړي په مال کښې اوس د ټولو وارثانو حِصَّه ده، تاسو دا هيڅ چا ته هُم نه شئ ورکولے، د دې د پاره د دارُالْاِفتاء اَهلِسُنَّت (رابطه نمبر 15-0220112-0300) باندې يايو سُنِّي مُفتي صاحِب سره رابطه اوکړئ.

﴿۷﴾ د مړي حالت که د عام حالت نه علاوه وي مَثَلًا داسې حالت کښې وي چه اوبه بهيول پرې نه شي کيدے يا ئې بعضې حِصّے داسې وي چه په هغے اوبه نه شي اړولے يا د مړي د بدن اکثره حِصَّه کټ شوي يا شليدلي وي وغيره نو ولے چه داسې حالاتو کښې پرې بعضې حالت کښې صرف اوبه اچولے کيږي او بعضو حالاتو کښې د تَيَمُّم صورت جوړيږي او بعضو حالاتو کښې به اصلًا غسل بالکل نه کيږي، لِـهذا که داسې معاملات وي چه په هغے کښې د غُسل ورکولو مُتَعَلِّق مشکلات پيښ شي نو خپل طرف نه د اجتِهاد کولو يا تجرِبه کولو په ځائے دارُالْاِفتاء اَهلِسُنَّت يا بل مُستَنَد سُنِّي مُفتي صاحب سره رابطه اوکړئ.

صَدرُ الشَّرِيعه، حضرت مولانا مُفتي مُحمد امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه بهارِ شريعت، حِصَّه ٤، جِلد١، صفحه ٨٦١ کښې فرمائي: که د مړي بدن داسې شوے وي چه که لاس ورورِئ نو څرمن ئې ولاړيږي نو لاس مه ورورِئ صرف اوبه پرې تيرې کړئ. (عالمگيری، کتاب الصلاة، الباب الحادی و العشرون فی الجنائز، الفصل الثانی، ١٥٨/١)

بهارِ شريعت، حِصَّه، جِلد۱، صفحه کښې دي: مړي ته که غسل ورکول نه شي کيدے، اګر که په دې وجه وي چه اوبه نشته يا په دې وجه چه د هغه بدن ته لاس لګول جائز نه دي لکه غيره ښځه يا خپله ښځه ځکه چه د مرګ نه پس هغے ته هُم لاس نه شي لګولے (او څوك غُسل ورکوونکے واقعةً نشته) نو هغه له دِ تَيَمُّم اوکړے شي، غير محرم له او اګر که خاوند وي او ښځه ورله تَيَمُّم کوي نو مينځ کښې کپړه حائل [يعني رُکاوټ] کيدل ضروري دي. (الدر المُختار معه رَدُّالمُحتَار کتاب الصلوٰة، باب صلوٰة الجنازة، مطلب فی قرأت عند المیت ۳۰/۱۰۵، ۱۱۰)

بهارِ شريعت حِصَّه ٤، جِلد۱، صفحه۸۱۵ کښې دي: که د يو مسلمان [د سر نه بغير] نيم نه زيات بدن وموندلے شي نو غُسل او کفن به ورکوي او د جنازے لـمونځ به ئې هُم کيږي او که د جنازے د لـمانځه نه پس هغه باقي ټکړه هم پيدا شوه نو په هغے به دوباره لـمونځ نه کيږي او که نيم بدن ئې وموندلے شو او هغے سره سر هُم وو نو بيا هُم دا حُکم دے او که سر ورسره نه وي [يعني هغه نيم بدن سره]، يا په اوګړدوالي د سر نه واخله ښپو پورې د ښي طرف يا کښ طرف يوه حصّه وموندلے شوه نو په دې دواړو صورتونو کښې نه غُسل شته او نه کفن او نه [د جنازے] لـمونځ بلکه يوه ټوټه کښې ئې تاؤ کړئ او خخ ئې کړئ. (الدر المُختار معه رَدُّالمُحتَار کتاب الصلوٰة، باب صلوٰة الجنازة، ۳/۱۰۷، و عالمگیری، کتاب الصلاة، الباب الحادی و العشرون فی الجنائز، الفصل الثانی، ۱/۱۶۹ وغیرهما)

﴿۸﴾ مړي له غُسل ورکولو د پاره که هر ځائے ته لاړ شئ، که کور وي او که د يوے فلاحي اِدارے يا هسپتال کوټه وي، د پردے مکمل احتياط پکار دے، چه نه د مړي بے سترې اوشي او نه پخپله د غُسل ورکوونکي د يو نامحرم يا نامحرمې سره د بے پردګئ معامَله اوشي.

﴿۹﴾ هغه مقامات چرته چه غسل نه ورکولے کيږي مَثَلًا د جُمات اودس خانه يا د جامعے يا مدرسے اودس خانه وغيره، دے مقاماتو کښې غُسل مه ورکوئ. هُم دغسې داسې مقاماتو کښې هم غسل مه ورکوئ چه د مړي بے حُرمتي پکښې کيږي مَثَلًا د اسونو غوزل وغيره، داسې ځائے کښې غُسل مه ورکوئ.

﴿۱۰﴾ د مړي څيزونه مَثَلًا د لاس کړه يا هر څيز (مَثَلًا د لاس کړئ، کوتئ وغيره) که وي نو هغه د مړي د کور کسانو ته ورکړئ، ځان سره ايښودل يا پخپله فقير ته صَدَقه کول جائز نه دي.

## کفن ورکولو باره کښې مَدَنـي ګلونه

﴿۱۱﴾ کفن صرف د سُنَّتو مطابق ور اغوندئ، څومره ټوټے [کپړے] چه سُنَّت دي صرف هغه همره ټوټے ور اغوندئ، د هغه د يو خپلوان وغيره په وينا فالتو کپړه مه ور اغوندئ، خصوصاً د اسلامي خويندو باره کښې د مختلفو څيزونو کيښودو ضد کيږي، داسې صورت کښې هغوئ ته شرعي مسئله بيانوئ. البته که د تَبَرُّك [يعني بَرَکت] په طور څه کپړه ايښودل غواړي نو هغه په داسې انداز کيږدئ چه د کفن حِصَّه نه معلوميږي.

﴿۱۲﴾ د کفن نه چه کومه کپړه پاتې شي هغه د هغے مالِك ته ورکړئ، د کور کسانو کښې چه چا راوړي وه که د ترکے نه ئې راوړي وه يا راغوښتي وه نو پاتې به هُم ترکه شميرلے کيږي، هغه وارثانو ته ورکړئ، پخپله د ورلو يا صَدَقه کولو اجازت نشته او د سُنَّت کفن پوره کيدو نه پس هغه پاتې حِصَّه کفن کښې د شاملولو اجازت هم نشته.

﴿۱۳﴾ په غُسل او کفن کښې هيڅ قِسمه غير شرعي مطالبه پوره کول نه دي پکار. مَثَلًا د مړي د نامه نه لاندې ويښته او د ترخونو ويښته کټ کول. مړي ته زِينت [يعني ميك اپ وغيره] نه شي ورکولے لِـهذا رانجه وغيره ورله مه لګوئ، دغسې بعضې ځايونو کښې بے واده جينئ ناوې جوړوي او بے واده هلك ناوکے جوړوي، د دې شرعاً اجازت نشته، که ممکن وي نو په حِکمت سره ئې پوهه کړئ، پخپله دے کارونو کښې بالکل مه شريك کيږئ.

د مړي ګيره يا سر ګمنزول يا نوکان پريك کول يا د څه ځائے ويښته کټ کول ناجائزه او مکروهِ تَحريمي دي، لِـهذا د دې کارونو نه هُم بالکل ډډه کول پکار دي. بهارِ شريعت، حِصَّه٤، جِلد١، صفحه٨١٥ کښې دي: د مړي ګِيره يا د سر ويښته ګمنزول يا نوکان کټ کول يا د څه ځائے ويښته خرئيل يا تراشل يا ويستل ناجائزه او مکروهِ تَحرِيمي دي بلکه حکم دا دے چه په څه حالت دے په هُم هغه حالت ئې خخ کړئ، خو که نُوك ئې مات شوے وي نو هغه تري اخستے شئ او که نوکان يا ويښته مو تري کټ کړل نو کفن کښې ئې کيږدئ. (الدر المُختار معه رَدُّالمُحتَار کتاب الصلوٰة، باب صلوٰة الجنازة، مطلب فی قرأت عند المیت، ۱۰٤/۳ و عالمگیری، کتاب الصلاة، الباب الحادی و العشرون فی الجنائز، الفصل الثانی، ۱۵۸/۱)

﴿۱٤﴾ که چا د کپړے [رخت] تان د دې د پاره اينبے دے چه د دې نه به د کفن د پاره د مړي کورنئ باندې په بيعه خرڅوم نو په دې کښې د يو څو خبرو احتياط انتهائي ضروري دے، که کفن د مړي خاوندانو باندې خرڅوي نو د مخکښې نه به بيعه وغيره پريك کوي او دا به واضحه کوي چه دا د ده خپله کپړه ده کومه چه خرڅوي، د بيع (يعني اخستلو خرڅولو) نورو شرطونه باندې به هُم عمل کوي او داسې بالکل نه دي پکار چه که د کور کسانو د مخکښې نه کفن راغوښتے وي او دا ضد کوي چه کفن زما نه واخلئ، خير هُم دې کښې

دے چه غُسل ورکوونکے د مړي خاوندانو سره د کفن اخستلو خرڅولو معامله بالکل نه کوي بلکه هغوئي ته اُووائي چه پخپله بندوبست اوکړئ.

﴿۱۵﴾ د غُسل ورکولو او کفن نه پس که د مړي کورنئ سره کښيناستل شرعاً او د هغوئي د لحاظ ساتلو د پاره کيدے شي نو ضرور کښينئ او هغوئي ته تسلّي ورکړئ. که شرعاً صحيح نه وي مَثَلًا بے پردګي کيږي يا د حالت تقاضه وي چه کښيناستل نه دي پکار نو مه کښينئ.

## د جنازے د لـمانځه د جَمعے ورکولو مَدَنـي ګلونه

﴿۱۶﴾ د جنازے د لـمانځه د جَمعے ورکولو د پاره اول د مجلِس تجهِيز و تَکفِين د طے شوي طريقۀ کار مطابق تيستې پاس کول ضروري دي. هُم دغسې اِمامت کولو د پاره دا هُم ضروري دي چه قِراءَت ئې صحيح وي، د جنازے د جَمعے ورکولو طريقه ورته ياده وي او د ضروري بُنيادي مسائلو عِلم هُم لري.

﴿۱۷﴾ د مړي د کور نه چه د ادیرے فاصله زياته وي نو بعضې وخت بس/ ټرک وغيره کښې د مړي وړلو ترکيب کيږي، د دې سفر په دوران کښې که اِصلاحي بيان اوکړے شي نو د دې خبرې احتياط ضروري دے چه په يادو بيان مه کوئ بلکه د مَکْتَبَةُ الْمَدِينه نه چاپ شوي رِسالے نه په کتلو بيان کوئ او قبرِستان [يعني ادیرے] ته د حاضريدو آداب هُم بيانوئ.

﴿۱۸﴾ ادیرے ته چه اورسيږئ او قَبْر باندې د ښپو ايښودلو نه بغير رسيدلے شئ نو لا ړ شئ او که نه شي کيدے نو صرف دومره کسان دِ ځي د خومره کسانو چه د مړي خخولو د پاره ضرورت وي، باقي کسان دِ بهر ولا ړ اوسي، نور خلق که په آسانئ پوهه کولے شئ نو په مينه مَحبَّت ئې پوهه کوئ او که د فساد اندیښنه وي نو په دې موضوع خبره مه کوئ خو پخپله مه ورځئ.

﴿۱۹﴾ قَبْر سره کټ داسې احتياط باندې ګړېدئ چه بل يو قَبْر باندې د کټ ښپه رانشي او قَبْر نه قِبلے طرف ته ئې ګړېدئ او کوزوئ ئې هُم د قِبلے له طرفه.

﴿۲۰﴾ که جنازه د يوے اسلامي خور وي نو صرف مَحارِم دِ تِول کارونه کوي، قَبْر ته کوزولو کښې دِ غير مَحرم بالکل نه شاملېږي، سِوا د دې صورت نه چه کله شريعت اجازت ورکوي.

﴿۲۱﴾ قَبْر ته د کوزولو طريقه او د دې سره مُتَعَلِّق ضروري مسائل مَثَلًا د څملولو طريقه، قَبْر کښې که پخې خښتې لګيدلي وي نو هغه په خټه ليو کول او د عَهدنامے وغيره ايښودلو طريقه وغيره لازمي زده کړئ.

﴿۲۲﴾ قَبْر ته کوزولو وخت کښې او د مړي څملولو وخت کښې خلق قِسما قِسم مشورے ورکوي، کومه طريقه چه مَسنُون ده د هغے خِلاف د چا د خبرې منلو اجازت نشته.

﴿۲۳﴾ قَبْر باندې خاورې اړولو کښې هُم حَتَّی الاِمکان صرف مسنون طريقه باندې عمل کوئ، خخولو نه پس د اَهلِسُنَّت د معمولاتو مطابق د فاتِحه، اذان او تَلقِين وغيره ترکيب کوئ. مړي سره ښيګړې د پاره چه څومره کيدے شي د قَبْر خوا ته حصاريږئ او ذِکر و اَذکار او نعت خواني کوئ.

﴿۲۴﴾ د مړي په کور کښې چه درې ورځو پورې کوم طعام د دعوت په طور پخيږي، د هغے د خوړلو شرعاً اجازت نشته، لِـهذا بالکل هغه طعام مه خورئ.

﴿۲۵﴾ اِسلامي ورور يا اِسلامي خور څوك هُم چه د مړي کور يا دريمه وغيره کښې بيان کوي، هغه ټول بيانونه دِ مَکْتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوو کتابونو او رسالو نه

کوي او د موجوده ماحول مطابق دِ موضوع اختياروي. (مَثَلًا شرِ محل، د مړي بے وسي، د مړي غمونه، د قبر ړومبئ شپه، د قبر امتحان، د قبرونو والوٗ حکايات وغيره. د دې نه علاوه کتاب "د کَفَن دَفَن طريقه" کښې هُم درې بيانونه ورکړے شوي دي)

﴿۲۶﴾ کوم اسلامي ورور يا اِسلامي خور چه د مړي د کور د کسانو نه د مړي د اِيصالِ ثواب د پاره د عطيه (يعني چنده) اخستلو ترکيب کوي يا ئې د کور کسان پخپله وړاندې کوي نو هغوئي دِ ئې په هم هغه الفاظو وصولوي کوم چه هُم دې کتاب "د کَفَن دَفَن طريقه" کښې ليکلي ورکړے شوي دي او د چا نه ئې چه اخلي هغه هُم په ښه طريقه پوهه کوئ.

## اِسلامي خويندو د پاره يو څو جُدا مَدَنـي ٹکلونه

﴿۲۷﴾ اسلامي خويندو سره به رابطه صرف اسلامي خور کوي يا به د هغوئي د مَحارِم په ذريعه ترکيب کيږي. چا کره چه مړي ته غُسل ورکولو د پاره ځئ نو مخکښې پوره معلومات او اطمينان حاصلولوئ.

﴿۲۸﴾ اِسلامي خور دِ خپل فون نمبر هيڅ چا ته هُم نه ورکوي، که د مړي کور کښې ئې څوك اُوغواړي نو د خاوند يا د بل مَحرم نمبر ورکوئ.

﴿۲۹﴾ ښار کښې که داسې علاقو ته د تللو ضرورت پيښ شي چه هغه د خپلې علاقے نه لرې وي او لاره کښې شړے علاقے هُم راځي نو مَحرم سره ځئ يا که بس کښې داسې سفر کيدے شي چه د ځان او عِزَّت حفاظت پکښې کيدے شي نو ځئ.

﴿۳۰﴾ که غُسل ورکوونکي اِسلامي خور واده شوي وي نو د خاوند په اجازت دِ ځي او که بے واده وي نو د مور و پلار په اجازت دِ ځي.

مجلِس تجهِيز و تَکفِين (دعوتِ اسلامي)

۱ ذِيقعدَةُالحَرام ۱۴۳۷ھ، 5 اگست 2016 ء

## د مرحومو مور و پلار مُتَعَلِّق د ګلونو رَضَوي ګلدسته

﴿۱﴾ د مړ کیدلو نه پس د هغوئي د ټولو وړومبے حق د هغوئي د غُسل و کفن او د جنازے او د خخولو انتظام کول دي او په دې معاملاتو کښې د سُنَّتو او مُستحباتو خیال ساتل پکار دي چه د هغوئي د پاره د هرې ښیګړې او بَرَکت او رَحمت او فراخئ اُمید وي.

﴿۲﴾ همیشه دِ د هغوئي د پاره دُعا او استغفار کوي او کله دِ هُم د دې نه غفلت نه کوي.

﴿۳﴾ د صدقه او خیرات او نیکو اعمالو ثواب دِ هغوئي ته مسلسل بخښي، خپلو لـمونځونو سره دِ څه نفلونه او د فرضو روژو نه علاوه دِ نفلي روژے هُم نیسي بلکه هر نیك کار چه کوي د ټولو ثواب دِ هغوئي او ټولو مسلمانانو ته ایصال کوي [یعني بخښي] چه هغوئي ټولو ته به ثواب هُم ور اورسي او د ده په ثواب کښې به څه کمے هُم نه کیږي بلکه ډیره ترقي به پکښې کیږي.

﴿٤﴾ که په هغوئي قرض وي نو د هغے د ادا کولو د پاره چه څومره کیدے شي تادي دِ اوکړي او د خپل مال نه دِ د هغوئي قرض ادا کول د دواړو جهانو سعادت اوګڼړي، که پخپله ئې نه شي ادا کولے نو عزیزانو او خپلوانو نه دِ مدد واخلي او که دا هُم نه شي کیدے نو د نیکو مالدارانو نه دِ اِمداد واخلي.

﴿۵﴾ که د هغوئي کوم فرض ادا کیدو نه پاتې شوے وي نو څومره چه قُدرت لري د هغے د ادائیګئ کوشش دِ اوکړي، مَثَلًا حج فرض وو او نه ئې وو کړے نو اوس دِ پخپله د هغوئي له طرفه حج اوکړي یا دِ ورله په چا حج بدل اوکړي، هُم دغسې که د زکوٰة یا عُشر ادائیګي پرې پاتې وي نو هغه دِ ادا کړي، یا ئې

که لـمونځ روژه پاتې وي نو د هغے کَفّاره دِ ورکړي. هُم دغسې چه د هغوئي په ذِمّه څه پاتې وي د هغے د خلاصولو کوشش دِ اوکړي.

﴿٦﴾ د شرعي اُصولو مطابق چه هغوئي کوم جائز وَصِيَّت کړے وي د هغے د پوره کولو دِ هر ممکِن کوشش اوکړي اګر که شرعاً په ده لازِم نه وي، مَثَلًا هغه د خپل يو عزيز غيرِ وارِث يا يو غير کس د پاره د نيم جائداد وَصِيَّت کړے وي نو شرعاً به د دريمې حِصّے مال نه زيات کښې د وارثانو د اجازت نه بغير په هغه وَصِيَّت عمل نه کيږي [1] خو اولاد د پاره بهتره ده چه د هغوئي وَصِيَّت ومني او د خپل خواهش په ځائے د هغوئي خوشحالئ ته اوګوري.

﴿٧﴾ د هغوئي هر جائز قَسَم دِ د هغوئي د وفات نه روسته هُم پوره کوي مَثَلًا مور و پلار ئې قَسَم خورلے وو چه زما ځوئ به فلانکي ځائے ته نه ځي يا به فلانکي سره ملاقات نه کوي يا به فلانکے کار کوي نو اوس دِ دا خيال نه کوي چه هغوئي خو نشته، د هغوئي د قَسَم څه اعتِبار [پاتې دے]، نه! بلکه د هغے دِ هُم هغسې پابند اوسي څنګه چه د هغوئي په ژوند کښې اوسيدو، خو که د شريعت خلاف ورزي کيږي نو بيا دِ د هغوئي قَسَم نه پوره کوي، او دا حُکم قَسَم سره خاص نه دے بلکه هر جائز کار کښې دِ د هغوئي د خوښې خيال ساتي.

﴿٨﴾ د هرې **جُمُعے** په ورځ دِ د هغوئي قبرونو ته حاضريږي، هلته دِ لږ شان اوچت آواز کښې د **سُوْرَۂ يٰسٓ** تلاوت کوي او د هغوئي رُوح ته دِ ئې اِيصالِ

---

[1] د ميراث متعلق د شرعي احکامو معلوماتو حاصلولو د پاره د **مَکْتَبَۃُ الْمَدِيْنه** چاپ شوي رِساله "**مالِ وِراثت میں خیانت نہ کیجئے**" ضرور ولولئ.

ثواب کوي او چه کله هُم د هغوئي د قَبْر په خوا تيريږي نو سلام دِ کوي او فاتِحه دِ لوَلي

﴿۹﴾ د هغوئي د خپلوانو يعني [ترونو، ماماګانو، تروريانو وغيره] سره دِ ټول عُمر نيك سلوك کوي.

﴿۱۰﴾ د هغوئي دوستانو سره دِ دوستي پخه ساتي او هميشه دِ د هغوئي اِعزاز و اِکرام کوي.

﴿۱۱﴾ هيڅ کله دِ هُم بل چا ته بد رد نه وائي چه هغوئي د ده مور و پلار ته بد رد نه وائي.

﴿۱۲﴾ ټولو نه اهم ترين، افضل ترين او د ټول عُمر د پاره پرې دا حق دے چه کله هُم په څه ګناه کولو هغوئي قَبْر کښې نه خفه کوي ځکه چه د ده د ټولو اعمالو خبر مور و پلار ته رسي، چه نيکئ پکښې ويني نو خوشحاليږي او مخونه ئې د خوشحالئ نه ځليږي او چه ګناه پکښې ويني نو خفه کيږي او زړونه ئې غمژن شي، د مور و پلار دا حق نه دے چه قَبْر کښې هُم هغوئي ته خفګان اورسوي. (ماخوذ از فَتَاوٰی رَضَوِیَّه، ۲۴/۳۹۱)

## د وارثانو د پاره مَدَنـي ګلونه

عالمِ انقلاب ہے دنیا، چند لمحوں کا خواب ہے دنیا
فخر کیوں دل لگائیں اس سے نہیں اچھی خراب ہے دنیا

چه د مړي د غُسل د پاره ورشئ نو د مړي د کورنئ يو پوهه کس ته دا مَدَنـي ګُلونه ورپاندې کوئ، ضرورتاً پکښې کمے زياتے کولے شئ. که

غواړئ نو "د فاتِحه طريقه، د قبرونو والوۍ حِکايات، او چمکدار کفن" نه مدد حاصل کړئ.

﴿۱﴾ د غُسل لوښي چه وينځلے شي نو بيا ئې استعمالولے شئ. (تفصيل صفحه 80، 81 کښې)

﴿۲﴾ نوحه کولو ته څوك بالكل مه پريږدئ. (تفصيل صفحه 142 کښې)

﴿۳﴾ که کيدے شي نو تَعزِيَّت د پاره جمع شوو خلقو ته څادر خور کړئ او د اويا زره ځله کلمه طيبه ختم پرې اوکړئ او مړي ته ئې اِيصالِ ثواب کړئ. (تفصيل صفحه 151، 152 کښې)

﴿٤﴾ هره جُـمُعه اديرے ته د تللو او د مرحوم/مرحومې قَبْر باندې د ګُلونو اچولو او سُوْرَۂ يٰسٓ شريف وئيلو معمول جوړ کړئ. (تفصيل صفحه 151، 178، 179 کښې) (اسلامي خويندې دِ د خپل کور اسلامي ورونړو ته د دې ترغيب ورکوي)

﴿۵﴾ اِيصالِ ثواب د پاره د نفلونو او صَدَقه و خيرات معمول جوړ کړئ. (تفصيل صفحه 153 کښې)

﴿٦﴾ که د مړي په ذِمَّه قرض يا د چا مالي مطالبه وي نو زر تر زه د هغے د ادائيګئ ترکيب کوئ.

حديثِ پاك کښې دي چه مړے خپل دَين [يعني قرض، يا هر هغه څيز چه قابِلِ ادا وي هغے] کښې ګرفتار اوسي، يو روايت کښې دي چه د هغه رُوح زوړند اوسي تر څو چه دَين ادا نه کړے شي. (حِلْيَةُ الْاَوْلِيَاء لابی نعيم، سعد بن ابراهيم الزهری، ۲۰۱/۳، حديث۳۷۰۲ و مُسند الطيالسی، عمر بن ابی سلمة عن ابی هُريرة، ص۳۱۵، حديث۲۳۹۰)

﴿۷﴾ د مړي په ذمه که لـمونځونه، روژے قضا وي نو د هغے فِديه ادا کړئ. هُم دغسې که د زکوٰة ادائيګي پرې باقي وي نو د هغے او د فرض حج نه کولو په صورت کښې د حجِ بدل ترکيب هُم اوکړئ. (د فِديه تفصيل صفحه 182 کښې)

﴿۸﴾ که وس لرئ نو د مړي د اِيصالِ ثواب د پاره جُمات جوړ کړئ، که نه وي نو د جُمات، مَدرَسةُ الْمَدينه يا جامِعَةُ الْمدِينه په تعمير کښې حِصَّه شامله کړئ نو دا به د مرحوم/مرحومې د پاره ثوابِ جارِيه شي. (تفصيل صفحه 265 تا 268 کښې)

﴿۹﴾ د مَكْتَبَةُ الْمَدِينه شائع کړي رسالے تقسيم کړئ، مړي ته به زبردست ثواب رسي. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ (تفصيل صفحه 258، 259 کښې)

﴿۱۰﴾ که مور و پلار کښې څوك وفات شوے وي نو ټول خويندې وروڼه دا اِراده اوکړئ چه اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی ځان به ګناهونو نه ساتو ځکه چه د اولاد اعمال مور و پلار ته پيش کيږي، په ښه عمل خوشحاليږي او په بد خفه کيږي. (تفصيل صفحه 175 کښې)

﴿۱۱﴾ د مَكْتَبَةُ الْمَدِينه رساله "مالِ وراثت میں خیانت نہ کیجئے" اولولئ اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی زبردسته رهنمائي به مو اوشي.

د ګناهونو نه بچ کيدلو او نيکئ باندې اِستِقامت حاصلولو د پاره د دعوتِ اسلامي مدني ماحول سره خپل تَعَلُّق مضبوط ساتئ، مَدَني انعاماتو باندې عمل او هفته واره د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې پابندئ سره شرکت خپل معمول جوړ کړئ.

# د کَفَن دَفَن د تربِيَّت مَدَنـي ګلونه

(مجلِس تجهِيز و تَکفِين (اسلامي خويندې))

﴿۱﴾ د تجهِيز و تَکفِين ذِمَّه داران (علاقه سطح) دِ (رمضان نه علاوه) هره مياشت علاقه سطح باندې د کَفَن دَفَن د تربِيَّت ترکيب جوړوي. او د تجهِيز و تَکفِين ذِمَّه داران (ډويژن و کابينه سطح) د عملي جَدوَل مطابق د تجهِيز و تَکفِين په اِجتِماع کښې ضرور شرکت کوئ.

❁ بهتره ده چه (سِوا د رمضان نه) د هرې عيسوي مياشتې په آخرئ عَشَره کښې کومه ورځ، د هفته واره سُنَّتو ډکه اِجتِماع، تربِيَّتي حلقے، مَدَنـي دورے نه علاوه مقرره کړے شي او اِجتِماع ګاه کښې يا داسې ځائے کښې کوم چه د هفته واره سُنَّتو ډکې اِجتِماع شروع کولو د مَدَنـي ګُلونو مطابق وي، د ماهانه تربِيَّت ترکيب جوړ کړے شي.

❁ جامِعَةُ الْمدِينه او مَدرَسةُ الْمَدينه کښې د رُخصت په ورځو [يعني چوتيانو] کښې يا د سبق د وخت نه پس د تجهِيز و تَکفِين د تربِيَّت ترکيب جوړيدے شي. (دارُالْاِفتاء اَهلِسُنَّت نه د تفتيش نه پس به حتمي فيصله کيږي)

❁ د "تجهِيز و تَکفِين" د تربِيَّت نه کم از کم يوه هفته مخکښې دِ هفته واره سُنَّتو ډکه اِجتِماع او تربِيَّتي حلقه وغيره کښې د "تجهِيز و تَکفِين" د تربِيَّت د پاره ترغيبي اعلان ضرور اوکړے شي.

❁ داسې ځائے چه هلته صرف زنانه دُکانداري وي، هلته د هغوئ په اجازت د ماهانه تجهِيز و تَکفِين تربِيَّت د تشهِير د پاره بينر لګيدے شي.

❁ د دې وخت درې ګينټے او 12 منټه او د شُرکاؤ شمير چه کم از کم 26 او زيات نه زيات 41 وي. (که چرته د شُرَکاء شمير د دې نه څه زيات يا کم وي نو بيا هُم ترکيب جوړوئ)

﴿۲﴾ که مُلك کښې يا د مُلك نه بهر چرې مخصوص ځائے کښې "مړي ته غسل" ورکولے کيږي نو هغه ځائے کښې هم د "تجهِيز و تَکفِين" د تربِيَّت ترکيب کيدے شي. (خو ياد ساتئ چه شرعي او تنظيمي طور څه نقصان پيښ نه شي)

﴿۳﴾ د تجهِيز و تَکفِين د تربِيَّتي اِجتِماع مکمل ترکيب دِ د "جَدوَل برائے تجهِيز و تَکفِين اِجتِماع" مطابق جوړ کړے شي. (جَدوَل برائے تجهِيز و تَکفِين اِجتِماع، د ځنکدن بيان، مړي ته د غُسل ورکولو نِيَّتونه، د تجهِيز و تَکفِين متعلق سوال جواب، کتاب "د کَفَن دَفَن طريقه کښې موجود دي)

❁ د تجهِيز و تَکفِين ذِمَّه دار (علاقه سطح) دِ د تجهِيز و تَکفِين اِجتِماع نه زيات و کم يوه هفته مخکښې د جَدوَل مطابق د وار ورکولو ترکيب جوړوي.

﴿٤﴾ هره حلقه کښې کم از کم دوه او زياتو نه زياتې اته نوي اِسلامي خويندې (يعني هغه اسلامي خويندې کومې چه مَدَني ماحول سره د پخوا نه تَعَلُّق ساتي خو د تنظيمي کارونو ذِمَّه دارې نه وي) د دې نه علاوه عامې اسلامي خويندې کومې چه د مړي د غُسل طريقه زده کولو شوق لري هغوئي هُم تربِيَّت کښې شاملولے شئ. ځکه چه د مړي د غُسل د تربِيَّت مقصد هُم دا دے چه هره عاشِقهٔ رسول مړي ته غُسل ورکول زده کړي چه بيا هغه د خپل کور او د خپلوانو [زنانۂ] پخپله د غُسل او کفن ترکيب کولے شي. (البته مړي ته د غُسل ورکولو اجازت به تيست کښې پاس شوي کس ته وي)

۞ د تجهِيز و تَـكـفِين ذِمَّه دارې (ډويژن او مُلك سطح) دِ د **جامِعَةُ الْمدِينه** (لِلبنات)، **مَدرَسةُ الْمَدينه** (للبنات) او **دارُ الْمدينه** (للبنات) طالباتو، مُعَلِّماتو او ناظِماتو ته هُم د شركت كولو ترغيب وركړئ چه هغوئ ته هُم د دې مَدَنـي كار خبر اوشي. (ياد ساتئ! د جامِعَةُ الْمدِينه/مَدرَسةُ الْمَدينه/ دارُ الْمدينه (للبنات) سبق باندې [د دې تربِيَّت په وجه] بالكل اثر پريوتل نه دي پكار.

۞ كه څوك پروفيشنل غَسّاله [يعني اُجرت باندې غُسل وركوونكي] په خپل شوق تجهِيز و تَـكـفِين زده كول غواړي نو هغه هُم شاملولو د پاره راغوښتے شئ. خو ياد ساتئ چه زمونږه مقصد به صرف دا وي چه دا "د مړي د غسل" صحيح طريقه زده كړي. مونږه به هغه د خپلو تنظيمي اُصولو وغيره نه پابنده كوو.

﴿٥﴾ علاقه سطح باندې د تجهِيز و تَـكـفِين د تربِيَّت صرف د هغه اِسلامي خويندو تركيب جوړوئ كومې چه د ټيستې مجلس لِلبَنات نه مُـمتاز د تجهِيز و تَـكـفِين اهل قرار شوي وي البته طريقه دِ د كتاب تجهِيز و تَـكـفِين نه په كتلو بيان كړے شي.

﴿٦﴾ تجهِيز و تَـكـفِين ذِمَّه داران (علاقه سطح) دِ د تربِيَّت په ورځ كتاب "د كَفَن دَفَن طريقه" صفحه 72 نه 92 كښې د موجود مواد په مدد نورو ته د زده كولو تركيب جوړوي.

﴿٧﴾ د تجهِيز و تَـكـفِين تربِيَّت والا ورځ د غُسل و كفن طريقه ښودلو وخت كښې دِ د مطلوبه څيزونو يعني د مالوچو، دوه څادرو، درې مڼ [يعني لـمبولو والا لوتے]، يو پيكټ اګربتئ، يو د تِيلو ډبے، يوه توليه، يو صابن، قينچي، د

کفن ټوټه [يعني کپړه]، پزکے، ستن او تار، د ګلونو لړئ او د کافورو ترکيب جوړ کړے شي (ياد ساتئ د مړي د غُسل تربِيَّت کښې اوبه مه استعمالوئ).

﴿۸﴾ د تجهِيز و تَکـفِين د تربِيَّت په ورځ د تجهِيز و تَکـفِين طريقه زده کولو والؤ د پاره دِ پيکټونه جوړ کړے شي او هغه دِ د اَخراجاتو مطابق قيمتاً ورکړے شي. پيکټ کښې دا څيزونه پکار دي: ۳ عدد نقشِ نَعلِ پاك، ۳ عدد شجره شريف (جيبي سائز)، ۳ عدد عهدنامه، ۳عدد پمفلټ ''کفن کے لیے 4 انمول تُحفے'' ۳عدد د شين ګُنبد تصويرونه (اګر که سټيکرې وي)، (دا ټول څيزونه دِ يو يو عدد د مړي لواحقاتو ته قبر کښې ايښودلو د پاره ورکړے شي چه د اسلامي ورونړو په ذريعه د دې ترکيب جوړ کړي) ۱ عدد وړوکے بوتل آبِ زَم زَم، ۱ عدد رساله د مړي بے وسي يا د قَبْر وړومبئ شپه، يوه رساله د فاتِحه طريقه، يو وړوکے پيکټ د خاكِ شِفا (صرف يوه ټُونګه، که وي)، درې پيکټه د مدينے مُنَوَّرے د کجورو هډوکي (يو پيکټ کښې دوه) يو عدد نَيل پالِش ريموور او تجهِيز و تَکـفِين کارډ.

❁ که پروفيشنل غَسّاله پيکټ اخستل غواړي نو ورکولے ئې شئ.

﴿۹﴾ تجهِيز و تَکـفِين اِجتِماع کښې شريکو اسلامي خويندو کښې چه کومو اسلامي خويندو ذهن جوړ شي او د تجهِيز و تَکـفِين د کار کولو شوق ښکاره کړي نو د ټيسټ مجلس لِلبَنات په زريعه دِ کله د هغوئ ټيسټ واخستے شي او د مناسب کيدو په صورت کښې دِ تجهِيز و تَکـفِين د پاره تللو والا اسلامي خويندو په لِسټ کښې د هغوئ نومونه هم شامل کړے شي.

# د تجهِيز و تَکـفِين طريقه ښودلو وخت کښې نظر کښې ساتونکي مَدَنـي ګلونه

د تجهِيز و تَکـفِين طريقه ښودلو وخت کښې دِ د لاندې ليکلو مَدَنـي ګُلونو مطابق ترکيب جوړ کړے شي.

﴿۱﴾ د [ګفَن دَفَن طريقه] ښودلو په دوران کښې د شروع نه آخرې پورې سنجيدګي برقراره ساتئ بالخصوص کومې اسلامي خور ته چه کفن ور اغوستلې کيږي هغه دِ ډيره زياته سنجيده اوسي. بهتره ده چه هر ځل دِ د جُدا جُدا اسلامي خور ترکيب جوړ کړے شي.

❁ کومې اسلامي خور ته چه کفن ور اغوستلې کيږي هغه که غواړي نو د کفن کپړه دِ په بَيعه واخلي او د خپل ناپ دِ ئې کټ کړي او ځان له دِ ئې اوساتي نو بيا به هر ځل د اخستلو ضرورت نه راځي.

﴿۲﴾ علاقه سطح باندې ماهانه کيدونکي د تجهِيز و تَکـفِين په اِجتِماع کښې دِ د سُنَّت مطابق پينځه کپړو باندې مشتمل د کفن او د پاو کم دوه ګزه عرض د تقريباً ۷ ميټره ([يوے بلے روغې کپړے] چه کټ شوي نه وي) انتظام اوکړے شي او چه کله د کفن کټ کولو طريقه ښودلې کيږي نو هغه غټه کپړه دِ نه کټ کوي بلکه د سُنَّت مطابق (کټ شوي) يوه يوه کپړه دِ ښائي او طريقه دِ ښائي چه اِزار [يعني لنګ]، غټ څادر او قميص وغيره داسې کټ کول دي.

❁ تجهِيز و تَکـفِين ذِمَّه داره (علاقائي سطح) که د کفن د کپړے پخپله ترکيب جوړولے شي نو ټيك ده، که نه شي نو د علاقائي مشاورت د ذِمَّه دارې په تعاون دِ ترکيب جوړ کړي.

﴿۳﴾ د اسلامي خويندو دِ دا تربِيَّت هُم اوکړے شي چه هغوئي يو ځائے ته د تجهِيز و تَکفِين د پاره ځي نو "تجهِيز و تَکفِين کارډونه" دِ ځان سره وړي او هلته دِ ئې تقسيموي نو مدينه مدينه. (تجهِيز و تَکفِين کارډونه **مَکْتَبَةُ الْمَدِينه** نه هديتاً طلب کولے شئ)

❁ مړي ته غُسل ورکولو د پاره تلونکي اسلامي خويندې دِ سنجيدګئ او قفلِ مدينه لګولو سره د غُسل او کفن ترکيب کوي، خپل مينځ کښې هُم حتی الامکان په هيڅ موضوع هُم خبرې اترې مه کوئ.

❁ که تاسو سره تلونکي کومې اسلامي خور نه د غُسل او کفن په کومه معامله کښې څه غلطي اوشي نو خاموشئ سره دِ هغه صحيح کړے شي او بيا وروسته دِ يواځې ځائے کښې د هغے اِصلاح اوکړے شي.د ټولو په مخکښې ګلطي بيانولو سره د کور کسانو باندې هُم د بد اثر پريوتو اندينه وي.

❁ که د مرحومې **مَدَني ماحول** سره د ټرون په وجه د وفات په وخت کښې يا د غُسل وخت کښې يا د کفن ور اغوستلو وخت کښې څه مَدَنـي سپرلے مخې ته راشي مَثَلًا په ژبه ئې ګلِمه جاري شي، مخ ئې وځليږي، يا د غُسل په تخته مُسکئ شي وغيره نو سمدستي "مَدَنـي سپرلے فارم" ډک کړئ او مجلِس مَدَنـي سپرلي ذِمَّه داره (علاقه سطح) ته ئې جمع کړئ.

(۱)..... د مړي د غُسل طريقه ښودلو وخت کښې دِ پيکټ هُم مخې ته کيښودلے شي او مينځ کښې چه د څه څيز تذکِره راشي هغه را اُوباسئ او وضاحت سره ئې پرې پوهه کوئ.

()..... د هُم دې کتاب د صفحه 72 نه 92 د مخکښې نه مطالعه اوکړئ او د مړي د غُسل طريقه ښودلو وخت کښې کتاب نه کتلو باندې بيان کوئ.

(۳)..... کومې اِسلامي خويندې چه په اُردو نه پوهيږي، د هغوئ په ژبه کښې دِ د مطلوبه مواد ترجمه د مجلِس تراجِم نه اوکړے شي او هغه دِ ورته په کتلو بيان کړے شي.

(٤)..... د تجهِيز و تَکفِين د تربِيَّت د پاره دِ د غسل د تختے په ځائے د څه اوچت خيز ترکيب اوکړے شي.

(٥)..... د تربِيَّت په ورځ د تجهِيز و تَکفِين عملي طريقه ښودلو د پاره ګُوډئ (د لوبو خيز) مه استعمالوئ.

(٦)..... د طريقے ښودلو وخت کښې دِ سنجيدګي اختيار کړے شي.

(۷)..... بهتره دا ده چه آخره کښې د اميرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَة کلام "آہ ہر لمحہ گنہ کی کثرت اور بھر مارے" اولوستلے شي.

(۸)..... د اسلامي خويندو دِ دا تربِيَّت اوکړے شي چه کله هغوئ يو ځائے ته د تجهِيز و تَکفِين د پاره ځي نو د هُم دې کتاب نه دِ د غُسل او کفن د بيان وغيره ښه مطالعه اوکړي او کتاب دِ هُم ځان سره ساتي چه په ضرورت پريوتو ترې فائده اخستے شي.

(۹)..... د اِسلامي خويندو دا تربِيَّت هُم اوکړئ چه په کوم کور کښې مړے شوے وي هغه وخت چه د هغوئ په کور کښې کومه هوښياره اسلامي خور وي هغه دِ د حالاتو مطابق د مړي د کور د کسانو د پوهه کولو د مَدَني ګُلونو په مدد د پوهه کولو ترکيب کوي. او د ضرورت مطابق دِ د عِدَّت او مړي پسے د غم کولو د مسائلو نه هُم خبرې کړے شي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# د تجهِيز و تَکفِين د تربِيَّت د پاره ترغيبي اعلان

(مجلِس تجهِيز و تَکفِين (اسلامي خويندې))

ګرانو اسلامي خويندو! **الله** تعالٰی مونږه دے دُنيا ته د يو مُعَيَّن وخته پورې رالیږلي يو. چه کله زمونږه وخت پوره شي نو مونږه به د دې فاني دُنيا نه رخصت شو او د غُسل او کفن سلسله به مو شروع شي. ګرانو اسلامي خويندو! مړي ته غُسل ورکول يو داسې کار دے چه دا هر يو ته زده کول پکار دي ځکه چه د هر کس د دې سره واسطه پريوځي خو افسوس چه د دِين نه د لرې والي په وجه اکثرې اسلامي خويندې د مړي نه ويره محسوسوي، مړي ته نزدے نه ورځي او نه ورته لاس لګوي او په دې وجه اکثر مړي ته خِلافِ سُنَّت غُسل ورکولے کيږي.

اَميرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه خپله رساله "د مړي بے وسي" کښې د شرحُ الصُّدُور په حواله نقل کوي: حضرتِ سَيِّدُنا سُفيان ثَوري رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه نه روايت دے چه مړے په هر څه پوهيږي، تر دې چه غُسل ورکوونکي ته وائي: ستا دِ په خدائے قَسم وي، ته په غُسل کښې زما سره نرمي اوکړه. لِـهذا مونږ ته پخپله هُم د شريعت مطابق مړي ته د غُسل ورکولو طريقه ضرور زده کول پکار دي او خپل اولاد ته هُم زده کول پکار دي. مړي ته د غُسل ورکولو د تربِيَّت هُم دا مقصد دے چه هره عاشقهٔ رَسُول مړي ته غُسل ورکول زده کړي چه بيا هغه د خپلې کورنۍ او د خپلوانو وغيره [د زنانه] د غُسل او کفن ترکيب پخپله کولې شي.

اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ! هره مياشت د تجهيز و تَکفين تربِيَّت ورکولے کيږي او دا ځل به په ورځ د ..... تاريخ..... بمقام.....

.....

بوقت..... تا ..... اسلامي خويندو ته "د مړي د غُسل طريقه" ښودلے کيږي. ټولے اسلامي خويندې د وخت پابندئ سره شرکت اوکړئ.

دے تربِيَّت کښې هغه ټولې اِسلامي خويندې شرکت کولے شي کومې چه مړي ته غُسل ورکولو د پاره تللے شي، هغوئي چه د خپل سهولت مطابق کوم وختونه اوښائي په هم هغه وختونو کښې به مړي ته غُسل ورکولو د پاره د هغوئي ترکيب جوړولے کيږي.

لِـهذا کومې اِسلامي خويندې چه مړي ته غُسل ورکولو د پاره تلے شي هغوئي دِ ضرور د مړي د غُسل د تربِيَّت د پاره تشريف راوړي ځکه چه فَتَاوىٰ رَضَوِيَّه جلد ۹ صفحه ۱۳ کښې د اِبنِ ماجه په حواله منقول دي:

اَميرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدُنا عَلِيُّ الْمُرْتَضٰى شيرِ خُدا كَرَّمَ اللهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم نه رِوايت دے چه خورِ مَدَنـي سُلطان صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے چه څوك يو مړي ته غُسل ورکړي، کفن ورواغوندي، خوشبو پرې اولګوي، جنازه ئې پورته کړي، [د جنازے] لـمونځ ئې اوکړي او کومه ناقصه خبره چه پکښې ورته ښکاره شي هغه پټه کړي، هغه د ګناهونو نه داسې پاك شي لکه څنګه چه د پيدائش په ورځ وو. (سُنَنِ اِبنِ مَاجَه كتاب الجنائز، باب ماجاء فی غسل الميت، ۲/۲۰۱، حديث ۱٤٦۲)

څوك چه د مړي غُسل کښې شرکت اوکړي د هغوئي د پاره شيخِ طريقت، اميرِ اَهلِسُنَّت، حضرتِ علّامه مولانا اَبُو بِلال محمد اِلياس عطّار قادِري رَضَوِي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه داسې دُعا کړي ده:

# دعائے عطّار

**يا ربَّ المُصطَفٰى!** چه کوم اسلامي ورونړه يا اِسلامي خويندې د شريعت مطابق د مړي په غُسل کښې حِصَّه واخلي هغوئ ته د دواړو جهانو ډيرې ډيرې ښيګړې ورکړي او هغوئ ته مدينه کښې د ايمان او عافِيَّت سره شهادت نصيب کړي. (ماہنامہ فیضان مدینہ رمضان المبارک ۱۴۳۹ھ، مئی/جون 2018ء ص۱۰)

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

دُعائے ولی میں وہ تاثیر دیکھی  بدلتی ہزاروں کی تقدیر دیکھی

چنانچه د اميرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په دُعاګانو کښې حِصَّه حاصلولو د پاره ضرور ضرور د تجهِيز و تَکفِين تربيَّت حاصل کړئ. کومې اِسلامي خويندې چه د خپلو کورونو نه مړي ته غُسل ورکولو د پاره د تللو ترکيب کولے شي صرف هغه اِسلامي خويندې دِ خپل نوم، رابطه نمبر، درك [يعني پته] او دا دِ ضرور را اوليکي چه څه وخت په آسانئ سره مړي ته غُسل ورکولو د پاره تلے شي.

**مَدَني ګل:** ورځ، وخت او مقام دِ په اعلان کښې اُوښودلے شي.

| علاقه |
| --- |
| |

| نگران علاقه مشاورت |
| --- |
| |

## ماهانه علاقه کارکردګي فارم

برائے مدني مياشت و سن:

حقيقي کارکردګي هغه ده چه د هغې په ذريعه اسلامي وروڼوروکښې د عمل جذبه پيدا شي او د آخرت برکتونه حاصل کړي.

| نمبر شُمار | هفته | 1 خو مقاماتو کښې بيڼې ولګولے شوے؟ | 2 تر اوسه خو بيڼې لګيدلي دي | 3 د خو تجهيز و تکفين سعادت مو حاصل کړو؟ | 4 د خو اجتماع مدني مذاکره برائے ايصالِ ثواب ترکيب وشو؟ | 5 د خو اجتماع ذکر و نعت برائے ايصالِ ثواب ترکيب وشو؟ |
| --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- |
| 1 | وړومبۍ هفته | | | | | |
| 2 | دويمه هفته | | | | | |
| 3 | دريمه هفته | | | | | |
| 4 | څلورمه هفته | | | | | |
| 5 | پينځمه هفته | | | | | |
| مجموعي کارکردګي | | | | | | |
| د سابقه مياشتې کارکردګي | | | | | | |
| تقابلي جائزه (ترقي/تنزلي) | | | | | | |

| دے مياشت کښې | څو تيستونه وشو؟ | څو لواحقينو باندې مو مدني قافله کښې سفر وکړو؟ | |
| --- | --- | --- | --- |
| | | ۳ ورځې | ۱۲ ورځې |
| | | | |

برائے کرم دا کارکردګي فارم دِ د هرې عيسوي مياشتې يکم تاريخ پورې د علاقائي مشاورت نګران، ډويژن ذمه دار مجلس تجهيز و تکفين ته جمع کړئ. دستخط علاقائي ذمه دار مجلس

**مدني مقصد:** "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ" (زه دعوتِ اسلامي سره مينه لرم)

| علاقه ذمه دار |
| --- |
| |

| ډويژن ذمه دار |
| --- |
| |

(مجلس تجهِيز و تَكفِين) (اسلامي ورونړه)

برائے عيسوي مياشت و سن:

| 6 | | | | 7 | | 8 | | 9 | |
| --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- |
| تعدادِ تقسيم رسائل | | | | تجهيز و تكفين اجتماع | | خومقاماتو كښې مو تعزيتي مكتوب جوړ كړو | خولواحقين مو هفته واره اجتماع كښې شريك كړل؟ | د خُدّامُ المساجد تركيب | |
| رسائل | كتاب تجهيز | تجهيز كارډ | | مدني خبرونه | Video | | | رقم | پلاټ |
| | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | |

| | د شُعبے تحت د مدني انعاماتو خو رسائل | | دا مياشت شُعبه كښې | | |
| --- | --- | --- | --- | --- | --- |
| يوه مياشت | تقسيم شوے | وصول شوے | آمدن | | خرچ |
| | | | | | |

شُعبه تجهيزو تكفين:

---

د كاركردگي فارم جمع كولو تاريخ

---

تاريخ اجراء آپ ديټ كاركردگي فارم: چارشنبه، 11 اپريل، 2018ء

**(مجلس كاركردگي فارم و مدني گلونه)**

| ډويژن |
| --- |
| |

| نګرانِ ډويژن مشاورت |
| --- |
| |

## ماهانه ډويژن کارکردګي

برائے مدني مياشت وسن:

حقيقي کارکردګي هغه ده چه د هغې په ذريعه اسلامي وروڼرو کښې د عمل جذبه پيدا

| نمبر شمار | علاقه (د علاقے تنظيمي نوم درج کړئ) | 1 خو مقاماتو کښې بيڼري ولګولے شوے | 2 تر اوسه پورې خو بيڼري لګيدلې دي | 3 د خو تجهيز و تکفين سعادت مو حاصل کړو؟ | 4 د خو اجتماع مدني مذاکره برائے ايصالِ ثواب ترکيب شو؟ | 5 د خو اجتماع ذکر و نعت برائے ايصالِ ثواب ترکيب جوړ شو؟ | 6 تعداد تقسيم رسائل: رسائل | 6 تعداد تقسيم رسائل: کتاب تجهيز | 6 تعداد تقسيم رسائل: تجهيز کارډ | 7 تجهيز و تکفين اجتماع: Video | 7 تجهيز و تکفين اجتماع: مدني خبرونه | 8 دې مياشت کښې خو تيستونه وشو؟ |
| --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- |
| 1 | | | | | | | | | | | | |
| 2 | | | | | | | | | | | | |
| 3 | | | | | | | | | | | | |
| 4 | | | | | | | | | | | | |
| 5 | | | | | | | | | | | | |
| 6 | | | | | | | | | | | | |
| 7 | | | | | | | | | | | | |
| 8 | | | | | | | | | | | | |
| 9 | | | | | | | | | | | | |
| 10 | | | | | | | | | | | | |
| مجموعي موجوده مياشت کارکردګي | | | | | | | | | | | | |
| مجموعي سابقه مياشت کارکردګي | | | | | | | | | | | | |
| تقابلي جائزه (ترقي/تنزلي) | | | | | | | | | | | | |

**برائے کرم!** دا کارکردګي فارم د عيسوي مياشتي تاريخ پورې نګران ډويژن مشاورت او کابينه ذمه دار مجلس تجهيز و تکفين ته ميل کوئ.

**مدني مقصد:** "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ" (زه دعوتِ اسلامي سره مينه لرم)

**فارم** (مجلس تجهيز و تكفين) (اسلامي وروڼوه)

| ډويژن ذمه دار |
| --- |
| |

| کابينه ذمه دار |
| --- |
| |

برائے عيسوي مياشت وسن:

شي او د آخرت برکتونه حاصل کړي. (فرمانِ امیرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ)

| 9 | | 10 | | 11 | | | 12 | | 13 | |
| --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- |
| د خدام المساجد ترکيب | | خو مقاماتو کښې مو تعزيتي مکتوب جوړ کړو | خو لواحقينو مو هفته واړه اجتماع کښې شريک کړل؟ | خو لواحقينو باندې مو مدني قافله کښې سفر وکړو؟ | | | د شُعبے تحت خود مدني انعامات رسالے | | دې مياشت کښې شُعبه کښې | |
| رقم | پلاټ | | | 3ورځې | 12ورځې | يوه مياشت | تقسيم | وصول | آمدن | خرچ |
| | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | |

دستخط ډويژن ذمه دار مجلس تجهيز و تكفين: _____

د کارکردګي فارم جمع کولو تاريخ: _____

تاريخ اجراء آپ ډيټ کارکردګي فارم: چارشنبه، 11 اپريل، 2018ء

**(مجلس کارکردګي فارم او مدني ګلونه)**

## ماهانه کابینه کارکردګي

برائے مدني مياشت وسن:

حقيقي کارکردګي هغه ده چه د هغې په ذريعه اسلامي وروڼرو کښې د عمل جذبه پيدا شي او

| کابینه |
| --- |
| |
| نګرانِ کابینه |
| |

| نمبر شمار | ډويژن (د ډويژن تنظيمي نوم وليکئ) | تعداد علاقه | 1 خو مقاماتو کښې بيټرې ولګولے شوے | 2 تر اوسه پورې خو بيټرې لګيدلې دي | 3 د خو تجهيز و تکفين سعادت مو حاصل کړو؟ | 4 د خو اجتماع مدني مذاکره برائے ايصالِ ثواب ترکيب وشو؟ | 5 د خو اجتماع ذکر و نعت برائے ايصالِ ثواب ترکيب جوړ شو؟ | 6 تعداد تقسيم رسائل | | | 7 تجهيز و |
| --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- |
| | | | | | | | | رسائل | کتاب تجهيز | تجهيز کارډ | Video |
| 1 | | | | | | | | | | | |
| 2 | | | | | | | | | | | |
| 3 | | | | | | | | | | | |
| 4 | | | | | | | | | | | |
| 5 | | | | | | | | | | | |
| 6 | | | | | | | | | | | |
| 7 | | | | | | | | | | | |
| 8 | | | | | | | | | | | |
| 9 | | | | | | | | | | | |
| 10 | | | | | | | | | | | |
| 11 | | | | | | | | | | | |
| 12 | | | | | | | | | | | |
| 13 | | | | | | | | | | | |
| 14 | | | | | | | | | | | |
| 15 | | | | | | | | | | | |
| مجموعي موجوده مياشت کارکردګي | | | | | | | | | | | |
| مجموعي سابقه مياشت کارکردګي | | | | | | | | | | | |
| تقابلي جائزه (ترقي/تنزلي) | | | | | | | | | | | |

**برائے کرم!** دا کارکردګي فارم د عيسويمياشتي ٤ تاريخ پورې نګران کابينه او کابينات ذمه دار مجلس تجهيز و تکفين ته ميل کوئ.

**مدني مقصد:** "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ" (زه دعوتِ اسلامي سره مينه لرم)

| کابینه ذمه دار |
| --- |
| |

| کابینات ذمه دار |
| --- |
| |

**فارم** (مجلس تجهِیز و تَکفِین) (اسلامي ورونړه)

برائے عیسوي میاشت وسن: ______

د آخرت برکتونه حاصل کړي. (فرمانِ امیرِ اهلسنّت دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه)

| | 8 | 9 | | 10 | | 11 | | | 12 | | 13 | |
| --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- |
| و تکفین اجتماع | دې میاشت کښې څو تیستونه وشو؟ | د خدام المساجد ترکیب | | څو مقامو کښې مو تعزیتي مکتوب جوړ کړو | څو لواحقین مو هفته واره اجتماع کښې شریک کړل؟ | څو لواحقینو باندې مو مدني قافله کښې سفر وکړو؟ | | | د شُعبې تحت څو د مدني انعامات رسالے | | دې میاشت کښې شُعبه کښې | |
| مدني خبرونه | | رقم | پلاټ | | | 3ورځې | 12ورځې | یوه میاشت | تقسیم شوے | وصول شوے | آمدن | خرج |
| | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | |

دستخط کابینه ذمه دار مجلس تجهیز و تکفین: ______________________

د کارکردګي فارم جمع کولو تاریخ ________________

تاریخ اجراء اَپ ډیټ کارکردګي فارم: چارشنبه، 11 اپریل، 2018ء

**(مجلس کارکردګي فارم او مدني ګلونه)**

علاقه.....

ډويژن.....

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

## علاقه کارکردګي برائے مجلس

مدني مياشت و سن | عيسوي مياشت و سن

حقيقي کارکردګي هغه ده چه د هغے په ذريعه اسلامي ورونړو کښې د عمل جذبه پيدا شي او د آخرت برکتونه حاصل کړي.

آيا دا مياشت علاقه سطح باندې د تجهيز و تکفين د اجتماع ترکيب وشو؟.....

| نمبر شمار | حلقه سرکاري نوم هم ليکئ | 1 خو مقاماتو کښې ښيژي ولګيدے | 2 دے مياشت کښې د خو مړو د غسل ترکيب جوړ شو؟ | 3 خو مقاماتو کښې د اجتماع ذکر و نعت برائے ايصالِ ثواب ترکيب وشو؟ (تعداد) | 4 خو مقاماتو کښې د تقسيم رسائل ترکيب وشو؟ | 5 تعداد: تقسيم رسائل | 5 تعداد: کُتب | 5 تعداد: تقسيم رسائل | 6 خو مقاماتو کښې مو لواحقاتو ته د تعزيت ترکيب وکړو؟ د ذمه دارو اسلامي خويندو په ذريعه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | | | | | | | | | |
| 2 | | | | | | | | | |
| 3 | | | | | | | | | |
| 4 | | | | | | | | | |
| 5 | | | | | | | | | |
| 6 | | | | | | | | | |
| 7 | | | | | | | | | |
| 8 | | | | | | | | | |
| 9 | | | | | | | | | |
| 10 | | | | | | | | | |
| 11 | | | | | | | | | |
| 12 | | | | | | | | | |
| مجموعي کارکردګي | | | | | | | | | |

